# د تروږمی مسافر





لیکوال: نسیم حجازی

ژباړن: زبیر شفیقي



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ددې اثر پر دوهم چاپ
# د ژباړن خوګرښې

الحمد لله د ارواښاد نسیم "حجازي" د تاریخي ناولونو پښتو ژباړې دومره تودې استقبال شوې، چې ما یې تصور نشو کولي.
په اردو ژبه کې چې ددې آثارو څومره هرکلی شوی و، په همغه پیمانه یې افغانی ځوانانو هر کلی کړی دی. چې زه پرې د ستر پروردګار شکرونه ادا کوم.
دادی ددې آثارو د بیا خپراوی په لړ کې د میوند خپرندویې ټولنې په زیار د "تر ورمې مسافر" په نویی بڼه دوهم ځل دچاپ ویاړ مومی چې زه یې د داستانی ادب مینه والو ته مبارکی وایم او د میوند خپرندویی ټولنې ته د همدغی رغنده آثارو دخپراوی برې غواړم.

"شفیقي"

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سینتافی

په ۱۴۹۱ م د وروستي میاشتې یو سهار په ختیځ غرونو لمر د خپلو زرینو وړانګو جال خپراوه، د جنوب په غرنیو سیمو کې ویدو تیارو ورو ورو خپله لمن ورنغښتله او د سیرانویدا، الفجاره او الحمه په لوړو څوکو د واورو تاجونه ځلیدل.

د سینتافي په پوځي قرارګاه کې ګرځیدل راګرځیدل پیل شوي وو، ملکه ازابیلا له شاهي خیمې نه لږ لرې پر یوه غونډۍ ولاړه وه او د غرناطې شنه منظره یې په مخکې وه، کله کله به ددې سترګې په شاوخوا غځیدلیو خیمو او یا له پړاوه بیرته د «ویګا» په لوړو ژورو کې په هغو ویجاړو کلیو او کورونو میخ شوې چې هلته سوځیدلیو او کنډواله کورونو د جګړې د تباهي ګواهي ویله.

خو څو شیبې وروسته به دغه له سحره ډك ښار چې دې ته په شپږ میلي کې پروت ؤ او په وار وار یې لیدلی ؤ او لوړ لوړ منارونه او ګنبزې یې په ذهن کې انځور وو بیرته د دې د سترګو مخې ته راغې.

د جګړې په ورځو کې چې دې لومړې ځل له دې غونډۍ نه دغه ښار لیدلی ؤ، هغه مهال لمر په لویدو ؤ او دې ته داسې ښکاریدله چې د «سینتافي» او الحمرا» فاصله یو په یو ختمه شوه، له هغې شیبې وروسته دغه غونډۍ د دې د ځانګړې میل یو مقام ؤ. د دې د اساني لپاره یې د ورختلو لاره صافه او پراخه کړه، او په څوکه یې یوه ښکلې خیمه هم ودروله. په عام ډول به چې کله هغه بهر ته وتله نو د خدمتګارانو او وینځو بشپړ لښکر به ورسره ؤ، خو چې کله به څه ذهني پریشاني ور پیدا شوه نو دې ته به د خاصو همزولو ملګرې هم ګرانه پریوتهنن هم د دې همدغسې حالت ؤ چې کله له شاهي خیمې نه ووتله یوازې دوې خدمتګارې ورسره وې چې کله غونډۍ ته ورسیدله هغوی یې هم رخصت کړې.

«ازابیلا» پردې خبره اندیښمنه وه چې د قسطلې پادرې او د کلیسا د احتساب

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځانګی مشر په خپل لیك کی د اوربند پر ترون سخت إحتجاج کړی ؤ او فردیناند ته یی دا مشوره ورکړی وه چی د اوربند تړون زر تر زره فسخه او په غرناطه یرغل وکړی.

د دی لیك ځواب ضروری ؤ خو فردیناند د «زیمنس» پرلیك له سرسری نظر اچولو پرته نور هیڅ ارځښت ورنکړ، د شپی د ډوډی پر وخت د دریم ځل لپاره ملکی/ د هغه لیك یادونه وکړه، خو فردیناند دا وویل او خبره یی شاته وغورځوله چی: پردی به سهار غور کوو... اوس ډیر ستومانه یم.

او چی کله سهار شو هغه په چکر وتلی ؤ.

*****

ازابیلا تر لږ ځنډه خیمی ته نژدی ولاړه وه. بیا شاته شوه په یوه کرسی کبنیناسته، ناڅاپه یی د اس د پښو ترپهار واورید، جګه شوه ښی لوری ته یی وکتل، فردیناند د غونډی سرته ور وخوت له اس نه پلی شو ور وړاندی شو د ملکی لاس یی ښکل کړل بیا یی وویل:

نن ډیره یخنی ده تا باید په خیمه کی استراحت کړی وای.

ملکی ځواب ورکړ: کله چی منزل دومره لنډ شی بیا مسافر آرام نشی کولی. نن سهار ما غوښتل تاته دا در په یاد کړم چی د اوربند لس ورځی تیری شوی او د تړون له مخی باید موږ د غرناطی او سینتافی ترمنځ دغه ٦ میله لاره په شپیتو نورو ورځو کی ووهو.

فردیناند ځواب ورکړ: ملکی! ته ولی داسی نه وایی چی دغه شپږ میله او شپیته ورځی د هغه اولس د مرګ او ژوند ترمنځ وروستی واټن دی چی پردی څمکه یی اته سوه کاله حکومت کړی دی. ماته معلومه ده چی ستا پر ذهن تر اوسه د «زیمنس» د لیك اغیزه شته، خو هغه بوډا پادری ته څه معلومه ده چی کوم اولس چی موږ د مرګ وروستی څنډی ته راوستی دی، په څو کلونو کی یی د جبل الطارق څخه د پیرنی تر غرونو پوری د کلیسا بیرغونه رانسکور کړی وو.

«زیمنس» پردی ځوك پوهولی شی چی کله د دی اولس زوال پیل شوی ؤ هم د کلیسا متحد ځواك د الکبیر تر دری پوری څو پړاوه ایله په څلورو پیړیو کی ووهل، او په دی څلورو پیړیو کی چی کله د دوی د دفاع جذبه را ویښه شوی ده نو د کلونو حساب یی په ورځو کی بیرته پری کړی دی.

دوی دواړه په کرسیو کښیناستل، ازابیلا وویل: زما مقصد ستا له رایی سره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلاف نه ؤ، زه پردې خبره وياړم چې په کومو لاسونو چې د اندلس ډېوه مړه کېږي هغه زما د ميړه دي، زه هسې خپل جذبات او احساسات ښکاروم، که تا د «زيمينس» ليك تر پايه ټول لوستې واى دا بدګوماني به درسره نه وه چې هغه ستا سترو بريو ته اهميت نه ورکوي.

: ما د هغه ليك لوستې دي. هغه غواړي چې زه زر تر زره اورېند مات او په غرناطه حمله وکړم، هغه يوازې يو پادري دي.او زه د ټولو حالاتو څارونکی يو سپاهي يم.

هغه داسې ګڼي چې د غرناطې خلك مړه شوي دي او اوس د دوى د مړيو د شکولو خبره پاتې ده، خو زما په نظر غرناطه په همدې حالت هم يوه اور غورځوونکې غره ته ورته ده، چې په تل کې يې لا لاوا خوټيږي، د دې اور غورځوونکي پرڅوکه د کليسا د تخت ايښودلو نه وړاندې د دې ډاډ ضروري دی چې هغه «لاوا» سړه شي.

دا سهې ده چې زموږ پوځونه اوس له غرناطې نه يوازې شپږ ميله لرې پراته دي. خو د اورېند له ترون نه وړاندې ما دا ډاډ ترلاسه کړی چې زموږ جګړه به اوس د غرناطې د شاوخوا پرځاى د ديوالونو دننه وي، او کوم کار چې زموږ پوځ په کلونو کې ونکړای شو. هغه اوس د هغو خلکو په لاس پوره کيږي چې په غرناطه کې دننه اوسيږي او د خپل اولس فکری حصار ماتولی شي، آيا زما دا بری وړوکی دی کوم هدف چې موږ د زرګونو سپاهيانو د قربانولو په صورت کې ترلاسه کولاى شواى هغه د هغه سړي په لاس پوره کيږي چې زموږ دښمنان يې د کلا وروستي ساتونکي ګڼي.

ازابيلا ووېل : زه هره شيبه دا دعا کوم چې کومې هيلې تا په ابو عبدالله پورې تړلې هغه ترسره شي. خو کله کله ما دا خبره انديښمنه کړي چې هغه يو ځل له تا سره وعده خلافي کړې ده. ځکه خو پر هغه دويم ځلې اعتماد کول هوښياري نه ده.

فرديناند ووېل : د قسطلې پادري هم همدا خبره په ليك کې ليکلې ده، خو دا بلکل غلطه ده چې زه پر هغه اعتماد کوم، هغه يو عياش، سست او د(بدليدونکي)مزاج خاوند دی. خو زما ورته اړتيا ده، ماته ځکه د هغه ضرورت دی چې د خپل قوم د ذليلولو کومې وسيلې چې ده پيدا کړې دي هغه نور څوك نشي برابرولی، نن د غرناطې حالت هغه زمرې ته ورته دی چې له ښکېلې کيدو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د یوه بوتی په بیخ کی خپل زخمونه څټی، اوس زه د وروستی گوزار لپاره له وړاندی کیدو دمخه ابو عبدالله ته دا فرصت ورکول غواړم چی دغه تپی زمری وتړی او زما په پښو کی بی وغورځوی.

ملکی وویل : ستا باور دی چی که په راتلونکو شپیتو ورځو کی دننه د غرناطی اولس د جگړی پریکړه وکړه نو ابو عبدالله به د هغوی د احساساتو په مقابل کی ودریدای شی؟

فردیناند: ابو عبدالله غوندی خلك د هری تالندی سره د الوتو او د هر سیلاب سره د بهیدو لپاره تیار دی، دوی تل یوی تکیی ته ضرورت لری، کله چی موږ هغه ته تکیه ورکړه نو هغه له خپل پلار نه هم بغاوت وکړ، او کله چی موسی بن ابی غسان تر لاس ونیو نو زموږ پرخلاف ودرید.

اوس په غرناطه کی بل موسی نشته او ابو عبدالله د یوه داسی سړی په واك کی دی چی زه بی د خپل بری ضمانت گنم، هغه دی داسی ځای ته رسولی دی چی د بیرته راتلو لاره نه لری، موږ باید د خدای «ج» شکر ادا کړو چی کوم سړی موسی بن ابی غسان ترکانو او بربریانو ته د خپل استازی په حیث واستاوه هغه د مالتا په جیل کی پروت دی. که هغه له بهرنی نړۍ نه دمرستی په ترلاسه کولو بریالی شوی وای نو زموږ جوړه لوبه به ویجاړه شوی وه.

: د خدای «ج» شکر دی چی ستا دا وروستی اندیښنه هم لری شوی.

فردیناند ځواب ورکړ: دا اندیښنه به هغه مهال لری شی چی هغه د یوه بندی په څیر زما مخی ته وړاندی شی، او د هغه پیژندونکی دا گواهی ورکړی چی حامد بن زهره همدی دی.

ملکه اندیښمنه شوه ویی پوښتل : ایا دا امکان هم شته چی د مالتا خلکو بل څوك د حامد بن زهره په نامه نیولی وی، او زموږ سفیر هم د هغه په اړه د زیاتی پوښتنی ضرورت نه وی احساس کړی؟

: نه! په مالتا کی زموږ سفیر ډیر هوښیار سړی دی، زما یوازی دا اندیښنه ده چی کومه کښتی موږ د بندی د راوستلو لپاره استولی ده د هغی د بیرته راستنیدو څه احوال تر اوسه نه دی راغلی.

ملکی په اندیښنه وویل : تا ویل چی د ترکانو جنگی بیړۍ په دی وختونو کی د روم په بحیره کی گرځی کوی، خدای «ج» د نه کوی چی زموږ کښتی ته کومه پیښه نه وی شوی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فردیناند ځواب ورکړ: که د یوی ګېنتی په له لاسه ورکولو هغه خطر لری کیدای شی چی د حامد بن زهره د ژوندی را ستنیدو په صورت کی موږ ته را پیښیدای شی نو دا سودا ګرانه نه ده.

: ته هغه دومره خطرناك ګڼی؟

: کله کله د شپی په چوپتیا کی د یوه پهره دار چیغه ټول کلی را ویښ کړی، دا زما ږومبنی ذمه واری ده، چی زه په کوم کلی شوا خون وروړم هلته باید د کوم ویښ پهره دار کریږه له کومی روانه وزی، چی موږ د ګټلی جنګ له سره جګړی ته اړ نه شو.

ملکه آزرده شوه خپل میړه ته یی وکتل، ددی حالت هغه ماشوم ته ورته ؤ چی له لاسه یی یوه ښکلی نانځکه بیرته اخلی.

فردیناند دی ته د تسلی په دود وویل : ازابیلا! زما دا مقصد نه ؤ چی تا اندیښمنه کړم، زما باور دی چی د نوی کال له پیلیدو سره به زه تاته په تحفه کی غرناطه درکوم، خو بیا هم ځینی جګړه ایز تدبیرونه داسی وی چی یوازی د لښکر مشر باید پری خبر وی. زما په زړه کی ډیری داسی خبری دی چی تر اوسه می تاته نه دی ویلی، ددی لپاره نه چی زه په څه خبره ستا اعتماد ترلاسه کول ضروری ګڼم. بلکی زما هیله وه چی زه کومورځ ناڅاپه زیری درکړم او ته زیاته پری خوښه شی.

د ازابیلا بڼه له خوښی وځلیده، جګه شوه څوګامه وړاندی ولاړه او فردیناند د ختیځ په لوری اشاره وکړه ویی ویل ته د دری له مخ څورنه لږ وړاندی وګوره!

ملکی څو شیبی په ځیر ځیر وکتل بیا یی وویل : هلته زیات خلك ښکاری هغوی څه کوی؟

: هغوی سرك جوړوی، ستا پام نه دی شوی دا کار له دری ورځو راسی روان دی. او که ستا سترګی یو میل وړاندی نور هم لیدای شی نو ته به هلته د غرناطی خلك وګوری چی خپله برخه کار یی نژدی پای ته رسولی دی.

ملکی په حیرانی ویوښتل : ستا دا مطلب دی چی ابو القاسم هغوی زموږ د بری د لاری په هوارولو او پراخولو ګومارلی دی؟

فردیناند ځواب ورکړ: ابو القاسم د غرناطی خلکو ته ډاډ ورکړی دی چی دوی له سینتهافی څخه د ضروری شیانو د رانیولو اجازه ترلاسه کوی او دوی به بیا کولی شی چی خپل جوړ شوی شیان هم هلته وپلوری، اوس لږ دی بل لوری ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه! ازابیلا له فردیناند سره د غونډۍ‌پېل اړخ ته ولاړه،

هغه ورته وویل : د شمال او لویدیز له لوریو سینتافی لوری ته راغلیو لارو ته وګوره، تا به تر اوسه په دې لارو هیڅکله هم دومره ګاډي‌نه وي لیدلي.

: مګر هغه څه شي راوړي؟ ملکې هغې لوري ته له ځار وروسته وویل.

فردیناند په موسکا ځواب ورکړ: غله، میوه، سابه، لرګي، وانښه، چرګان، هګۍ، او ښایي د وزواو پسونو رمې هم وګورې! پرون ما امر کړی ؤ چې سینتافی باید ډیره لویه منډیی شي، او ابو القاسم ته دا پیغام ور رسیدلی دی چې بله ورځ به د «سینتافی» لاره پرانیزو، زما یوازې پردې خبره افسوس دی چې دا کار لږ ځنډنی شو.

ملکې په ډېر زحمت د خپلې پریشانی د پټولو هڅه کوله په اندیښنه یې وپوښتل:

آیا ربښتیا هم د سوداګری دا لاره پرانیزې؟

: هو! زه د دې خبرې عملي ثبوت ورکوم چې د قسطلې زړه سواندې ملکه دا نه خوښوی چې نوی رعیت یې له لوږې مړه شي، هسې هم «زعینس» دا کار هم ښایي خوښ نه کړي،

ملکې وویل : زما خو دا ګومان دی چې که هغه پر دې خبرو خبر شي ځان وژلو ته به چمتو شي.

فردیناند وموسکل: آیا هغه ته دا بس نه دی چې ورته ووایو د غرناطې خلکو ته د ځو ورځو سېه خوراك په بدل کې د تل لپاره دوی د فقر او بې وسې جهنم ته ورغورځول زموږ لپاره ګرانه سودا نه ده.

ته به حیرانه شي چې دا واوري چې دغه تجویز هم د ابو القاسم ؤ. د هغه دا شکایت ؤ چې که د غرناطې اولس د جنوب له غرنیو حو څخه د خوراك وسایل برابروي د قبایلو سره یې اړیکې ځواکمنې کیږي، ما د هغه دا شکایت لرې کړ، اوس باید موږ دا هڅه وکړو چې د غرناطې خلکو ته د خوراك ښباك ځیزونه په ډېره غوره او مناسبه بیه ورکړو، وږي انسان له مړیدو وروسته د جګړې پر ځای خوب زیات غوره ګڼي.

ملکې وویل : که ماته د دې پروګرامونو معلومات وای نو دومره به اندیښمنه نه وای، مګر یوه خبره مې ذهن ته نه رالویږي چې زموږ دښمن اته سوه کاله دلته د واکمنې کولو نه وروسته له خپل راتلونکې نه ولې نا خبره دی، ایا هغوی دومره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر هم نه شی کولی چی کله زموږ لپاره د غرناطی دروازې خلاصی شی، نو د دوی د حساب کتاب ورځ به پیلیږی؟

فردیناند ځواب ورکړ:

هغوی پر هر څه پوهیږی، خو کله چی پر کوم اولس زوال راځی نو هغوی د خپلی سلامتیا د نیغی لاری نه د کږیدو بهانی لټوی او تل ځان ته دا فریب ورکوی چی د دوی حیلی د دوی د زور او ځواك بدل کیدای شی. او د اولسونو د لویدو وروستی پړاو داسی وی چی د مقابلی او مقاومت پرځای ځان وژنه ورته اسانه ښکاری، نن زموږ د دښمن حالت همدغسی دی. دوی د ټولنیز ژوند د ژمه واریو نه د ځان ساتلو په خاطر د ټولنیز مرگ له خطر نه سترگی پټول ډیر اسانه گڼی، دا زموږ نیکمرغی ده چی د کومو خلکو هوښیاری او عقل دوی خپله وروستی تکیه گڼی همغوی خپل برخلیك پر موږ پوری تړلی دی.

ازابیلا وویل : ابو عبدالله ته دا معلومه ده چی څو اونی وروسته به یی پاچاهی پای ته رسیږی، او د دی په بدل کی به په الفجاره کی د یوی وړوکی ځمکی ترلاسه کولو نه وروسته دی د یوه وړوکی زمیندار په حیث وی. او چی کله موږ وغواړو نو لری کولای او شړلای به یی شو، ابو القاسم هم په دی ښه نښی پاتی کیدای چی کله د ابو عبدالله پاچاهی ړنگه شی نو د ده وزارت هم ورسره ځی، بیا دوی په کوم امید دا لوبه لوبوی؟

فردیناند وموسکل : لوبه یوازی زما ده، هغوی دواړه خو یوازی د شطرنج دانی دی، ابو عبدالله د هغو کسانو له ډلی څخه دی چی که د ځنکندن په حالت کی وی هم مرگ ته به د دوکی ورکولو هڅه کوی، او ابو القاسم غوندی چالاك سړی ته دا داډ ورکول گران نه وو چی موږ دا هر څه کوو د ده د ښیگڼی لپاره یی کوو. کله چی د اوربند په اړه خبری کیدی نو د ده تر ټولو لویه هیله دا وه چی د وسلی له ایښودلو سره سره بیا لږ تر لږه تر یوه کاله هغه له الحمرا څخه ونه ویستل شی.

: او تا زما د اعتراض سره سره د ده دا غوښتنه ومنله؟

: تاته د احتجاج ضرورت نه ؤ. ما د ده ددی غوښتنی له منلو نه مخکی د دی داډ حاصل کړی ؤ چی کله زموږ لښکر غرناطی ته ننوزی نو ابو عبدالله به په غرناطه کی نه وی

: مگر دا څنگه امکان لری، موږ په کومه پلمه له خپل لیکلی تړون نه سرغړونه کولی شو؟ ملکی په حیرانی پوښتنه وکړه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته به د کومې پلمې ضرورت نه شي، کله چې وخت راشي نو ابو القاسم به په يوه ورځ کې داسې حالات رامنځته کړي چې هغه به خپله رضا له الحمرا څخه ووزي، خو سمدستي هغه بايد په همدې ځان غولولو کې پاتې وي، همدغه لامل دی چې زه د هغه هيڅ غوښتنه نه ردوم. بلکې د ده استازو ته داسې ښکاره کوم چې موږ هغه ته نور هم ډېر څه ورکول غواړو، د ترون په دوهمه ورځ ما پټ دا پيغام ور واستاوه چې د غرناطې د مسلمان رعيت د اعتماد د ترلاسه کولو لپاره ماته د دوی څخه د پاچاهۍ د يوه نايب ضرورت دی او اوس هغه احمق داسې گومان کوي چې په الفجاره کې هغه ته د ځمکو ورکولو اعلان هسې د ده د وفادارۍ د ازموينې لپاره وو، که نه نو ما د هغه د نايب کولو پريکړه کړې ده، هغه په ځان تير ايستلو روږدی دی، او زه پردې پوهيږم چې هغه همدغسې روږدی وساتم.

فرديناند څو شيبې ازابيلا ته په داسې نظر کتل چې شاباس پرې ووايي بيا يې په ډاډمنه لهجه وويل:

تر کومه چې په ابو القاسم پورې مربوطه ده ماته له هغه سره د څه وعدې ضرورت نشته، هغه د خپل اولس کښتي په گرداب کې ولېده زموږ کښتي ته راوخوت، او هغه پوهيدلی دی چې د ژوندې پاتې کيدو لپاره هغه زموږ تکيې ته اړتيا لري. ځکه خو له خپل اولس سره په خيانت کې دومره وړاندې تللی چې اوس د بيرته راگرځيدو لپاره لاره نه لري. زما په گومان به اوس ته ډاډه شوی وې؟

ملکې ومو‌سکل : هوکې! زه هر ډول ډاډ احساسوم چې زما ټولې دعاگانې قبولې شوې دي. نن به زه پادرې «زيمينس» ته ليکم چې زما ميړه په سياست او جگړه کې ستا مشورو ته اړتيا نه لري، ته يوازې دعا کوه، کاشکې نن موږ ته د حامد بن زهره په اړه هم کوم خبر راشي.

فرديناندوويل : تاته د هغه په اړه د څه انديښنې ضرورت نشته،زما ډېرې ورځې پخوا دا فکر کړی چې که د غرناطې اولس کوم لارښود ومومند او هغه خلك د ابو عبدالله او ابو القاسم پرخلاف را وپارول او له دې سره جوخت، د بربر او ترکانو څو ډلگۍ لښکر هم د دوی مرستې ته راغلې نو زموږ دا ټولې نقشې به له خاورو سره برابرې کړي.

ملکې په انديښنه پاچا ته وکتل: نو تا د دې د علاج لپاره څه فکر کړی دی؟
زه دا زيری درته اورولی شم چې ما د دې بندوبست کړی دی تاته معلومه ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د اوربند د تړون سره سم د پوځ لپاره له دې ځایه لرې لرې د یو نوي ځای د جوړولو امر کړی ؤ. اوس هلته په سلګونو تنه شپه ورځ کار کوي.

: هوکې! مګر زه اوس هم وایم چې هغه تنګه دره د پوځ د ځای په ځای کولو لپاره مناسبه نه ده. او بیا چې ته د غرناطې فتحه دومره باوري ګڼې نو د زیات لښکر راوستل خو ضروري نه دي نو بیا هلته د چوڼۍ جوړولو ضرورت څه دی؟

: که زه درته ووایم چې کله دغه چوڼۍ جوړه شوه نو د غرناطې کنجي به ستا په لاس کې وي نو باور به دې شي؟

ملکې د شکایت په لهجه وویل : ته د یوه ښه خبر د اوریدو نه وړاندې زما د هوښیارۍ امتحان ولې ضروري ګڼې! د خدای «ج» لپاره ووایه هلته څه لوبه روانه ده؟

فردیناند څو شیبې هغې ته په فاتحانه نظر کتل بیا یې وویل:

زه د خپل پوځ لپاره نوې چوڼۍ نه بلکې د دښمن لپاره کېپس جوړوم، چې د غرناطې د آزادۍ روح به پکې بندي وي. د دې میاشتې تر پای ته رسیدو وړاندې به د غرناطې څلور سوه تنه یرغمل موږ ته سپارل کیږي، دغه څلور سوه تنه به د پوځ نه علاوه د هغو سردارانو او مشرانو له ډلې څخه وي چې په اولس کې د دوی له ملاتړ پرته هیڅ خوځښت نشي بریالی کیدای.

ازابیلا څو شیبې هکه پکه ولاړه وه او خپل خاوند ته یې کتل، بیا یې وویل:

ستا مطلب دا دی چې ابو عبدالله او د هغه وزیر ابو القاسم به یې د وزو او پسونو په څیر لاس او پښې تړلې تاته سپاري؟ د پوځ او اولس لخوا به یې هیڅ مزاحمت نه کیږي؟

: نه! دا د ابو القاسم ذمه واري ده، چې هلته به څه مزاحمت نه وي، او هغه په دې ذمه واري کې هغه وخت کامیابیدای شي چې د غرناطې خلکو د امن خواته د مایل کولو په خاطر زما تجویزونه بریالي شي د سوداګرۍ لارې خلاصول او د سمدستي دوی ته د ژوند د اسانتیاوو له برابرولو نه هدف دا دی چې دوی موږ د دښمنۍ پرځای خپل نیکي ګڼونکي وبولي.

: «څلور سوه عزتمن خلك!»

: هو! څلور سوه داسې خلك چې د ژوندي بیرته ورستنیدو مسأله یې زرګونو دوستانو ته د غرناطې د آزادۍ او غلامۍ له مسألې نه مهمه وي او موږ پر هغوی هره خبره ومنلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکی ووېل : زه داسی فکر کوم لکه خوب چی وینم، ایا ستا دا باور دی چی ابو القاسم به ستا دا غوښتنه ومنی، او له اولس نه به هیڅ خطر احساس نه کړی؟
: هغه دا غوښتنه منلی ده او د هغه په وړاندی له اولس نه د خلاصون بوازینی لاره دا ده، د ده دا گومان دی چی که کوم سر شوخه د هغوی د راپارولو هڅه کوی نو د نفوذ خاوندان به یی د خپلو زامنو او ورونو د سلامتی دښمنان بولی او د دوی پرخلاف به توری راوباسی.
ازابیلا ووېل : اوس د زعینس د لیك په باب موږ ته د څه بحث ضرورت نشته، د هغه استازی د بیرته ستنیدو لپاره سخت ناکرار دی، که تاسو هغه ته څو دقیقی اجازه ورکړی نو سبا سهار ته به یی رخصت کړو.
: زه به یی سبا ته د لیدو لپاره راوغواړم، زه نن ډیر مصروف یم : ابو القاسم د استازی انتظار کوم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماضي روښنايي او د راتلونکې تياري

د غـره په لمنه يوه کلې کې درې خـواو ته په پراخـه باغـونو د خـزان اغـيـزې راښکاره شـوې وې، جنوب لورې ته د سـيرانوادا په لوړو څوکو تر لرې لرې ځايه لومړې واورې اوريدلې وې.

سلما د خپلې کلا پر بام لمر ته پرته وه، په پنځوس کلنی هم ددې په څېره کي د ځـوانی د تازگی نخـښې وې، عـاتکه يوه څـوارلس پنځلس کلنه نجلۍ چې د بربريانو، هسپانيي او عربو د ښايست گډې نخښې يې په ښکلې څيره کې وې يو کـتـاب په لاس کې په زينو کې راښکاره شـوه، وړاندې ولاړه او له سلمـا سـره په قالينه کښيناستله.

هغې کتاب پرانست ويې ويل : کاکا ناويې!

زه د کتاب لپاره د سعيدې دوې کره تللې وم، ماويل زر به راستنه شم خو له زبيدې سره په خبرو وځنډېدم، سعيد تر اوسه له غرناطې، نه دی راستون شوی.

منصور ډير خفه ؤ، جعفر او زبيده هم ډير پريشانه وو، جعفر ويل، چې که هغه تر ماښامه رانه غی نو زه پخپله غرناطې ته ورپسی ځم، او احوال يی اخلم، د هغه دا انديښنه وه چې د غرنـاطې د آزادې معـامله گرو دی هم عـيـسويانو ته نه وی سپارلی.

سلما جگه شوه کيناستله، هغې ځوانی نجلی ته يي په تسلی وويل:

عـاتکی! ماته مـعلومـه ده چې د سـعيد په اړه د هغـه د وروره او نوکرانو څخه ستا انديښنه زياته ده، خو ته داوه 'وسه چې ډير زر به 'بو عبدالله څلور سوه تنه د يرغمل په توگه فرديناند ته وسپاری، له دی وروسته به دا انديښنه امکان نه لری

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د غرناطې اوسیدونکې به د سولې د تړون پرخلاف چاته د خولې چوله کولو اجازه ورکړي.

زموږ په کلي کې د هغوی ستا د کاکا په اړه تشویش ؤ، ځکه خو د غرناطې د مشرانو دا ټینګار ؤ چې امین او عبید هم باید په هغه څلور سوه کسانو کې شامل شي، بیا هم دا هڅه کیږي چې د عمیر په څیر دوی هم له دې لست څخه وګڼګل شي.

عاتکې وویل : کاکاناوې! زه د سعید په باب ځکه پریشانه یم چې له هغه پرته د منصور څوك نشته.

سلمی وویل : لورې! زه به ستا کاکا ته ووایم چې کوم نوکر غرناطې ته واستوي او د هغه پوښتنه وکړي، خو ته باید دومره ډیره د سعید دوی کره ولاړه نه شې، ته اوس پیغله شوې یې، سعید ډیر ښه هلك دی ستا پر تره هم هغه د زامنو په څیر ګران دی، خو د عمیر نه خوښیږي چې ته له هغه سره راشه درشه کوې.

د عاتکې څیره له غوسې نه وځلیده کتاب یې یوې خواته کیښود ویې ویل :

: تاته خو معلومه ده چې زه د عمیر نوم اوریدل هم نه غواړم.

سلمی وموسکل ویې ویل : ماته معلومه ده او زما هم د ده عادتونه خوښ نه دي، خو ستا کاکا هغه ته تر امین او عبید هم زیات ناز ورکوي، د هغه دا نظر دی چې کله ته لویه شي امکان لري هغه بیا دومره د کرکې وړ ونه ګڼي.

: کاکاناوې! دا ته څه وایې؟

: لورې زما دا مطلب نه دی چې تا څوك مجبورولی شي، خو ستا کاکا جان ویل چې عمیر ترڅو ورڅو پورې کور ته راځي د هغه په موجودیت کې ته لږ باید پام وکړې، هسې هم اوس ستا له کوره وتل ښه نه ښکاري، زه به د جعفر میرمن ته ووایم چې هغه زموږ کره راځي.

عاتکه لږ چوپه شوه بیا یې وویل: که کاکا جان د عمیر سپارښت کولی شي نو امین او عبید ورونو څه ګناه کړې وه؟

سلمی ځواب ورکړ : هغه هغوی هم راخلاصول غوښتل، خو وزیر ابو القاسم ویلي وو چې که ستا درې واړه زامن ویاسو نو نور به هم داسې غوښتنه وکړي، ځکه خو په دوی کې یوازې د یوه د پاتې کیدو وعده کولی شي.

عاتکې وویل : او کاکا جان د امین او عبید پرځای د عمیر نوم ورکړ؟

: هو زما ناسکه زوی پر هغه ډیر ګران دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: او د هغه مور هم پر ده ډیره ګرانه وه؟
سلمۍ وویل : هو! هغه زما لپاره یو قیامت ؤ، که ستا کاکا د حامد بن زهره له ملامتی نه ویریدای نو په دی کور کی زما ژوندی اوسیدل ګران وو، خو اوس هغه مړه شوی ده او موږ باید دعا ورته وکړو.
عاتکی وویل : زبیدی ویل چې هغه د اشبیلیې د یوی یهودی کورنی ښځه وه او مور او پلار یې په غرناطې کی له پناه اخستلو وروسته مسلمانان شوی وو.
پلار جان له هغوی نه سخته کرکه کوله، اودمورجانې هم هیڅ خبری ورسره زړه نه غوښتلې.
: لوری! ستا پلار او مور زما پلویان وو، او یو ځل چې دوی ته معلومه شوه چې ستا کاکا زما له بچیانو سره ښه سلوك نه کوی نو هغه غرناطی ته بوتلل.
ستا کاکا ستا له پلار نه یوازی یو نیم کال کشر ؤ خو د نصیر دوراندی د هغه هیڅ دم نه ؤ. هغه ډیر د هیبت خاوند ؤ، د دی سیمی هیڅوا هم له هغه سره سترګی په سترګو خبری نشوای کولی.
عاتکې! کله چې ته په غوسه شې نو ځیره دی همغسې ځلیږی، سترګی دی کټ مټ د نصیر په څیر دی.
کاکا ناوی! زما لږ لږ هغه ورځې رایادیږی، خو تاسو ډیر زر بیرته له غرناطې نه راغلی.
: هوکی! د عمیر د مور له وفات وروسته ستا کاکا په خپل زیاتی پوه شو او زه بیرته ورسره راغلم.
: کاکا ناویې! که بده نه منی زه یوه پوښتنه درڅخه کوم؟
: ووایه!
: ایا دا امکان لری چې کاکا جان د دښمن په غلامی ډاډه شی؟
: نه لوری! هغه سرې چې دری ورونه یې شهیدان شوی وی، چې پر بدن یې د تورو او نیزو نخښې وی، او یو لاس یې هم غوڅ شوی وی هغه د عیسویانو پر غلامی څرنګه راضی کیدای شی؟
: مګر هغه خپل زامن یرغمل استولی دی. ایا له دی نه دا نه څرګندیږی چې هغه له زړه نه د غرناطې ماته منلی ده؟
سلمې ځواب ورکړ : دا خبره د چا په خیال او ګومان کی هم نه وه چې ابو عبدالله او د هغه مشاور به د اوربند د تړون د مودی له پای ته رسیدو نه دمخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور سوه تنه د یرغمل په ډول عیسویانو ته سپاري، کاشکې ستا تره د غرناطې د مشرانو او د ابو عبدالله د پریکړې د ماتولو اختیار درلودلای.

عاتکې وویل : کاکا ناوي! فرض کړه چې که حامد بن زهره په خپل مقصد کې بریالی شي او موږ ته یوه ورځ ناڅاپه دا خبر راشي چې د مراکش، ترکانو او یا مصریانو د مرستې لښکر د اندلس په خوا راخوځېدلی دی نو کاکا جان به څه وکړي؟ سعید وویل چې اندلس بیا د یوه یوسف بن تاشفین د راتلو انتظار کوي، د هغه باور ږ چې حامد بن زهره به ناکام نه راستنیږي.

سلمی څو شیبې په دردناك نظر عاتکې ته کتل بیا یې ځان راقابو کړ ویې ویل : ته په دې فکر کې مه کیږه چې د اسلام غازیان میدان ته راووزي نو ستا تره به د اندلس د آزادۍ پرځای د خپلو زامنو غم کوي خو اوس د امیدونو ټولې ډیوې مړې شویدي، اوس به هیڅوك هم له بهر نه زموږ مرستې ته رانشي، له موږ نه پخوا د قرطبې، اشبیلیې، او طلیطلې مسلمانانو همدغسې خوبونه لیدل چې د تقدیر کومه معجزه به دوی د عیسویانو له مرئیتوبه وژغوري. خو په دې نړۍ د هغو خلکو لپاره د پناه هیڅ ځای نه و چې په خپلو لاسو یې ځان ته د مرګ سامان برابر کړی ږ.

یوسف بن تاشفین د هغو خلکو د قربانیو انعام ږ چې په تورپان کې یې ډیوې بلې کړې وې، هغه غازي میره د هغو زړښتنیو علماؤ بلنې ته لبیك وواېه چې د اسلام د سرلوړۍ لپاره یې جیلونه او بندیخانې ګاللې د هغه وخت سردارانو او مشرانو یې لارې غوره کړې وه، د هغوی خپلمنځي سیالیو او رقابتونو اندلس د بربادۍ پر ګړنګ درولی ږ. خو د اولس زیاتره .تلك له خپل حال او راتلونکې څخه ناخبره نه ږ، اولس د خپلې آزادۍ داخلي او بهرنۍ غلیمان پیژندل او د هغوی په صفونو کې هغه لاربنوونکي و چې د ډلو، قبیلو او نسلونو ترمنځ یې راپورته کیدونکې د کینې او کرکې دیوالونه نړولې شوای. همدغه سبب ږ چې کله یوسف بن تاشفین د اندلس پر ساحل پل کیښود نو ټول اولس یې هرکلي ته ورغلی ږ د اولس ټولنیز شعور دومره ویښ ږ چې د ډلو واکمن هم د هغه تر بیرغ لاندې ټولیدو ته مجبور شول. خو د غرناطې امیران نن د امن لپاره د خپلې آزادۍ سودا کولو ته چمتو دي، د اولس ټولنیز شعور او احساس لوټ شوی دی، او زموږ علما په داسې ځان تیر ایستلو باندې روږدي شوي دي چې که فردیناند پر غرناطه قبضه وکړي نو دوی به آرام خوب وکړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام غازيانو خپلې وينې نذرانه کړې، خو د غرناطې اولس له دې وينو څخه د خپلې خپلواکۍ ډيوې بلې نکړای شوې، که په دې اولس کې د ژوند کومه ساه پاتې وه نو د موسی بن ابي غسان حوصلو دوی ته د يوه اوسپنيز ديوال کار ورکولای شوای، خو کله چې هغه ستر غازي د خپلې وروستۍ وينا نه وروسته د ابو عبدالله له درباره راووت سترګې يې له اوښکو ډکې وې.

عاتکې وويل : کاکا ناوی! موږ بايد نا اميده نه شو، تاته معلومه ده چې بدر بن مغيره له خپل لږ شمير سربښندويانو سره تر اوسه جنګيږي او دښمن په دې حالت کې هم د هغوی حوصلې ورماتې نکړای شوې چې د شاهين دره له څلورو واړو لوريو کلابنده ده،

: ماته معلومه ده، خو دا د ګوتو په شمير غازيان د ټول قوم د ګناهونو کفاره نشي ادا کولی. ستا کاکا ويل چې د شاهين درې او غرناطې ترمنځ لاره غوڅه شوې ده، اوس موږ ته دا هم معلومه نه ده چې هغوی به په څه ډول ستونزمنو حالاتو کې له دښمن سره لاس او ګريوان وي؟. د هغوی په رګونو کې څومره وينې پاتې دي او په دې وينو به تر کومه پورې د ازادۍ د يوه بله وساتي؟

: موږ يوازې پردې خبر يو چې هغوی د غلامۍ پرځای د شهادت لاره غوره کړه او دوی د هغه انساني عظمت امانت داران دي چې يو مسلمان د برې او ماتې څخه بې پروا کوي.

د غرناطې په اولس کې دومره همت نشته چې د هغوی پر پله ولاړ شي، موږ يوازې ژوندي پاتې کيدل غواړو او ژوند له موږ نه لمن نغاړي. زموږ حالت د هغه انسان په څير دی چې د مرګ له ويرې خپل ځان غرغره کوي.

د غرناطې د اوسيدونکو د بې حسۍ تر دې لوی بل ثبوت څه کيدای شي چې د موسی غوندې د سترو ارادو غازي چيغو هم د دوی ضميرونه راويښ نکړای شول. او کله چې هغه د شهادت له ارزو سره د ابو عبدالله له درباره راووت نو يوازې ؤ.

عاتکې وويل : مګر د غرناطې څو علما، او اميران د ټول اولس د برخليک پريکړه نشي کولی، مسلمانان ته يوازې د کوم حوصله ورکوونکي ضرورت دی، خدای «ج» دې وکړي چې حامد بن زهره په خپل هدف کې بريالی شي. بيا به وګورې چې د سيرانوادا په لمن کې د مسلمانانو هرکلي د آزادۍ غوښتونکو سنګرونه، او د غرناطې اولس به هم پاڅيدلی وي، سعيد وويل چې د غرناطې خلک اوس هم د يو چا د اشارې انتظار کوي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: د غرناطې خلك د هغه ورځې انتظار كوي چې فرديناند الحمرا ته ننوزي او له ځو اونيو وروسته د دوى د برخليك هغه توري شپې پيل شي چې هيڅ سهار نه لري، له الله نه دعا غواړه چې كه د دې هيواد نه بهر زمونږ څوك خواخوږي وي نو د اوربند د مودې له پوره كيدو څخه مخكې راورسيږي، تر كومه چې د غرناطې په اولس پورې اړه لري نو هغوی پردې خبره هم باور نه لري چې حامد بن زهره تر اوسه ژوندی دی.

: د خداى «ج» لپاره داسې مه وايه، هغه ژوندى دى هغه به خامخا راځي.

: لورې! زه تا د ناڅرګندو اميدونو د ډيوو له بلولو څخه نه ايساروم. خو زما د سترګو مخې ته داسې تيارى دى چې د هيڅ ډول رڼا تصور نشم كولى.

: كاكا ناوې! زه به د فرديناند غلامي ونه ګورم، په كومه ورځ چې زه پردې وپوهيږم چې نور موږ ته له غلامې پرته بله لاره نشته، نوزه به دلته ونه اوسيږم. زه به خپل ماما ته ورشم او د الفجاره له غازيانو سره به ورېږي تږې هستوګنه غوره كړم.

پلار جان به ويل چې په دې دنيا د بوه مسلمان لپاره د آزادې تر ژوند لوى انعام د شهادت مرګ دی د عاتكې په سترګو كې اوښكې وځليدې، هغه ناڅاپه جګه شوه اوښكې يې پاكې كړې د بام څنډې ته ولاړه د جنوب ختيز لورې ته يې د سيرانوادا واورينو څوكو ته وكتل.

سلمى جګه شوه ويې ويل : عاتكې راځه! نوره هوا سړه شوه. عاتكې بيله دې چې مخ ور واړوي ځواب وركړ: كاكا ناوې ته درځه زه درپسې يم.

سلمى د زينو په لورې ولاړه.

عاتكه لږ ځنډ وروسته ښې لور ته وګرځيده او د بام په بله څنډه يې په يو ګز لوړ ديوال څنګلې تكيه كړې لويديځ لورې ته يې وكتل او د ماضي په تيارو كې وركه شوه.

اوس د دې په مخكې هغه ژور خوړ ؤ چې هغه غرنۍ كلي يې په دوو برخو ويشه د شمال د وادې په مخ ځوړې كې تر يوى وبالې پورې غځيدلې ؤ.

خوړ دير ژور نه ؤ، د كلي د دواړو غاړو ترمنځ له لږ لږ فاصلې وروسته د تګ راتګ لارې وې، خو سپاره بيا مجبور وو چې بيا د كلي نه لرې د درې د مخ ځوړې نه په جلا جلا لارو كلي ته راشي او يا نيم ميل پاس د غونډۍ پر سر راوګرځي چې دغه خوړ ترې راغلې ؤ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې سترګی د خوږ په پله غاړه په یوه پل کـور ښـخې وي، او دي د هغـو ورځو تصور کاوه چې دی به د مورګو ته نیولی وه او ګرځیدله به.

دا د محمد بن عبدالرحمن کور ؤ، د هغه مور آمنه د دي د مور ملګری وه او د کلی خلکو به ویل چې د دي پلار حامد بن زهره د غرناطی ډیر لوی عالم دی، د عاتکی پلار هم هغه ته زیات عقیدت درلود. کله چې دا په غرناطه کی له خپل پلار او مور سره اوسیدله نو د حامد بن زهره کـور دوی ته ډیر نژدی ؤ. سعید د حامد دریم زوی له دی نه پوازی دری کاله مشر ؤ او د دی د لوبو او ساعت تیری وخت له هغه سره شریك تیر شو، د سعید دوه مشران ورونه د جګړی په لومړیو ورځو کی شهیدان شوی وو، او د عاتکی پلار او مور د هغوی د جهادی کارنامو او د بوډا پلار د صبر او حوصلی کیسی کولی.

د حامد بن زهره په کور کی د عاتکی لپاره تر ټولو زیاته دلچسپی او خوښی د هغه لور آمنه وه، چې دی به خاله بلله، آمنی به خپل کور کی د ګاونډیو نجونو ته سبقونه ویل، او په پنځه کلنی عاتکه هم د هغی شاګرده شوه.

محمد بن عبدالرحمن د همدی کلی د یوه عزتمن کور ځوان ؤ، هغه له نصیر نه څو کاله کشر ؤ، او که کله به هغه غرناطی ته ولاړ نو له نصیر کـره به خامخا ورتلو، بیا د نصیر په سبب د هغه اړیکی له حامد بن زهره سره پیدا شوی او بیا عاتکی یوه ورځ واوریدل چې د دی ساینته استاده چې دی به ورته خاله جانه ویل د محمد بن عبدالرحمن د ژوند ملګری کیدونکی ده.

کله چې دا شپږ کلنه وه نصیر ته د یوی سرحدی کلا قومانده ورکړل شوه، هغه عـاتکه او مـور یی هـماغـه کلا ته ورسره بـوتلل، دواده نه څو مـیاشـتی وروسـته محـمد بن عبـدالرحـمن هم خپله مـیـرمن په کور کی پریښودله او پخپله د جګړی محاذ ته ولاړ ، د هغه له رخصتیدو نه دوی میاشتی وروسته منصور وزیږید.

حامد بن زهره خپل وفادار نوکر جعفر او د هغه میرمن د آمنی کره ور واستول. عـاتکی په دی کلی کی هم د غرناطی په حیر له آمنی نه سبق وایه، او د هغی په لیدو د کلي نورو خلکو هم خپـل ماشومان د آمنی کـور ته ور واستـول، تر دی چې د دوی د کور لاندینی پوړ د یوی مدرسی بنه غوره کړه.

سعـید به لـه غرنـاطی نه چې کله د حـامـد بن زهره او کله د کـوم نـوکر سـره د خپلی خور د لیدو لپاره راتلو نو د دی وړوکی دنیا به د خوښیو ځخه ډکه شوه، دا به سهـار وختی د آمنی کره ورغله که به د کـور دروازه بنده وه نو جعفر کاکا ته به

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ناري کړې، جعفر به په موسکا دروازه خلاصه کړه او عاتکه به په منډه کور ته ورننوته او په سعید پسې به یې ناري وهلې، سعید به چیرته غلی شو، هغه به بیا آمنې ته ورغله او تری پوښتل به یې چې سعید چیرته دی؟

آمنې به ځان ناګاره واچاوه یوی او بلې خواته به یې وکتل او عاتکې به بیا د کور په کونجونو او کوټو کې د هغه لټون کاوه، لږ ځند وروسته ټول کور کرسندو خنداګانو لړزاوه، په دې کلې کې د سعید اوسیدل ټولو ته په زړه پوری وو، او چې عاتکې به سبق ووایه نوره ټوله ورځ به یې له هغه سره په سات تیری تیروله، کله کله به یې هغه خپل کور ته ورسره بیوه او له هغه ځایه کله کله د کلی له نورو هلکانو سره ېیا خوږ اویا غونډیو ته ولاړل.

کله چې بیا لږ رالوی شول بیا به په اسونو سپریدل او سپاره به په چکر وتل، سعید په لس کلنی کې ښه سپور ؤ او په سختو غرنیو لارو یې اس زغلولی شوای. او چې کله به عاتکې هغه ولید خپلې مور ته به یې ویل، چې زه هم په همدغو لارو پر اس چکر وهم، عماری به تر یوه وخته دا را ایساروله خو چې ځیل او ضد یې زیات شو نو اجازه یې ورکړه، خو له دې شرط سره چې د اس جلب به د یوه نوکر په لاس کې وي نوکر به هم ورسره ځي.

یو ځل نصیر څو ورځې په رخصت راغی، هغه چې د خپلې لور مینه ولیده یو ورکي بهیاڼ یې ورته راونیو، او دری ورځې وروسته هغه خپلې میرمن ته ویل چې نور زموږ لور ته د کوم نوکر د ساتنې او څار ضرورت نشته،ځکه خو سبا ته چې نصیر پر اس سپور له کوره ووت عاتکه هم ورسره ملګرې وه، تر دې وروسته به چې کله سعید کلي ته راغی د هغه سره به یې یوځای پر اس سپارلې کولې.

بیا دا ورځې هم د یوه خواږه خوب په څیر تیری شوی او دې داسې احساسوله چې د هوښیاریدو په پیل کې دې د ژوندانه په ښه کې دکور کرسندو خنداګانو تصور کاوه اوس یې ورووړو لمن ورټولوله، د خوږ نه پوری غاړي ته هغه کور اوس هم د دې تر سترګو لاندې ؤ. خو د حامد بن زهره لور او زوم چې دی له فخره خاله جانه او ماما جان ورته ویل هلته نه وو.

* * * * *

د منصور د زیږیدو په دریم کال محمد بن عبدالرحمن د جنوب جبهې ته تللی ؤ او د مالقه په خښتیځ کې د سمندر د غاړي د څو سیمو د ساتنې ذمه واری ورسپارل شوی وه، یوه ورځ آمنه خبره شوه چې هغه ټپي شویدی او د سمندر له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنډی نه ځو میله لری یوی کلا ته رسول شویدی. آمنی دغه خبر خپل پلار ته واستاوه او دایی هم ورته ولیکل چی زه منصور جعفر او زبیدی ته پریږدم او پخپله خپل خاوند ته ورځم، عاتکه او د هغه مور به هم منصور ته پام کوی، بیا هم سعید د ځو ورځو لپاره دلته راواستوی، زه چی د منصور د پلار له حالت ځخه داډه شم بیرته به راستنه شم.

ددی تره هاشم له آمنی سره څلور سپاره له کلی نه واستول او هغوی ځو ورځی وروسته بیرته راستانه شول دا خبر یی راوړ چی د محمد بن عبدالرحمن حالت ډیر د اندیښنی ور نه ؤ خو بیا هم د هغه د ټپ حالت داسی دی چی دوی دری اونی وروسته ایله د ګرځیدو راګرځیدو شی.

دا او مور به یی هره ورځ د آمنی دوی کره ورتلی او چی کله تر یوی میاشتی پوری څه احوال را معلوم نه شو نو هاشم بیا نوکر واستاوه چی احوال یی راوړی. خو د هغه د خوځیدو په دریمه ورځ د دی کلی یو مجاهد له هغه جبهی نه راستون شو هغه د کلی خلکو ته د محمد بن عبدالرحمن او د هغه د میرمنی د شهادت کیسه کوله ویی ویل:

عیسویانو د ساحلی سیمو د نیولو نه وروسته پر غرنی کلا ځو حملی وکړی خو بریالی نه شول، محمد بن عبدالرحمن چی مخ په رغیدو شو د کلا د دفاع قومانده یی په غاړه واخستله ځوابی حملی یی وکړی او دښمن یی بیرته د سمندر د څنډو په لوری ورټولیدو ته مجبور کړ، خو په دی موده کی دښمن پر مالقه د یرغل لپاره نور پوځونه هم ساحل ته راورسول یو لښکر په ساحل د ختیځ او بل د لویدیځ په لوری پر مخ ولاړ، پر دی سربیره د سپرو ډلی هم د مالقه په لوری پرمختګ پیل کړ، ځکه خو د مالقه سردار د شاوخوا چونیو د پریښودلو پریکړه وکړه، هغه محمد بن عبدالرحمن ته هم امر وکړ چی هغه دی له منظم پوځ سره مالقی ته ځان ورسوی او د کلا د ساتنی ذمه واری درضا کارو قبایلو ته پریږدی.

په کلا کی دننه تر دری سوه تنو پوری سرتیری او نژدی څلویښت تنه ښځی وی.

محمد بن عبدالرحمن د لمر لویدونه وروسته هغوی ته د تیاری حکم وکړ، او د ماسختن له لمانځه نه وروسته مور د مالقی په لور وخوځیدو، د سمندر پر غاړه په پراخه لاره د دښمن د یرغل امکان ؤ، ځکه مو غرنی سخته او اوږده لاره غوره کړه. د شپی په وروستی برخه کی موږ تر یوه تنګه لاره تیریدو چی ناڅاپه د ښی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوری له غونډېرنه د غشو او ډېرو باران پيل شو. د سترګو په رپ کې زموږ زيات خلك شهيدان او زيات ټپيان شول، يو شمير سپاره له اسونو سره د لاری ترڅنګ خوړ ته ور وغورځېدل.

محمد بن عبدالرحمن په زوره زوره چيغې وهلې چې پلې سرتيری دې د غونډۍ سر ونيسي او سپاره دې له ښځو او ماشومانو سره خپل مزل ته دوام ورکړي. خو د شپې په تياره کې د ښځو او ماشومانو په هيبتناکو کريږو کې د هغه چيغو ته د چا پام نه شو.

له نيکه مرغه له شانه راتلونکو سپرو سرتيرو خپله ذمه واري احساس کړه او هغوی پر غونډېرور وختل، د شپې په تياره کې د دښمن لټول اسانه نه وو خو چې کله حمله راوړونکو تر شا د تکبير ناری واوريدی نو وتښتيدل، په تياره کې موږ ته د زخميانو او شهيدانو سهي شمير معلوم نه شو، ميړونو خپلو ماينو ته، بچيانو خپلو پلرونو او ميندو ته او سرتيرو خپلو سالارانو ته چيغې وهلې خود محمد بن عبدالرحمن څه درك نه لګيده، موږ ګومان کاوه چې د ماشومانو او تور سريو د ساتنې له دلې سره وړاندې تير شوی دی، د هغه مرستيال يوه سپاره ته امر وکړ چې د وړاندې تللیو احوال معلوم کړي. که سالارو رسره ؤ مشوره ورکړه چې په دې تياره کې موږ ته تر وړاندې تګه دا غوره ده چې د دې غونډېر پر سر شپه تيره کړو، بيا يې څو نورو خلکو ته امر وکړ چې د شاوخوا کليو خلك د مرستې لپاره راوغواړي.

لږ څنډ وروسته وړاندې تللې سپاره له ښځو او ماشومانو سره بيرته راستانه شول د هغوی له خولې معلومه شوه چې دوه ميله وړاندې د وياله پل نړيدلی دی، او څو تنه سپاره په بې خبری لاندې پريوتل، د محمد بن عبدالرحمن او د هغه د ميرمنې هيڅ درك معلوم نه شو، د سپيده چاود نه دمخه د شاوخوا کليو په سلګونو تنه خلك هلته ور ورسيدل، د مشالونو، په رڼا کې يې د شهيدانو مړی او- ټپيان راټول کړل. څو تنه له مشالونو سره خوړ ته ښکته شول او څو تنو نورو د وياله په لوری منډه واخستله، په خوړ کې نژدې دڅلوېښتو تنو مړی شاوخوا پراته وو، د آمنې مړی هم د هغې د آس تر تنه لاندې وموندل شو هلته پنځه تنه ټپيان هم وو خو محمد هلته هم نه ؤ.

کله چې سهار شو يوه سپاهې چيغې کړې: دلته راشي محمد بن عبدالرحمن دلته دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ چې په منډه ورغلو د محمد بن عبدالرحمن مړی د څوکی ېلی دړی ته پروت ؤ. د هغه ترڅنګ د دوو مسلمانو او پنځو عیسوی سرتیرو لاشونه هم پراته وو، یو نصرانی له ده نه څو ګامه لری د ځنکدن په حال کی ؤ، د محمد پر بدن پنځلس ټپونه وو او توره یې تر اوسه په لاس کی وه، مرستیال یې خپله چپنه وویستله او پر هغه یې وغوړوله بیا یې موږ ته وویل:

زه نن د خدای «ج» او د هغه د بندګانو په وړاندی شرمنده یم، ما دا سوچ هم باید نه وی کړی چی محمد له څه خطره تښتیدلی شی. ما تر اوسه پوری داسی ګومان کاوه چی حمله کوونکو زموږ د شانه راتلونکو د تکبیر چیغی اوریدلی دی او تښتیدلی دی. د داسی خلکو سره په مرګ او ژوند ملګرتیا یو ویاړ دی، د هغه د میرمنی مړی راورسوی.

د ولی مرستیال ته دا معلومه وه چی موږ د یوه کلی یو ځکه یی ماته امر وکړ چی ته سمدستی روان شه او توره یې کورنی ته ور ورشوه.

*****

حامد بن زهره او سعید چی د آمنی او محمد بن عبدالرحمن له شهادت څخه خبر شول کلی ته راغلل، حامد څو شپې تیری کړی او بیا بیرته ستون شو هغه منصور هم له ځانه سره بیوه؛ خو د عاتکی مور د هغه د پالنی ذمه واری پخپله واخستله.

د محمد بن عبدالرحمن د کښتونو باغونو او کور څارنه د جعفر په غاړه وه، د هغه میرمن زبیده به کله کله د منصور د پام غلطولو لپاره د «عماره» دوی کره تله او کله به یې هغه رابلله، عماره غوښتل منصور تل له همدوی سره واوسی، خو هغه ویل چی د خپل آغا کور به ویجاړیدو ته پری نږدی. همدغه حالت د سعید هم و، هغه د عاتکی او د هغی د مور د ټینګار سره سره له څو ورځو زیات پاتی نه شو، بیا هم د خپل خوریه د لیدو لپاره په ورځ کی یو، دوه ځله د هغوی کره خامخا ورتلو. او چی کله به بیرته تلو منصور به له هغه سره د تلو ضد کاوه.

عاتکی به ویل: ورورکیه له موږ سره نه پاتی کیږی؟

: نه زه می له ماما سره ځم.

: تاته به کیسی څوك کوی؟

: ماما جان به یې راته کوی.

سعید به هغه په اوږه کیناوه او ورسره به ولاړ، خو چی کله به خپل کور ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسید عاتکه به یې وریاده شوه او هغه به لږ څند وروسته بیرته راووست:
عاتکې! واخله دی درسره سنبال کړه.
هغې به ترې پوښتل : ولې منصوره له ماما سره دې جنګ کړی؟
: هوکې! هغه به شونډې بوڅې کړې او ځواب به یې ورکړ.
: ماما جان مې کیسې نه راته کوي.
زه مې د ماما کیسې نه اورم!!

*****

د هغو ورځو د څومره پیښو انځورونه د عاتکې په زړه پاتې وو، خو زمانې یو بل لټ وخوړ او د موسکا ګانو او کړسندو خنداګانو دغه ښایسته نړۍ په هغو اوښکو کې ډوبه شوه چې د قوم د ټولنیز احساس هنداره وه. نور د راتلونکې پر افق تیارو غلبه کړې وه، او د کلې د نورو ځوانو او هلکانو په څیر سعید او عاتکې هم د هغو وطن پلورو کیسې اوریدې چې بې حسي او غداري یې د غرناطې د لښکر او د غرنیو قبایلو د غازیانو ستري فتحې په ماتو بدلې کړې وې.

بیا د غمونو او مصیبتونو هغه دوران پیل شو چې پر غرناطې د فردیناند د کلابندۍ کړې ورځ په ورځ تنګیده.

د عاتکې پلار نصیر بن عبدالملك ته چې په ډیرو محاذونو یې غیرت او زړوتیا ښکاره کړې وه د دې کلي په شمال کې نژدې پنځه میله لرې د یوې کلا او د هغه بنې او کیڼ لور ته چونړیو قومانده ور سپارلې وه، چې اصل مقصد یې د «سیرا ورمیجا» او الفجاره او غرناطې ترمنځ د اکمالاتو د لارو ساتنه او خلاص پاتې کیدل وو، نصیر ته د دې مهم مسئولیت د سپارلو یو دلیل دا و چې هغه د دې سیمې د یوې بانفوذه کورنۍ غړی ؤ او د خطر په وخت کې یې د خپل شخصي نفوذ په سبب هم له شاوخوا کلیو څخه په زرګونو تنه رضاکار د پوځ مرستې ته رابللی شوای.

د عاتکې پلار د نوي مسئولیت له قبلولو سره په غرنیو قبایلو کې د جهاد د جذبې د تازه کولو لپاره د حامد بن زهره د خدمتونو ضرورت احساس کړ، ځکه هغه د غرناطې د پوځې سالار حضور ته ورغی او دا غوښتنه یې وکړه چې که حامد بن زهره د غرناطې پرځای زموږ کلي خپل مرکز او د اوسیدو ځای غوره کړي نو تر سیرانوادا پورې به ټول قبایل د ده غږ ته لبیك ووایي، کله چې زموږ کلي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضاکارانو مرکز شي نو د غرناطې د لارې پهرې به له شانه نورې هم په امن او خوندي شي.

حامد بن زهره هسې هم کلي په کلي د مجاهدینو د حوصلې د اوچتولو په خاطر گرځېده. هغه ته د پوځ د سالار اشاره کافي وه او غرناطه یې پرېښوده کلي ته راغی.

په کلي کې کاکا هاشم د حامد بن زهره غوره ملاتړ کوونکی شو، عاتکې د پلار په څېر حامد بن زهره له کلونو کلونو راسې پېژاند، د هاشم مشران زامن په پوځ کې تر شاملېدو وړاندې د ده شاگردان وو، په غرناطه کې د اوسېدو په وخت کې هاشم پخپله هم څو ځلې د هغه ارواپالې وېناوې اورېدلې وې، ځکه خو چې کله ده له خپل ورور څخه واورېدل چې هغه به له غرناطې نه دلته کلي ته راځي نو زیات خوشاله شو. هغه د خپلې سیمې ټولو مشرانو ته احوال ورکړ چې له ویالې نه پورې غاړې ته د دغه ستر مجاهد هرکلي ته راټول شي.

بیا عاتکې د تصور په سترگو هغه ارواپاله منظره لیدله چې په زرگونو خلکو د بې دریغه خوښۍ په څپو کې حامد بن زهره ته هرکلی وایه.

لږ څه وروسته بیا دې، مور یې او د کلي نورو تورسرېو د کورونو د دروازو له درشل څخه د حامد بن زهره د راتلو ننداره کوله، هاشم د هغه د اس جلب نیولی ؤ، او گڼ شمېر خلك تر شا وروپسې روان وو، د گڼې گوڼې مخه د خوږ په بله غاړه د محمد بن عبدالرحمن د کور پرځای د هاشم د کور په لوری وه.

بیا هغه دروازې ته نژدې ودرېد، حامد له اس نه پلی شو نجۍ لورې ته په یوه لوره وخوت او دوی د هغه اروا پاله وېنا اورېده.

د هغه په خبرو کې یو سحر پروت ؤ، په حاضرینو کې یو داسې نه ؤ چې سترگې یې اوښلنې نه وې، د هغه د خبرو وروستۍ جملې د عاتکې په زړه لیکلې وې چې ویل یې:

: زما دوستانو!

د اولسونو په ژوند کې یو داسې مهال هم راځي چې د ټولنې د بقا غوښتنه هر سړي د دښمن مخې ته په ټټر سپرکولو مجبوروي د ځوانانو په څېر بوډاگان، واړه او ښځې هم توری اوچتوي او نن د الحمرا دېرې هم دا وایي چې نن د غرناطې د آزادۍ د مړو شویو ډیوو د بلولو لپاره یوازې د قوم د زامنو وینې کافي نه دي.

بلکې د قوم لورانې هم باید خپلې وینې تویې کړي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او عاتکې په زړه کې دا ویل چې کاشکې زه د قوم د یوې لور په حیث خپلې ذمه واري پوره کړای شم.

او کله چې دوې ورځې وروسته بې پلارد څه وخت لپاره کور ته راغې نوورته وبې وویل: پلار جانه! حامد بن زهره ویل چې نن د اولس هر فرد ته د جنګې زده کړې ضرورت دی.

: هو لورې! مونږ له ډیرو حساسو حالاتوسره مقابله کوو. او زه په دې خبره خوښ یم چې لور مې د اس سپارلې او غشې ویشتل زده کړي دي.

: مګر پلاره زه له دې زیات څه زده کول غواړم.

: ته څه زده کول غواړې؟

: زه د جهاد عملي تجربه ترلاسه کول غواړم ، ته ما له ځانه سره کلا ته دې نه درسره بیایې، هلته ماته بنوونکي هم پیدا کیدای شي.

: ستا کلا همدا کور دی لورې! او که خدای مه کړه کوم بد مهال راغې نو زما باور دی چې ته به د ځان ساتنه وکړای شې. خو إن شاء الله داسې وخت به نه راځي او تاته تر سعید ښه استاد چیرته پیدا کیدای شي؟

ما له رضا کارانو سره هغه د غشې ویشتو په مشق لیدلی دی، هغه په توره وهلو کې پوره مهارت لري، د عمر په سبب هغه دوه کاله نور هم په پوځ کې نشي شاملیدای او زه به ورته ووایم چې تر څو دلته اوسې تاته دې منظم وخت درکړي، عمیر هم اوس فارغ شوی دی، هغه به سبا ته راورسیږي او تر درې اونیو پورې به په کور کې وي. ته له هغه نه هم ډیر څه زده کولی شې.

: پلار جانه! هغه خو زه له سعید سره داس له سپارلې نه هم ایسارولم. یوه ورځ مې په انګړ کې د غشیو ویشتلو مشق کاوه هغه مې لینده ماته کړه.

پلار یې وموسکل ویې ویل : هغه لږ ساده دی.

: ډیر زیات احمق دی پلار جانه! هغه مې مور جانې ته ویل چې عاتکه ډې بې لارې کړې ده، یوه ورځ یې سعید پرمخ په څپیړه وواهه.

د هغې پلار وویل : سعید تر ده کشر دی، که نه دا امکان نه لري چې د حامد بن زهره زوی پرمخ څپیړه وخوري او چوپ پاتې شي.

: پلار جانه! سعید هم دې ډیکه کړ او په لبنتې کې یې وغورځاوه.

: لورجانې دا به د وروکتوب خبرې وې اوس هغه ډیر هوښیار شوی دی.

: نه پلار جانه په غرناطه کې په هستوګنه هغه نور هم بې عقل شوی دی. وایې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه کله لوی شم د پوځونو سالار به شم.

: دا خو بده خبره نه ده.

: مگر هغه دا هم ویل چې کله د پوځ سالار شم نو سعید به پر خره سپروم او په ټول ښار به یې راگرځوم.

: پلار یې په خندا شو ویې ویل : تا به خوروی لوری!

عماره وویل : عاتکې ته د درس جاري ساتل هم ضروري دي. زما په گومان خو یې د حامد بن زهره کره ورواستوه.

نصیر ځواب ورکړ : که هغه لږ وخت دی ته وقف کړي نو دا به د دې نیکمرغي وي، خو دلته د هغه د کار ځنگوالی داسې دی چې په عام ډول باید له کوره بهر وي، بیا به هم زه نن له هغه نه وغواړم چې که یې فرصت ومونډ نو دا د ورغواړي، هسې هم دې ته زما د سپارښت اړتیا نشته، د حامد بن زهره ورسره زیاته مینه ده.

له دې وروسته به چې کله حامد بن زهره په کلي ؤ د دې لپاره یې لږ وخت ایسته او چې کله به په دوره روانیده نو دلوستلو لپاره به یې دې ته کتابونه پرېښودل. سعید هم پر لپسې غشي ویشتل او توره وهل ور وښودل. خو د دوی د ملگرې دغه نوې پړاو ډیر لنډ ؤ.

*****

د فردیناند پوځونو د شمال د حاصلخیزو ځمکو او سیمو له تباه کولو وروسته د غرناطې په مخکې پړاو واچوه، دوی ته د جنوب لوری د هغو کلاگانو ارځښت او اهمیت زیات شو چې له غرنیو سیمو سره د تړاو په لارو کې پرتې وې، نصیر ته څو څو ورځې کورته د راتلو فرصت نه برابریدو، ځکه خو هغه خپله میرمن او لور هلته ور وغوښتل.

هغه کلا ډیره لویه نه وه، دننه یوازې پنځه سوه تنه پکې اوسیدای شوای. خو کلا په داسې ځای کې وه چې ډیره خوندي او یرغل کوونکي له څو ډوله ستونزو سره مخ کیدای شول.

دغه کلا په یوه لوړه غونډۍ جوړه وه، شمال لوری ته نژدې دوه سوه گزه وړاندې لاندې یوه ویاله وه، جنوب لوري ته غرناطې ته تللې سړک له کلا نه سل متره لرې تیریده او همدغه سرك شمال ختیځ ته دومره کلا ته نژدې ؤ چې د کلا له برجونو نه لاندې د ډبرو باران تر غشو زیات خطرناك ؤ، او بیا دغه سرك د غره په لمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وراندې تللې ؤ او د ويالې تر پله پورې غځېدلې ؤ. له کلا نه د ويالې تر پله پورې د سړك څوړ دومره خطرناك ؤ چې غرناطې ته د اكمالاتو هغه ګاډي چې غوېانو كشولې له کلا نه، دويالې تر پله پورې بايد خلكو په تكيه رسولې واى او له هغې لورې تشې ګاډې بايد په پيچومې خلكو په تيل وهلو راخيژولې واى. د پله د ساتنې لپاره د ويالې پورې غاړې ته هم يوه ډله سرتيرې پهره وو.

د کلا لويديځ لورې ته يو نيم ميل لرې هم يوې ژورې كندې د طبيعې كندې كار وركاوه، جنوب لورې ته كلا د هغو سيمو او غرونو په سبب خوندئ وه چې د جنګياليو قبايلو كلې د نه فتحه كيدونكو كلاګانو كار وركاوه، له كوم لورې چې د ناڅاپي برغل لږ امكان ؤ هلته د پوځ پهرې ولاړې وې.

د کلا په جنوب لويديځ كونج كې د يوه دوه پوړه كور پاسنې پور د عاتكې د پلار د هستوګنې لپاره غوره كړاى شوى ؤ. په لاندينې پوړ كې د نورو افسرانو كورونه وو، دوى ته د كلا چاپيريال د خپل كلې له چاپيريال څخه ډير توپير نه درلود، په كلې كې له يوې مودې راسې د اس په سپارلې شرميدله، ځكه خو به سهار وختې د چكر لپاره وتله، خو دلته دې ته پوره آزادي وه، هره ورځ به يې څو څو ميله سپارلې كوله، او دې ته شاوخوا څوړونه، كندې او شيلې د خپل لاس د كرښو په څير معلوم وو.

د کلا په څير به د بهر پهره دارانو هم چې دا له لرې وليده وبه يې پيژندله، په پيل كې به چې له كلا نه وتله نو يو نوكر به ورسره ؤ، خو څو ورځې وروسته دې ته د ساتونكې اړتيا نه وه. دې به له زغليدونكې اس نه د غشو ويشتلو تمرين كاوه، او سرتيرو به چې دا ليدله په مراؤ څيرو به يې تازګې راغله.

د خپل سالار د لور حوصلې او ارادې به په دوى دومره ژوره اغيزه وكړه چې ډير خلك د خپلو اولادونو او كډو راوستلو ته چمتو شول. خو په كلا كې دتنه دومره ځاى نه ؤ د دې پلار زياتره غوښتنې رد كړې.

د يوه افسر ميرمنې د دې لپاره د «غرناطې لور» نوم غوره كړ او څو ورځې وروسته همدغه نوم په كلا او شاوخوا پهرو كې مشهور شو.

لمر لويدو ته نژدې به هغې زياتره د كور له بام نه او كله له ويالې نه پورې غاړې د يوې غونډۍنه د جنوب مخ څوړ لورې ته كتل چې تر غرناطې پورې شنه فصلونه او باغونه غځيدلې وو.

كله كله به يې اس د جنوب په لورې وزغلاوه او خپل كلې ته به ولاړه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې کاکا به زياتره له حامد سره په سفر وتلی ؤ. دی به د کاکا ناوی سره ولېدل، بيا به [ ] د منصور د لېدو په پلمه د هغوی کره ورغله او بيا به يې په بېرته راستنېدو کې د حامد له کتابونو څخه کوم يو ورسره راوړ.

سعيد په هغو رضاکارانو کې شامل شوی ؤ چې غرناطې ته يې د غذايي او نورو ضروري شيانو کاروانونه رسول. او چې هغه به له غرناطې نه راستون شو، عاتکې به تر لږ ځنډه د هغه د لیدو موقع موندله.

د غرناطې له کلابندۍ نه وروسته فرډيناند ددغه کلا د نيولو لپاره څو ځلې هڅه وکړه خو کامياب نشو. يوه شپه عيسويانو له زياتو سرتيرو سره له درې لوريو حمله وکړه او د هغوی د سپرو ډلې پله ته نژدې راورسېدې خو د درنو زيانونو ګاللو وروسته بېرته په شا شول.

د کلا ساتونکو پر دې برې خوبنې کوله چې د ختيځ لورې د يوې پهرې د غفلت په سبب د دښمن پليو پوځونو حمله راوړه او تر ويالې پورې وتل، د يوې اوږدې لارې له وهلو وروسته دغه سپاهيان کلا ته نژدې راورسيدل، هغوی څو ځلې په زينو او کمندونو پر کلا د ورختلو هڅې وکړې خو د غشو په باران کې يې هيڅ ونه کړای شول. يو ساعت وروسته د شاوخوا کليو رضاکاران وروررسيدل او دښمن د سختو ځانی زيانونو نه وروسته ماته وخوړه خو په بيرته تلو کې چې تر ويالې پورې وتل درېيمه برخه پوځ يې وژل شوی ؤ.

عاتکې د لومړې ځل لپاره په همدې جګړه کې عملاً برخه واخسته خو تر لمر ختو پورې د دې پلار ته دا نه وه معلومه چې هغه غيشني ويشتونکې چې د ده ترڅنګ ولاړ ؤ او د هر غشي له ويشتو سره به يې لاندې د دښمن د يوه سرتيري کريږې پورته کړې دده خپله لور وه.

دې د نارينه وُ جامې اغوستې وې او مخ يې په خول کې پټ ؤ، نصير دې ته د شاباسي په اراده وراندې وړغې چې ناڅاپه يې له خول نه په تاورا تاو بڼکلو ويښتانو سترګې ولګيدې او بيا يې سترګې په هغو نازکو لاسونو ميخ شوې چې له ګلونو سره لوبيدلو ته جوړ شوي وو.

د دې د پلار تندې ګونځې شو او بيله دې چې څه ووايي مخ يې واړاوه. دا لور په دوو کې حيرانه ودريده او بيا يې زړه نا زړه وويل : پلار جانه! ته لکه چې خفه شوې؟!

پلار يې مخ راوګرځاوه پر شونډو يې موسکا وه او په سترګو کې يې اوښکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډنډ وي.

یو سپاهي را وړاندي شو ويې ويل : جنابه! دا سرتيري د انعام حقدار دی، زه نژدي ورسره ولاړ وم او زما باور دی چی د شپي د تياری سره سره د دی يو غشي هم خالي نه دی وتلي.

پلار يې په مينه په خول لاس راتير کړ او ويې ويل : دا ځوان زما لور ده، د دی د غرناطي له ازادی نه زيات د بل انعام هيله نشته.

*****

اوس د ماضي هغه شيبې دی ته د ژوند شتمنې گرځيدلي وه، بيا هغه ورځ هم راغله چي کله د غرناطي په شاوخوا د کلابندی کړی تنګه شوه او دی به د خپل با همته پلار په څيره کی د ستوماني او انديښني نخښې ليدلي.

د کلا پر شاوخوا دفاعي پهرو د دښمن حملي زياتي او زور وری شوی. له بهر څخه زيات تيپيان کلا ته راوړل شول. او د هغوی پر ځای له کلا نه سرتيری هلته واستول شول، د دی پلار د سرتيرو د کمبود پوره کولو لپاره له شاوخوا کليو څخه رضا کاران راټولول پيل کړل او پر دی سربيره يې له غرناطي څخه هم د مرستي غوښتنه وکړه.

دوی ورځی وروسته شل تنه پلي او اته تنه سپاره وروسيدل د هغوی سالار د عتبه په نامه ورسره معرفي شو، د هغه سترگې بوری او د ږيری ويښتان يې سره رنگي وو.

عاتکي د پلار نه واوريدل چي دی د مالقه په جنګ کی اسير شوی ؤ او نصرانيانو اشبيلي ته ورسره بيولي ؤ، دوی اوني وړاندی له پنځو نورو بنديانو سره را تښتيدلي او غرناطي ته رارسيدلي دی.

د يوځ له قرارگاه نه څرگنده شوه چي دی ښه او هوښيار افسر دی او يو ملګری يې ډير ښه توپچي دی.

دوی هفتي وروسته عتبه په خپله هوښياری او چستي د عاتکي د پلار اعتماد ترلاسه کړ او د پنځوس تنو يوه گروپ قومانده يې په اوږه ور واچوله.

په کلا کی د هغه په باب دا مشهوره وه چي يوازی په حکم اوريدو او حکم ورکولو پوهيږي او بس، او د هغه پر شونډو موسکا هيڅکله نه راتله.

يوه ورځ هغه د يوه تيپي په پټی بوخته وه، ناڅاپه يې احساس کړه چي څوك په دروازه کی ولاړ دی، ورويې وکتل عتبه ؤ، هغه چي وليدل ددی وريام شو يوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا ته ولاړ.

يوه ورځ عاتکه په اس سپره شوه او له کلا را ووتله او ختيځ لوري ته ووتله، له کلا نه دري ميله لرې هغې عتبه وليد چې په يوه ګرندي اس سپور دی هغې په تنګه لاره کې خپل اس يوې خواته کړ او هغه ته يې لاره ورکړه خو عتبه چې ور نژدې شو ناڅاپه يې د اس قيضه ورکش کړه هغې ته يې بو ځل وکتل او بيا يې سترګې ښکته واچولې ويې ويل:

ويخښبه ته بايد يوازې دی خواته رانه شې. پرون زموږ پهره دارانو لږ وړاندې د دښمن د کسانو تګ راتګ ليدلی ؤ. په عادي حالت کې هم د کلا د ساتونکي لور پهرې ته وزي نو بايد د امنيت بشپړ تضمين يې وشي. تاسو دا ګستاخي مه ګڼی له خطره ستاسو خبرول زما ذمه واري وه، د جنوب لوري تر دی خوندی دی خو هغه لوري ته هم بايد له تاسو سره کوم ساتونکي ضرور وي.

هغې ځواب ورکړ : ته زما غم مه کوه زما د ډېر لرې تلو اراده نه وه، او کومه مشوره چې ته ماته راکوې پخپله هم بايدعمل پرې وکړي.

: زه ستا په مطلب ونه پوهيدم.

: زما مطلب دا دی چې د پوځ يو اعلی افسر بايد د ځان خيال وساتي.

عتبه وويل : ته به ما هيڅکله هم غافل ونه وينې، اوس هم څلور تنه له ماسره شته، دوه تنه غشي ويشتونکي لاندې په خوړ کې دي او دوه پاس پر غونډۍ، د دې لارې څارنه کوي، نور په شاوخوا سيمه کې د دښمن څارنه کوي، خو که زه ونيول شوم هم د دښمن جيل راته نوې خبره نه ده مګر تاته ښايي معلومه نه وي چې هغوی له ښځو سره څه وړ سلوك کوي، ته د يوه زړور پلار لور يې، او ما ستا په باب ډېر څه اوريدلي دي. مګر ته بده مه منه زه مشوره درکوم چې په دې حال کې بايد په کلا کې هم ونه اوسې، ستا سو کلي تر دې زيات خوندي دی.

زه به ستا له پلار نه وغوارم چې تا هماالته واستوي؟

: نه، نه! د هغه د انديښمن کولو هيڅ ضرورت نشته، زه د پام کولو وعده درکوم.

: ماته د دې اجازه شته چې درسره پاتې شم! عتبه په پوره سپين سترګی دی ته کتل خو د عاتکې څيره له غوسې تکه سره وخوتيده، د اس جلب يې راوګرځاوه او ويې ويل:

نه ته دې خپل کار کوه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوّ بیا د سترګو په رپ کې د دې اس له هوا سره خبرې کولې.

له دې وروسته عـاتکې هغه ته له دې سره د خپرو موقع ور نکړه د سپرلي لپاره به دا د لرې تلو پر ځای د کلا شاوخوا راوګرځېده او بېرته به راغله، خو بیا به هم کله چې له کلاوتله دا به يې احساسوله چې د پورو سترګو او سرو وېښتانو خاوند دغه سړی يې له کومې ګوښې څخه څاري.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حمله او خیانت

او بیا دی د هغو شیبو تصور کاوه چې په کلا کې دننه ددې د خوښو او خیالونو نړۍ ناڅاپه په تیارو کې ډوبه او ړنګه شوه. یوه شپه دا په درانه خوب ویده وه چې د درنې او ویروونکې چاودنې په غږ راویښه شوه، په کوټه کې تیاره وه، عاتکه تر لږ ځنډه د ویرې او اندیښنې په څپو کې پر بستره غځېدلې وه، چې بیا یې د خلکو د کریږو او فریادونو غږونه واورېدل نو جګه شوه کیناسته او بیا یې خپلې مور ته نارې کړې.

دمخامخ کوټې دروازه بیرته شوه او «عماره» په ویرېدلي غږ وویل ژه دلته یم.

: مورې جانې دا څه وشول؟ پلار جان چیرته دی؟

: ماته هیڅ معلوم نه دی. هغه همدا اوس لاندې کوز شو ښایي دښمن حمله راوړې وي. مګر ما یوه ویروونکې چاودنه واورېده داسې مې ګڼله لکه چې زلزله وي.

عاتکه له بستري نه راپورته شوه په مخامخ دیوال یې خپلې جامې او وسله ولټوله، عماره په تیاره کې ورغله او هغه یې تر لاس ونیوه ویې ویل:

: لورې! ته څه کوې. ستا د پلار امر دی چې ته باید له کوره بهر ته ونه وزې. هغه د زینې دروازه له بهر نه وتړله ویل یې چې زه هم همدا اوس بیرته راستنیږم.

: مورې جانې! زه د پلار له امر نه غاړه نه غړوم. خو د هغه تر بیرته راتلو پورې خو باید جامې بدلې کړم.

عماره څه ځواب ورنکړ. د هغې زړه یې دریغه ټکانونه خوړل، لږ ځنډ وروسته عاتکې د جامو له بدلولو وروسته وسله وتړله، چې یو عمر خوړلې نوکر مشال په لاس کې له ځلورو تور سریو او لږو ماشومانو سره کوټې ته ورننوت.

عاتکې تری وپوښتل : پلار جان مې چیرته دی؟

: هغه لاندې دی او دا امر یې کړی چې تاسو دروازې بندې کړئ.

دې لینده راپورته کړه او د روازې پلو ته یې مخه کړه، خو بوډا نوکر ور وړاندې شو تر مټ یې ونیوه ویې ویل : لوۍ! ته بهر ته نشې تلای.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمن د لوېديځ ديوال له سوري کولو نه وروسته کلا ته د ننوتلو هڅه کوي.
موږ هغوی شاته تېل وهلي دي، خو حالت ډېر د انديښنې وړ دی.
: د دښمن توپخانه دلته څه وړ راورسيده؟
: لوري ديوال يې په باروتو والوزاوه. او د برج نه لاندې د باروتو لپاره سوري له بهر نه نه بلکې کوم خاين دننه څخه کړي دي.
: دا څنګه امکان لري، څنګه کيدای شي چې ټول پهره داران دې ويده وي؟
: لوري د برج سره لاندې د سرتيرو کوټې دي او سوري له يوې کوټې څخه شوي دي، د ديوال سوري ډېر لوی نه دی خو له هغه سره ډېرې کوټې په څمکې لوېدلې دي.
: زه لاندې نه ځم خو له برج نه غښتي ويشتلای شم.
عاتکې دا وويل او د خپل مټ د خلاصولو هڅه يې وکړه. خو عماره ورسره غاړه غړې شوه وې ويل : لورې! د خدای «ج» په خاطر د ده خبره ومنه!
بوډا سپاهي وويل : کله چې د ديوال سوري بند کړای شي نو بيا زه تانه ايساروم، خو په دې حالت کې بايد د خپل پلار له امر نه سرغړاوی ونه کړې.
هغه خفه شوه ويې ويل : ډېر ښه زه برج ته نه خيژم مګر د کور بام خو خوندي دی لږ تر لږه خو مې هنلته پرېږده!
: لورې! دښمن دې طرف ته نه هغه بل لوري ته دی او ګوره ته ما د جهاد څخه را ايساروې دا يې وويل او بيا يې مشال په ديوال کې چوخ کړ بهر ته ووت او دروازې ته يې زنځير واچاوه.
لږ څند وروسته د کلا لوېديځ لوري ته د خلکو ګنه ګونه لږ شوه، عاتکې خپل زړه ته تسلي ورکوله چې دښمن په شاشو خو ناڅاپه د کلا ختيځ لوري ته شور ماشور پورته شو او د دې زړه ولوېد. هغې د جګړه کوونکو د کريزو سره سره د تورو شرنګهار هم اوريده، په کوټه کې ماشومانو او ښځو په وېره وېره يو بل ته کتل.
د عاتکې په زړه کې ناڅاپه يو خيال راوګرځيد. په منډه د شا کوټې ته ولاړه، په کوټه کې دننه د کور سامان او د لرګيو دوه صندوقونه وو، دا په صندوق ودريده او د شا د ديوال کړکې يې خلاصه کړه، بهر ته يې وکتل، خولاندې يې د دښمن هيڅ نښه ونه ليده.
عماره ور نږدې شوه ورته ويې ويل: لورې ته څه کوې؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: هیڅ نه موری ما بهر ته کتل خو دلته هیڅوك هم نشته. هغی زر کړکۍ بیرته بنده کړه او له خپلی مور سره بلی کوټی ته ولاړه، بیا یی د زینو له لوری د څو تنو د پښو له غږ سره د خبرو غږونه واوریدل او دی په حیرانی بلی کوټی ته کتل. د زینی او مجلس د کوټی دروازه بیرته شوه او د دی د پلار غږ اوچت شو.

: د خدای «ج» لپاره وخت مه ضایع کوی، اوس به دښمن تر دې ځایه په را رسیدو کی ځنډ ونکړی. له تاسو نه دوه تنه زینه ساتی. او نور بام ته اوچت شی د جنوب برج پهره دارانو ته غږونه کوی، که هغوی له همت نه کار واخست نو دښمن به د شپی پر ځای تر سهار رڼا پوری انتظار وکړی. ته هغوی بهر ته وباسه او تولی دروازی وتړه.

ده مشال را پورته کړ بلی کوټی ته ننوت، څو شیبی وروسته نصیر دملاقات له کوټی نه راښکاره شو، د هغه په لیدو عماره چی خپله لور یی تر مټ نیولی وه یوه چیغه وکړه او پر غولی راولویده.

عاتکی په حیرانی د خپل پلار په وینو لمبیدلی وجود ته کتل، نصیر ور وړاندی شو عماره یی په خپلو لاسو راپورته کړه پر بستره یی وغورزوله او بیا بی سیکه پریوه کرسۍ کیناست، د هغه سترگی د عماره پر مخ ښخی وی او ویل یې : عماره عماره! زه روغ یم، بالکل رك روغ یم. یوی ښځی چیغی کړی تاسو څه ته گوری د هغه وینی بهیږی او بیا راوړاندی شوه په تیکری یی د هغه وینی پاکی کړی.

عاتکی خپل اعصاب راقابو کړل او بلی کوټی ته ولاړه د ملهم او پټی د سامان کڅوره یی راواخستله او یوی ښځی ته یی دیوه په لاس ورکړه کڅوره یی پرانستله چی د دوی بوډا نوکر عبدالله کوټی ته ورننوت دروازه یی بنده کړه ویې ویل :

تاسو ماشومان بلی کوټی ته بوزی او چوپ یی وساتی. یوی ښځی وویل : د خدای «ج» لپاره طبیب راولی د ده زخم ډیر ژور دی.

: اوس د طبیب لټول امکان نه لری، عاتکی لوری! دا کار باید ته وکړی.

هغی په لړزیدلیو لاسونو د خپل پلار د سر پر زخم ملهم کیښود او پټی یی پری وتړله، بیا یی پلار خپل کمیس وشلاوه په پښتیو کی یی یو بل تپ ورو ښود ویی ویل : لوری! زر کوه زما ملگری زما د ورتلو انتظار کوی.

لږ ځنډ وروسته هغه د دوهم تپ له تړلو څخه هم وزگاره شوه او د پلار یی بیا عماره ته پام شو: عماره، عماره! عماره سترگی وغړولی. او تر لږ ځنډه یی خپل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



میره ته حیران حیران کتل. د هغې شونډې خوځېدلې خو له کومې نه یې غږ نه راوت. نصیر خپل لاس د هغې پر سر کېښود او د موسکې کیدو هڅه یې وکړه لو له دې سره یې سترګې اوښلنې شوې.

عماره د هغې لاس ونیو او ښکل یې کړ، او په سلګیو کې یې وویل: ستا زخم؟!

هغه ځواب ورکړ: زما زخم ډېر معمولي دی ته هسې وویرېدې، عماره جګه شوه کیناسته.

: پلار جانه اوس به څه کیږي؟ عاتکې په ډېر زحمت وویل:

نصیر مخ وروګرځاوه هغې ته یې وکتل او خپل لاس یې وغځول هغې په غولې ګونډه ووهله او سر یې د پلار پر سینه ورکېښود او په ډېر زحمت یې خپلې سلګې راټم کړې.

د هغه پلار لکه چې له ځانه سره وایي: زما لورې عاتکې! زما غیرتي لورې! اوس ته باید له زیات همت څخه کار واخلې، موږ د بهرني دښمن غابش ماتولې شو، خو پخپلو کوروتو کې د پټو غدارانو مقابله نشو کولی. موږ هغوی زغلولي وو، زما ملګریو د حصار سورې پخپلو مړیو پټ کړ، خو غدارانو ته د دروازې پرانستلو فرصت برابر شو ماتل د هغه په اړه په زړه کې اندېښنه احساسوله پلارجانه! ستا خو به پر هغه سړو ویښتانو خاوند سړي شك نه وي؟

: زما شك نه بلکې پوره باور دی چې هغه د دښمن جاسوس دی. په کوم ځای کې چې دیوال په باروتو الوزول شوی دی په هماغه ځای د ده د ملګرو کوټې وې چې له چاودنې نه لږ مخکې پهره دارانو له هغو کوټونه دوه تنه لیدلې وو چې دروازې ته تللي وو، دا زموږ بد مرغي وه چې عتبه نن پر دروازه پهره کوله. هلته څو وفادار سرتیري هم وو او د هغوی په موجودیت کې د دروازې پرانستل ممکن نه وو خو کله چې په دیوال کې سورې جوړ شو له هغوی نه زیات د غلیم د یرغل د مخنیوی لپاره هلته ورغلي وو.

عاتکې د لومړي ځل لپاره احساسوله چې د دې حیثیت د یو کمزورې او بې وسې نجلې نه زیات نه دی، هغې سر راپورته کړ خپل پلار ته یې وکتل او ویې ویل:

پلار جانه اوس به څه کیږي؟

: لور جانې! زه اوس هیڅ نشم ویلای. کیدای شي دښمن زموږ په وینو د خپلې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تندی ماتولو لپاره تر سهاره انتظار وکړي او له بهر نه موږ ته مرسته راورسیږي. خو که هغوی جګړې ته دوام ورکړ نو دلته په رارسیدلو کې به ځنډونه کړي، زما له خپلو ملګرو سره اوسیدل ضروري دي. خو پخوا له دې چې بهر ته ووزم له تانه یوه وعده اخلم ایا ته د یوی نیکمرغه لور ثبوت راکولی شې؟

: پلار جانه! ما هیڅکله هم ستا اعتماد ته زیان نه دی رسولی، خو ته په دې حالت کې بهر ته نشې تلای.

: زه بام ته ځم د بهر احوال اخلم، که خدای مه کړه دښمن پر کور حمله وکړه نو بیرته به راکوز شم خو ته باید له خپلې مور سره پاتې شې او ستاسو لپاره د شا کوټه تر دې غوره ده، عبدالله به له تاسو سره وي. ماشومان به په تیاره کې ویرېږي ځکه هلته بل مشال بل کړې خو کړکۍ بنده کړې چې رڼا بهر ته ونه وزي.

دې څه ویل خو پلار یې په خوله کې ور ولوید: لورې! اوس د خبرو وخت نه دی، عبدالله ته څه ته ګورې! زر کوه د ماشومانو لپاره ډوډۍ او اوبه هم دننه یوسه. عماره استراحت ته اړتیا لري د هغې بستره هم دننه وغوړوه.

: نه زما بسترې ته ضرورت نشته. عماره په خپ غږ وویل.

لږ ځنډ وروسته ماشومان او ښځې د شاکوټې ته تللي وې. خو عماره او عاتکه تر اوسه پورې زړه نا زړه د نصیر په مخکې ولاړې وې. نصیر اوبه وغوښتې او له څو غوړپه څښلو وروسته ناڅاپه ودرید ویې ویل: نوروخت مه تیروی وفاداری میرمن خپل میره ته وکتل، د خپلې لور لاس یې ونیو او په لړزیدلیو ګامونو بلې کوټې ته ولاړه.

د هغې پلار خپل وفادار ملګري عبدالله ته وکتل: اوس ته درځه او دروازه بنده کړه. نوکر دننه ولاړ دروازه یې زنځیر کړه او نصیر وراندې شو د بهر دروازې ته یې له بهر نه کولپ واچاوه.

عاتکې په وارخطایي چیغه کړه: پلار جانه! تا وعده کړې وه چې بام ته به ځې او بیرته به راښکته کیږې!

: لورې! زه هڅه کوم چې خپله وعده تر سره کړم، اوس زما خبرې په غور واوره، عبدالله به درته ووایي چې ما دروازه ولې بنده کړه. او زه غواړم که وځنډیدم نو تاسو د ده په وینا عمل وکړی. عبدالله! هغه سامان د صندوق شاته پروت دی.

: پلار جانه! پلارجانه! هغې غږونه پسې وکړل خو پلار یې څه ځواب ورنکړ او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو شيبې وروسته يې د هغه د ګامونو غږ اورېد.

*****

عبدالله وويل : لوري په زوره چيغې مه وهه.

هغې خپلې مور ته وکتل ويې ويل : مور جانې ماته معلومه ده چې د صندوق تر شا څه شي دي، پلار جان غواړي چې مونږ د کلا نه ووزو او دې له مونږ سره نه ځي. د هغه باور ؤ چې مونږ به تر مرګه د ده ملګرتيا پرېنږدو ځکه هغه دروازه له بهر نه وتړله.

عبدالله د صندوق له شانه د پرې زينه راوايستله ويې ويل : لوري! کله چې مونږ دلته راغلو نو دا زينه دلته پرته وه، ښايي د دې کلا پخوانې ساتونکي ته دا خيال ور غلی وي چې دا به يې د بال بچ کومه ورځ په ښه راشي، خو ستا پلار جان په دغسې خبرو فکر ته هم چمتو نه ؤ، که نن هغه ته يوازې ستا د مرګ او ژوند مسأله واى نو دومره به انديښمن نه ؤ، خو ته پوهېږې چې له بندي ښځو سره نصرانيان څه ور سلوك کوي؟

د دې کلا ساتونکي تا د «غرناطې لور» په نامه پيژني، نن سبا د ژوند ستر ازموينېت دى، که تا له همت څخه کار واخست نو امکان لرى دا ښځې او ماشومان د دښمن د وحشيانه ظلمونو څخه وژغورل شي. اوس به د جنوبي برج ساتونکو اور بل کړى وي او زما باور دى چې بهر ته به د اور د لمبو رڼا دننه وضعيت ښه روښانه کړى وي، هغوى به دلته په رارسيدو کې ځنډ نه کوى خو که دښمن د هغوى د راتګ نه وړاندې زمونږ دفاعي ځواکونه وځپل بيا خو زمونږ ټوله هڅه دا ده چې تاسو او ماشومان بايد له کلا نه وباسو.

د شپې مهال به تاسو ته د جنوب سيمه خوندي وي او زمونږ تر کلي پورې به د لارې ټول خلك له تاسو سره مرسته خپل فرض ګڼي، اوس تاسو بايد بهر ته تلو ته چمتو شي. کله چې زه د زينې د ځولو لپاره کړکې خلاصوم نو مشال بايد مړ شي چې رڼا يې بهر ته ولاړه نه شي. ستاسو څخه چې هر څوك مخکې کوزېږي هغه به يوې او بلې خواته له منډو او تيښتې ډډه کوي او ځاى پر ځاى به ديوال ته نژدې د نورو دورکوزيدو په انتظار پاتې کيږي.

*****

لږ ځنډ وروسته عبدالله زينه کړکۍ ته نژدې پر ديوال په اوسپنيزو ميخونو وتړله.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کلا کې د جنګیدونکو چیغې او کوکارې د دوی هستوګن ځای ته ور نژدې کیدې، ښځو او ماشومانو حیران دریان یو بل ته کتل، عاتکې سترګې په وره خبنې کړې وې او له یوه وړوکي درز څخه يې بلې کوټې ته کتل. ناڅاپه دا په شا شوه او له درشل نه یې پاس محراب ته وکتل، بیا یې یو لوی صندوق راکش کړ دروازې ته یې کیښود، او یو بل وړوکي صندوق یې را واخست د هغه پر سر يې د کیښودو هڅه وکړه خو صندوق دروند ؤ ونه توانیدله، عبدالله ورته وویل : لورې څه کوې؟

: هیڅ هم نه، ته مرسته راسره وکړه، زه د پاس دریڅې نه هغه کور ځارم. زر کوه پر دې کور هم حمله وشوه لکه چې لاندې دروازې ماتې شوې عبدالله تر اوسه زړه نا زړه ولاړ ؤ چې دوو نورو ښځو له هغې سره مرسته وکړه وړو کې صندوق یې پورته کړ د لوی پر سر یې کیښود.

عاتکه په بیړه د صندوقونو پر سر ودریده او له جالې نه یې بلې کوټې ته وکتل، د جالې سورې دومره وړوکي وو چې دې ایله د بلې کوټې نیمایي غولې لیدلې شو، دې خنجر را ویوست او دوراسته لرګي یوه برخه يې ماته کړه.

عبدالله همغسې چیغې وهلې : ته څه کوې؟ له هوښیارۍ نه کار واخله، او اوس د هغه مور او نورې ښځې هم د بودا نوکر له اعتراض سره ملګرې شوې، هغې د نیم بالښت په اندازه په لرګي کې له سورې جوړولو وروسته خنجر په تیکی کې کیښود شاته یې راوکتل او ویې ویل : تاسو دومره ولې پریشانه یاست؟ تاسو ګورئ که زه دا ټول محراب مات کړم هم دا دومره وړوکی دی چې یو درې کلن ماشوم نشي ترې تیریدای. ما یوازې دا غوښتل چې که مې پلار جان راشي زه یې ښه ولیدای شم.

عماره په ډوبیدونکي غږ وویل : هغه تر اوسه ولې رانغی ولې دومره وځنډیده؟ په کوټه کې تر لږ ځنډه چوپتیا خپره شوه بیا د هغو خلکو شور پورته شو چې د زینو په لور یې منډې وهلې او عبدالله چیغې کړې : هغوی د زینې لاندینۍ دروازه ماتوې، اوس تاسو چمتو کیږئ. عاتکې تر ټولو دمخه ستا نوبت دی.

هغه زر لاندې کوزه شوه لینده یې راواخستله او ویې ویل : نه! تر ټولو دمخه د هغو ماشومانو میندې باید کوزې شي، بیا به ماشومان کوز کړو بیا به مور جانه او وروستی به زما نوبت وي.

د ځنګ له کوټونه د خلکو د منډو رامنډو غږونه راغلل او بیا د درې وروڼو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصېدو او پورې کېدلو غړونه راغلل، هغه بېرته زر پر صندوق ودرېده او تر سوري يې وکتل.

د هغې پلار له شپې اوو تنو سره کوټې ته راننوت او په بېړه راغی د دروازې زنځير يې خلاص کړ ويې ويل : عبدالله‌زر کوه نور ستاسو سره زيات فرصت نشته. عاتکه راکوزه شوه عبدالله صندوق له دروازې نه کش کړ دروازه يې بېرته کړه. له نصير سره دري تنه نور له خپلو ميرمنو او بچيانو سره د خدای پاماني لپاره ورننوتل. هغه يوی ښځې ته وويل : خوري! موږ ستا خاوند ونه موند، تاسو اوس بېړه کوی، دښمن به دلته په رارسيدو کی ځنډ ونه کړي! عبدالله مشال په بله کوټه کی بل ملګري ته ورکړ بيا يې دروازه بنده کړه او ور پورته شو کړکی يې پرانستله زينه يې لاندی وغورځوله.

د عاتکې پلار وويل : عبدالله يو ماشوم درسره واخله او لاندی کوز شه عبدالله يوه شيبه په اوښلنو سترګو ده ته وکتل بيا يې وويل : تاسو عاتکې ته ووايی چی په راکوزيدو کی ځنډ ونه کړي.

هغې خپل سر د پلار پر اوږه ورکيښود په هيله منه لهجه يې وويل : پلار جانه! زه ستا امر منم زه يوازې دومره غواړم چی د ټولو نه وروسته کوزه شم، ستا لور د ځان ساتنی په لاره کی بايد لومړی نه وي.

: لوري! دا تا ولی داسی ګومان کړي چی زه به ستا ژوند د نورو پر ژوند غوره بولم. زما باور دی چی تر څنده به دښمن را ايسار کړای شو، او تاسو ټول به په پوره ډاډ د ښکته کوزيدو فرصت ترلاسه کړي. که موږ له بهر نه څه مرسته تر لاسه نه کړه هم دښمن به ستاسو د لټون پر ځای تر سهاره په کلا کی په مرګ ژوبله بوخت وي، بيا هم تاسو بايد له سرك نه لری اوسی دغه ښځی او ماشومان کورته درسره بوزه، هلته به ستا کاکا د دوی لپاره مناسب بندوبست وکړي، که تا په خپل کلی کی څه خطر احساس کړ نو له خپلې مور سره د ماما کره ولاړه شه، عاتکي ډير په زحمت خپلی سلګۍ را تم کړي ويې ويل : پلار جانه موږ به تر وروستۍ سلګۍ ستا د راتلو انتظار کوو.

*****

لږ ځنډ وروسته چی له دوو وړوکو لخونو د هغوی ميندو او عماره نه پرته نوري ښځی او ماشومان ښکته شوی وو حمله راوړونکو د زينی دوهمه دروازه ماتوله.

يو ځوان مشال له لاسه په بلی کوټی کی وغورځاوه او نصير يی تر مټ ونيو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيغه يې کړه : دښمن موږ ته د مرستې را رسېدو د انتظار فرصت نه راکوي، د خدای «ج» په خاطر ته هم له دوی سره ولاړ شه. غرناطه تاته زياته اړتيا لري.

نصير له کوټې راووت وېې ويل :غرناطه د شهيدانو وينو ته ضرورت لري او زما په رګونو کې لا څو څاڅکي وينه شته. بيا يې د کوټې دروازه له شانه بنده کړه غږ يې وکړ : عاتکې له شانه ته هم دروازه زنځير کړه او په بېړه کېدو کې بېړه کوه.

دې د پلار وروستي امر عملي کاوه.چې د زينې لخوا د دروازې د ماتېدو غږ يې واورېد او له دې سره يې د خپل پلار غږ واورېد چې موږ به په بله کوټه کې د دوی د ايسارولو هڅه کوو.

دا څو شيبې چوپه او حيرانه ودرېده.بيا يې زر دروازه زنځير کړه، صندوق يې ور تيل واهه دروازې ته يې پرېښود پر هغې ودرېده او بلې کوټې ته يې ور وکتل چې اوس خالي شوې وه، په دې څنډ کې حمله راوړنکو د دوهمې دروازې د ماتولو هڅه کوله يوه ښځه کړکۍ ته نژدې ولاړه وه دوی ته يې راکتل. بيا يې غږ وکړ: عاتکې، عماره! زر راشې تول چټکه شول.

دې مور ته وويل : مور جانې ورځه هغوی به ډېر زر ور رامات کړي.

: ته به څه کوې؟

: زه هم راځم، لور جانې زر کوه د خدای «ج» لپاره! په دروازه کې د خلکو چيغې او د تېرونو غږونه اوچت شول، عماره په ته زړه کړکۍ لورې ته ولاړه، خو يو درز يې پښتو ته زولنې واچولې. له دې سره يې د جنګياليو چيغې او د تورو شرنګهار واورېد. عماره څو شيبې حيرانه ودرېده بيا يې زړه ولوېد او لاس يې پرې ونيو او کېښناسته.

عاتکې وويل : مور جانې! خو چې غږ يې وانه ورېد ذاړه شوه فکر يې کاوه چې تللې ده، د دې د زړه غږ. دا ؤ چې اوس بايد په تلو کې څنډ ونه کړي، اوس زه د هغوی هيڅ مرسته نشم کولی. خو د پلار مينې د عقل تولې پرېکړې رد کړې. د هغې اوس هم دا هيله وه چې د تقدير کومه معجزه به يې پلار وژغوري.

له بهر نه ناڅاپه د دوی مرستندويان را ورسېږي، او بيا ښايي د دوی د تېښتې اړتيا هم نه وي.

په دې څنډ کې څلور تنه له بلې کوټې نه دوهمې ته د دښمن د تورو د ګوزارونو په دفاع کې په شا راغلل وروستي سړی د دې پلار ؤ، هغه چې دهليز ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدی راغی څوابی حمله یی وکړه، حمله راوړونکو دوه مری پرځای پریښودل او په شا شول. یوه ځوان زر دروازه پوری کړه او زنځیر یی ور واچاوه.

*****

حمله راوړونکو اوس دا دروازه هم ماتوله نصیر دیوال ته شا کړی وه او ولاړ ؤ. جامی یی په وینو سری وی او سترګی یی له بی سیکی نه پتېدی او غړېدلی. پاتی دری نور کسان هم زخمی زخمی وو، یو زلمی چی د ورمېږ له زخم نه یی وینی خوټېدی ناڅاپه وغورځېد.

عاتکی پلار ته فریاد کول غوښتل خو د خولی چوله کولو جرئت یی ونه کړ. بیا یی غشی په لینده کی سم کړ او د ماتیدونکی دروازی په لوری یی وکتل. چا له بلی کوټی نه په عربی ژبه ویل : نصیره! ځان وژنه مه کوه! تالوېه بایللی ده، اوس ستا یو مرستندوی هم دلته نه راځی وسله وغورځوه زه اوس هم ستا د سر د امن ذمه واری اخلم.

نصیر چیغی کړی : عتبه! ته غدار یی، تا د اولس د آزادی معامله کړی ده، مګر زما توره یوازی مرګ رانه اخستی شی. ته یوازی زما د مړی بیه اخستی شی. زما د عیسویانو د مریی کیدو قیمت نشی ترلاسه کولی.

او بیا دا دروازه هم ماته شوه، یو دیو صورته نصرانی له تبر سره وړاندی راغی او ورسره سم د عاتکی غشی د هغه په ورمېږ کی ښخ شو. هغه وغورځېد او وریسی نور را روان یوی او بلی خواته تیت پرك شول. خو د حمله راوړونکو یوه بله ځپه د خپل ملګری په مړی وروختل او کوټی ته ورغلل.

د دی پلار دوه تنه ټپی کړل او بیا یی د شا کوټی دروازی ته ډډه ولګوله، د ده یو ملګری پر غولی راوغوځېد او ساه یی ورکړه، پاتی دوه نورو د زخمی زمریانو په څیر د ده ښی او کیڼ لوری ته حملی کولی. د عاتکی په غشیو دوه تنه نور نصرانیان هم ټپیان شول، او نصیر چیغی وهلی: عاتکی! زما خبره واوره، زر کوه، ته باید زما نافرمانی ونه کړی، بیا ناڅاپه د هغه آواز چوپ شو. عاتکی د سوری نه هغه توری او نیزی لیدلی چی د خپلو رقیبانو له لاسونونه یی وروستی بدل اخست. د عاتکی زړه له دی ویروونکی ننداری نه ولړزیده، په سترګو کی یی

اوښکی ډنډ شوی نژدی وه چی بی هوښه شی خو د وضعی نزاکت دی ته اړه کړه چی ځان راقابو کړی.

عتبه د حمله کوونکو په ګڼه ګوڼه کی لاره وکړه او وړاندی ولاړ، عاتکی پر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د غيشي د ويشتلو هڅه وکړه خو ناڅاپه ېچ شو، هغه خپلو ملګرو ته وويل:
تاسو ليونيان ياست ما درته ويل چې تاسو داسې سړي وواژه چې که مو ژوندی نيولی وای ډېر لوی کار مو تری اخستلای شوای!!!
يو سړي راوړاندی شو دروازه يې تيله کړه ويې ويل : په دې کوټه کې دننه هم خلك شته.

عتبه وويل : ته احمق کېږه مه! په دې کوټه کې له تور سريو او ماشومانو پرته نور څوك نشته او د هغوی ژوندي نيول ضروري دي.
د عتبه له ملګرو نه يوازې دوه تنه عاتکې سهي ليدای شوای، د هغوی شاته د عتبه څيره هم زياته د دې له نظره پناه وه.
عتبه له لږ چوپتيا وروسته وويل : ماته معلومه ده چې ته دننه يې، او ستا په غشي يو داسې سړي وژل شوی دی چې ژوند يې ډېر ارځښتناك و، زه افسوس کوم چې ستا پلار مې ونه ژغورلای شو. تاته په ياد دي چې ما خپل کور ته د تلو مشوره درکړې وه، اوس زه له تانه پرته ستا مور او نورو ماشومانو او ښځو ته هم پناه درکولی شم. مور دا دروازه د سترګو په رپ کې ماتولای شو خو زه تا د يوه بريغن لښکر له ظلم نه ژغورل غوارم. مور دا جګړه بايللې ده او زه ستانه پرته د اندلس د لکونو لورانو له مرګه ژغورل غوارم، ته يوه با تدبيره نجلۍ يې، زه د اندلس د مسلمانانو د نورې تباهۍ د مخنيوی لپاره ستا د مرستې غوښتونکی يم. پر ما اعتماد وکړه او دروازه خلاصه کړه، زه دا نه غوارم چې ته د يوې زندانې په څير دی لښکر ته را وړاندی شې. زه په عزت ستا کور ته د استولو ذمه واری اخلم، ستا په سبب به ستا کلی هم خوندي او په امن وي، د خدای «ج» لپاره زما پر وعده اعتبار وکړه که نه نو زه به دا دروازه ماتوم. د خبرو په وخت کې د عتبه مخ تول دی ته ښکاره شو، خو کله چې دی غوښتل غشی ورخوشې کړي له شا نه يې د چا توخې واورېد:
عاتکې! عاتکې ته! عبدالله په ويريدلی لهجه وويل او له دې سره سم د دې له لړزيدونکو لاسونو غشی خوشې شو. عتبه زخمي شو او يوې خواته يې ځان وغورځاوه، دی د سترګو په رپ کې د هغه ښي وروځې ته نژدې غوځ پوستکی او سوري غوږنه پرته نور ونه ليدای شو.
عتبه چيغې کړې : يو لوري ته شې او بيا تيټ تيټ وړاندې ورشی دروازه ماته کړی!!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاتکه په بیړه راکوزه شوه.

عبدالله چیغې وهلې : عاتکې، عاتکې! ته څه کوې د خدای«ج» لپاره له عقل نه کار واخله، ستا مور چیرته ده؟

: مور مې! دا وارخطا شوه زیاته یې کړه:

لاندې نه ده کوزه شوې!

: نه د خدای «ج» لپاره ووایه هغه چیرته ده؟

هغه په وارخطایې وراندې ولاړه خو دریڅې ته نژدې یې پښه بنده شوه توك یې وخوړ او د یوې شیبې لپاره یې ساه بنده شوه، بیا یې چیغه کړه:

کاکاجانه! مور مې دلته ده ماته معلومه نه ده ما فکر کاوه چې کوزه شوې ده، دا بې سده وه، ما د تلو نه مخکې غوښتل یو ځل مې پلار جان ووینم خو هغه شهید شو.

عبدالله زر عماره په اوږه کړه او ویې ویل:

لورې ته زر ځان لاندې ورسوه، زه ستا مور دلته نشم پرېښودلای، وخت مه ضایع کوه هغوی دروازه ماتوي.

عاتکه له کړکۍ نه ووتله ویې ویل : ته به هغه را کړای شې؟

: ته د هغې فکر مه کوه اوس د خبرو وخت نه دی.

عاتکې په یوه لاس کې لینده نیولې وه او لاندې کوزه، شوه، خو د زینو په منځ کې ناڅاپه ودریده او دریڅې ته یې وکتل، عبدالله دریڅې نه راوتلی ؤ او دی په تیاره کې دا احساسوله چې هغه یوازې نه دی.

دا زر لاندې کښته شوه دیوال ته نژدې څوك نه وو، څوګامه شاته ولاړه او د کندې په څنډه یې د عبدالله د راتګ انتظار کاوه عبدالله عماره په اوږه ورو ورو ښکته کوزیده او په زینو کې یې په احتیاط پل ایښودو د عاتکې زړه درزیده او په لینده کې یې غشی ایښی ؤ او پاس یې دریڅې ته کتل، ناڅاپه له دریڅې نه رڼا ښکاره شوه او یو سړي چې مشال یې په لاس کې ؤ سر له دریڅې بهر راوبوست او شور یې ګډ کړ له دې سره د دې له لیندې غشی ووت او مشال ځمکې ته راولوید، په دې څنډ کې عبدالله ځمکې ته را رسیدلی ؤ، هغه وویل عاتکې په کنده کې کوزه شه، اوس به هغوی خامخا په موږ پسې راځي. ښې لاس ته وګرځه هلته د زیتون د ونو ترڅنګ یوه لاره لاندې کښته شوې ده.

دی له څه ویلو پرته لاره ونیوه او څو شیبې وروسته دوی تول په یوه تره لاره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاندې کوزېدل، عماره تر اوسه بې سده وه.
عاتکې په وار وار د هغې په نبض لاس نیوه بیا یې له عبدالله نه پوښتل چې تر اوسه ولې په هوښ نه ده راغلې. هغه به د تسلې ورکولو هڅه کوله ویل به یې: لورې له حوصلې نه کار واخله إن شاء الله روغه به شي.
نژدې نیم میل چې ولاړل عبدالله عماره په ځمکه پرې ایسته وبې ویل: زموږ ملګرې به دلته شاوخوا چیرته وي، ته دلته ودرېږه زه به یې شاوخوا ولټوم، یوې ښځې له نژدې بوټونه سر راوویست وېې ویل:
تاسو ډیر ځنډ وکړ موږ ویریدو چې تاسو په کومه بله لاره نه وي تللي.
لږ ځنډ وروسته ټولې ښځې او ماشومان راټول شول، یوې ښځې د عماره په نبض لاس کیښود ویې ویل: ددې بدن لړزیږي موږ باید زر له دې ځایه روان شو.
عبدالله په بیړه هغه په اوږه کړه.

*****

نژدې درې میله یې چې په کنده کې مزل وکړ دوی بلې غاړې ته په یوه غونډۍ د ختلو په وخت کې د عبدالله توان پای ته ورسید او له لږ لږ لارې وروسته یې د دمې جوړولو اړتیا لیدله.
کله چې د غونډۍ سرته وختل سپیدې وچاودې او د سهار سترګه په راختو وه، عبدالله عماره په ځمکه څملوله ویې ویل: اوس موږ لږ استراحت کولې شو..
موږ چې درې ته ورښکته شو یو کلي ته به ورسیږو. که خلك ترې تښتیدلي نه وي نو زموږ ملاتړ به وکړي.
عاتکې وویل: ته ډیر ستومانه شوې که ماته اجازه راکوې د کلي خلك به راولم. امکان لري په کلي کې کوم طبیب هم پیدا شي.
عبدالله په غمجنه لهجه ځواب ورکړ: لورې! ستا تګ ته اړتیا نشته زه به پخپله ولاړ شم مګر ستا د مور نور طبیب ته ضرورت نشته، ما چې راپورته کړه دا مې احساس کړه چې د هغې د ژوند سفر پای ته رسیدلې دی، ستا په خیرما هم ټوله لاره ځان ته دا دوکه ورکوله، ستا پلار دې ته چمتو نه ؤ چې تا ځان ته ورووبولي، خو ستا د مور جانې پردې ټینګار ؤ چې دواړه به په مرګ او ژوند یو د بل ملګرې وي.
دې په حیرانۍ یوه شیبه خپلې مور ته کتل بیا یي سر پورته کړ آسمان ته یې وکتل او له سترګو نه یې د اوښکو سیلاب رامات شو. عبدالله جګ شو ویې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل:

زه څم، سهار کیدونکی دی، مورږ تر اوسه د خطر څخه نه یو راوتلی ځکه خو تاسو باید د بوټو له منځه راونه وزی، عبدالله ددری لوری ته ولاړ، خو ځو گامه وراندی ناڅاپه د بوټیو په منځ کی کیناست، د عاتکی سترگی د خپلی مور پر مخ میخ وی خو نورو ښځو او ماشومانو عبدالله ولید چی غلی شو، د هغوی په زړونو کی د یوی ناڅاپی خطری احساس راپورته شو.

چا په لوړ آواز وویل : کـه ته له کلانه راتښتیدلی یی نو د غلی کیدو ضرورت نشته، مورږ ستا خبری اوریدلی دی.

له دی سره د ښی او کیڼ لوري نه له بوټیو نه څو کسان راووتل، عبدالله چی پومخی خپلو ملگرو خواته بیرته را ښوییده ودرید پوښتنه یی وکړه: تاسو څوك یاست؟

یو سړی ورمخکی شو ویی ویل : مه ویریږه، مورږ مسلمانان یو، له دی کلی نه راغلی یو.

عبدالله وویل : تاسو ته معلومه ده چی په کلا حمله وشوه؟

: هوکی مورږ چی د چاودنی غږ واورید دا خطر مو احساس کړ، او بیا مو چی په برج کی د اور لمبی ولیدی زمورږ باور شو چی حمله شوی ده، زمورږ سردار د رضاکارو له ډلی سره د جنوب کلا ته ولاړ، تر سهاره به د شاوخوا نورو کلیو رضاکاران هم هلته ور ورسیږی.

عبدالله وویل : اوس دوی د کلا د ساتونکو هیڅ مرسته نشی کولای.

یو سپور راوړاندی شو ویی پوښتل: ستا مطلب دا دی چی دښمن کلا نیولی ده؟

: دښمن کلا فتحه نه کړه بلکی یوه خاین دروازه خلاصه کړه، دا زمورږ د سالار د میرمنی مړی دی. او هغه یی لور ده، سواره له اسونو پلی شول او د هغوی د پوښتنو په ځواب کی عبدالله د تیرو پیښو کیسه لنډه لنډه ورته تیره کړه. بیا یی وویل : اوس کلی ته د مری رسولو لپاره ستاسو مرستی ته اړ یو.

رضا کار خپل یوه ملگری ته امر وکړ: په بیړه له کلی نه څوك راوله.

عاتکه زر جگه شوه ویی ویل : ستاسو باور دی چی په جنوبی کلا کی د سیمی رضاکاران راټولیږی؟

: هوکی! زمورږ مشر هغوی ته همدا امر کړی دی، او په کلا کی د چاودنی دا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغیزه وه چې په شاوخوا کلیو کې خلکو نغارۍ وړغولې.
دی وویل : تاسو ماته یو اس راکولی شئ؟
: دلتـه زموږ سره څلور اسـونه دي، کـه د خبـر رسـولو لپـاره یوه آس ته زمـوږ ضرورت نه وای نو څلور واړه به مو درته سپارلي وو.
نه! ماته یوازې یو اس ضرورت دی. زه خپل کور ته خبر ورکول غواړم، تاسو د دې تور سریو او ماشومانو سره زما د مور مړې کلي ته ورسوئ.
رضاکار وویل : د خبر لپاره ستا تګ ته ضرورت نشته، دا کار زه پخپله کوم.
تاسـو زمـوږ د سردار کورته تشریف یوسئ، که بیا هم تاسـو تر ایسـاریدو سـفر کول غوره بلل نو د کلي هر سړی ستاسو ملګرتیا ته چمتو دی. ستا د مور مړې به له تا سره یوځای کورته ورسول شي.
عبدالله د رضاکار له رایې سره موافق ؤ، خو عاتکې وویل : نه زه په بیړه کلي ته ځان رسول غواړم.
زما د پلار او مور مړې باید په جلا جلا هدیرو کې خاورته ونه سپارل شي. زما باور دی چې موږ به بیا کلا ونیسو او د ټولو شهیدانو قبرونه به همالته وي. زه سمدستي خپل کلي ته ځکه ځان رسول غواړم چې که زموږ د سیمې خلك له خپلې ذمـه وارۍ نه غـافل وي نو راویښ بـه یې کـړم، کـه دښـمن څو ورځې پـه کـلا کې دپښې ټینګولو فرصت وموند نو زموږ لپاره به یې بیرته نیول ډیر ګران وي، او دا به بیا یوه بله سینتافي شي او د جنوب لورې ته به دوه مهمې لارې بندې شي.
:که ستا اراده دا وي نو یوه شیبه هم باید له لاسه ورنکړو.
زه به له تا سره ولاړ شم.
هغې یو ځل خپلې مور ته وکتل او بیا یې پر اس پښه واړوله.
ځوان په بیړه خپلو ملګرو ته له لارښوونې وروسته ورسره روان شو. لږ وروسته چې دوی تر یوه تنګې تیر شول په دره کې یې د نغارو غږونه او د آس د پښو تربهار اوریده.
: له لر ختو سره یې د یوې غونډۍ پر دده د پلیو او سپرو مجاهدینو ډله ولیده، له دې سره یې د کلا له لورې د ویروونکو چاودنو غږونه واوریدل. زړ بی د آس مخه هغه لورې ته ور واړوله او ورو یې کتل د شمال پر افق دودونه او ګردونه خپاره وو. دې بیا اس پونده کړ او لږ ځند وروسته یې د لښکر په منځ کې د خپل کاکا په غیږ کې سلګې وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعید دی ته نژدې ولاړ ؤ او په زحمت یې خپلې اوښکې راتم کړې وې.
هاشم په داېره زړه ددې داستان اوریدو فرصت ونه موند، ځښ تنه سپاره چې د حملې نه وروسته د کلا د وضعې د احوال لپاره استول شوي وو اسونه يې چارګام زغلول او راورسیدل، هغوی خبر راوړ چې دښمن کلا پریښودله مونږ د دوی ځو ټولګی د ویالی پر پله د تیریدو په حال کې ولیدل او راغلو.
هاشم لښکر ته د وړاندې تلو امر وکړ، او لږ ځنډ وروسته هغوی د سرك ښې لورې ته د یوې غونډۍ له څوکې نه د کلا ننداره کوله.
د ګردونو او دوړو سیلې ناسته وه، د هغې پرځای [illegible] د اور لمبې پورته وې، په دیوالونو او برجونو کې ځای ځای چاکونه راغلي وو، او په کوم ځای چې دروازه وه هلته د ایرو او خاورو یو انبار پروت ؤ، د نورو زیاتو کوټو او ودانیو په ځیر هغه ودانۍ هم پر ځمکه رالویدلې وه چې عاتکې ته د خوښیو زانګو وه.
دا په منډه کلا ته ننوتله، او لږ ځنډ وروسته هلته نور سرتیري هم راټول شول چې د عامې وژنې په وخت کې په یوه او بله خوا تښتیدلي او غلي شوي وو.
د دې په ورښو د لوېې له خاورو نه مړي راوویستل د نصیر مړی یې بلکل مسخه [illegible]ی ؤ.
هاشم غوښتل چې د ورور مړی یې کلي ته یوسي، خو د عاتکې پردې تینګار ؤ چې د نورو شه[illegible]دانو په ځیر دې د دې مور او پلار هم همدلته په کلا کې ښخ کړای شي، بالاخره هاشم څو تنه واستول چې د عماره مړی راوړي او مازدیګر مهال یې هغه د خپل میړه ترڅنګ خاوروته وسپارله.
د خپل تره په کور کې دې ته هر وخت د هغې کلا ویروونکې منظرې سترګوته دریدې. او دې به تل د خپل مور او پلار پر وروستې آرام ځای د اوښکو مرغلرې ښندلې.
نن هم د شمال لورې ته دې همغه کاږه واږه سرك ته کتل. د دې سترګو ته به د اوښکو پردې حایل شوې، ورو ورویې سلګۍ وکړې او په زړه کې یې وویل : مورجانې! تا پر دې بې رحمه نړۍ یوازې ولې پریښودم؟ او له دې سره سم د دې له سترګو د اوښکو دوه غټ څاڅکي لاندې وڅڅیدل.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د آزادۍ روح

ددې کلا له ورانېدو وروسته غرناطې ته ورغلې یوه مهمه لاره بشپړه خطرناکه شوه.

پر سړک یوازې د شپې ځوا د موادو کاروانونه تلای شول چې د هغوی د ساتنې لپاره به شاوخوا د غیشو ویشتونکو ګروپونو تل پهره کوله.

د ختیځ لورې ته نورې غرنۍ لارې لږ خوندې او په امن وې خو هغه بیا دومره سختې او تنګې وې چې غله یوازې په کچرو پرې ورل کېدای شوای. په شمال کې د «ویګا» حاصلخیزه سیمه د دښمن د پرله پسې یرغلونو په سبب شاړه شوې وه، په دې ورځو کې موسی بن ابي غسان له ښاره راوت او پر دښمن به یې ځوابي یرغل کاوه، د هغه حملې به دومره زورورې او سختې وې چې دښمن به د سینتهافي او غرناطې ترمنځ خپلې ټولې مورچلې پرېښودلې او پر شاته تلو به مجبورېده. پر دې به د اندېښمن قوم مورال را اوچت شو او هیلې به یې بېرته را ژوندۍ شوې چې دښمن ښایي په ځو اونیو یا میاشتو کې یو ځل بیا پر کلا بندي ماتولو مجبور شي، وضعه به بدله شي، او د غرناطې پر اولس به د غذایي کمبود راغلې ستونزې لرې او لارې به خلاصې او د مصیبتونو روان دوران به پای مومي.

عاتکه د هغو خلکو له ډلې څخه وه چې اوس یې هم پر دې خبره باورو ؤ چې د ملت د شهیدانو وینې به بې ځایه نه ځي او د غرناطې اولس به د غمونو او مصیبتونو له دې توپانونو څخه سرلوړي وزي.

حامد بن زهره په لرې لرې سیمو کې د جهاد لپاره تبلیغ کاوه او ځو ځو ورځې به له کلي نه لرې ؤ.

سعید د هغو رضاکارانو د یوې ډلې مشر و چې ځانونه یې خطر ته غورځولي وو او د غرناطې اولس ته به یې د ضروري شیانو قافلې رسولې، کله به چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هاشم کره ورغی نو عـاتکې تـه به یې د غـرناطې د خلکو د همت او زړورتیـا کیسې کولې.

یو ځل هغـه پنځه ورځې وځنډېده له ده سره چې څوك د قـافلې د ساتنې لپاره تللي وو بیرته راغلل هغوی وویل چې کله دوی قافله غرناطې ته ورسوله نو موسی بن ابي غسـان له ښاره راوتلی ؤ او پر دښمن یې برید کړی ؤ، سعیـد د بیرته را ستنیدو پرځای له هغه سره په جګړه کې شریك شو.

سعید پنځمه ورځ بیرته راستون شو، هغه هاشم ته خبر ورکړ چې درې واړه زامن یې په غـرناطه کې روغ رمټ وو، عبـیـد او امین د سر لښکر په توپانې ډلو کې د شهرت خاوندان شوي دي، او عمیر د خوندي پوځ د یوې ډلې مشر غوره شوی دی، او هغه ویل چې که مې فرصت ومونده یوه ورځ د څو ورځو لپاره کورته درځم.

یوه شپه عاتکه په خپله کوټه کې ناسته وه کتاب یې لوست چې خدمتګاره ورننوته او ویې ویل : د سعید پلار راغلی دی، او سعید ورور هم ورسره دی.

حامد بن زهره له دوو هفتو راسې په کلي کې نه ؤ، او چې په عامو حالاتو کې به کله لـه سفر څخه راسـتون شـو نو لومړی به یې تر هر څه وړاندې د عـاتکې د خیریت پوښتنه کوله، دې زر کتاب بند کړ او په بیړه لاندې کوزه شوه.

لږ ځنډ وروسته دا د یوې کوټې د نیم خلاصې دروازې شاته ولاړه وه، د هاشم او حامد غږونه یې اوریدل، لږ ودریده او شرمیدلې کوټې ته ورننوته، هاشم دې ته وکتل ویې ویل : عاتکې ته ولاړه شه، موږ لږ ضروري خبرې کوو.

عاتکه بیرته وګرځیده خو حامد وویل:

نه لورې! ته کښینه، کومې خبرې چې د سعید د وړاندې کیدای شي هغه ستا په وړاندې هم کیدای شي.

عـاتکې هاشم ته وکتل او د هغه د لاس اشاره یې چې ولیـده د حامـد ترڅنګ کیناسته.

حامد تر لږ ځنډه سر ښکتـه واچاوه او تر سوچ وروستـه یې هاشم ته وویل : د غرناطې اوسنی وضعه ډیره د اندیښنې وړ نه ده، موسی ثابته کړې ده چې موږ په دې اوسنی وخت کې هم د خپلو پلرونو روایات ژوندي ساتلی شو، خو اوس ژمی پیلیـدونکی دی، چې واورې پیل شي نو د ضرورت وړ مـوادو د راوړو پاتې لارې به هم بندې شي موسی بن ابي غسـان هم دا خطر احسـاسوي چې کـه له بهـر نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستی راونه رسیږی نو د کلابندی په حالت کی به د غرناطی د اولس مصیبتونه هم زیات شی. هغه چی کوم استازی له سمندر نه پوری غاړی اسلامی هیوادونو ته استولی ؤ تر اوسه پوری یی هیڅ پیغام ندی را رسیدلی.

داسی اټکل کیږی چی هغه تر اوسه له سمندر څخه نه وی پوری وتلی، امکان لری چی نصرانیانو هغه نیولی وی، اوس د هغه هیله ده چی زه د شمالی افریقا او ترکیی واکمنو ته دده پیغام یوسم.

: تا له موسی سره لیدلی دی؟

: نه هغه ماته لیك را استولی ؤ.

: مگر ته خو په سفر وتلی وی لیك چیرته در ورسید؟

: د هغه لیك سعید راوړی ؤ، او زه غواړم چی له څه ځند پرته روان شم.

هاشم سعید ته وکتل ویی ویل : مگر تا خو له غرناطی نه تر راتلو وروسته ماته ونه ویل چی موسی د ده په نامه کوم لیك را استولی دی.

سعید ځواب ورکړ : هغه ماته امر کړی ؤ چی له دوی پرته یی چاته ونه وایم.

حامد وویل : زه له تلو مخکی دا ویل غواړم چی اوس به زما له تگ وروسته زما پاتی کار سرته ورسوی.

د غرناطی د اولس د اخلی گډوډی، د ابو عبدالله د نا اهلی، او د خاینانو د پرلپسی دسیسو په سبب د جنوب آزاد قبایل مایوسه شوی دی. موسی یوازی په دی صورت کی جگړه جاری ساتلای شی چی له هغو سیمو څخه مرسته او د ضرورت ور شیان ور رسیږی.

تاته به دا گرانه نه وی چی قبایل وپوهوی کـه د غرناطی اولس له موږ نه مأیوس شو نو د ابو عبدالله په دربار کی به د امن غوښتونکو پله درنه شی، موسی په خپل لیك کی لیکلی دی چی اوس هم ځینی سرداران ابو عبدالله ته د وسلی ایښودلو مشوره ورکوی او د علماؤ یوه بانفوذه ډله هم له دوی سره همنظره شویده.

زه په دی ټه ځم چی زموږ وررونه به موږ نه مایوسه کوی. هغوی د اندلس د حکومت د دعوه دارانو د خپلمنځی جگړی نه بی پروا کیدای شوای خو اوس فردیناند ته ماته ورکول د لکونو مسلمانانو د بقا سوال دی.

زما په غیاب کی به د منصور پاملرنه هم ستا په ذمه وی، او زما باور دی چی سعید هم ته ځوی وبولی، ما چی د موسی بن ابی غسان لیك ولوست د جعفر په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس مې پیغام د هغه خدمت ته واستاوه چې زه به ډېر زر روان شم.

هاشم وویل : زما دعاګانې درسره دي. خو ستا باور دی چې بهرنی مسلمانان به زموږ ملاتړ ته تیار شي. او د غرناطې اولس به د هغوی په انتظار جګړه جاري وساتلای شي؟

حامد ځواب ورکړ: که موږ ځانونه د الله د نصرت حقدار ثابت کړل، نوموږ ته د مایوسۍ هیڅ دلیل نشته د غرناطې اولس په هر صورت باید د خپلو تیرو ګناهونو کفاره ادا کړي. اوس دوی د ابو عبدالله د تخت او تاج د دفاع لپاره نه بلکې د خپلې بقا لپاره جنګیږي او دوی پردې پوهیږي چې که یې حوصله ماته شوه نو په اندلس کې به یې هیڅ د پناه ځای پاتې نه وي.

زموږ ترکي ورونو د اروپا د خلکو غرور په خاورو کې را نسکور کړ. د هغوی د برباو سیلاو د پولینډ او اطریش تر سرحدونو پورې رسیدلی دی، د دوی په لاسو پر قسطنطنیه د اسلام د بري بیرغ رپیدلی د روم په بحیره کې د دوی سمندري ځواکونه د اندونیزیا او ایتالیا پر څنډو اورونه بل کړي دي.

زما پوره باور دی چې که هغوی زموږ لورې ته لږ پام راواړاوه او څو بیړۍ یې د اندلس څنډو ته را ورسیدې نو په ټول قوم کې به د ژوند نوې ساه وچلیږي.

زه دا دعوا نه کوم چې ترکان به تر څو ورځو او میاشتو پورې زموږ مرستې ته راورسیږي خو دا په پوره ډاډ وایم چې که د غرناطې اولس د بري او شهادت له لارې پرته کومه بله لاره غوره نکړه نو هغوی به خامخا را ورسیږي. د امیدونو د سهار رڼا یوازې د هغو قافلو برخه ده چې د مایوسۍ په تیارو کې د عزم او ارادې ډیوې بلوي.

د غرناطې د اولس دا فرض دی چې تر څو د بري او نصرت د مالك په دربار کې د دوی د عاګانې نه دي قبولې شوې دوی دې د امیدونو د ډیوو د بلو ساتلو لپاره خپلې وینې ورکوي. یوه مسلمان ته د شهادت لاره د بري لاره ده، زه د غرناطې له اولس نه خطر نه احساسوم، هغوی ته د غلامۍ د ذلت پرځای د عزت او شهادت لاره ورښودل کیدای شي. زه د اندلس تر څنډو پورې راګرځیدلی یم، د هغو کلیو او ښارونو احوال راته معلوم دي چې د هغو په اړه دا تصور کیده چې د نصرانیانو پر غلامۍ قانع شوي دي. زه دا په ځغرده وایم چې د هغوی په سینو کې د آزادۍ ولولې نه دي سړې شوې. کله چې له کوم افق نه د امید یوه وړانګه وځلیږي دوی به بیا راپورته شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یوازې د غرناطې د هغو مشرانو په باب اندېښمن یم چې خپل تدبیر ورته سمه لاره ښکاري.

زه له هغه آرامۍ خوښوونکو ویرېږم چې داسې ګڼي چې کله د غرناطې سرتیري توري وغورځوي نو فردیناند به د امن له پیغام سره راشي. د هغوی کوروڼه او شتمنې به خوندي پاتې شي او د نصرانیانو په پهره کې به آرام خوب کوي.

که کومه ورځ تا دا احساس کړه چې په غرناطه کې د هغو ځان غولوونکو کسانو زور شونو ته باید هلته ورشې او سمې لارې ته یې راولې، د غرناطې آزادۍ غوښتونکي اولس او حقپال علما به درسره ملاتړ وي، اوس زه له تانه اجازه غوارم.

ته باید له خپلو ډېرو اعتمادي دوستانو څخه پرته زما په باب چاته څه ونه وایې چې څه پروګرام لرم. عاتکې ته هم باید پام وکړې.

حامد جګ شو ودرید.

هاشم وویل: ته سهار ته روانیږې؟

: نه زه همدا اوس ځم، په کور کې مې اس تیار ولاړ دی.

: ستا سره به نور څوك حې؟

زه له دې ځایه یوازې ځم په مخه کې به له بل کلي نه څوك راسره روان کړم.

: زه تا ستا له کوره رخصتوم.

هغه تړوله ننداره اوس د دې په سترګو کې وه چې کله حامد بن زهره د کور په دروازه کې په لمدو سترګو او موسکي خوله خدای پاماني کوله او بیا دې سر په سجده کیښود او د غرناطې د دغه ستر میړه د برې د عاګانې یې کولې.

*****

د حامد بن زهره له روانیدو نه وروسته هم تر څو اونیو پورې د غرناطې اولس ته د مرستې د سامان په رسولو کې پوره برخه واخستله. خوځې کله له یوه پلوه د بخنې د موسم او واورو اوریدو له لامله لارې بندې او له ستونزو سره مخ شول له بل لورې د دښمن د چاپه غورځوونکو ډلو یرغلو نه زیات شول نو عاتکې د ده په کړو وړو کې هم یو ژور بدلون احساس کړ، عمیر په هغو شپو ورځو کې دوه ځله کورته راغې، لومړي ځل یې دوې شپې تیرې کړې او د غرناطې د اولس د بې وسې او بې چارګې کومې کیسې یې چې وکړې ډېرې مایوسوونکې وې. دویم ځل هغه د شپې مهال کورته راورسید، عاتکې ته معلومه شوه چې د غرناطې دوه د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


نفوذ خاوندان ورسره راغلي دي.

دا د غرناطې د نويو حالاتو اوريدوته ناکراره وه خوله عمير سره يې د ليدو فرصت ترلاسه نه کړ، ده خپل ميلمانه ميلمستون ته ورسول خپل پلار ته يې احوال ورکړ چې هغوی د ابو القاسم له لوري يو مهم پيغام راوړی دی. هاشم له ده سره ميلمستون ته ولاړ.

لږ ځنډ وروسته عمير په انګړ کې نوکرانو ته ويل: تاسو زر ډوډۍ تياره کړی اسونو ته وابښه واچوی زينو نه مه لرې کوی، موږ چې ډوډی وخورو بيرته ستنيږو، د پلار جان اس هم تيار کړی هغه هم له موږ سره ځي.

عاتکې تر لږ ځنده په انديښنه خپلې کاکا ناوې ته کتل، بالاخره يې ورته وويل : د عمير له خيرې نه داسې معلوميږي چې کوم ښه خبر يې نه دی راوړی. او اوس چې د ابو القاسم استازی شپه په شپه کاکا جان له ځانه سره بيايي نو د دې سبب د دې پرته هيڅ نشي کيدای چې په غرناطه کې يوه مهمه پيښه شوې ده.

سلمی ځواب ورکړ : لورې! ته بايد دومره پريشانه نه وې ته عمير پيژنې، که کوم بد خبر وای دننه به راغلی و او شور به يې ګډ کړی ؤ. ته ډاډه اوسه که کومه مهمه خبره وه نو ستا کاکا به يې ماته له ويلو پرته غرناطې ته نه ځي، ما د عمير نه د امين او عبيد په باب هم ونه پوښتل.

لږ ځنډ وروسته عاتکه د انديښنې په حال کې بالاخانې ته خپلې کوټې ته روانه وه، د زينې په منځ کې د پاسنې پوړ نه دوه ګامه لاندې يوه کړکۍ د هستوګنې کوټو او ميلمستون ترمنځ د هغو کوټنيو بام ته خلاصيده چې نوکران پکې اوسيدل.

عاتکه دې کړکۍ ته ودريده، بيا يې زړه نا زړه کړکۍ پرانسته او د کوټو پر بام ورو ورکوزه شوه او په چوپړو ګامونو وړاندې ولاړه.

نژدې ديرش ګامه وړاندې د دې بام يوه څنډه د ميلمستون د شاديوال سره پيوست وه .خو د ميلمستون د پراخه کوټو بامونه له دې بام نه تر يو نيم ګز پورې اوچت وو. تر بام لاندې دوې وړې وړې دريڅې وې. يوه دريڅه پرانستې وه او له هغې نه د کوټې تته رڼاراوتله، عاتکه په ګونډو شوه او دننه يې دوركتلو هڅه وکړه خو ديوال دومره پلن ؤ چې د دې نظر لاندې نشو لويدلی، دې يوازې خبرې اوريدې.

يو چا ويل : ګوره که دا معامله دومره مهمه نه وای نو صدر اعظم ابو القاسم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د شپې مهال تاته د سفر زحمت نه درکاوه، هغه په خپل لیك کې ټول تفصیلات نشوای لیکلی. بیا هم ته د وضعې د نزاکت لږ او ډیر احساس کولی شې. موږ ته د غرناطي د ژغورنې وروستی فرصت دی او که موږ دا فرصت هم بایلو د نو زموږ راتلونکی نسلونه به مو معاف نه کړي.

د هاشم غږ اوچت شو: ما د ابو القاسم د امر له تعمیل نه غاړه نه ده غړولې، زه غرناطي ته د تلو لپاره چمتو یم خو که ابو القاسم دا غواړي چې زه د دې سیمې د ټولو قبایلو مسئولیت واخلم نو لومړی باید د دې قبایلو د مشرانو سره مشوره غواړم.

: که یې ته قانع نکړای شوای نو امکان لري ته هغه قانع کړې، ته ــ یې د همدې لپاره غوښتی یې چې هغه ستا رابې ته زیات اهمیت ورکوي.

هاشم وویل : ډیر ښه زه تیار یم.

عمیر وویل : پلار جانه! زما باور ۇ چې ته به انکار نه کوې ځکه خو چې راغلم ستا د اس د زین کولو امر مې وکړ.

هاشم وویل : ته ورشه مور ته دې تسلي ورکړه چې ستا ورونه په خیریت کې دي.

په کوټه کې د ګامونو غږ واوریدل شو، او عاتکه زر جګه شوه او د خپلې کوټې په لوري روانه شوه، د دې د زړه بار سپك شوی ؤ او زړه ته یې تسلي ورکوله چې وزیر ابو القاسم پر دښمن له پریکنده برید نه وړاندې د اولس له مشرانو سره مشوره کول غواړي، خو پردې کار شکمنه وه چې د موسی بن ابی غسان په موجودیت کې دا پیغام د وزیر لخوا ولې راغلی او د دې د کاکا د دوه زړه توب سبب څه دی؟

*****

غرناطي ته د هاشم له تلو نه لس ورځې تیرې شوې او په کلي کې هیچا ته معلومه نه وه چې هلته څه کیدونکی دي، په دې موده کې سعید هم په کلي کې نه ؤ، منصور به هره ورځ د عاتکې کورته راتلو خو د سعید په باب هغه هم څه داډمن خبر ورنکړای شو. یوه ورځ عاتکې زبیده راوغوښته او ټینګار یې پرې وکړ چې سعید بیرته راستون شو خامخا یې دلته را واستوه.

دوې ورځې وروسته دا د سهار له لمانځه نه فارغه شوه چې منصور په منډه کوټې ته ورننوت او ویې ویل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماما جان راغی.
چیرته دی؟
: په جومات کی له خلکو سره خبری کوی، اوس به دلته راشی د شپی کورته راورسید.

عاتکه په بیړه له منصور سره لاندی ښکته شوه، هغی له برنډی نه د کاکا ناوی کوټی ته ورو کتل چی د قرآنکریم تلاوت یی کاوه. عاتکه په بیړه له انګړ نه تیره شوه او درشل ته نژدی ودریده او د سعید د راتلو انتظار یی کاوه.

لږ ځنډ وروسته سعید رابښکاره شو، عاتکه څو ګامه دبڼ لوری ته چپه ودریده، سعید چی ورنژدی شو وبی ویل :

زه چی د شپی راغلم ستا پیغام راورسید، مګر ډیره ناوخته وه، ته ډیره پریشانه یی څه خبره ده؟

عاتکی وپوښتل : ته غرناطی ته تللی وی؟

: نه! ماته هلته د تلو فرصت په لاس نه دی راغی. زه له څو ورځو راسی په الفجاره کی مصروف وم. ماته یی هلته د رضاکارانو راټولولو کار سپارلی ؤ.

عاتکی وویل : تاته معلومه ده چی په غرناطه کی کومه مهمه پریکړه کیدونکی ده؟

سعید ځواب ورکړ: زه یوازی دومره پوهیږم چی موسی بن ابی غسان به ډیر زر له ښاره راووزی او پر دښمن به بریدوکړی، او له دی سره سم به د سمندر ترځنډو پوری په ټولو نیول شویو سیمو کی خلك پر دښمن ور پورته شی. د غرناطی وضعه دومره نازکه شوی چی نور موږ تر ډیری مودی پوری په یو نیم ټکر اکتفا نشو کولی.

تا یوه ورځ ویلی ووچی ابو عبدالله او د هغه وزیر ابو القاسم د جګړی په باب زیات امیدوار نه دی او که یی وس ورسیږی نو د جګړی دوام به خوښ نه کړی.

: هوکی د غرناطی اولس همداسی احساسوی خو د موسی بن ابی غسان په موجودیت کی د هغوی وس نه رسیږی.

: تاته معلومه ده چی هاشم کاکا له څو ورځو را سی په غرناطه کی دی؟

: هو زه چی کورته راغلم دغه خبره می واوریده.

: مګر تاته دا معلومه نه ده چی هغه د ابو القاسم په بلنه هلته تللی دی، د هغه له لوری دوه تنو پیغام راوړی ؤ چی صدر اعظم ته د لویی مشوری لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغوښتې یې، عمیر له هغوی سره یوځای راغلی ؤ.
: مګر په دې کې د اندیښنې څه خبره ده، تاته معلومه ده چې ستا تره د لوی سالار سره همنظره دی او هغه ابو القاسم ته کومه غلطه مشوره نشي ورکولی.
عاتکې وویل: که د حملې په باب خبره وای نو د ابو القاسم پرځای باید د موسی بن ابی غسان لخوا کاکا جان ته پیغام راغلی وای، زه دا خطر احساسوم چې ابو القاسم د موسی بن ابی غسان د نفوذ راکمولو په خاطر د قوم د مشرانو راټولو او له ځان سره د هم نظره کولو پروګرام نه وي پیل کړی.
سعید ځواب ورکړ: په موجوده حالاتو کې باید موږ دغسې فکر ونه کړو، که د ابو القاسم په ذهن کې داسې خیال راوګرځي هم نو ستا کاکا به خپل همراز نکړي.
که هغه له هاشم کاکا سره د مشورې ضرورت احساس کړي وي نو د هغې یوازینې سبب دا کیدای شي چې حالاتو دی هم د موسی په څیر فکر کولو ته اړ کړی دی او هغه له دښمن سره د وروستۍ جګړې لپاره د اولس د مشرانو ملاتړ غواړي. که نه نو ستا د کاکا جان په اړه هغه څه بد ګومانی نشي کولی چې د سولې په کوم پروګرام به ورسره خبرې غوره وبولي.
عاتکه هیله منه شوه ویې ویل : که ته دلته وای نو زه به دومره اندیښمنه نه وای، زما په زړه کې ډول ډول اندیښنې سر را اوچتوي، ما دا فکر کاوه چې ښایي د پوځ یو تولګی له اوږدې جګړې نه مایوس او ستومانه شوی او د سولې ملګرتیا کوي او اوس له مخې نه د موسی دلرې کولو لپاره کوم زور سازش کوي.
سعید وموسکل : د اندیښنې هیڅ چاره نشي کیدای ستا د داړ لپاره ایا دا بس نه دی چې ستا کاکا جان همدا اوس په غرناطه کې دی؟
عاتکې ځواب ورکړ: زه په هاشم کاکا بدګوماني نه کوم، خو له تیرو څو اونیو راسې یې په کړو وړو کې زیات بدلون راغلی، د جهاد د تبلیغ په اړه د هغه احساسات ساړه شوي دي او د جګړې پر ځای اوس د خپلو زامنو په باب فکر کوي.
: عاتکې! هر پلار د خپل اولاد په باب فکر کوي.
: پخوا خو دا حالت و چې که به چا لږ مایوسي ښودله نو دې به پرې په غوسه شو، له عمیر نه به په همدې خفه ؤ چې هغه د دښمن د ځواک نه ویریدلی ؤ. خو اوس عمیر د هغه په وړاندې پر موسی هم انتقاد کوي او دې چوپ وي.
سعید ځواب ورکړ: هغه پوهیږي چې عمیر بې عقل دی..

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: نو آیا ګ حیرانی خبره نه ده چې د ابو القاسم استازی له عمیر سره راغلی وو؟

: عاتکې ته مې ځایه اندیښنې کوې، ته دا فکر ولې نه کوې چې د غرناطې نه راتلونکي ایلچې ته به د یوه لارښوونکي ضرورت ؤ او ستا د تره زوی به دومره احمق هم نه ؤ چې هغوی ته بې د خپل کور لاره نه وای ورښودلې.

عاتکې وخندل، د هغې له زړه نه د تشویش پاتې بار هم لرې شو.

سعید وویل : راځه زه کاکا ناوي ته سلام ته ورځم.

*****

بلې ورځې ته هاشم له غرناطې نه بیرته راستون شو.

سعید یې چې په راتلو خبر شو کور ته یې ورغی، هاشم پر بستره غځېدلې ؤ سلمی او عاتکه نژدې ورته ناستې وې عاتکې خپله چوکې سعید ته پرېښوده او شاته ولاړه.

سعید چې کښېناست پوښتنه یې وکړه:

ماته همدا اوس منصور خبر راکړ چې ته له غرناطې نه راګرځېدلې یې او سملستي ستا خدمت ته راغلم. ته څه وخت راورسیدلې؟

: ډیر وخت نه کیږي چې راورسیدم. هاشم له ستوماني نه په ډکه لهجه ځواب ورکړ.

: ستا طبیعت څنګه دی؟

: ډیر ستړی شوی یم، په غرناطه کې د خوب او آرام فرصت راته نه ؤ.

: ډیر وخندېدې، کاکا ناوې ستا په باب ډیره اندیښمنږوه،

: ګومان مې کاوه چې یو دوې ورځې به پاتې شم او بیرته به راشم خو دغرناطې حالت داسې ؤ چې زه له مجبورۍ پاتې شوم.

: کاکا ناوې ویل چې له هغه ځایه دوو تنو پیغام درته راوړی ؤ او ته ناڅاپي روان شوی.

هاشم سلمی ته وکتل او بیا یې سعید ته مخ واړاوه وې ویل:

زه ابو القاسم وربللی وم، په غرناطه کې د خوراکي موادو کمبود خطرناك حالت راوستلی دی که دښمن د یخنۍ د موسم تر پایه کلابندي ته دوام ورکړي نو په زرګونو تنه به له لوږې مړه شي، او د اولس په خیر به په لښکر کې هم مایوسي خپره شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موسی بن ابی غسان تینګار دا دی چی موږ بی له ځنډه باید له بشپړ پوځ سره بهر ته ور ووزو او پر دښمن کلکه حمله وکړو، خو د غرناطی د مشرانو یوه بانفوذه ډله د حملی مخالفت کوی.

: ته وزیر اعظم ورغوښتی وی آیا هغه هم د موسی د پلان مخالف دی؟

: نه! هغه یوازی دا غواړی چی له غرناطی نه د وروتلو او د پریکنده جګړی نه وړاندی باید څو نور محاذونه هم پرانستل شی، چی د دوی قوت څو ټوټی شی.

له مانه هغوی پوښتل چی د غرنیو سیمو قبایل به د غرناطی د اولس د بار سپکولو لپاره څومره مرسته ورسره وکړی.

ما هغوی ته دا ځواب ورکړ چی زه د خپلی قبیلی او د خپلو څو ګاونډیو نورو قومونو ذمه واری اخستلای شم خو د نورو سیمو قبیلی چی د جګړی ډګر ته راکاږی باید له سردارانو سره یی مشوره وشی.

اوس د حکومت استازی هغوی ته ورغلی دی.

سعید وویل : قبایلو موږ هیڅکله‌ته یو مایوسه کړی او اوس هم د غرناطی له اولس سره چی لږ او ډیره مرسته کیږی هغه هم د همدوی د اخلاص او قربانی نتیجه ده، له موسی بن ابی غسان سره دی ملاقات وشو؟

: هوکی! هغه ماته وویل چی د غرناطی امن خوښوونکی د وسلی ایښودلو له خطرونو څخه پوه کړم، همدغه سبب ؤ چی زه بیرته زر راستون نه شوم.

سعید تر لږ ځنډه له چورت وهلو وروسته وویل:

که ته بده نه منی نو په ډیر ادب درنه پوښتنه کوم چی سلطان ابو عبدالله او ابو القاسم خو به د موسی بن ابی غسان په ناخبری کی کومه ځانګړی خطرناکه پریکړه نه وی کړی؟

هاشم ځواب ورکړ: د هغوی په اړه زه د داسی خبری فکر نشم کولی خو زما سره دا اندیښنه خامخا شته چی که موږ ته له بهرنیو هیوادونو څخه ملاتړ راونه رسیږی نو په غرناطه کی به د سوله خوښوونکو خلکو پله درنه شی، تر اوسه پوری ستا د پلار له لوری هم کوم پیغام نه دی راغلی خدای «ج» پوهیږی هغه چیرته دی!

موسی چی زه ولیدم د هغه په اړه یی پوښتنه راڅخه وکړه او ما له دی زیات څه ځواب ورنکړای شو چی که هغه ژوندی وی نو ان شاء الله ډیر زر به بیرته راشی.

: سعید بچیه ! د هغه د بری لپاره دعا کوه، که هغه له ترکانو نه د څو بیړیو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په راوستلو بريالي شو نو د غرناطي د اولس په منځ کې به نوى روح وچليږي او بيا به وگوري چې د اندلس د هر مسلمان کور به په يوه مزبوط مورچل بدل شي.
ما د خپل توان او استعداد په اندازه پوره هڅه وکړه چې اولس د هغوی تر راتلو پورې د دښمن پرخلاف خپلې سينې سپر کړي. خو د اولس په رگونو کې اوس ډيره وينه نه ده پاتې.

سعيد ووېل : ته بايد نا اميده نه شې، زما باور دی چې پلار جان به زر بېرته راستون شي او د غرناطي خلك به د هغه تر راتگه جگړې ته دوام ورکړي.

: خدای «ج» د وکړي چې ستا هيلې پرځای ثابتې شي.

خو زما دا حالت دی چې کله د اولس د راتلونکي په فکر کې شم نو ساه مې بنده شي.

هاشم دا ووېل او د حسرت په حالت کې يې سترگې پټې کړې.

لږ څنډ وروسته چې سعيد له کوټې نه بهر ووت عاتکې په انگړ کې د هغې انتظار کاوه سعيد دې ته نژدې پښه ونيوله ويې ويل : عاتکې رښتيا ووايه اوس هم ته د خپل کاکا په باب ډاډمنه نه يې؟

: نه! اوس له ما سره د هغه په اره څه بدگوماني نشته، زه يوازې د عمير په سبب انديښمنه وم.

سعيد ووېل : ما د هغه له خبرو نه دا احساس کړه چې د غرناطي له وضعې نه ډاډه نه دی، ځکه خو زما اراده ده چې زه يو ځل هلته ولاړ شم او بيرته راشم، تر نن ماښام به پنځوس تنه رضاکار چې له جنوب نه غله راوړي دلته راورسيږي، زه به هم ان شاء الله ورسره شامل شم او ان شاء الله چې هلته ورسيږم تا زه احوال به راوړم.

: مگر اوس خو د غرناطي هيڅ لاره خوندي نه ده.

: ماته معلومه ده خوله څو هفتو راسې د دښمن شواخون راوړونکو گروپونو زيات تاوانونه زغملي دي. اوس دوی غرنيو سيمو ته په ننوتلو دا خطر احساسوي چې د هرې ډبرې ترشا او د هر بوټي په بيخ کې به زموږ يو تن کمين نيولی وي.
او دوی چې کوم مناسب ځای ته ورسيږي نو د غشو او ډبرو تر باران لاندې به راځي. دغرناطي دسرك وروستي څو ميله لاره زموږ لپاره ډيره خطرناکه وه خو اوس موږ هغه لاره پريښې ده، او د خوراکي شيانو قافلې اوس د گاډيو پرځای په کچرو باروو او په هغو تنگو او سختو لارو يې راوړو چې دښمن هلته هيڅ خنډ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشي جوړولی.

زموږ پوځ ته معلومه ده چې د اکمالاتو کاروان په کومه لاره راځي او څه مهال به را رسیږي ځکه خوکه د ښار ښاو خوا د دښمن د یرغل امکانات وي هم د قافلې د ساتنې لپاره سرتیري ور استول کیږي.

عاتکې وویل : زه د غرناطې په اړه زیاته اندیښمنه یم. تاسو زر د بیرته راتلو هڅه وکړئ.

*****

عاتکې گومان کاوه چې د غرناطې خطرناك حالت به هاشم خوب او آرام ته پرې نږدي او هغه به له نویو احساساتو او جذبې سره په غرنیو قبایلو کې د جهاد لپاره تبلیغ وکړي، خو اوس د هاشم وضعه داسې وه چې تبلیغ خو پرځای پرېږده له کوره وتل یې هم نه خوښول.

د غرناطې له وضعې نه پریشانه خلك به د پوښتنې په خاطر ورته راتلل، له ده سره د هغوی د ټولو پوښتنو بوازې یو ځواب و چې غرناطه اوس د بوډاگانو د الفاظو پرځای د ځوانانو وینې ته ضرورت لري. که تاسو وینې ورکولې شئ نو دلته د خبرو پرځای هلته ولاړشئ. که نه نو دا دعا کوئ چې له بهر نه څوك ستاسو ملاتړ ته راورسیږي. ما د غرناطې له مشرانو سره کتلي دي اوس دا خبره له دوی نه پټه نه ده چې حامد بن زهره د اسلامي هیوادونو د ملاتړ ترلاسه کولو لپاره تللی دی. زما باور دی چې دوی به د هغه تر کامیاب راتلو پوري د وینې تر وروستي ځاځکي جنگ کوي. خو د غذایي موادو د کمبود په وجه د غرناطې حالات ډیر خراب شوي دي. ځکه خو دا دعا کوي چې حامد بن زهره بیرته راستون شي او د غرناطې مشران داسې کومه غلطي ونه کړي چې زموږ د بربادۍ سبب شي.

د هاشم میرمن د هغه په باب ډیره اندیښمنه وه او هغې عاتکې ته ویل : لورې! خپل کاکا جان ته دې دعا کوه، دې له هغې ډلې نه ؤ چې حوصله وبایلي خو اوس یې کوم غم دننه خوري، د شپې لټ په لټ اوړي. او کله کله په ناکرارۍ راپورته شي او قدم وهي.

عاتکې به هغې ته په تسلې کې ویل : کاکا ناوې! په دې ورځو کې د اولس هر غمخور اندیښمن دی، کاکا جان ته مې په غرناطه کې د اوسیدو په وخت کې د هغو خلکو له خبرو څخه صدمه رسیدلې ده چې د خپلې آزادۍ په قیمت امن

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


غواړي، د هغه د ناکرارۍ سبب دا هم دی چې تر اوسه د سعيد د پلار جان احوال نه دی راغلی. خو زما باور دی چې کله هغه له کوم اميدوارونکي پيغام سره راورسيږي نو ډېره حوصله به هم بيا را ژوندۍ شي.

*****

غرناطي ته د سعيد له تلو يوه هفته پوره شوې وه، خو هغه هم د هغه ځای په باب هيڅ احوال نه ؤ را استولی.

بيا يوه ورځ د غرناطې د لښکر د سالار موسی بن ابي غسان په باب ډول ډول آوازې خپرې شوې.

يوه آوازه داسې وه چې هغه له ډېرې مايوسۍ نه د عبدالله له دربار څخه راووت او بيا لږ ځنډ وروسته يوازې له ښاره بهر شو پر دښمن يې يرغل وکړ د دښمن ليکې يې ځيرې کړې او چيرته ورک شو.

يو خبر دا ؤ چې هغه له دښمن سره لاس په ګرېوان په جګړه کېوت څو تنه يې ووژل او بيا د سيند غاړې ته ورسيد او بيا چې ښه ټپي شو نو له اس سره يې ځان سيند ته واچاوه، چې د وسلې او زغرې د وزن له امله په سيند کې ډوب شو او مړی يې هم بهر ته را ونه وت.

ځينې خلکو دا هم ويل چې هغه پر دښمن له يرغل نه وروسته غرونو ته ولاړ او د جنګياليو قبايلو له لښکر تيارولو وروسته به بيرته راوګرځي.

خو سبا ته دې خبر په کلي کې غوغا ګډه کړه چې سلطان ابو عبدالله د لنډ مهالي سولې په خاطر د دښمن ټول شرطونه ومنل.

د ډغه دردوونکي پيښې نه درې ورځې وروسته ماسپښين مهال سعيد پر اس سپور د هاشم د کور مخې ته ورسيد، هغه د برنډې مخې ته لمر ته پروت ؤ او سلمی نږدې ورته ناسته وه.

سعيد له اس نه پلی شو ور وړاندې شو، هاشم راپورته شو، کيناست، دوارو څو شيبې په چوپه خوله يو بل ته کتل بيا د سعيد له سترګو اوښکې راتويې شوې او هاشم د بې وسۍ په حالت کې سر ښکته واچاوه.

سلمی وويل : کښينه زويه!

هغه د هاشم ترڅنګ کيناست.

خالده د سلمی پنځه کلنه خور څه په برنډه کې ولاړه وه او عاتکې ته يې چيغې وهلې : خورې! هغه راغی، د منصور ماماجان راغی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاتکه له خپلی کوټی نه راووتله، ورو ورو یی گامونه اخستل او وړاندی ورغله چی نژدی ورغله ودریده، د هغی د مخ رنگ تك زیړ اوښتی ؤ او د ژړا له لاسه یی سترگی پرسیدلی وی.

د سلمی د لاس په اشاره ور وړاندی شوه او سعید ته نژدی کیناسته، تر لږ ځنډه هغوی چوپه خوله یو بل ته کتل، بالاخره سلمی په خپ غږ له سعید نه وپوښتل:

سعیده اوس به څه کیږی؟

: کاکا ناوی! ماته ښکاری چی د اولس د آزادی روح یی ترنی واخست او اوس به د خپلی راتلونکی په باب د هری پوښتنی ځواب د دښمن د خیری په گونځو کی لټوو.

سلمی وپوښتل : ستا باور دی چی موسی بن ابی غسان شهید شویدی؟

: هوکی!دښمن د هغه اس ښار ته رالیږلی ؤ. هغه یی په بازارونو او کوڅو کی وگرځاوه، د ښار پر خلکو ویره او ترهه خپره ده او حکومتی چارواکی اولس ته دا ډاډینه ورکوی چی سلطان یوازی د اویا ورځو لپاره د اوربند تړون کړی دی، په دی موده کی که له موږ سره له بهر نه ملاتړ وشو نو بیرته به جگړه پیل کړو.

هاشم وویل : که موسی بن ابی غسان د اویا ورځنی اوربند څخه وروسته د بیا جگړی پیلیدو امید درلودای نو دومره به نه مایوسه کیدو، فردیناند دومره احمق نه دی، هغه پر دی پوهیږی چی اویا ورځی په امن کی تیری کړی د غرناطی اولس به بیا د توری اوچتولو لپاره تیار نشی.

سعید زړه نا زړه له هاشم نه وپوښتل : تاته معلومه وه چی سلطان ابو عبدالله او وزیر ابو القاسم د وسلی ایښودلو پریکړه کړی ده؟

: نه ! زه یوازی پر دی پوهیدم چی د ابو عبدالله د تصمیم نیولو اراده فلج شوی وه او د ابو القاسم لاس دومره مضبوط نه دی چی جگړی ته دوام ورکړای شی. ځکه خو که د ابو عبدالله په دربار کی د امن غوښتونکو پله درنده شوه او ده د هغوی د خبرو تر اغیزی لاندې کومه غلطه پریکړه وکړه نو هغه به د یوه وزیر په حیث مخالفت ونکړای شی.

کله چی ما له هغه سره ولیدل ډیر مایوس ؤ. هغه ما ته وویل چی د موسی بن ابی غسان د میرانی او اتلولی سره سره موږ له دی حقیقت څخه سترگی نه شو پټولی چی د غرناطی د امن خوښوونکو امیرانو او علماؤ په څیر د پوځ ځینی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسران هم د دی جګړی له پای نه مایوسه شوی دی او زما اندیښنه ده چی یوه ورځ ابو عبدالله ماته دا امر ونه کړی چی موږ باید په هر قیمت سوله وکړو.
سعید وویل : مګر په غرناطه کی خو داسی آوازی خپری وی چی د غرناطی د امن غوښتونکو ملاتړ ابو القاسم کاوه او له موسی سره د ده اختلافونه ډیر زیات شوی وو.

هاشم ځواب ورکړ : تر اوسه اولس دننه حالاتو څخه ناخبره دی. خبره اصلاً داسی وه چی موسی بیله څنډه له ټول پوځ سره بهر پر دښمن برید کول غوښتل او د ده دا ګومان ؤ چی په اوسنیو حالاتو کی به د غرناطی یو سړی هم د ده د پلان مخالفت ونه کړی. ځکه خو ده ابو عبدالله ته دا مشوره ورکړی وه چی ژر تر ژره د غرناطی مشران په الحمرا کی راټول کړه چی د پریکنده جګړي لپاره د دوی تائید او ملاتړ ترلاسه کړو، خو له ابو القاسم سره دا ویره وه چی د امن خوښوونکو امیرانو د علماؤ یوه بانفوذه ډله به د هغه له دی تجویز سره مخالفت کوی. ابو القاسم د موسی د پوهولو هڅه کړی وه چی که ستا دا تجویز په ډك دربار کی رد شی نو پر اولس به ډیره بده اغیزه وکړی. ځکه خو د دغسی معاملی په دربار کی د راپورته کولو پرځای یو ځل باید دا تسلی وکړو چی هلته باید ستا د طرحی د پلویانو پله درنه وی.
او دا په هغه صورت کی امکان لری چی تاسو د ماتی خوړلی ذهنیت خاوندانو ته داډ ورکړی چی کله د غرناطی اولس میدان ته را ودانګی نو یوازی به نه وی.
د دوی جګړه به په ټول اندلس کی خپره شی او بیا به بهرنی اسلامی هیوادونه هم د دوی ملاتړ کوی، تر څو داسی یو حالت پیدا نشی د غرناطی اولس باید له خپل حصار څخه زاونه وزی، خو د غرناطی د مشرانو په اړه دموسی اټکل غلط ؤ چی هغوی به د ځان وژنی پریکړه نه وی کړی، چی زه له غرناطی نه بیرته راستون شوی وم تا به په وار وار رانه پوښتل، ته ولی دومره پریشانه او خفه یی او ما به د ځان تیرولو هڅه کوله، خو نن زه درته ویلی شم چی زه له دی خبری څخه ویریدم چی که دغه معامله په دربار کی راپورته شی نو د غرناطی زیاتره مشران به د موسی مخالفت کوی.
زه دا نه وایم چی موسی له بیړی نه کار اخست، د غرناطی وضعی هغه مجبور کړی ؤ چی په بیړه ګام واخلی خو د هغه ارادی او عزم ته په درناوی برسیره زه پردی ویریدم چی اوس به د غرناطی اولس د دغه ستر انسان د حوصلو ملاتړ ونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي.

د ابو القاسم د ملامتولو هيڅ ګټه نشته، هغه د يوه داسي حاکم وزير دی چي د غرناطي پر اولس د يوه عذاب په بڼه را نازل شويدی. اوس به د هغه وروستي هڅه دا وي چي د اوربند په وخت کي له دښمن نه زيات امتيازات واخلي. تر دي وروسته که غلامي زموږ په تقدير کي نه وه نو بڼايي د الله کوم بنده مو مرستي ته راشي. خو اوس موږ ته تر جوش او احساساتو زيات هوښياري او تدبير ته ضرورت دی.

اوس د غرناطي د اولس پريکړه اورول زموږ له توان څخه وتلي، او تر څو داسي اميدواروونکي حالت رانشي موږ بايد داسي خبره ونه کړو چي دښمن ته پردي سيمه د يرغل پلمه په لاس ورشي.

ته د حامد بن زهره زوی يې او تاته زيات د پام کولو ضرورت دی اوس ستا ساتنه زما تر ټولو لويه ذمه واري ده، او زه له تانه دا ژمنه غواړم چي د اوربند پر مهال به د احساساتي خلکو نه يوازي اوسي.

په غرناطه کي د هغه سربښندويانو کمبود نشته چي هره شيبه احساساتي کيدای شي، کله چي داسي خلك درته راغلل نو ته به د دي خبري خيال ساتي چي له هغوی سره د دښمن د جاسوسانو هم امکان شته. زما باور دی چي اوس به د غرناطي د اولس لپاره لاری پرانستل شي او ستا پرته به هم دا کار وشي. که ته هلته ولاړی نو له امين او عبيد نه پرته بايد له بل چا سره ايسار نشي.

زه اوس هم ستا د پلار د راتلو په انتظار يم، زما اميد پای ته نه دی رسيدلی چي هغه به د ځنکدن په حالت کي قوم ته د نوی ژوند له پيغام سره راستون شي. خو تر څو موږ داسي څه تکيه نه وي موندلي نو يوازي په سوله کي اوسيدل د نوی ازموينت د تياری فرصت راکولی شي.

سعيد وويل : کاکا جانه! نه بيغمه اوسه، زما له لوری به هيڅ بي احتياطي ونه ګوری، خو زه داسي احساسوم چي په دي ورځو کي ستا موجوديت په غرناطه کي ضروري دی. هلته به آزادي غوښتونکي ستا مشورو ته ضرورت لری.

هاشم ځواب ورکړ: زه نه پوهيږم چي اوس زما مشوری څه ګټه رسولی شي. بيا هم زه غواړم په دوو دری ورځو کي غرناطي ته ولاړ شم او ژر به د بيرته راستنيدو هڅه کوم، خو که په کوم سبب زما ډيری ورځي تيری شوی او په دي موده کي ستا د پلار څه پيغام راغی نو دا خبره به بل چاته نه کوی. که هغه پخپله راغی نو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څه کولو نه وړاندې باید له ما سره مشوره وکړې، زه چې د ده د راتلو څخه خبر شم سمدستي به راشم. د تازه حالاتو له معلوملو وروسته به پخپله وپوهیږې چې سمدستي د هغو خلکو له نظره پټ باید خپلې ذمه وارۍ ترسره کړې.

*****

څلورمه ورځ هاشم غرناطې ته ولاړ، د هغه له تلو نه دوې هفتې وروسته د کلي درې کسه چې په پوځ کې شامل ؤ کورونو ته په رخصتۍ راغلل، هغوی دا خبر راوړ چې په غرناطه کې ځینې خلک د اوربند پرخلاف زیات خفګان ښیي، او خلک ځای ځای د ابو عبدالله پرخلاف مظاهرې کوي.

تیره هفته د «البسین» له محلې نه د الحمرأ ماڼې په لورې د خلکو یوه مظاهره ولاړه، د هغوی د تیت پرک کولو لپاره پوځ رامیدان ته شو.

په ښار کې دا آوازه هم توده ده چې فردیناند هم له دې وضعیت نه زیات پریشانه دی. هغه د پخوانی تړون له مخې له سلطان ابو عبدالله نه غوښتې دي چې د پوځ کوم افسران او د غرناطې د امیرانو د کورنیو کوم کسان سینتافې ته د یرغمل په ډول استول کیږي باید زر تر زره یې ور واستوي که نه نو دی به د اوربند د تړون پابند نه وي.

د ځینو خلکو دا ګومان دی چې د غرناطې امن غوښتونکي د بیا جګړې وروستي امکانات هم ختمول غواړي، هغوی ابو عبدالله ته مشوره ورکړې ده چې د هغو با نفوذه امیرانو څخه چې د بغاوت خطر احساسیږي د هغوی د راقابو کولو همدا یوه لاره ده چې د یرغمل په بڼه یې ژر تر ژره فردیناند ته وسپاري او ابو عبدالله د دوی د مشورې عملي کولو ته چمتو شویدی.

سعید چې دا خبر واورید د هاشم کره ورغی او عاتکې ته یې وویل : ماته دا خبرو د منلو نه ښکاري، بیا هم زه غواړم غرناطې ته ولاړ شم، د هاشم کاکا احوال اخستل هم ضروري دي. د هغه د تلو هم ډیرې ورځې تیرې شوې، له کلي نه څلور کسه نور هم له ما سره روانیدو ته تیار دي او موږ به تر لږ ځنډه وخوځیږو.

عاتکې او د هغه د کاکا میرمنې له سعید سره د دې ژمنې اخستلو وروسته چې پام به کوې! خدای پاماني وکړه او لږ ځنډ وروسته پنځه پر برښنا ډوله ګرندیو اسونو سپاره د غرناطې په لور وخوځیدل.

د سعید له تلو دوې ورځې وروسته هاشم راغی، او خپلې کوټې ته چې ننوت بې حاله پریوت.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ څنډ وروسته هغه سلمی ته وویل:
زما تر اوسه پوری دا امید ؤ چی ښایی ابو القاسم د یرغملو له لست نه د امین او عبید نوموونه وباسی، خو پر دی پریکړه د سلطان مهر لگیدلی دی او د لست یو نقل فردیناند ته استول شویدی، اوس به څه وخت ناڅاپه هغوی سینتهافی ته واستوی.
سلمی خپلي اوښکی پاکی کړی ویی ویل: مگر ابو القاسم خو ستا دوست دی.
: زما له ابو القاسم نه څه گیله نشته، که د هغه وس وای نو خامخا به یی زما مرسته کړی وای، خو د پوځ د سالار دا ټینگار ؤ چی د پوځ د آرام ساتلو لپاره دښمن ته د عبید او امین په څیر د بانفوذه افسرانو سپارل ضروری دی. بیا هم ابو القاسم له ماسره دا وعده کړی چی هغه به څو ورځی وروسته بیرته را وغواړی.
سلمی! حوصله وکړه، زما په وړاندی د خپلو زامنو نه زیات د دی سیمی د ساتنی ذمه واری وه، ما نه غوښتل چی فردیناند می یو دښمن او عبدالله می باغی وبولی، خپل پوځونه دلته راواستوی او زه د زرگونو انسانانو د وژنی مجرم شم.
کوم څلور سوه تنه یی چی د فردیناند کمپ ته ور استولی دی د هغوی حیثیت به د بندیانو نه، د میلمنو وی. زما سره یوازی د دی خبری غم دی چی د راتلونکو امیدونو ټولی ډیوی مړی شوی دی.
عاتکی په حیرانی خپل کاکا ته کتل بیا یی په خپ غږ وویل : سعید ستا د احوال لپاره غرناطی ته درغی، هغه دی ونه لید ؟
: هوکی ومی لید، غوښتل می بیرته یی راسره راولم، خو د هغه یو څه ضروری کارونه وو څکه له ما سره رانه غی، زما باور دی چی کومه خطرناکه لاره به نه غوره کوی او زر به بیرته راستون شی.
او اوس د عاتکی سترگی د گنډې پوری غاړی ته په هغه ودانی گنډلې وی چی د وخت په تیاروتوپانونو کی دی اوس هم هلته د امید کومه وړانگه لیدلی شوای.
دی ډیر په ناکراری د سعید انتظار کاوه، له زینی نه یی د کاکا ناوی غږ واورید: عاتکی! عاتکی لوری! ته تر اوسه دلته ولاړه یی؟ ډیره یخنی ده لوری!
دی په ژړه غونی غږ ځواب ورکړ: درځم کاکاناوی!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هاشم میلمه

د اوربند پنځه ویشت ورځی تیری شوی وی، خو د پنځه ویشتو ورځو دغه پیسبی عـاتکی ته د یوه ویروونکی خوب په څیـر ښکاریدی. کله به چی د هغو خوبونو لړی وشلیده نو دی به د بی وسی او بی کسی په حالت کی له خپل زړه نه پوښتل:

آیا په راتلونکو پنځه څلویښت ورځو کی داسی کومـه معجزه امکان لری چی زموږ مظلوم قوم د غلامی له ذلت نه وژغورل شی! آیا دا امکان لری چی حامد بن زهره ناڅاپي راشي، او موږ ته پیغام راکړی چی د ترکیې، مراکش او الجزایر نه د اسلام د غازیانو لښکر زموږ د مرستی لپاره راخوځیدلی دی.

د دی پوښتنو په ځواب کی به کله د دی څیره د ډاډ او باور په رڼا وپرقیده او کله به د بی باوری او مایوسی تیاری پری خپری شوی.

یوه ورځ چی لمر لویده او په لویدیځ افق خپـری ورانگی سـری سـری ځلیـدلی ناڅاپه دې د خالدې غږ واورید:

خورجانی ! خورجانی د منصور ماما راغی.

عـاتکی ټکان وخوړ زینی ته یی وکتل، خالده په منډه ورغله او د هغی لاس یی ونیـو ورکش یی کړه، عـاتکه لاندی ورسره ښکته شوه خو په انگړ کی هیڅوک هم نه وو، خالدی چی دا اندیښمنه ولیده ویی خندل.

: هغـه دلتـه نشتـه، راشـه زه یی در وښیم، مـا چی هغه ولیـد ومی پیـژاند، پر هغی پسـی یو بل سـپـور هم را روان دی، خـالدی عـاتکه د انگړ د درشل په لوری ورسره بوتله چی دروازی ته نژدی شوه ویی ویل:

پاس وخیـژه خـوږ جـانی هغـوی له دی ځایه نه ښکاری. عـاتکه چی درشل ته ورغله یوی او بلی خوا ته یی وکتل بیا یی په اندیښنی وپوښتل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: چیرته دی؟

خالدی په خندا ځواب ورکړ: خورجانی! پاس وخیژه هغه به له هغه ځایه ووینې.

عـاتکه په یوه نړۍ‌زینه د دالان بام ته وختله. خالده په منډه د بام څنډې ته ولاړه او یو ځل یې له لاندې کتلو وروسته په ورو وویل:

خورجانی! هغه دی راغلل.

عاتکه ور وړاندې شوه او بیا یې ناڅاپه سترګی پر سعید ولګیدې. هغه د حویلی لویدیځ کونج ته رارسیدلی ؤ وریسی یو بل سپور هم و، چی دروازی ته راورسیدل له اسونو پلی شول. عاتکی چی د سعید ملګری ولید نو د یوی شیبی لپاره یی وینه په رګونو کی ودریده.

د هغه پر سر سپین پټکی ؤ، بورې سترګې یې وې او د یوه غوږ منځ یی تر څنډې پورې شلیدلی و، دسترګی له کونج څخه د غوږ تر مینځ پوری د زخم یو تت خاپ اوس هم د هغه پر مخ ښکاریده. ږیره یې خریبلی او د سرویښتان یی په پټکی کی پټ وو که د هغه د بریتونو او وروځو د ویښتو رنګ د تور پر ځای سور وزمه وای نو بیله کوم شکه دی ویلای شوای چی دا د هماغه څیری نخښې دی چی د دی په زړه نقش دی.

نوکران ور ووتل او د دوی د اسونو جلبونه یی ونیول، سعید وویل : د ده اس په طبیله کی وتړی او زما اس کورته واستوی، جعفر ته ووایی چی تر لږ څنډه درځم هاشم کاکا خو په کور دی که نه!

یوه نوکر ځواب ورکړ: هغه ګاونډی کلی ته د یوی جنازی لپاره تللی ؤ، تر اوسه نه دی راغلی تاسو دننه کښینی هغه به راشی.

دوی چی له درشل نه تیر شول او انګړ ته ننوتل نو عاتکی د بام له بلی څنډې نه ورته کتل.

میلمه له سعید سره میلمستون ته ننوت خالدی له عاتکی څخه وپوښتل : خور جانی هغه راوغوارم؟

: نه ته لږ صبر وکړه.

څو دقیقی وروسته سعید له میلمستون نه راووت عاتکه په بیړه له بامه ښکته شوه د هغه په لاره کی ودریده ویی ویل:

سعیده! له تا سره څوک راغلی دی؟

: د هغـه نوم طلحـه دی او زه تر دی زیات هغـه نه پیـژنم چی له قـرطبی نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرناطی ته راتښتیدلی دی او اوس د ابو القاسم په دفتر کی د قسطایی ژبی د ترجمان په حیث کار کوی. اوریدلی می دی چی د اورېند د ترون د خبرو اترو په وخت کی یی هم د سلطان په دربار کی د یوه ترجمان ذمه واری سرته رسولی. څو ورځی وړاندی له هغه سره زما لومړی ملاقات وشو، هغه له عمیر سره راغلی ؤ. عمیر چی را پېژاند ویی ویل چی هاشم کاکا دی پیژنی. په تیرو ورځو کی چی هغه غرناطی ته راغلی ؤ نو له ده سره یی لیده کاته شوی وو هاشم کاکا چی د ده داستان اوریدلی ؤ ډیره اغیزه یی پری کړی وه، تر دی وروسته به چی کله عمیر امین او عبید ته ورتلو نو دی به ورسره ؤ، ماته یو مظلوم سړی ښکاری، نن سهار ماته معلومه شوه چی د کومو خلکو په باب چی پریکړه شوی وه چی دښمن ته به یی د یرغمل په څیر سپاری هغوی یی د شپی په وروستی برخه کی سینتافی ته استولی دی.

: امین او عبید هم په هغوی کی وو؟

: هوکی! ما چی دا خبر وارید د هغوی له دوستانو سره می ولیدل او بیا عمیر هم دا خبره تصدیق کړه، زما اراده وه چی کور ته راشم هاشم کاکا ته داډ ورکرم. خو د آزادی غوښتونکو په یوه غونډه کی شریك شوم او هلته راپاندی ناوخته شوه. بیا نژدی دوی بجی بیرته راغلم او د سفر تیاری می کاوه چی عمیر طلحه راوست او ویی ویل چی ته که کلی ته ځی نو طلحه هم درسره بوزه. لوی وزیر د پلار جان د تسلی لپاره هغه ته یو لیك ورکړی دی، عمیر پخپله د ده سره راتلو خو د غرناطی د موجوده وضعی په خاطر هغه د رخصتی اخستل لازم ونه بلل.

عاتکی لږ فکر وکړ بیا یی وویل:

: ستا باور دی چی د ده نوم طلحه دی؟

: هوکی ما د ده همدا نوم اوریدلی دی مگر ته دومره اندیښمنه ولی یی؟

عاتکی ځواب ورکړ:

د تیرو وختونو پیښو ماته پر هر انسان بد گومانی راښودلی ده ما تا.ته د عتبه یادونه کړی وه ، هغه په همدی څیره ؤ، هغه زما په غشی ټپی هم شو او کټ مټ په همغه ځای د دغه سړی غوږ هم شلیدلی دی خو د هغه د سر او ږیری ویښتان سره وو. د ده ږیره نشته او د سر ویښتان می یی ونه لیدل، خو که یی ورورځی او بریتونه د تور پر ځای سره وزمه وای نو ما به داسی گڼله چی هغه خپل نوم اړولی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: عاتکې! تا چې کومه پېښه په خپلو سترګو لیدلې ده هغه د ډیر قوي زړه خاوند لپاره هم له زغم نه وتلې ده، خو ددغه سړي په باب ته بدګوماني مه کوه، ستا د پلار قاتل ستا کور ته د راتلو جرئت چیرته کولی شي، او ته بیا پخپله وایې چې د هغه وروځې او بریتونه سره وو، زما په ګومان د هغه د زخم خاپ ته شکمنه کړې، خو داسې پېښې له امکان نه وتلې نه دي، د ډیرو خلکو د زخمونو نخښې یو شان کیدای شي.

عاتکې ډاډمنه ساه واخستله وېې ویل:

سعیده ! زه ربښتیا هم بدګومانه شوې یم، ما دا فکر کاوه چې ښایي هغه په څه طریقه خپل ویښتان تور کړي وي، راځه دننه، کاکاناوېی ډیره خفه ده.

سعید له عاتکې سره روان شو او لږ څنډ وروسته د سلمې په مخکې ناست ؤ.

سعید هغې ته د غرناطې د وضعې په باب خبرې وکړې او د عبید او امین په باب یې د تسلې نه وروسته لږ څنډ د هاشم انتظار وکړ او بیا اوچت شو وېې ویل : کیدای شي هغه د شپې مهال تم شي، ځکه خو ماته اجازه راکړې، زه به سهار وختې د هغه خدمت ته حاضر شم. عاتکې! که ستا سره د میلمه په باب تر اوسه پورې څه تشویش وي نوزه به یې راسره بوزم.

: نه، نه! زما د هغه په باب څه اندیښنه ده! پرې یې ږده که کاکا جان راشي بده به پرې ولګیږي.

*****

سلمې د ماسختن تر لمانځه د هاشم انتظار وکړ او بیا یې یوې خدمتګارې ته وویل :

اوس ښایي هغه رانه شي، میلمه ته ډوډۍ ور واستوه، لږ څنډ وروسته هغې له عاتکې سره خبرې کولې چې خدمتګاره کوټې ته وړننوته وېې ویل:

آغا راغلی او سیده میلمستون ته ولاړ، د ډوډۍ په باب یې وویل چې له میلمه سره تر لیدو وروسته یې خوري.

عاتکه ناڅاپه جګه شوه وېې ویل:

کاکا ناوېې! زه ځم خوب راځي.

: دومره زر؟

: کاکا ناوېې! زما طبیعت وران دی، ښایي لمونځ وکړم او ویده شم.

خالده له بلې کوټې نه راغله او وېې ویل :

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خور جانی! تا له ما سره د کیسی کولو وعده کړی ده. زه درسره ځم.
: نه، نه! هغه پریشانه شوه ویی ویل : ته دی په خپله بستره کی پریوزه، زه چی لمونځ وکړم درته راځم.
خالدی شونډی بوځی کړی ویی ویل:
: ته به له لمانځه وروسته ویده شی.
عاتکی د خفگان په حالت کی هغه تر مټ ونیوه بلی کوټی ته یی بوتله او زر یی پر بستره څملوله برسټن یی پری وغوړوله او په لږ غوسه ناکه لهجه یی ورته وویل:
ډیری رغړیدونکی نجلی آرامه ویده شه که نه نو بیا به هیڅ کیسه نه درته اوروم.
خالدی چی د هغی حالت ولید وویریده، عاتکه له کوټی راووته دزینی په لوری ولاړه زړه یی په درزا ؤ.
لږ ځند وروسته دڅپه خپله کوټه کی د لمانځه ادا کولو پځای د هغی دریځی سره غوږ نیولی ؤ چی د مزدورانو د کوټو څو بالښته اوچته وه او د میلمه او کاکا خبری یی اوریدی.
هاشم ویل:
دا څنگه کیدای شي چی هغه بیرته راستون شوی وی او زه پری خبر نه وم. ابو القاسم باید په داسی آوازو باور ونه کړی.
میلمه وویل : جنابه ! د حامد بن زهره په باب لومړنی خبر داسی ؤ چی هغه د مالتا په جیل کی پروت دی.
: ابو القاسم ته دا معلومه وه چی هغه بندی دی.
: نه! فردیناند دا خبر پټ ساتلی ؤ، او د هغه د راوستلو لپاره یی بوه جنگی بیړی ور استولی وه، په دی گومان چی په مالتا کی د ده سفیر په کوم بل سړی د حامد بن زهره گمان نه وی کړی. د هغه په بیړی کی هغه دوه تنه جاسوسان هم د حامد بن زهره د پیژندلو په خاطر استولی وو.
هغه بیړی له ډیرو ورځو راسی بی درکه وه او اوس دمالتا نه دا خبره معلومه شوه چی کوم بندی په هغه کی راوړل کیدو هغه حامد بن زهره ؤ.
په هغو ورځو کی د روم د سمندرگی په لویدیځو برخو کی د ترکانو او د هغو د بربری حلیفانو بیړیو گزمې کولې او دا خبره له اټکل نه لری نه وه چی دغه بیړۍ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به څه پیښه ور شوی وی، د فردیناند دا گومان و چی که د بربریانو او یا ترکانو په مرسته حامد بن زهره ژغورل شوی وی نو هغه لومړنی هڅه به همدا وی چی د جنگ بندی د ترون له مودی پوره کیدو نه دمخه غرناطی ته راورسیږی.
اوس وروستی خبر دا دی چی د کوم بهرنی یرغلگر دری بیړی‌په تیاره کی ساحل ته نژدی راغلی او د قسطلی د درو کښتیو له ډیبولو وروسته په کوم لور تښتیدلی دی۔

د ډوبو شویو کښتیو ماڼوگان چی بچ شوی دی وایی چی یوه لویه کښتی چی ډزی یی ډیری وژونکی او خطرناکی وی ساحل ته ډیره نژدی راغله،
هاشم پوښتنه وکړه : ستا دا مطلب دی چی نا معلومې بیړی حامد بن زهره پر ساحل کښته کړی دی؟

: د فردیناند همدا اندیښنه ده چی یرغل کوونکو د کوم مهم ضرورت نه پرته دومره لوی خطر نه شوای زغملی په کوته کی تر لږ ځنډه چوپتیا حاکمه شوه بالاخره هاشم وویل: زما اوس هم باور نه راځی، خو که حامد بن زهره ریښتیا هم پر ځنډه پلی شوی وی نو د هغه په رارسیدو کی به ځنډونه شی.
میلمه وویل : امکان لری چی هغه په اوسنیو حالاتو کی غرناطې او یا خپل کلی ته تر تگ دا غوره وبولی چی کوم بل چیرته غلی شی او د یوه مناسب وخت انتظار وکړی. په هر صورت دا مسئله ډیره مهمه ده، هغه باید داسی فرصت ونه مومی چی فردیناند ته د اوربند ماتولو پلمه په لاس ورشی.
هاشم وویل که هغه له بهر نه کوم امیدواروونکی پیغام راوړی وی نو همدلته به راشی او بیا به نیغ غرناطی ته ځی. که هغه د خلکو له نظره غلی کیدل غواړی نو ابو القاسم باید د هغه په باب اندیښنه ونه کړی.
: ابو القاسم ځکه پریشانه دی چی پر هغه د هغو څلور سوه تنو د ژغورنی بار پروت دی چی د یرغملو په څیر دښمن ته سپارل شوی دی او ستا دوه بچیان پکی شامل دی.
ابو القاسم دا هیله لری چی که تاسو د نورو په اړه نه وی نو لږ تر لږه د خپلو بچیانو په خاطر خپلی ذمه واری احساس کړی.
: آیا ابو القاسم اوس هم دا گومان کوی چی زه به حامد بن زهره ته د خپل کور د سوځولو لپاره اور تیاروم؟
: نه! له هغه سره یوازی د دی خبری اندیښنه ده چی که تا هغه سمی لاری ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه وست او هغه كومه هنګامه جوړه كړه نو نصرانيان به تر ټولو دمخه په همدې سيمه كې وحشت ښكاروي او د غرناطې خلك به له تا سره هيڅ همدردي هم نه كوي. بيا به د فرديناند په جيل كې ستا د زامنو څه حال كيږي ته پردې ښه فكر كولی شي. په كوټه كې يو ځل بيا چوپتيا خپره شوه.

لږ ځنډ وروسته هاشم وويل:

مګر زه څه كولی شم، زه څه وړ هغه سمې لاري ته راوستلی شم؟ كه هغه د قبايلو په راپارولو بريالی شو نو ددې سيمې يو سړی به هم برالا د هغه پر خلاف د غږ اوچتولو جرئت ونه كړي.

: لوی وزير همدا ويل چې هغه بايد د خلكو د پارولو فرصت ترلاسه نه كړي. تاسو هغه ولټوی او ورته پوهوی او بيا كه تاسو له هغه نه د څه خطر احساس كاوه نو په داسې تجويزونو فكر كيدای شي چې څو اونۍ او يا څو مياشتې د هغه خوله بنده شي.

: ستا په خيال هغه بايد ونيول شي؟

: هوكې! كه د هغه سمې لاري ته راوستلو ته نوری لاری نه وي نو ته بايد له دې اقدام نه هم ډډه ونه كړې.

هغه په داسې يوه ځای كې ساتل كيدای شي چې له هغه ځايه يې غږ خلكو ته ونه رسيدای شي، كه هغه غرناطې ته ورسيد نو موږ به مناسب ګام اوچت كړو، او بيا به تا ته د زحمت دركولو ضرورت نه وي. خو كه هغه بهر اوسيدو او د څه بغاوت خورولو هڅه يې وكړه نو دغه بې خونده ذمه واري به ته تر سره كوې، موږ ته معلومه ده چې سعيد د هغه زوی دی، موږ ته دا هم معلومه ده چې يو كشر لمسی يې هم دلته اوسي او ته پوهيږې چې هغه په حامد بن زهره څومره ګران دی.

: زه يوازې دومره پوهيږم كه حامد بن زهره د بغاوت د جنډې اوچتولو پريكړه كړې وي نو د لسو بچيانو او شلو لمسيانو ژوند كه په خطر كې ووينې هم په چلند كې به يې كوم بدلون را نشي.

همدغه لامل ؤ چې سعيد مو په غرناطه كې ونه نيو ، لوی وزير كوم داسې ګام پورته كول نه غواړي چې خلك پرې وپاريږي.

: نو بيا هغه څه غواړي؟

: هغوی دا غواړي چې تاسو له هغو بانفوذه خلكو سره اړيكې ونيسی او په هر قيمت چې وي له حامد بن زهره نه يې د لرې ساتلو هڅه وكړي. ځينې سرداران د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فردیناند له انتقام نه ویرول کیدای شی، ځیني نور د انعامونو په طمع راقابو کیدای شی. ابو القاسم د دی خبری ذمه واری اخلی چی تاسو له هغوی سره هر ډول وعدی وکړی هغه به ترسره کیږی. د زیاتی ډاډینی لپاره به هغوی دوی ته داسی لیکونه ور واستوی چی د ابو عبدالله او فردیناند مهرونه پری لګیدلی وی.

په کوټه کی دننه لږ ځنډ چوپتیا خپره وه، عاتکی غوښتل چی تره ته یی په چیغو چیغو ووایی چی د ابوالقاسم استازی زما د پلار قاتل دی او اصلی نوم یی عتبه دی، خو د هغه له کومی نه غږ ونه وت، دی له هغه ځایه تښتیدل غوښتل خو د ګام اوچتولو سیك پکی نه ؤ.

هاشم وویل : که حامد له بهر نه د کوم امیدواروونکی خبر سره راغلی وی او خلکو ته دا معلومه شی چی زه د هغه مخالفت کوم نو په دی سیمه کی به زما لپاره د ساه کښل ګران شی.

· که تاته کوم خطر پیښ شو د ابو القاسم پر دوستی اعتماد کولی شی. هغه تاسو ته دا مشوره نه ده درکړی چی تاسو بی تدبیر او بی اټکله د هغه پرخلاف رامیدان ته شی، ترڅو ټول حالت معلوم نه شی ته باید له پوره احتیاط نه کار واخلی.

د ابو القاسم پردی باور دی چی حامد به د کوم ګام اوچتولو نه وړاندی خامخا له تا سره مشوره کوی که تاسو هغه ته دا مشوره ورکړای شوه چی د بیرون د قبایلو له راپارولو نه د مخه د غرناطی آزادی غوښتونکی له ځان سره ملګری کول ضروری دی نو ستا ټول تشویشونه به لری شی.

حامد بن زهره یوازی له غرناطی نه بهر زموږ لپاره سر درد جوړیدلی شی. چی سهار شو تاسو د هغه لټون پیل کړی. دا خبره ډیر وخت له هغه نه پټه نشی پاتی کیدای چی څلوږ سوه تنه با نفوذه خلك فردیناند ته د یرغمل په توګه سپارل شویدی، او کله چی تاسو د هغه په وړاندی دا اندیښنه ښکاره کړی چی که فردیناند د اوربند د مودی له پوره کیدو وړاندی پر غرناطه د قبضی اراده وکړی نو د غرناطی اولس به یی مقابله ونکړی، نو زما باور دی چی هغه به ستا سره له مشوری پرته هیڅ ونه کړی شی او هغه هلته کوم لوی خطر نه شی راپیدا کولی.

هاشم ووېل : ماته د څه پریکړی نه وړاندی د فکر کولو ضرورت دی. کیدای شی تر سهاره تاته یو ډاډمن ځواب درکړای شم، خو یوه خبره همدا اوس هم کولی شم چی زه په هیڅ حالت کی هم دا نشم زغملی چی په غرناطه کی له هغه سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمن په خير چلن وشي.
که هغه ته هلته د سر کوم خطر پيښ شو نو زه به د سلطان ابو عبدالله او وزير ابو القاسم د ملګري په حيث تر ژوندي پاتي کيدو د حامد بن زهره په ملګري مرګ غوره ګنم او عبيد او امين ته هم زه تر دي بله غوره لاره نه وينم.
ميلمه ووېل : تاسو داسي فکر ولي کوي چي که هغه ته په غرناطه کي کوم خطر پيښ شي نو ابو القاسم به يوه شيبه هم وزير پاتي کيدل غوره ونه ګني او زما په ګومان په غرناطه کي د هغه ډير سخت مخالف هم پر هغه ظلم نشي زغملی، زموږ اصلي ربړه دا ده چي هغه په امن او چوپ وساتلي شي، او زما باور دی چي په دي مسئله کي ته له ابو القاسم سره همنظره يي.
اوس ته ويده شه، زه به د شپي په وروستي برخه کي له دي ځايه روان شم، هغه وخت ښايي له تا سره ونه ليداى شم.
: نه ته چي راوېښ شي نو ما به همدلته ووينی، او امکان لري چي د شپي کومه داسي خبره زما ذهن ته راشي چي زه هم درسره روان شم، په هر صورت له تا سره د خداى پاماني لپاره خامخا راځم.

*****

لږ څنډ وروسته عاتکي په خپله کوټه کي د ډير خفګان په حالت کي قدم واهه.
: زما خدايه! څه وکړم، زه کمزوري او بي وسه يم، په دي کور کي زما حيثيت د يوې يتيمي او بي وسه نجلي نه زيات نه دی. په دي کلي کي يو څوک هم د کاکا پر خلاف زما په خبره باور نه کوي، اى د جزا او سزا مالکه! ماته همت راکړه چي کاکا مي له دي ګناه نه وژغورم.
بيا چي هغه په لمانځه ودريده نو سترګي يي نمجني وي.
له لمانځه نه چي وزګاره شوه جګه شوه او بي سيکه پر خپله بستره وغځيده، بهر لري د وريځو دتناء غړونه راتلل، دا تر ډيره په ناکراري لټ په لټ اوښته، بيا يي ناڅاپه داسي احساس کړه چي لاندي څوك دروازه ټکوي. هغه څو شيبي چوپه او بي حرکت پرته وه، بيا ناڅاپه راجګه شوه زر يي يو دريڅه خلاصه کړه او انګړ ته يي ور وکتل.
هاشم ګړندی له انګړ نه تيريده او د هغه په څخه کي يو پهره دار مشال نيولی روان ؤ. د سترګو په رپ کي هغه د دي له سترګو الونبه شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: هغه چیرته ولاړ، آیا هاشم کاکا ناڅاپه میلمه ته څه ویل ضروری ویلل؟ آیا دا امکان لري چې د کاکا ضمیر ناڅاپه راویښ شوی دی. او هغه د یوه غدار د مړه‌خپه کولو ته چمتو شویدی او یا هغه د سهار پر ځای همدا اوس د حامد بن زهره د لټولو پریکړه کړې ده. د عاتکې په زړه کې ډیرې پوښتنې راپورته شوی خو هیڅ ډاډمن ځواب یې ونه موند.

ناڅاپه د برښنا له پرق سره د کور دیوالونه ولړزیدل او بیا ورسره د شمال تونده څپه راغله، او شرکند باران پیل شو، عاتکې زر کړکۍ بنده کړه بیا د خپلې بسترې ترڅنګ ودریده او په چورتونو کې ډوبه شوه.

په دې تالنده او برېښنا کې به هغه سفر ونه کړي، او که تر سهاره باران اوریده نو امکان لري میلمه هم پاتې شي، چې کاکا وي ښایي د سعید دوی کره تګ راته آسانه نه وي خو د سعید خبرول ضروري دي، اوس که هغه له میلمه سره تر ډیره خبرې کوي نو سهار به د خوب کولو ضرورت لري، او زه به د دروازې له خلاصیدو سره بهر ته ولاړه شم.

سعید ویلې وو چې زه به سهار ته کاکا ته راشم امکان لري تر سهاره باران ودریږي. او هغه په جومات کې تر لمانځه وروسته سیده زموږ کور ته راشي. په هر صورت چې هر څنګه وي زه به خامخا هغه ته ورځم. ماته له هغه غدار سره د کاکا د خبرو اوریدل ضروري وو، امکان لري ما له هغوی نه نوی څه اوریدلی وای. خو اوس د باران او توند شمال په شور کې د هغوی غږونه زما تر غوږ نشی رارسیدای.

عاتکه بیرته پر بستره وغځیده او تر یوه ساعته لټ پر لټ اوښتو، وروسته خوب ورغی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عاتکې تشویش

عاتکه د درانه خوب نه ویښه شوه، په کوټه کې تر اوسه تیاره وه، بیا یې سترګې پټې کړې او په اړخ واوښته خو ناڅاپه یوه ویروونکې خیال د هغه بدن ټول ولړزاوه، له بستری نه راجګه شوه. زر زر یې څادر پر سر کړ او د زینو په لور ګړندۍ شوه، څو شیبې وروسته دا په انګړ کې ولاړه وه.

باران تم شوی ؤ، په فضا کې دومره ګردونه وو چې څو ګامه لرې څه لیدل ګران وو، دا له انګړ نه تیره شوه او د حویلۍ د دروازې درشل ته ورسیده، دروازه ترلې وه، دې چې درنه پله وخوځوله وپوهیده چې دننه خوانه زنځیر ده، بیا یې ناڅاپه دروازې ته نژدې په خټه کې تازه د اسونو د پښو خاپونه ولیدل، دا یې چې ولیدل په بیړه د میلمستون په لوری ولاړه، د منځ کوټه خلاصه وه، هلته یوه شیبه ودریده او بیا د اسونو د طبیلې په لوری په منډه ولاړه، هلته یوازې دری اسونه وو د میلمه له اس نه پرته د دې د تره اس هم نه ؤ. اوس دې ته په دې کې د شك ځای نه و پاتې چې هغوی تللي وو، دا په بیړه بیرته دروازې ته راغله او په زوره زوره یې له ټکولو وروسته نوکرانو ته غږ وکړ.

یوه نوکر دروازه خلاصه کړه او په حیرانۍ یې عاتکې ته کتل.په بیرونی انګړ کې یو بل نوکر په برستن کې ځان نغارلی ؤ، عاتکې تری وپوښتل: کاکا جان چیرته لاړو؟

: هغه دا ونه ویل چې چیرته درومي، هغه نیمه شپه د سعید دوی له کوره بیرته راستون شو او د شپې په ورستی برخه کې له میلمه سره یوځای بهر ته ووت.

: تاته معلومه ده چې هغه له سعید دوی کره تللی ؤ؟

: هو صیب! هغه له میلمه سره تر لیدو وروسته لږ ځند آرام وکړ چې جعفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی، ما ډېر ورته وویل چې هغه ویده دی خو هغه ټینګار کاوه چې زه همدا اوس ورسره ګورم.

: تا ته معلومه ده چې جعفر ولې راغلی ؤ؟

: نه هغه یوازې دا ویل چې مایو ضروري پیغام ورته راوړی، په کور کې نور څوك باید خبر نه شي چې زه یې لیدو ته راغلی وم.

زه وېرېدم چې که هغه له کوټې راووزي پر ما به منت وکړي او بیا به د جعفر وار راځي، په وېره وېره مې د هغـه د کـوټې ور وروټکاوه، هغـه په غـوسـه بهـر راووت خو چې ما د جعفر نوم واخست نو د هغه ټوله غوسه سړه شوه.

په خدای «ج» سوګند! دا هغه ته یوه له مصیبته ډکه شپه وه، دې چې له کوره ووت باران پیل شو، تر نیمې شپې پورې یې موږ د راتلو انتظار وکړ، بیا چې بیرته راستون شو نو موږ ډاډه شوو خو د شپې په وروستۍ برخه کې یې بیا پاڅولو او د اسونو د زین کولو حکم یې راته وکړ.

هغه میمله هم د سعید دوی کره ورسره تللی ؤ؟

: نه هغه په مزه خپل خوبونه غورول.

: ښه ده بهر دروازه خلاصه کړې.

: دومره زر، تر اوسه خو سهار شوی هم نه دی.

: ساده کېږې مه، سهار شوی دی ځنډ مه کوی!

: ته چیرته ځې؟

: هوکی! تاسو بیړه کوی وخت مه ضایع کوی.

نوکـر زړه نا زړه بهـرنی دروازه خلاصـه کـړه، عـاتکه په منډه بهـر ته ووته او د سترګو په رپ کې د نوکر له سترګو پناه شوه.

لږ ځنډ وروسته دا په یوه کنده کې ټیټه شوه، په مخ ځوړې نرۍ لاره ختې ډېرې وی او دا د بنوئیدو له سببه ورو ورو ښکته تله، د کندې په منځ کې تر اوسه لږ لږ اوبه بهیدلې، دې په راوتلیو ډېرو پښې ایښودلې او وړاندې تله، خو په یوه ډېره یې پښه ولړزیده، او په اوبو کې پریوته، تر ملا پورې یې جامې لندې شوې، خو دا زر راپورته شوه او د اوبو او ختو نه بې پروا یې بیا منډه واخستله.

څو شېبې وروسته دا د کندې په بله غاړه د سعـید دوی د کـور په مخ کې دریدلې وه، بهـرنی د پاټك دروازه تړلې وه، دې په زوره زوره دروازه وټکوله او سعید ته یې چیغې وکړې خو دننه څخه هیڅ ځواب رانه غی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور په څېر د حجرې دیوال هم ډېر لوړ نه ؤ، عاتکې څو شیبې یوې او بلې خوا ته په اندیښنه له کتلو وروسته د حجرې پر دیوال ور توپ کړل او له لږ جنجال وروسته بل لوري ته ترې کوزه شوه، د پراخ انګړ نیمایي لاره یې چې ووهله د ګردونو له منځ یې په دوه پوړه کور سترګې ونښتې، بیا یې په تته رڼا کې د یوې کوټې تر دریڅې د ډیوې رڼا ولیده، دا وړاندې ولاړه دروازه یې تېله کړه چې بیرته شوه عاتکه د شمال د څپې په څېر تونده ورننوته او سعیده، سعیده! چیغې یې وهلې. یو سړی مخ پر قبله ناست ؤ او دعا یې کوله، عاتکې یې مخ ونه لید، هغه په بیړه دعا پای ته ورسوله او عاتکې ته یې مخ ور واړاوه خو هغه سعید نه ؤ.

عاتکه وارخطا شوه ویې ویل : ته څوك یې، سعید چیرته دی؟ پردی سړی سر تر پښوډې ته وکتل او له ځایه جګ شو هغه له سعید نه په ونه جګ ؤ اود وړیو له درانه څادرنه یې عاتکې دا احساس کړه چې هغه یو عادي سړی نه دی، هغه په داډ ځواب ورکړ:

سعید دلته نشته،.

: هغه چیرته دی؟ عاتکې په اندیښنه وپوښتل:

: هغه په یوه داسې مهم کار پسې تللی دی چې له یادولو نه دمخه یې زه باید تا وپیژنم چې څوك یې؟

عاتکه وارخطا غوندې شوه ویې ویل : هغه زما له کاکا سره تللی دی؟

: ما ته نه دی معلوم چې ستا کاکا څوك دی، زه په دې کلي کې نابلده یم.

: زما تره یې د شپې دلته راغوښتی ؤ، د خدای «ج» لپاره مامه پریشانه کوه جعفر چیرته دی؟

پردی سړی بیا وپوښتل : ته عاتکه نومیږې؟

عاتکه تر یوې شیبې پورې حیرانه ودریده بیا یې ځان راټابو کړ ویې ویل : هوکې مګر تا ته څه معلومه شوه؟

: ماته ستا په باب ډېر معلومات دي، زه تر یوې مودې د حامد بن زهره د سفر ملګرې وم، هغه د خپل زوی او لمسي سره ستا نوم هم زیات یاداوه، ما د هغه کلا په باب هم زیات اوریدلي دي چې ستا مور او پلار پکې ښخ دي. زه دې کور ته د یوه دوست په حیث راغلی یم او که تا ته څه پریشاني وي نو د سعید او جعفر په شان پر ما هم اعتماد کولی شې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: جعفر هم له هغوی سره تللی دی؟: هوکي! هغه ځواب ورکړ.
: تاسو ویل چې د حامد بن زهره سره د سفر انډیوال وی؟
: هوکي!
: د هغوی له لوری مو کوم پیغام راوړی ؤ؟
هغه دوه زړی شو دروازی لوری ته یې وکتل، په دروازه کې د چا د پښو غږ اوچت شو او عاتکې هم مخ ور واړاوه، زبیده کوټې ته ور ننوته او په حیرانی یې وویل:
: لوری ته په دی وخت کې؟
: عاتکې په وارخطایی وویل : ترورې! دا د خبرو وخت نه دی زه پردی ځان پوهول غوارم چې د سعید پلار جان اوس چیرته دی؟
: لورې! هغه د شپې مهال ناڅاپه روان شو او زما په گومان به اوس غرناطې ته رسیدلی وی، خو ته باید دا خبره چاته ونه کړی.
د عاتکې رنگ تك زیړ شو او په مایوسونکی لهجه یې وویل :
هاشم کاکا له هغه سره ولیدل؟
: هوکي! هغه چې دلته راغی را ویې غوښت او د ملاقات نه لږ ځنډ وروسته ناڅاپه له دی ځایه روان شوی ؤ.
عاتکې نا بلده سړی ته مخ ور واړاوه ویې پوښتل: ته له هغه سره راغلی وی؟
: هوکي! زه د هغه د رارسولو په خاطر ورسره راغلی وم.
: هغه ، چې په مالتا کې بندی ؤ او دښمن خپله جنگي بیړۍ د هغه د راوستلو لپاره ور استولی وه؟
بیگانه سړی حیران شو ځواب یې ورکړ: هوکي! خو دا خبری تاته څه ور معلومې شوی!
عاتکې د هغه د پوښتنې پروا ونه کړه پوښتنه یې وکړه:
زه له تانه دا پوښتم چې هغه د قسطلي له بیړی نه څه ډول وتښتید او هغه دری بیړۍ چې د اندلس پرځنډو یې د دښمن دوی بیړی ډوبې کړی او حامد بن زهره یې پر ځنډه پلې کړل، له کومه ځایه راغلي وی؟
: نابلده «پردی» ځواب ورکړ: زه ستا هری پوښتنې ته ځواب ویلی شم خو تاته دا خبره دومره زر څه ور راورسیده چې د دښمن دوی کښتۍ ډوبې شوی دی؟
عاتکې ځواب ورکړ: تیر ماښام د وزیر ابو القاسم استازی زما کاکا ته راغلی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤ. د هغوی خبری چی ما واوریدی نو دا خطر می احساس کړ چی که حامد بن زهره غرناطی ته ولاړ شی نو وبه نیول شی، ماته دا معلومات نه ؤ چی دلته رارسیدلی که نه نو د شپی به زه د ده د خبرولو لپاره راغلی وم.
نابلده دی ته تسلی ورکړه ویی ویل : ته دومره اندیښنه مه کوه، حامد بن زهره په دغو خطرونو پوه دی چی په غرناطه کی ورپیښیدای شی، بیا هم هغه په دی داده ؤ چی که دی د غدارانو د خبریدونه دمخه غرناطی ته ننوت نو اولس به له ده سره وی همدا سبب ؤ چی په دی مسئله کی هغه ستا له کاکا سره هم راز شریك نه کړ.
: مگر تاته دا معلومه نه ده چی زما کاکا هم د شپی په وروستی برخه کی چیرته تللی دی او د ابو القاسم استازی هم ورسره تللی دی. زما باور دی چی هغوی له غرناطی پرته بل ځای ته نه دی تللی، او د هغه همدا هدف دی چی په غرناطه کی د حامد بن زهره پرخلاف له غدارانو سره په دسیسی کی شریك شی.
دی بیا شاته وکتل زبیدی ته یی وویل : تروری! زه غرناطی ته ځم، تاسو زر تر زره یو نوکر راوبښ کړی چی له دری نه وړاندی پر سرك زما انظار کوی، زه به تر لږ ځنډه اس راولم او ځان به راورسوم.
نابلده وویل : ودریږه!دی شاته وروکتل.
: ستا باور دی چی کاکا دی...!
عاتکی خبره ورغوڅه کړه ویی ویل : زه پوهیږم چی که می د خپل کاکا پر خلاف څه ووایم نو خلك به می لیونی وبولی. خو که تا د حامد بن زهره نه زما د پلار د شهادت او د کلا د الوزولو کیسه اوریدلی وی نو ښایی هغه د هغه غدار په اړه هم څه درته ویلی وی چی په باروتو یی د کلا له الوزولو وروسته دښمن ته لاره خلاصه کړی وه. اوس تا ته همدومره کافی ده چی همغه غدار د ابو القاسم ایلچی په بڼه تیره شپه زما د کاکا میلمه ؤ. هغه خپل نوم بدل کړی دی، د ویښتانو رنګ یی بدل کړی دی خو د هغه غوږ پر بدلیدو نه دی توانیدلی چی زما په غشی زخمی شوی ؤ، ما چی هغه ولید ومی پیژاند مگر که هغه بل څوك وای هم له خپل تره سره می یی چی خبری واوریدی په دی کی راسره شك پاتی نه دی چی هغه یو خاین دی، او د غرناطی معامله گرو زما د کاکا د ضمیر د قیمت ورکولو لپاره را استولی ؤ.
تا پیژندوی وویل : په دې حالاتو کی ستا تګ غرناطی ته مناسب نه دی، زه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د پیغام رسولو ذمه واری اخلم، که حامد بن زهره ته په غرناطه کی د کوم سربښندوی ملګری ضرورت ۆ نو ته پر ما اعتماد کولی شی، ما قصداً ستا د پوښتنو ځواب نه درکاوه، اوس ستا د تسلی لپاره دا ویل ضروری بولم چی د هسپانیې په کومه بیړۍ کی حامد بن زهره سپور ۆ پر هغو د ترکانو یوی کښتی حمله وکړه او په همغه کښتی کی هغه د اندلس څنډو ته راوړل شو.

عاتکی وویل : او ته په همغه کښتی کی د ده سره د سفر ملګری وی؟

: هوکی! هغه سترګی ښکته واچولی زیاته یی کړه:

زه د هغه کښتۍ کپتان یم، او دوی نوری کښتۍ زموږ د مرستی لپاره راغلی وی.

عاتکی د لومړی ځل لپاره د زور، شرافت، او سادګی یوی مجسمی ته په ځیر ځیر وکتل، او دی داسی احساس کړه چی د ویری، مایوسی او خفګان په تیارو کی ناڅاپه د رڼا یو څلی راپورته شوی دی.

دی بیا وویل : مګر ته خو ترکی نه یی!

زبیدی وویل : لوری! د منصور بابا ویل چی دی د اندلس د یوی عزتمندی کورنی څخه دی او دوه ځله یی زما ژوند ژغورلی دی، خو دی غرناطی ته نشی تلای، آقا زما د وړاندی وویل چی غرناطی ته د ده تګ ډیر خطرناك دی، هغه به زر بیرته راستون شی او دی به رخصت کړی، که هغه په څه سبب وځنډیده نو سعید به راواستوی او سعید هم پر ما ټینګار کړی ۆ چی دی په کلی کی له چا سره باید ونه ګوری.

نا آشنا وویل : د هغه دا خبره نه خوښیده چی زه بی سببه غرناطی ته د تلو خطر قبول کړم، خو اوس باید خامخا ولاړ شم، تاسو نوکر ته ووایی چی زما اس زین کړی.

عاتکه ناکراره غوندی شوه ویی ویل : ترورې د خدای «ج» په خاطر زر کوه! زبیده بهر ته ووتله.

عاتکی نا آشنا ته وویل : تاسو په غرناطی کی څوك پیژنی؟

: نه! زه په ووړکتوب کی یو ځل له خپل پلار سره هلته تللی وم، هغه څلور ورځی له یوه دوست کره پاتی شو خو اوس زما دا هم په یاد نه دی چی هغه څوك ۆ؟

: بیا ته یو خدمتګار درسره بوزه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: نه! که حکومت دومره را وپېژني شوی وی نو د دی کلی یو سړی هم باید له ماسره ولاړ نه شي.

: زما په ګومان بنایی د هغوی لټول تاته ګران نه وی، تاسو د «البسین» لوی چوک ته ورشی، هلته له جومات سره جوخته د هغه مدرسه ده، د هغه د کور يوه دروازه جومات او بله يې شاته يوى تنګې کوڅې ته وتلې ده، کور يې له يوى مودی راسی تړلی دی، امکان لری چی هغه د اوسیدو لپاره له کوم دوست کره پاتې شوی وی، په هر حال د هغه درك له مدرسی نه ترلاسه کولی شی، اوس زر کوه تیارېږه، زه بهر ستا انتظار کوم.

عاتکې دا وویل او له کوټې نه بهر ووتله.

څو دقیقې وروسته نا آشنا هم له کوټې نه راووت د هغه پر سر سپينه پګړی او نور بدن يې په يوه پراخه چپنه کې پټ شوی ؤ د چپنې د پاسه يې پر ملا يو د څرمنې کمربند ؤ چی توره له تیکې سره پرې ځړېده.

په انګړ کې د زبیدی او عاتکې نه پرته دوه نوکران هم وو چی د يوه په لاس کې د هغه د اس قیضه وه، هغه اوږده اوږده ګامونه واخستل وړاندی ورغی او د نوکر نه يې د اس جلب واخست پښه يې پری واړوله او د سترګو په رپ کې د انګړ له چمبر نه ووت.

ناڅاپه منصور له يوى کوټې نه راووت وړاندی راغی او په غریو نیولې غږ يې وویل : هغه ولاړ؟

زبیدی هغه ته تسلي ورکړه ويې ويل : زويه ! هغه د يوه ضروری کار لپاره ولاړ.

: ماما جان خو مې ويل چی زما تر راتګه به دی دلته وی، تا زه ولی راوپېښ نه کړم، هغه به بیا رانشي.

: هغه به خامخا بیا راشی بچیه! که دی زما پر خبره باور نه کیږی نو کوټې ته ورشه د هغه سامان وګوره. هغه خپل زیات شیان همدلته پریښی دی.

منصور لږ امیدوار شو د «سلمان» د کوټې په لوری يې منډه واخستله عاتکې له زبیدی نه وپوښتل:

تاسو ته د ده نوم معلوم دی؟

: نوم يې سلمان دی.

: هاشم کاکا ته معلومه شوه چی دی د ترکانو له سمندری پوځ څخه دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: نه! آغا ستا کاکا ته یوازې دا ووئيل چې دغه سرې د الفجاره د یوې عربي قبیلې د مشر زوی دی او ده ته یې په لاره کې زما د ساتنې ذمه واري ورسپارلې وه.

تا یې تولې خبرې اوریدلې وې؟

: هوکې! کله چې دوې خبرې کولې زه یې د څنګ په کوټه کې وم. ستا د کاکا د خبرو له اوریدو وروسته ما دا تصور هم نشو کولی چې هغه له غدارانو سره ملګرې کیدای شي. د سعید پلار پر دې ډېر خفه ؤ چې ده خپل دوه زامن په یرغملو کې استولي وو. هغه ده ته د بې غیرتې او بې زړه توب پیغور ورکاوه، خو ستا کاکا په وار وار دا ویل چې دا یوه مجبوري وه، موږ د تیارې لپاره فرصت ته ضرورت درلود .اوس که تا له بهر نه د څه ملاتړ کوم امید راوړی وی نو زه درسره ملګرې یم، د دښمن پرخلاف په توره اوچتولو کې به له ما سره پردې هیڅ افسوس نه وي چې دوی به زما له دوو زامنو سره څه وړ سلوك کوي. تاسو وایې چې په غرناطه کې یوه خطرناکه دسیسه په کار لویدلې ده، خو که ستا کاکا د هغه دښمن وای نو هغه به په وار وار دا نه ورته ویل چې په اوسنیو حالاتو کې غرناطه ستا لپاره بالکل خطرناکه ده.

: هاشم کاکا دا وویل؟

: هوکې!

: هغه څه ځواب ورکړ؟

: هغه ورته وویل چې زه به په دې خبره فکر وکړم، اوس ماته د خوب ضرورت دی.

عاتکې وویل : تروري! د دې مطلب له دې پرته بل څه نشي کیدای چې هاشم کاکا غوښتل خبرې تري راوباسي، ځکه چې د سعید پلار له هغه سره مشوره نه ده کړې او اعتماد یې نه دی پرې کړی. د هغه د ناڅاپي تګ سبب همدا دی چې هغه هاشم کاکا ته د دې موقع ورکول نه غوښتل چې هغه ابو القاسم او نور غداران خبر کړي چې کله هغه غرناطې ته ور ورسیږي وبې نیسي. اوس هم زما پوخ باور دی چې هغه به نیغ غرناطې ته تللی وي.

زبیدې له لږ فکر وروسته پوښتنه وکړه: تاته معلومه ده چې هغه څه وخت وخوځیدل؟

: نوکرانو راته وویل چې د شپې په وروستي برخو کې روان شول.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سعید پلار نژدی نیمه شپه چی ستا کاکا رخصت کړ ولاړ، د دی مطلب دا دی چی هغه به ستا له کاکا نه ډیر وراندی غرناطی ته رسیدلی وی.

منصور موسکی بیرته راغی او ویی ویل : هغه خپله لینده، د غیشو کڅوړه او یوه جوړه جامی پریښی دی، خو توره او تومانچه یی ورسره وړی دی.

عاتکی وپوښتل : تا له هغه سره تومانچه لیدلی وه؟

: هو! هغه زما دوراندی پر خپل ورانه ایښی وه.

ما له هغه سره یوه د باروتو ډکه کڅوړه هم ولیده.

عاتکی تروری! هغه خو به دا پاتی شیان هسی بی کاره نه وی ګڼلی چی پریښی یی دی ستا باور دی چی هغه به بیرته راستون شی؟

: که د خدای «ج» خوښه وه خامخا به راشی، مګر زه پردی نه پوهیږم چی ته دومره ولی پریشانه یی؟

: زه پریشانه نه یم، پردی غوسه یم چی هغه له ما سره له لیدو پرته ولی ولاړ، او زبیدی ترور ولی ورته راویښ نه کړم، کله چی بابا روانیده نو راته ویی ویل چی نور ته د ده کوربه یی.

: ته هغه وخت ویښ وی؟ عاتکی وپوښتل؟

: هوکی! او د بابا جان له رخصتیدو وروسته هم هغه له ما سره ډیری خبری وکړی.

: هغه خو به ستا د بی معنی خبرو نه په تنګ شوی نه وی؟

: له چانه؟

: ستا له خبرونه!

: منصور په غوسه شو ویی ویل : ولی؟

: ته پردی هم نه پوهیږی چی خلك په نیمه شپه کی تر خبرو ویده کیدل زیات خوښوی. عاتکی هڅه کوله چی خپله موسکا پټه کړی.

منصور نور هم غوسه شو ویی ویل : زبیدی تروری! ته خو لږ ددی جامو ته وګوره! داسی ښکاری لکه ټوله شپه یی چی کښان نیولی وی.

عاتکه په خندا شوه.

زبیدی وویل : لوری ! یخ دی ونه وهی، دننه راځه زه اور درته بل کړم.

: نه زه اوس کورته ځم! منصوره! ووایه ته راسره ځی که نه؟

منصور د ځواب پرځای د هغی لاس ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

د غرناطې اته تنه مهم مشران د وزير ابو القاسم په شانداره ماڼۍ کې په يوه پراخه کوټه کې ناست وو، هاشم د يوه خدمتګار سره د کوټې په دروازه کې ودريده او له لرې دريدو وروسته يې السلام عليکم! وويل او د درناوي لپاره ټول پاڅيدل خو هاشم چاته له لاس ورکولو پرته دروازې ته نژدې په يوه کرسۍ کيناست، د هغه تندی تروش ؤ.

په کوټه کې تر لږ څنډه چوپتيا خپره شوه، بيا د غرناطې يوه سوداګر وپوښتل : څه خبره ده ته ډير انديښمن ښکارې!

هاشم په ډك غږ ځواب ورکړ: اوس د انديښنې کلمه زموږ د احساساتو د ترجمانۍ لپاره بس نه ده، ابو القاسم څه وخت راځي؟

: که په الحمرا کې څه مهمه پيښه نه وي نو اوس به راورسيږي، موږ يې هم له ډير وخته انتظار کوو، يو ساعت وروسته څلور کسان نور هم پر هغوی ور زيات شول، هاشم په ډيره حيرانۍ د ابو عبدالله د تدبير او د ابو القاسم د هوښيارۍ او د فرديناند د سخاوت او لورينې په اړه د دوی خبرې اوريدې.

يوعمر خوړلې سړي چې له جامو نه د کومې مدرسې ښوونکی ښکاريدو ويل : زموږ انديښنه وه چې ځينې بې تدبيره به د سولې د شرطونو پرخلاف د اولس د راپارولو هڅې وکړي. خو د خدای «ج» شکر دی چې د غرناطې خلکو د شر اچوونکو نه مخ اړولی دی، کومو خلکو چې تر پرونه لوی وزير ته د بې غيرتۍ او بې حسۍ پيغورونه ورکول اوس يې د قوم احسان کوونکی ګڼي، اوس د غرناطې ميندې لوی سلطان ته هم دعاګانې کوي چې اولس يې له زياتې بربادۍ نه وژغوره.

د حکومت يوه چارواکي وويل : موږ بايد د لوی وزير شکر ګزار وو، چې ښار د ډيرو با نفوذه کورنيو غړي يې فرديناند ته وسپارل، د راتلونکې لپاره يې د جګړې د پيښيدو امکانات ختم کړل، اوس که څوك شر جوړونکي د اولس د راپارولو هڅه وکړه نو په خوله به ګوزار وخوري.

يوه بل وويل : ځو ورځې پخوا چا دا ويلې شوای چې د دښمن پوځې قرارګاه به موږ ته د يوې منلې حيثيت غوره کوي او د غرناطې په بازارونو کې به د غلې، سونګ موادو او ميوو انبارونه جوړ شي. آبله ورځ، له لمر ختو تر ماښامه له سينتبافي نه غرناطې ته شپيته ګاډي راغلل، پرون د هغو شمير تر سلو زيات ؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر کچرو او خرو هم زیات شیان راځي، د غرناطې په بازارونو کې د ژوند د ضرووري شیانو نرخونه په تونلدي سره ټیټیږي.

پردې سربېره فردیناند چې د جنوب لاره وتړله موږ ته یې نوري اسانتیاوې جوړې کړې، د ابو القاسم دغه کارنامه له یوې سیاسي معجزې نه کمه نه ده چې هغه اولس د مرګ له منګولو نه وژغوره او د امن او خوشحالۍ په لاره کې یې ودراوه.

ناڅاپه د هاشم زغم او صبر پای ته ورسید او ویې ویل : د خدای «ج» لپاره ځانونه مه غولوئ!

د ټولو سترګې پر هاشم میخ پاتې شوې، او په کوټه کې د لږ ځنډ لپاره چوپتیا شوه.

بیا یوه سړي وپوښتل : ستا مطلب؟

هاشم ځواب ورکړ : زما مطلب دا دی چې زموږ ځلور سوه تنه به څو اونۍ د دښمن د میلمستیاو مزه وڅکي او بیا به د هغې په بدل کې د ټول اولس په غاړو کې د غلامۍ کړۍ واچول شي. تاسو به څو ورځې د فردیناند د سخاوت او د خپلو مشرانو د تدبیر او عقل ترانې ووایئ او وروسته به بیا ستاسو نور نسلونه تر پیړیو پیړیو پورې پر تاسو لعنتونه وایي، تاسو پردې خبره خوښ یاست چې د سینتهافي لاره خلاصه شوه او ستاسو لپاره د امن او خوښۍ یو نوی دوران پیل شو، خو دا درته معلومه نه ده چې پردې لاره پر تاسو څومره بلاګانې نازلیدونکې دي او ستاسو راتلونکي نسلونه به ستاسو د څو ورځو خوښۍ څومره دروند قیمت ادا کوي! ټول څو شېبې حیران وو او هاشم ته یې کتل، بیا د غرناطې یوه لوی سوداګر وویل : هاشمه! پر تا څه وشول؟ ایا ته په اورېند خوښ نه یې؟

هغه ځواب ورکړ: یو ماته خوړلی او مایوس انسان له خپلو مصیبتونو څخه د خلاصون لپاره د مرګ آرزو کولی شي خو د ټول قوم پر غلامۍ او مرګ خوښیدای نه شي.

یوه پوځي افسر وویل : مګر پخوا خو ستا نظر داسې نه ؤ. او تر کومه چې زما یادیږي تا دې فردیناند ته د دوو زامنو په یرغمل استولو هم اعتراض نه کاوه، اوس باید داسې خبره ونه کړې چې د غرناطې د امن پرخلاف وي.

هاشم ځواب ورکړ: آیا زه پر خپله اشتباه د پښېمانۍ حق هم نه لرم؟

یوه په عمر پوخ سړي ځواب ورکړ: ته د زړه له تله پښېمانه کېدای شې خو د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی لپاره د لوی وزیر هستوگن ځای مناسب نه دی.

هاشم شونډې وچیچلې ویې ویل : تر کومه چې ماته معلومه ده شپږ اونی وروسته به فردیناند پر غرناطې قبضه وکړي او بیا به دا ځای زموږ د مدبر او هوښیار وزیر کورنه وي.

یو بل سړي وویل : تاسو له هاشم سره خبره مه کوئ، دی د خپلو بچیانو لپاره اندیښمن دی، خو زما باور دی چې د هغه اندیښنه به ډېر زر لرې شي.

موږ به له ابو القاسم نه وغواړو چې ستا سره دی د زامنو د ملاقات بندوبست وکړي.

هاشم چیغې کړې : د خدای «ج» لپاره په وار وار زما زامن مه یادوئ. او بیا ، له شره چا د خبرو جرئت ونه کړ.

لږ څنډ وروسته ابو القاسم کوټې ته ورننوت او ټول کسان یې په درناوی ودریدل، ابو القاسم په ولاړه له یوه ځوان نه وپوښتل:

اوس د ښار وضعه څنگه ده؟

: ښاغلیه داسې څه خبر نه دي راغلې چې څه اندیښنه پرې ښکاره شي، ابو القاسم وراندې ولاړ د مجلس د حاضرینو په مخکې په یوه کرسۍ کیناست او ویې ویل : تاسو ښاغلیو ته د خپلو عزیزانو د احوال لپاره په وار وار ماته د راتلو د زحمت اړتیا نشته هغوی د فردیناند په قرارگاه کې تر تاسو زیات ارام دی، که موږ فردیناند ته دا ډاډ ورکړای شو چې موږ د زړه له کومې د اوربند د شرایطو پوره پابندي کوو نو د هغوی د ډېر یرغمل ساتلو ضرورت به ونه ویني، له سینتهافې سره د سوداگرۍ د لارې پرانستل یو ډېر لوی بری دی او زما هیله ده چې تر څو ورځو پورې به تاسو له بندیانو سره د ملاقات اجازه هم ترلاسه کړای شي. اوس باید تاسو د بیځایه وخت تیرولو پرځای اولس ته ورشي او هغوی ته دا ډاډ ورکړي چې حکومت څه وایي ستاسو په خیر دی.

هاشم تر ډېره پورې سرځوړند اچولی ؤ او د هغوی خبرې یې اوریدلې ناڅاپه ابو القاسم هغه ته وکتل تکان یې وخوړ ویې ویل : هاشمه! وبخښه زما پام نه ؤ چې ته هم شته یې، ته څه وخت راغلې؟

: زه همدا اوس راغلم. هغه په سړه لهجه ځواب ورکړ.

یوه سړي وویل : ښاغلیه! دی ستا پر برباو ډاډه نه دی، د هغه دا نظر دی چې د غرناطې په لارې خلاصولو سره مو ډېر لوی خطر ته اوړه ورکړه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


: تاسو ته خو باید معلومه وي چې زه د ده نظر ته احترام لرم، اوس که تاسو ښاغلي اجازه راکړي زه له ده سره څو خبرې کوم.

ابو القاسم ودرید او هغوی ټول په وار وار ورغلل، خدای پامانی یې ورسره وکړه او له کوټې ووتل.

ابو القاسم بیرته په کرسۍ کیناست او له هاشم نه یې وپوښتل: تاته زما پیغام در ورسید؟

: هوکې!

: نو بیا غرناطې ته د راتلو پرځای باید پر خپل کور کې پاتې وای، امکان لري د حامد بن زهره د راتلو په باب زما اندیښنې بې بنیاده وي خو د اندلس پر ساحل د فردیناند د دوو کښتیو تباهي کومه معمولي واقعه نه ده، له دې نه وړاندې د فردیناند له خوا دا خبر مونږ ته راکړل شویدی چې کومه کښتۍ مالټا ته د حامد بن زهره د راوستلو لپاره استول شوی وه په سمندر کې یې درکه شوی ده، ځکه خو دا له قیاس نه لرې نه ده چې په لاره کې ترکې یا بربرې کښتیو پرې حمله کړې وي او د حامد بن زهره د ژغورلو نه وروسته یې د اندلس پر غاړه د هغه د پلې کولو هڅه کړې وي. زما ګومان ؤ چې حامد بن زهره به غرناطې ته له راتلو دمخه له تا سره خامخا اړیکې نیسي او ستا د مشورې نه پرته به کوم مهم ګام اوچت نه کړي.

که حامد بن زهره بیرته راستون شو نو د قبایلو په پارولو کې به ځنډ ونه کړي، ځکه خو تاسو زر بیرته ولاړ شې او د قبایلو د آرام ساتلو هڅه وکړې، فردیناند به ستا دا خدمت نه هیروي، ماته پر دې پوهیدل ګران نه دي چې ته دې زامنو ته ډیر په اندیښنه کې یې، خو ته پر ما باید اعتماد وکړې، چې د حامد بن زهره خطر لرې شي زه به د هغوی د راخلاصولو هڅه وکړم.

هاشم هیله من شو ویې ویل : ښاغلیه په ما احسان وکړه همدا نن یې راته راوغواړه.

: مګر زه ستا د ناڅاپي اندیښنې په سبب ونه پوهیدم.

: ښاغلیه ما له اندلس نه د هجرت پریکړه کړې ده.

: په څه سبب؟

: زه ویریږم چې غرناطې ته د دښمن ننوتل به ماته له زغم نه وتلې وي، تاسو زما په باب دا ډاډ غوښت چې آرام واوسم، او چې زه له خپل کلي نه هجرت وکړم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زما په باب به ستا تولی اندیښنی لری شی.

ابو القاسم ځواب ورکړ: زما شخصاً هیڅ اندیښنه نشته، خو ته پوهیږی چی هغه څلور سوه تنه د فردیناند د داړ لپاره هغه ته تسلیم شوی دی، که زه د چا د بیرته راوستلو لپاره منډی رامنډی وکړم نو فردیناند به څه گومان کوی ـــ

او د غرناطی د نورو خلکو د خپلوانو او عزیزانو عکس العمل به څه وړ وی؟

هاشم پخپلو وچو شونډو ژبه رانیـره کړه ویی ویل : د خدای «ج» لپاره زما مرسته وکړه! د خپلو بچیانو پرځای زه پخپله د فردیناند قرارگاه ته ورتلو ته چمتو یم.

ابو القاسم په بی پروایی ځواب ورکړ: له دی نه وراندی ته هیڅ پریشانه نه وی، ستا د دی اندیښنی لپاره باید کوم معقول لامل وی.

: تر دی وړاندی ما دا سوچ کاوه چی هجرت نه کوم، خو اوس په اندلس کی د یوی ورځی تیرول هم راته گران ښکاری، زه تر مرگ وړاندی د خپلو زامنو په اړه دا داړ غوارم چی دوی په یوه خپلواک هیواد کی هستوگن دی.

ابوالقاسم په ځیر هغه ته وکتل او ناڅاپه یی لهجه بدله کړه ویی ویل : ته له مانه کومه خبره پټوی، ستا سترگی د کوم سملاسی خطر د احساس غمازی کوی، ته د کوم داسی مجلس نه زما مخی ته راغلی یی چی هلته د امن پرخلاف خبری شوی دی.

: زه نیغ له خپل کلی نه ستا حضور ته راغلی یم.

: ماته معلومه ده خو ته سهی خبره ولی نه کوی؟

: سهی خبره!؟

: هو! ته ولی دا نه وایی چی زموږ خبرونه رښتیا وو، حامد بن زهره بیرته راغلی دی، تا له هغه سره لیدلی دی او له هغه سره له لیدو وروسته اوس ته له خپلو ذامه واریو نه د تښتیدو د لاری لټولو په فکر کی یی، هاشمه ته ما تیر ایستلی نه شی، ما چی ستا څیره ولیدله وپوهیدم چی حامد بن زهره راغلی دی، او ته د هغه راتگ د یوه نوی توپان د راتلو خبر گڼی. اوس لږ له همت نه کار واخله، که هغه غرناطی ته ننوتلی وی نو دا د تا ذمه واری ده چی هغه د نوی فتنی له راویښولو نه ایسار کړی موږ په یوه کښتی کی سپاره یو او د دی کښتی د ډوبیدولو مخنیوی زموږ ټولو لومړنی فرض دی، ووایه هغه چیرته دی؟

: ښاغلیه! هغه غرناطی ته نه دی رارسیدلی که رارسیدلی وای هم ما به دا نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځ درته ویلی چې هغه چیرته دی.

: ته تیره شپه په خپل کور کې وې، که حامد بن زهره دلته نه وی راغلی نو پخپل کور کې به وی.

زه ستا څخه منته کوم.

هاشم چیغه کړه : ته هغه په کلي کې نشې نیولی.

: هلته د هغه د نیولو هیڅ ضرورت نشته، زه یوازې هغه د ښار له دروازو نه لرې غواړم، او که ته د خپلو زامنو دښمن نه وې نو زما سره باید مرسته وکړې.

ابو القاسم دا وویل او بیا یې لاسونه وپړقول، پهره دار کوټې ته ورننوت ابو القاسم امر ورته وکړ:

سمدستي کوتوال ته ورشه ورته ووایه چې د ښار پرتهولو لارو پهرې ودروه، که حامد بن زهره ښار ته د ننوتلو هڅه وکړه نو وې نیسي او سمدستي یې ماته راولي.

چې پهره دار ولاړ هغه بیرته هاشم ته وکتل: که هغه غرناطې ته تر راتلو د مخه د قبایلي خلکو د پارولو هڅه وکړه نو ماته به ګام په ګام ستا د مرستې ضرورت وي، که ته د خپلو زامنو خیر غوښتونکی وې نو د حکومت سره به پوره مرسته کوې، زه درسره وعده کوم چې یو ویښته به یې نه زیانیږي. زما هدف له بربادۍ څخه د غرناطې ژغورل دي. که ته ماته دا وویلی شې چې د بربریانو او ترکانو بیړۍ د اندلس پر څنډو د لنګر اچولو په حال کې دي نو زه به د هغوی د هر کلي لپاره تر هر چا وړاندې وم، خو که هغه یوازې راغلی دی نو د غرناطې خلکو ته به له هغه سره د موهومو امیدونو او خوشحالوونکو خبرو پرته هیڅ نه وي.

هاشم ځواب ورکړ: ښاغلیه! زه دا هڅه کوم چې هغه غرناطې ته د راتلو اراده پریږدي. مګر د هغه په نیولو کې درسره مرسته نشم کولی.

ابو القاسم لږ نرم شو ویې ویل : زه له تاسره وعده کولی شم چې زما له لاسه به حامد بن زهره ته کوم تاوان نه رسیږي، او که تاسو غواړۍ نو هغه له نیولو نه ژغورلی هم شي، خو دا ضروري ده چې هغه ته د خلکو د پارولو زمینه برابره نه شي.

یو نوکر کوټې ته ورننوت او ویې ویل :

ښاغلیه! د غرناطې کوتوال درسره لیدل غواړي، هغه کوم مهم خبر راو[illegible] دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



: هغه دلته راولې.

نوکر له کوټې نه بهر ووت او لږ څه وروسته يو د قوي متهو خاوند چې د پنځوس کلونو نه په عمر زيات معلومېده کوټې ته ورننوت او بيله څه مقدمې يې ووېل:

: ښاغليه! زه دې لوري ته راروان وم چې ستا استازي په مخه راغي، ما ستا د حکم سره سم پهره دارانو ته هدايت ورکړ، ابو القاسم په غوسه شو وبې ويل : اوس ته زما د حکم د سبب معلومولو لپاره راغلې يې؟

: نه ښاغليه! زه دومره په خبره پوهيږم چې ستا په امر کې به خامخا کوم مصلحت وي، خو ما يو مهم خبر اوريدلی دی.

: څه دول خبر؟

: کوتوال د څواب پر ځای په شك هاشم ته وکتل، ابو القاسم ووېل:

ته ولې چوپ شوې، له هاشم نه د غرناطې يوه خبره هم پټه نه ده.

کوتوال ووېل : ښاغليه! زه تاته ددې خبرې لپاره راتلم چې حامد بن زهره ښار ته ننوتلی دی. هغه په البسين کې له چا کره اوسي. خپل کور يې تش دی، پخپله مدرسه کې هم نشته، کيدای شي چې دا هسې آوازه وي خو د ښار خلك د البسين په څلور لارې کې راټوليږي او زموږ خلکو له بېرونه دا اوريدلي دي چې حامد بن زهره بيرته راستون شوی دی او نن د البسين په جومات کې د ښار خلکو ته وينا کوي. په ښار کې داسې خبرې هم کيږي چې هغه د اسلامي هيوادونو له مشرانو څخه کوم اميدواروونکی پيغام راوړی دی.

ابو القاسم هاشم ته وکتل خو هغه ووېل:

دا امکان نه لري، زه دا تصور هم نشم کولی چې هغه دې دلته را رسيدلی وي.

ابو القاسم ووېل : تا هغه غرناطې ته له راتګه ايسار کړی ؤ؟

: هوکې!

: تا دا هم ورته ووېل چې ستا د بچيانو په شمول د غرناطې څلور سوه کسان د يرغمل په څير تللي دي؟

: دا خبره هغه ته زما سره له ليدو وړاندې معلومه وه.

ابو القاسم له لږ فکر وروسته ووېل : په دې حالاتو کې دا له اټکل نه لرې نه ده چې هغه ستا په اړه بد اعتمادي احساس کړې وي او غرناطې ته د راتګ د ارادې په باب يې تاته څه ويل مناسب نه وي بللي، په هر حال که هغه دلته را

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسيدلي وي نو د سهي احوال په معلومولو ځنډ نه وزي.

ابو القاسم دا وويل او كوتوال ته يي پام واړاوه: ستا پردي پوهول ضروري نه دي چي په اوسنيو حالاتو كي دي ذمه واري څه دي؟ ته په البسين كي د داسي خلكو څخه كار اخستي شي چي د هري شيبي احوال دركړي خو ستا له لوري بايد داسي څه گام اوچت نه شي چي خلك پري وپاريږي.

اوس به زه بيا سلطان ته ورځم، او زما به دا هڅه وي چي د غرناطي تول با نفوذه خلك په ځانگړي توگه هغه خلك چي وروته او زامن يي د يرغمل په توگه استول شوي دي په الحمرا كي راټول شي، سمدستي بايد د ښار دروازي وتړل شي.

كوتوال په ويره ويره وويل : ښاغليه! زما انديښنه ده چي كه حامد بن زهره غرناطي ته رارسيدلي وي نو آرام به نه كښيني، كه ستا اجازه وي په البسين كي هم داسي كسان پيدا كيږي چي چاره يي وكړي.

هاشم جگ شو ودريد او له غوسي نه په ريږديدونكي غږ يي وويل:

په غرناطه كي پر حامد بن زهره لاس اوچتول د ماشومانو لوبه نه ده، كه د هغه د وژلو هڅه وشوه نو د ښار هيڅ گوټ به درته په امن نه وي.

بيا هغه په هيله منه څيره ابو القاسم ته وكتل : ښاغليه! ماته اجازه راكړي.

: ته چيرته روانيږي؟

: زه د حامد بن زهره د پيدا كولو هڅه كوم، امكان لري زه هغه د بربادي له لاري راوگرځوم.

: نه ته نور بهر ته نشي تللي.

هاشم څو شيبي هغه ته په حيراني كتل، بيا يي په خپ غږ وويل:

ستا مطلب دا دي چي زه ستا بندي يم؟

: ته زما مطلب دا دي چي اوس ستا ساتنه زما ذمه واري ده. كه د حامد بن زهره كوم ملگري ته زما له كوره د تلو په حال كي وليدي نو ژوندي به بيرته راستون نه شي، ځكه خو تر څو ستا په اړه بله پريكړه نه وي شوي ته به همدلته اوسي.

هاشم څه ويل غوښتل خو ابو القاسم او كوتوال د كوټي نه ووتل او دي بي حاله پر كرسي ورولويد، لږ ځنډ وروسته جگ شو دروازي پلو ولاړ خو هلته دوه تنه وسله وال پهره داران ولاړ وو. هغه ځان ملامتاوه بيرته راوگرځيد او په كرسي كيناست.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سلمان سفر

له غرناطي نه نژدې دوه میله لرې سلمان یوه کلي ته ننوت چې په دیوالونو او ورونو یې د تیرې جګړې نخښې برالاوې، د پراخه سرك دواړو غاړو ته کورونه زیاتره ویجاړ شوي وو او بامونه یې پر ځمکه رانسکور شوي وو، یوازې څو داسې کورونه تر سترګو کیدل، چې د ژوند نخښې پکې لیدې شوې.

چپ لورې ته د جومات بام لویدلی ؤ او نژدې هلته دوه تنه په یوه ګاډي کې د وښو پر راوړو بوخت وو.

ګاډي په دوو کچرو پورې تړلی وه، او کوچوان چې یو د څوارلس کلو په شاوخوا کې هلك ؤ پاس پرې ناست ؤ. ښي لورې ته د یوې پراخې حویلې دیوال ؤ چې ځای ځای درزونه پکې راغلي وو. سلمان چې د حویلې دروازې ته نژدې شو ناڅاپه یو بوډا سړی چې لکنه یې لګوله راووت د اس مخې ته راغي د اس تګ ډیر ګړندی نه ؤ سلمان په وخت د اس جلب راکش کړ او ښي اړخ ته یې تری کوږ کړ خو بوډا سړي چې هغه یې د اس سره د ټکر هڅه کوله د مخامخ وړاندې تلو پرځای شاته شو او له اس سره د ټکر په سبب یوې خواته وغورځید.

سلمان له اس نه راکوز شو هغه ته یې تکیه ورکړه ویې ویل:

وبخښې تاسو خو به ډیر ژوبل شوی نه یاست؟

زه پر خپله بې احتیاطي پښیمانه یم.

یو ځوان په منډه بهر ته راووت او په غوسه یې وویل: تاسو په یوه پراخه میدان کې باید د اس د سپارلې مشق وکړې، او سترګې هم باید وغړوی.

کوچوان راکوز شو او په منډه ورغی ویې ویل: مسعوده!

په ادب خیال کوه ما ورته کتل د هغه غلطي نه وه.

بوډا هم راپورته شو ویې ویل: مسعوده ته ډیر احمق یې زه بالکل روغ یم، د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه هيڅ ګناه نشته اشتباه زما وه، له حویلی نه يوه نجلی راښکاره شوه او وړاندې راغله له بوډا نه یې وپوښتل : څه خبره ده بابا ؟

: هیڅ نه لوري!

د نجلی عمرد لسو کلونو په شاوخوا کې ؤ، د هغی کمزوری او د نګر بدن د تیرو جګړو د مصیبتونو هنداره وه، هغی سلمان ته وکتل او په شرمیدلی لهجه یې ترې وپوښتل :

ته له غرناطی نه راغلی؟

: نه زه هلته روان یم.

سلمان دا وویل او بیا یې مسعود ته وکتل : دی ناڅاپه د آس مخی ته راغی او زه افسوس کوم چی بخښه می وکړه خو ونه شوه هغه می له غورځیدو ونه ژغورلای شو.

مسعود ځواب ورکړ: ښاغلیه زه پخپله خبره پښیمانه یم، او بخښنه درڅخه غواړم.

د سلمان آس په خولو لوند خیشت ؤ او له ستومانی سلیده کوچوان یې جلب ونیو ویی ویل:

ښاغلیه ! ستا اس ډیر تږی ښکاری که دی اجازه وی زه اوبه پری وڅښنم.

: ډیره ښه ده خو زر بیرته راستون شه چی پر ما ځنډ وزی.

: ښاغلیه !دا دی زر بیرته راځم.

هلك آس جومات ته نژدی د کوهی په لوری بوت.

نجلی وویل : ښایی ته له لری راغلی وی؟

: هوکی!

: ښایی تر اوسه دی سبا ناری هم نه وی کړی، زموږ په کور کی ډوډی تیاره ده راځه!

: نه مننه زما بیړه ده.

بوډا وویل : راځه بچیه د دی کلی د سردار لور بلنه درکوی، له جګړی وروسته په دی ویجاړ کور کی ته لومړنی میلمه یې.

د اسماً حوصله مه ماتوه.

: سلمان د نجلی پرسر د مینی لاس کیښود ویی ویل : که زما بیړه نه وای ستا بلنه می نه ردوله، پلار جان ته دی زما سلام ووایه او ورته ووایه چی که په بیرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راستنیدو کی فرصت په لاس راغی نو دلته به دوړی وخورم او بیا به ځم.
مسعود وویل : ښاغلیه ! د هغه پلار شهید شوی دی.
سلمان اسماً ته وکتل ، د هغی په سترګو کی اوښکی ځلیدې.
بوډا وویل : د جګړی په ورځو کی دغه کلی ړنګ شوی ؤ، زموږ آغا خپل زامن او میرمن «اندراش» ته استولی وو، اوس یوه هفته وړاندی موږ بیرته راغلی یو، خو تنه زموږ نه وړاندی دلته را رسیدلی وو او که جګړه بیا پیل نه شوه نو امید دی چی پاتی کورونه هم زر بیرته ودان شی.
اسماً په ستوماني خپلی اوښکی پاکی کړی ویی ویل : بابا جګړه به خامخا پیلیږی. مور جانی می ویل چی دا ځل به موږ «اندراش» ته د تلو پرځای په غرناطه کی پاتی کیږو.
کوچوان چی د اس له اوبولونه وروسته بیرته راستون شو ویی ویل:
: ښاغلیه ! ستا آس ډیر تږی ؤ، ته باید د دومره ښکلی حیوان ډیر خیال وساتی.
سلمان د هغه له لاسه جلب ونیو اسما ته یی وکتل : اسماً زه ژمنه درسره کوم چی بیرته راوګرځیدم دلته به راګرځم تا به وینم او بیا به ځم.
: ته له کومه ځایه راغلی یی؟
: زه له ډیر لری ځایه راغلی یم، او سلمان پر اس سپور شو.
اسماً وویل : لږ ودریږه زه اوس بیرته راځم، او هغه بیا په منډه بیرته په کور ننوته، سلمان اندیښمن ودرید یوی او بلی خواته یی کتل.
بوډا وویل : د دی لجلی په خاطر ته خامخا باید راشی، اوس خو را سنبال شوی ده جو په اندراش کی یی دا حالت ؤ چی له لری به یی هر سپور ولید د خپل پلار ملګری به یی ګانه.
کوچوان وویل : په غرناطه کی به ته د کوم دوست کره اوسی که په سرای کی؟
: ماته نه ده معلومه، دا د هغه ځای په وضعی پوری اړه لری. امکان لری ماته د ایساریدو فرصت په لاس رانه شی.
: ښاغلیه! زه د دی لپاره دا پوښتنه کوم چی په غرناطه کی د اسونو لپاره پروړه ډیر په زحمت موندل کیږی، او ستا آس داسی نه دی چی وږی دی وساتل شی، که ته زموږ په سرای کی اوسیدل خوښوی نو هلته به د وښو زحمت درته نه وی، موږ د دی خبری ځانګړی خیال ساتو، او همدغه سبب دی چی اوس خلک

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په سرای کی شپه تیرول خوښوی، زه پرون دلته د وښو د پیرلو لپاره راغلی وم، او اوس می ایله څو گیډی پیدا کړل.

: مننه، کـه زه هلتـه پاتی کـیـدم، نو د اس په وړی سـاتلو به خـوښ نـه شم، ستاسو سرای چیرته دی؟

: تاسو له جنوبی دروازی نـه سیده پر سرك ولاړ شی، کیڼ لوری ته به د سرای دروازه ووینی، د مالك نوم عبدالمنان دی، خو له چانه د پوښتنی حاجت نشته، دروازه دومره لویه ده چی گاډی هم تری تیریدای شی، د سرك بلی غاړی ته سرای ته مخامخ حمام دی او څو گامه وړاندي به یو لوی چوك ووینی، زما نوم عثمان دی.

اسمـاً په منډه راښکاره شـوه او وړاندی ورغله دوی دانی منی یی سلمـان ته ورکـړی: مـوږ په خپـل وینجاړ بن کی منی ولتولی، کـه ته مـخکی راغلی وای نو څولی به می ډکـه درته راوړی وای، مـور جانی می تولی وویشلی یوازی همدغـه دوی دانی اوس پاتی وی.

سلمان زړه نا زړه نجلۍ ته کتل او بیا یی د هغی له لاسه یوه منه واخستله او اس یی پونده کړ، او بیا لږ ځنډ وروسته یوه معصومه، خفه، او هوښیاره څیره چی د اندلس د مـاضی د وړانگو او د راتلونکو تیـارو هنداره وه د ده په سـترگـو کی تاویدله.

* * * * *

سلمان چی د ښار دروازی تـه نژدی شو نو یوه گاډۍ درشل ته ننوتله، له هغی څوگامه شاته د وښو، خسو او غلې نه ډکې گاډۍ کتـار ولاړې وې، کله چې په گـاډی پسی د وښـو یوه بله گـاډی هم د درشل په لور ور نژدی شوه نو پهـره دار راوړاندی شو او نیزه یی ور اوږده کړه هغه یی بیرته په شا کړه. یو سړی چی پر سر یی د چرگانو کپس ؤ په ویره ویره راوړاندی شو، خو پهره دار هغه په زوره په شا تیله کړ چی له توکری سره شاپه تخته وغورځید.

یو لرگی مـاتوونکی خپل خر پریښود منډه یی کړه او هغه یی راپورتـه کړ، په غوسه یی بیا پر پهره دارانو پیکی وکړی:

تاسـو له یوه بی وسی سړی سره په زوږ ازمویلو باید وشرمیږی. د هغه په لیدو نورو خلکو هم شور گډ کړ، د چرگانو خاوند په بیره توکری راپورته کړه څوگامه شاته شو اوپهره دارانو ته یی سختی بدی ردی پیل کړی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان خو گامه لری اس ودراوه او له یوه کوچوان نه یې د دې هنگامې سبب وپوښت، هغه وویل:

: ښاغلیه ! دا پهره داران ډېر ظالمان دي، کله یې چې زړه وغواړي دروازه تړي موږ له یوه ساعت راسې دلته ولاړ یو، همدا اوس د کوم امیر سړي بګۍ راغله د یوې شیبې لپاره یې دروازه ورته پرانسته، اوس بیرته دروازه تړي.

سلمان په څیر درشل لوری ته وکتل، دوو تنو د دروازې پلې پوری کولې، هغه په بیړه اس پونده کړ د دروازې په مخه کې د درشل دننه چې کوم پهره داران په مخه کې ولاړ وو هغوی په چیغو او شور یوی او بلې خواته ځانونه شاته کړل، او دوو وسله والو ساتونکو خپلې نیزې سمې کړې، بیا هغوی په ده پسې منډې وهلې، خو سلمان یو ځل شاته ورپسې راوکتل او بیا یې هغوی ته د پام اړلو اړتیا نه لیده او اس یې له هوا سره خبرې کولې. لږ ځنډ وروسته یې کیڼ لوری ته یوه لویه دروازه ولیده هغه اس ودراوه او د یوې شیبې لپاره یې شاته وکتل او بیا یې اس راوګرځاوه او د دوه پوړه ودانۍ پر لویه دروازه ورننوت. هلته د منځنی عمر یو د ښکلې څیرې خاوند پر کرسۍ ناست ؤ، سلمان له اس نه پلی شو له مخامخ برنډې نه یو نوکر په منډه راغی او د ده له لاسه یې د اس جلب واخست.

سلمان وپوښتل : دا د عبدالمنان سرای دی؟

: نوکر ځواب ورکړ: هو صیب!

: هغه چیرته دی؟

پر کرسۍ ناست سړی راپورته شو ویې ویل : صیب امر کوی زه عبدالمنان یم.

: ماته عثمان ستا درك راکړ، سلمان دروازې پلو وکتل او زیاته یې کړه : د لاري پر سر [illegible] یوه کلې کې می ورسره ولیدل، زما په ښار کې یو ضروری کار دی، خو زما اس ستومانه دی، ځکه خو غواړم دلته یې پرېږدم.

عبدالمنان نوکر ته وویل : اس طبیلې ته بوزه!

خدمتګار آس ورسره بوت، سلمان په بیړه د درشل په لوری ولاړ.

عبدالمان غږ پرې وکړ : ودریږه!

سلمان ودرید او په اندیښنه یې مخ ورته راوګرځاوه:

ګوره زما ډیره بیړه ده.

عبد المنان ورغی او له سلمان سره روان شو ویې ویل : زه ؛ ددې بې ادبی بخښنه غواړم ، خو که تاته څه خطر درپیښ وی یا څوك درپسې وی نو یوی او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلي خواته دې د تلو اړتيا نشته، زه مرسته درسره کولی شم.

سلمــان ځــواب ورکــړ: زمــا دا انديښنه ده چې د دروازې پهــره داران به مې تعقيبوي کله چې زه هلته راورسيدم هغوی غوښتل دروازه وتړي، زما بيړه وه د دوی نه راتېر شــوم او دلتــه راغلم، هغوی مــی ډېر شاته پريښودل، کــه د هغوی مرستی لپاره سپاره وروته رسيدل نو مــاته سمدستي څه خطر نشتــه، په ښار کی د يوه ضروري کــار د ترسره کولو نه وروسته بيا زه د دې پروانه لرم چې هغوی له ما سره بيا څه وړ سلوك کوی.

که يوازې دومره خبره وی نو هيڅ پريشانی ته دی ضرورت نشته، پهره داران تر دی ځايه د تعقيبولو جرئت نشی کولای، اوس د ښار دا حالت دی چی ته په بازار کی چيرته د حکومت پر ضد يو شعــار ورکړی شاوخوا خلك بــه ټول ستــا د ملاتړ لپاره راټول شی، تاسو چيرته تلل غواړی؟

: غواړم تر البسين پوری ولاړ شم.

: په راتلونکی چوك کی به ګاډیدرته پيدا شی.

سرك ته چی ورسيد سلمان وويل : زه ستا څخه مننه کوم.

اوس ماته اجازه راکړه.

عبدالمنان هغــه ته لاس ورکــړ ورته ويــی ويل : عثمــان دا درته ونــه ويل چی څه وخت به راشی؟

: هغــه د خوځيدو لپاره تيار ولاړ ؤ، خو کــه پهره دارانو دروازه ورته بيرته نه کړه نو له ښاره بهر به ولاړ وی.

: زه هلتــه ور روانيــږم او چی تاسو بيــرته راځی ان شــا ء الله عــثمــان به دی هر کلی ته ولاړ وی.

سلمــان چی چوك ته نژدی شــو يوه وړوکی ډله يی وليــده چی په مخ کی يی يوه سړی نغاره ډنګوله، سلمان چی وړاندی ورغی نو نغاره والا دا اعلان کاوه:

د غرناطی آزادی خوښوونکو!

حــامــد بن زهره تاســو  تــه د يوه نوی ژوند پيــغــام راوړی، هغــه غــرناطی ته رارسيــدلی دی او نن د مــابښــام له لمانځه وروستــه د البسين په جامع جومات کی اولس ته وينا کوی، که تاسو د اولس د خاينانو دسيسی ناکامول غواړی نو د هغه تر بيرغ لاندی راټول شی.

د دی اعــلان له اوريدو وروستــه د حامد بن زهره په اړه د سلمان انديښنه تر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حېډه کمه شوه او لږ ځنډ وروسته هغه په یوه بګۍ کې سپور ؤ او البسین ته روان شو.

*****

ګاډۍد مدرسې د دروازې په مخه کې ودرېده او سلمان ترې ښکته شو کوچوان ته یې یو دینار په لاس کې ورکېښود او د بندې دروازې په لوری ولاړ، څو ځلې یې د درنې دروازې له ټکولو وروسته تېل وهله وې لیدل چې دننه له خوا زنځیر شوې ده.

له لږ ځنډ دروازې تکولو وروسته یې غږ وکړ:

څوک شته دروازه خلاصه کړئ! څوک شته!! هلته څو هلکان او درې تنه وسله وال ځوانان ولاړوو په هغوی کې یوه دنګ او د ښکلو جامو خاوند وویل:

ښاغلیه! دننه هیڅوک نشته، مدرسه رخصت شوې ده، سلمان مخ راوګرځاوه کوچوان ته یې وویل: د هغه د هستوګنځای یوه دروازه د شا کوڅې ته وتلی ده هلته به کوم نوکر خامخا وي.

کوچوان وویل : راځه زه تا د هغې کوڅې خولې ته رسوم. سلمان په بیره په بګۍ کې کیناست، کوچوان د ګاډۍمخه راوګرځوله او د جومات نه پاس د کوڅې خواته راوګرځېد او د تنګې کوڅې په مخه کې ودرېد وېې ویل:

ښاغلیه! وراندې کوڅه تنګه ده، بګۍنشي پکې تلای ته پخپله ورشه پوښتنه یې وکړه، امکان لري د مدرسې په خیر یې کور هم تش وي او ستا بیرته تګ ته ضرورت شي، تا ماته له دوه طرفه کرایې نه همزیاتې پیسې راکړې دې په خوښه ستا تر راتلو پورې انتظار کوم.

: نه ته درځه! زما دلته لږ ځنډ وزي، سلمان دا وویل او روان شو.

کوچوان ګاډۍ راګرځوله چې هغه درې ځوانان چې د جومات په مخه کې یې لیدلي وو په مخه کې ورته ودریدل او لاره یې ونیوه په هغوی کې هغه د لوړ قد خاوند وویل : دا څوک ؤ؟

کوچوان ځواب ورکړ: نه یې پیژنم خو داسې ښکاري چې له بهر نه راغلی دی، د البسین لاره ورته نه وه معلومه د کومې شریفې کورنۍ سړی ښکاري ماته یې یو دینار راکړ.

: دې څوک لټوی؟

: ماته نه ده معلومه، لومړی یې راته وویل چې د البسین جامع جومات ته مې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوه، بيا يې وويل چې د جومات ترڅنګ يوه مدرسه ده ما هلته ښکته کړه، زه هلته د خپل يوه دوست پوښتنه کوم.

: ساده سړيه تاته معلومه نه ده چې په دې کوڅه کې د حامد بن زهره کور دی او نن د غرناطې هر غدار د هغه په لټه کې دی، ځه له دې ځايه زغله!

کوچوان انديښمن شو اس ته يې متروکه ورکړه اوهغه درې ځوانان په کوڅه ورننوتل.

سلمان لږ وړاندې له يوه عمر خوړلي سړي نه پوښتنه کوله: ته په همدې کوڅه کې اوسيږې؟

: هوکې! وړاندې اوم کور زما دی.

: دا د حامد بن زهره کور دی؟

: هوکې!

: تاته معلومه ده چې د دې دروازه له کومه وخته راسې تړلې ده؟

: زه چې سهار له لمانځه راوګرځېدم نو دروازه يې بيرته وه، وروسته مې د حامد بن زهره د راتګ خبر واوريد او په منډه راغلم چې دلته پر دروازه کولپ، پروت و او ډير خلك بهر ولاړ وو. زه د مدرسې د دروازې په لورې ولاړم هلته مې يې پوښتنه وکړه خو معلومه شوه چې مدرسه رخصت شوې ده، زما په ګومان به ساتونکې د مدرسې د دروازې له تړلو نه وروسته د شا له خوا په دې کوڅه راوتلې وي.

سلمان وويل : زه له حامد بن زهره سره ليدل غواړم. ته د داسې چا درك راکولی شې چې د ده د اوسيدو ځای ورته معلوم وي؟

: ښاغليه ما له څو کسانو د هغه د هستوګنې د ځای پوښتنه کړې ده خو هيچا ته هم معلومه نه وه.

د اوږده قد خاوند چې له دوی نه لرې ولاړ ؤ، او خبرې يې اوريدې ور وړاندې شو ويې ويل:

که څه ضروري خبره وي زه درسره مرسته کولی شم زما باور دی چې دلته يو سړی ته به د هغه د هستوګنې ځای معلوم وي راځه!

: هغه چيرته دی؟

: د هغه کور ډير لرې نه دی تاسو په ما پسې راځئ!

سلمان له هغه سره روان شو او پاتې ځوانان له شانه ورپسې ورغلل، نژدې دوه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه ګامه وړاندې بنې خواته وګرځېد او یوې پراخې کوڅې ته ورننوتل د سلمان لاربنود ناڅاپه وپوښتل:

: ته له کومه ځایه راغلی یې؟

: له اندراش څخه!

: ته نن راغلی؟

: هوکې!

: د حامد بن زهره د راتګ نه هڅه خبر شوی؟

: سلمان لږ پریشانه شو ځواب یې ورکړ:

زه تولې خبرې نشم درته ویلی، ستا د ډاډ لپاره دومره عرض کول کافي بولم چې حامد بن زهره زه ډیر ښه پیژنم او زه هغه ته یو ضروري پیغام رسول غواړم.

: ویخښنې! زه پر تا شك نه کوم خو په دې ورځو کې موږ له داسې وضعې سره مخ یو چې یو ورور بل ته د لاس په ورکولو ویرېږي.

: ماته معلومه ده اوس په خبرو وخت مه تیروه.

بل ځوان وویل : ولیده! دې سهې وایې موږ باید وخت ضایع نه کړو.

په کوڅې کې چې دوی ښې لورې ته وګرځېدل څو تنه یې ولیدل چې د مدرسې زده کوونکي معلومېدل یوه تن د حامد بن زهره د راتلو اعلان کاوه او خلك له شاوخوا کورونو راوتل او پر هغوی ورټولېدل. یوه تن د سلمان ملګرې ولید چیغې یې کړې:

وګورې ولید را روان دې هغه ته به یې خامخا هستوګنځې معلوم وي، هغوی د سترګو په رپ کې پر ولید راټول شول، یوه تن ترې وپوښتل:

تاته معلومه ده چې حامد بن زهره چیرته دې؟

: نه!

: ایا هغه ربښتیا غرناطې ته راغلی دې؟

: تاسو په شعار ورکونکیو باید اعتماد وکړې، زما باور دې چې هغه د وینا لپاره جومات ته راشي تاسو به یې پخپلو سترګو ووینې، خو اوس که چاته د هغه د اوسیدو ځای معلوم وي هم نه یې درته ښیي، تاسو باید همدومره پوه شې چې اوس تر تاسو زیات د حکومت جاسوسان او غداران د هغه په باب په فکر کې دي. چې د هغه د راتلو په سبب د جګړې د بیا پیلیدو په ویره کې دي، موږ څو تنه غداران ولیدل چې د جومات شاوخوا ګرځېدل، کیدای شي له هغوی نه کوم یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم وی، ځکه خو باید تاسو تر مابنامه صبر وکړی، نور زما وخت مه ضایع کـوی زما ضـروری کـار دی، ولیـد وراندی ولاړ او خلك بوی او بلی خوا ته تیت شول، سلمان چی لږ پخوا د خپل لاربنود له پوښتنو نه پریشانی احساسوله بیرته لری شوه.

*****

لږ ځنډ وروسته هغوی یو زاړه کورته ننوتل چی د کور پرځای بوی مسافرخانی ته ورته ؤ، د درشل دننه د پراخه غولی دری لوریو ته وړی وړی کوټې وی.

سلمـان هلتـه لهٔ یوه بوډا نوکـر نه پرته چی د درشل نه بهـر لمر ته پروت ؤ او خُریده هیڅوك ونه لیدل.

: تاسو زه چیرته راوستم؟ سلمان له خپل لاربنودنه وپوښتل، ولید ځواب ورکړ: دا د شاګردانو هستوګنځای دی خو اوس هغوی ټول تللی دی د حامد بن زهره د وینا لپاره خلك خبروی.

: مګر تاسو زه ولی دلته راوستم؟

: تاسو لږ ځنډ د جمیل په کوټه کی استراحت وکړی. زه به اوس د هغه درك راپیدا کرم او تاته به راشم.

: جمیل څوك دی؟

: ښاغلیه! جمیل زما نوم دی راځه! یوه ځوان ځواب ورکړ.

سلمـان ولیـد ته وکـتل وبی ویل : ګـوره کـه ته د حـامـد بن زهره د ژوند په ارځښت پوهیږی نو وخت مه ضایع کوه، او ما زر تر زره هغه ته ور وله.

: ستا مطلب دا دی چی د هغه پرخلاف څه دسیسه په کار لویدلی ده؟

سلمان خفه شو وبی ویل : ما یو ځل درته وویل چی د هغه ژوند په خطر کی دی.

ولید وویل : کـه ته هغـه تـه دا ویل غـواړی چی په غرناطه کی د غدارانو ډله د هغه د وینو تږی ده نو دا هغه ته، نوی خبره نه ده، بیا هم زه هڅه کوم چی تا بی له ځنډه هغه ته ورسوم، ما چی د هغه د کوم دوست خبره کوله د هغه کور ډیر لری نه دی، که هغه د حامد بن زهره د هستوګنځی د درك راکولو ته چمتو شو نو زه به سمدستی هلتـه ورشم او کـه هغـه تـه د اعـتـماد وړ وبللی نو ور رسوم دی. امکان لری هغه پخپله دلته راشی، تاسو یوازی خپل نوم ماته ووایی.

: زما نوم سلمان دی، مګر که ستا په زړه کی څه شك وی هم ماته باید د دی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبري فرصت راکړي چې زه خپل برائت وړاندې کړم، او زه په غرناطه کې د حامد بن زهره نه پرته بل ګواه نشم وړاندې کولی.

: ګوره دغه بحث هیڅ ګټه نه لري، که تاسو نور وخت ضایع کول نه غواړئ نو لږ څه صبر وکړئ، ولید دا وویل او په بیړه بیرته وګرځید او د سترګو په رپ کې تر درشل ووت، سلمان د اندیښنې او بې وسې په حالت کې د هغه ملګرو ته کتل.

جمیل خپل ملګري ته وویل : اویس! ته د درشل دروازه بنده کړه او له بهر نه څوك دننه مه را پرېږده.

بیا یې سلمان ته مخ واړاوه: ښاغلیه! د اندیښنې هیڅ خبره نه ده، که حامد بن زهره تاسو پیژني نو ډیر زر به مو ان شاء الله ورسره ملاقات وشي، راځئ!

سلمان د مجبورۍ په حالت کې له هغه سره ولاړ جمیل د انګړ نه تیر شو او د یوې کوټې دروازه یې خلاصه کړه ورننوتل.

د کوټې دننه سامان ډیر لږ و، پر مځکه یوه معمولي سطرنجي غوړېدلې وه، ښۍ لاس ته د دیوال ترڅنګ پر یوه کټ بستره غوړېدلې وه، پاس د دیوال په یوه تاخچه کې د ډیوې دودونو دیوال تور کړی ؤ، د چپرکټ ترڅنګ یوه وړوکې صندلي او منقل ایښی وو.

د کوټې په یوه ګوټ کې یو د لرګي صندوق او د اوبو صراحي ترسترګو کیدل چې پاس پرې یوه ختینه پیاله نسکوره وه، ښۍ لاس ته دروازې ته نژدې په یوه لویه الماري کې کتابونه ایښودل شوي وو، مخامخ په دیوال کې یوه وړوکې دریڅه وه.

تشریف راوړئ! جمیل صندلۍ ته اشاره وکړه.

سلمان د توري د راځړولو پرځای کمربند سست کړ او پر صندلۍ کیناست، جمیل د هغه په مخکې پر چارپایي کیناست ویې ویل: کله چې زه لومړی ځل دې کوټې ته رانںوتم داسې راته ښکاریده لکه کوم زندان ته چې راغلی وم، او زما باور دی چې ته به هم همدغسې احساسوې.

: هوکې! سلمان په بې پروایي ځواب ورکړ، ماته دا ودانۍ عجیبه غوندې ښکاري.

جمیل وویل : د دې عمر تر سلو کالو زیات دی، ړومبی دا یو وړوکې جیل ؤ، نژدې شلویښت کاله پخوا چې مرکزي جیل پراخه کړای شو حکومت دغه بیا په یوه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یهوذي سوداګر باندې وپلوره، هغه بیا سرای ترې جوړ کړ، بیا هغه یهودي سوداګر مړ شو کونډې یې دغه سرای پر یوه مسلمان سوداګر باندې وپلوره، د جګړې په لومړیو شپو کې د هغه سوداګر زوی شهید شو او هغه خپل زیات جایداد نیمایي برخه د مدرسې د مستحقو زده کوونکو لپاره وقف کړه او پخپله «طنجې» ته ولاړ.

سلمان ظاهراً په ډېر غور د جمیل خبرې اورېدې خو هغه د ودانۍ له تاریخ سره هیڅ مینه نه درلوده.

جمیل ناڅاپه اوچت شو وې ویل : وبخښې ما له تانه د ډوډۍ په اړه پوښتنه ونه کړه، زما په ګومان دی تر اوسه پورې سبا ناری نه دی کړې زه یې همدا اوس درته راغواړم.

سلمان وویل : نه، نه ته زما د ډوډۍ غم مه کوه، زه د خپلې ذمه وارۍ له سرته رسولو دمخه د لوږې هیڅ احساس نه کوم.

: د یوه سرتیري لومړۍ ذمه واري دا وي چې خپل څواک او صحت پرځای وساتي، جمیل دا وویل او بهرته ووت. څو دقیقې وروسته چې بیرته راغی نو په لاس کې یې کوزه وه.

هغه کوزه په دهلیز کې کېښوده وېې ویل : راشه لاس دې ومینځه.

سلمان راپورته شو وړاندې ولاړ او یوه نوکر په پتنوس کې ډوډۍ راوړه، جمیل د هغه لاس پرې ومینځل وېې ویل:

ماته له بیرون نه د ډوډۍ راوړو اړتیا نه وه، شاګردانو چې د حامد بن زهره د راتلو خبر اورېدلی دی بهر ته وتلي دي او د هغوی ډوډۍ ځای په ځای پاتې ده.

نوکر پتنوس پر سطرنجې کېښود او بهر ته ووت او سلمان او د هغه کوربه بیا هم یو ځل ته مخامخ کیناستل.

جمیل له پتنوس نه ټوکر لرې کړ وېې ویل : بسم الله کړئ!

سلمان ترې وپوښتل : تاسو یې نه خورئ؟

: ما د یوه دوست په کور کې ډوډۍ خوړلې ده.

: بیا دې هغه ملګری راوغواړه!

: هغه هم خوړلې ده.

سلمان په خوراک بوخت شو، لا یې دوې ګولې تر کومې تیرې کړې وې چې په انګړ کې یې د چا د پښو غږ واورېد څو دقیقې وروسته اوس په دروازه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېد وبې ویل:

جمیله! بهر راووزه! د محلې ځو ساده خلك د حویلی مخې ته راغونډ شوی دی، چا دا آوازه گډه کړې ده چې حامد بن زهره دلته غلی شوی دی، هغوی دننه راتلو ټینگار کوی، ما هغوی وپوهول چې دننه څوك نشته خو هغوی زما خبرې اوریدو ته نه دی چمتو، بنایی ته هغوی وپوهوی.

جمیل چې بهر ته وتلو وبې ویل ته راځه! او چې دواړه ووتل ناڅاپه اویس دروازه پورې کړه او له شانه یې زنځیر کړه.

سلمان وارخطا راپورته شو او دروازې ته یې منډه واخستله هغه د دروازې د خلاصولو له ناکامې هڅې نه وروسته چیغې کړې : اویسه! جمیله! دا تاسو څه کوی دروازه خلاصه کړې!

خو هغو هیڅ ځواب وانه ورېد، څو ځلې یې دروازې ته ډیکې ورکړې خو ټولې هڅې یې بې نتیجې وې، بهر دیوال ډیر پلن ؤ، د دروازې چوکات او پلې دومره مزبوتې وې چې سلمان په زور ازمویلو کې هیڅ گټه نه لیده.

له بهر نه د اویس غږ واورېدل شو: بناغلیه! ته باید په زور د بهر راوتلو خیال پرېږدې، کله چې په ښار کې د حامد بن زهره کار پای ته ورسیږي نو تا به د یوی شیبې څنډه پرته خوشې کړو.

سلمان چیغې کړې: احمقه! که د حکومت جاسوس او د حامد بن زهره دښمن نه وی نو زما خبره واوره!

: چې څومره دې زړه غواړې هومره کنځلې راته کوه خو هیڅ گټه نه لرې، موږ ته دا امر شوی چې په البسین کې به هر نا آشنا خپل دښمن گڼې، او تاسو موږ ته سر تر پایه نا آشناياست.

امکان لری زموږ په زړه کی ستا له خبرو راپیدا شوی شکونه غلط وی او وروسته به پری پښیمانه شو، خو اوس زموږ په مخکی له دی پرته بله مسأله نشته چې حامد بن زهره جومات ته ورسیږي. او اولس ته خپله وروستی وینا واوروی.

سلمان چیغې کړې: د خدای جل جلاله لپاره ولیږ. راوغواړی زه له هغه سره څه خبره کوم.

د ولید غږ اوچت شو : گوره تاسو به له ما سره په خبرو کی هم څه گټه ونه کړی. تاسو به په هر حال تر ماښام‌همدلته پراته یاست. موږ د حامد بن زهره د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتګ اعلان څکه کاوه چې له دې پرته د خلکو راټولولو بله کومه لاره نه وه، که نه نو موږ په هغو زیانونو ښه پوهیږو چې هغه ته د اولس د غدارانو لخوا وریپښیدای شي. غداران به خامخا پوره هڅه وکړي چې د ده غږ له کومي راوانه وزي، په ښار کې داسې خلك لږ نه دي چې په لږ تمه د هغه د وژلو لپاره تیار شي خو که ته د حامد بن زهره خیرغوښتونکې یې او د ده د سلامتی په اړه درسره اندیښنه ده نو ستا لپاره دا داډ کافي دی چې د هغه سربښندویان له خپلو ذمه واریو څخه غافل نه دي. موږ هسې موهوم خطر هم له پامه نه دی غورځولی.
داخیري مې د دې لپاره درته وکړې چې زه شخصاً ستا په باب دوه زړی یم، اوس درته په ادب عرض کوم چې په داډه زړه تر ماښام انتظار وکړه، زموږ او د ځان لپاره زیاته بد مزګی مه پیدا کوه، چې کله وخت راشي تا به هغه ته ورواندې کړو.
وروستی خبره مې چې درته کوم یې دا ده چې تر ماښام د مخه ستا د دې کوټې نه هر ډول هڅې بې ګټې دي. که ته د دروازې له چاکونو بهرته کتلی شي نو اته تنه وسله وال به وګورې ته به خامخا دانه خوښوې چې د دوی په لاس دې بې ګناه وینې تو یې شي، خدای پامان.
سلمان په دردناکه لهجه وویل: ولیده! د خدای جل جلاله لپاره زما یوه خبره واوره، زه د حامد بن زهره دوست یم د هغه زوی سعید او نوکو بې جعفر ما پیژني، که له ماښام نه ورواندې له هغوی نه د کوم یوه سره ستا د خبرو فرصت برابر شو نو هغوی ته خامخا دومره ووایه چې پر هاشم اعتماد ونه کړي، هاشم د هغوی د کلي یو مشر دی.
زه د دې خبر وزکولو لپاره راغلی وم چې هغه له غدارانو سره ملګري شویدی. هغه په هیڅ صورت هم باید حامد بن زهره ته نږدې ورنشي.
ولید وویل: د دې مطلب دا دی چې ته د «اندراش» پر ځای د دوی له کلي راغلی یې او ستا لومړی خبره غلطه وه، په هر صورت زه د دې خبرې ذمه واری اخلم که ماته فرصت برابر شو ستا دا پیغام به ورسوم. تر کومه چې په هاشم پورې اړه لري تاسو باید هیڅ اندیښنه ونکړې، په غرناطه کې تر هغه خطرناك دښمنان شته، او ته د هغوی په اړه ما له خپلو ذمه واریو نه را ایساروې خدا ی پامان!
سلمان تر لږ ځنډه له دروازې نه د لرې کیدونکو ګامونو غږ اوريد او بیا یې سیکه کیناست.
لږ ځنډ وروسته د هغه دا حالت ؤ چې کله به جګ شود دروازې د یوې پلې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاکونو به ... د کتلو هڅه کوله او کله به یې د ناکراری په حال کې قدم واهه، له دې ... د وتلو لپاره د ده په ذهن کې ډېر تدبیرونه راغلل او که هغه پردې خبره ... درلودای چې دی به د ولید او د هغه د ملګرو له مرستې پرته حامد ومونډلی شي نو له دې کوټې څخه د وتلو لپاره به له لوی څخه لوی خطر قبلولی شوای.

د توری، خنجر او تومانچې ... د باروتو بوه کڅوړه له ده سره وه، او په دې هم پوهېده چې د دېوال په ... کې پر باروتو سوری جوړول ګران نه دی. په دې کې خو خامخا خطر ؤ مګر ... فطرتاً بو نه وېرېدونکی انسان ؤ، هغه د ولید له دې ګواښ څخه ... چې بهر ته له راوتلو سره سم به د غشو په باران د ده هرکلی وشي.

د هغه ذهنی کیفیت ... و چې کله به یې د یوې خطرناکې ارادې سره وینې په رګونو کې تودې ... بیا به ناڅاپه د ده د پریکړې قوت ځواب ورکړ. ده به له خپل زړه څخه پوښتل ... د حامد بن زهره په اړه د ولید او د هغه د ملګرو احساسات زما له احساساتو څخه توپیر لري؟ ... هغوی د احتیاط سبب دا ندي چې په هر صورت یو ناپېژندوی یم. او دغه ... له داسې حالاتو سره لاس او ګرېوان دي چې له خپل سیوري څخه هم وېرېږي که زه د دوی پرځای وای نو ایا زما چلن به د دوی سره توپیر درلود؟

او بیا به سلمان داسې احساسوله چې ولید یې په مخکې ولاړ دی او ورته وایي:

وروره! زموږ له تا سره هیڅ دښمنی نشته، موږ یوازې خپل مسئولیت ترسره کوو، او تا دا ولې ګڼلې چې له تا پرته بل ... حامد بن زهره ژوند ګران نه دی؟

ستا په څېر د غرناطې به زرګونو تنه د هغه ... لټه کې دي، په هغوی کې آزادي غوښتونکي هم دي او غداران هم، له موږ سره د دې توان د پېژندلو فرصت نشته، موږ یوازې دومره پوهېږو چې حامد بن زهره د قوم د ضمیر وروستی غږ دی، او د قوم مجرمان د هغه د وینو تږي دي. زموږ د اخلاص او د مسئولیت د احساس تر دې لوی بل ثبوت څه کېدای شي چې هغوی لا تر اوسه د ده ځای ونه مونډلی شو.

د سلمان ذهنی خفګان ورو ورو لرې کېده او نژدې یو ... وروسته هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library


بستره غځېدلې ؤ او د ډار احساس يې کاوه چې ده د خپل عقل او توان په اندازه خپل مسئوليت ترسره کړی دی. له دې زيات د ده له وسه وتلې خبره وه، او بيا لږ ځنډ وروسته خوب ورغی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیغام

د البسین په جومات کی د حامد بن زهره غږ وکړنگیده:

: د اولس بچیانو! که د غفلت له خوبه ستاسو د راویښولو او له دی هدیری څخه ستاسو د راپورته کولو لپاره زما چیغو ته اړتیاوی نو زه د دی وروستی ذمه واری د ترسره کولو پوره هڅه کوم. ستاسو د آزادی د مړ ژواندو ډیوو لپاره نن وینی ته اړتیا ده، خو یو بوډا او کمزوری سړی تاسو ته له اوښکو پرته څه نشی درکولی، او یوازی د یوه تن اوښکی د یوه اولس د گناهونو کفاره نشی کیدای.

په دی نړېکی د کومی سیاسی اشتباه جبران ممکن دی، بایللی جگړی له سره گټل کیدای شی. ویجاړی کلاگانی بیرته جوړیدای شی. په تیارو شپو کی سرگردانه قافلی د سهار په رڼا کی خپلی لاری موندلای شی: خو یوه تولنیزه گناه داسی هم ده چی هیڅ کفاره نه لری، او د لار ورکو قافلو لپاره یوه داسی شپه هم شته چی هیڅ سهار نه لری.

د غرناطی اولسه ! زه تاسو د هغی وروستی گناه څخه را ایساروول غواړم چی له هغی وروسته د اولسونو پر مخ د رحم او کرم دروازی تړل کیږی.

زه تاسو د هغی توری شپی له هیبتونو خبروول غواړم چی هیڅ پای نه لری.

د یوه اولس وروستی گناه دا وی چی هغوی د ظلم پرخلاف د جگړی او مقابلی له حق څخه لاس واخلی، او له بده مرغه ستاسو مشران اوس په دی گناه ککړ شوی دی.

هغوی د خدای جل جلاله د رحمت دروازی د تل لپاره پر تاسو تړلی دی. هغوی راتلونکی تولی هیلی زیندی کړی دی. هغوی هغه ذهنی او خلاقی حصار مات کړی دی چی بی وسه او مظلومو خلکو ته د پناه وروستی مقام وی.

که د دی گناه سزا ستاسو تر موجوده نسل پوری محدوده وای نو زه به دومره

اندیښمن نه وای خو ستاسو واکمنو هغه ټولي ډیوې مړې کړې دی چې ستاسو راتلونکو نسلونو ته د سلامتی لاره وربنودلای شی.

په یاد ولری! کله چې دو ی د غـوناطی راتلونکی، ســتـاسـو آزادی او بقـا دښمنانو ته وسپاری نو ستاسو د دردونو او مصیبونو نه ختمیدونکی شپه به پیل شی. زما اروا د هغی شپی د تیارولـه تصور نه په لړزه شی.

دوسـتـانو ! مـاتـه پر هغـه ترون د څـه ویلو ضـرورت نشـتـه چې تاسـو یې د راتلونکی د امن او خوښی ضـمـانت گڼی، دا د هغی بلا د ځیـری ښکلی پرده ده چې وینی زبیښونکی لاس یې ستاسو تر شاه رگونو پوری رسیدلی دی.

کـه تاسـو دا گڼی چې د پسونو په څیر بـه د لیـوانو په څنگ کی هوسیږ ژوند وکړی نو زمـا له تاسو سره د خبرو هیڅ اړتیـا نشتـه، خو کـه د انسـانیت لـه تیرو پیښو څخـه څه درس اخستلی شی نوزه به په وار وار وایم چې تاسـو د هغـه دوزخ دروازی ټکوی چې د بی لاری او ذلت وروسـتی پړاو دی. لـه مـا سـره یوازی د دی خبری اندیښنه نه‌ده چې تاسو به د هغه دوزخ په اور کی خوړین شی بلکی زه وینم چې ســتــاســو راتلونکی نسلونـه بـه هم کلونـه بلکی تر پیـړیو پوری د دی دوزخ خاشاك وی.

تاسـو یوازی د ژوندی پاتی کیـدو لپـاره د دښمن پر غـلامی منلو راضی شوی یاست، خو ستاسـو زامن او لمسیان به په لاسو کی د غلامی پرکړیو پرویاړ برسیره له خپلو بادارانو څخه د ژوندی پاتی کیدو حق نه شی ترلاسه کولی.

زمـا سـره یوازی دا اندیښنه نه ده چې تاسو به په ډیره بده غلامی مجبور کړی بلکی دا وینم چې تاسـو به دخپلو ارواو او بدن له ټولو آزادیو څخـه په محـرومی برسیره هم د ژوندی پاتی کیدو حق دار نه شی گڼل کیدای.

تاسـو د قسطلی او ارغـون د سرتیـرو ظلم لیدلی دی خو تر اوسـه پوری مـو د کلیسا د پادریانو بی رحمی نه ده لیدلی. تاسو د احتساب د اداری هغه شکنجه ځایونه نه دی لیدلی چې په اوسپنیزو شکنجو کی راگیـر انسـانان په نه کړیو گـ هونو اعتراف ـ محـور وی. ت ـ : 'ور په سکروټو د ډاډه شویو خلکو کریږی ـ .ی اوریدلی خو . : : هر څه ، ـ

په غونډه کی څ ـ حـساسانی ـ . او چیغـه یی وکړه : ابو عبدالله غدار دی! ـ القاسم د دښمن جاسوس دی. . بیا د جومات له هر گوټ نه د هغوی پرخلاف نوری چیغی راپورته شوی. له څو شیبو سکوت وروسته د حامد بن زهره غږ بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچت شو:

زماعزیزانو! ستاسې چیغې هغوی سمې لارې ته نښې راړولای، هغوی د امن په لټون پسې د هدیرې دروازې ټکوي، د هغوی جګړې د خپل اقتدار لپاره دي، ابو عبدالله خپل زړه ته په دې دوکه ورکولې شي چې ده ته به د خپل خیانت انعام ورکړل شي. د هغه وزیر او نور چارواکي هم په دې ځان تیر ایستنه مبتلا کیدای شي چې د بادارانو بدلون د دوی پر راتلونکي اغیزه نه کوي. او دوی به له ابو عبدالله څخه وروسته د فردیناند خدمتګاران وي او د خپل سر او مال ساتنه به وکړي. او بنایي ځینې د دین هغه مفتیان چې د خپلو بد عمله او نا اهله چارواکو د هیلو په چوکاټ کې د دین د احکامو په اچولو عادت شوي دي، همدا فکر وکړي چې د زماني نوي حالات د الهي احکامو د نوې تعبیر، غوښتنه کوي، اوس به دوی د ابو عبدالله پر ځای د فردیناند د چپنې ښکلول د وضعې سره سم ګڼي، خو ستاسو جګړه د خپلې بقا او آزادي جګړه ده، دا هغه انساني مسئولیت دی چې د تیښتې هره لاره یې پر بشپړه بربادۍ پای ته رسیږي.

که تاسو د انسانیت د لوړو هدفونو څخه مخ واړاوه، که تاسو له اسلام نه کاږه شوي نو یوازې د حیواناتو په څیر د ژوندي پاتې کیدو لپاره هم باید له هغو څناورو سره جګړه وکړي چې ستاسو د وینو له څښلو، د غوښو له شکولو او د هډوکو له شپیللو څخه وراندې دا ډاډ ترلاسه کول غواړي چې تاسو بشپړ د دوی په منګولو کې ایسار شوي یاست، او ستاسو په زړونو کې هغه حیواني شعور هم نه دی پاتې شوی چې کمزوري وزې هم ښکرغورځولو ته اړې کړي.

غرناطه د اندلس د مسلمانانو وروستی مورچل دی، دا هغو مجبورو او تر جبر لاندې انسانانو ته هم وروستی د امید، ځای دی چې په قرطبه، بلنسیه، اشبیلیه، طلیطله او د شمال په نورو سیمو کې یوازې په دې اسره ژوند کوي چې له دې ځایه به کوم مجاهد میړه راښکاره شي او د هغه د ارادې او عزم په رڼا کې به د غلامۍ تیارې لرې شي.

خو چې کله دښمن ستاسو پردې وروستی مورچل او پناه ځای هم برلاسی شي. نو د اندلس په ساره او اوږدو کې به د هغو لکونو انسانانو لپاره هیڅ د پناه ځای نه وي.

تاسو پر دې خبره باید خوښ نه شي چې د ترون شرطونه نرم دي. او د آزادۍ له معاملې وروسته به تاسو د خپلې شانداري بنګلې، مال او دولت ، ځمکې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښتو نه وژغوري.

په یاد ولرئ!

کله چې دښمن پردي ډاډه شو چې ستاسو د ځواك او زور تول بوتی وچ شول، ستاسو د هیلو ټولې ډیوې مړې شوې او ستاسو اروړاوي نورې د کوم ظلم پرخلاف بغاوت نشي کولی نو بیا به دې بلا ته د مکر او فریب تر پردو لاندي دخپلې ځیرې د پټولو اړتیا نه وي.

بیا به تاسو د وحشت او ځناورتوب هغه سیلاو وګوری چې د ځمکې پر مخ به تر اوسه پورې کوم شوم نه وي لیدلی. د دغه ترون د ښکلیو الفاظو معنی به بدله شي، هغه وخت به تاسو دا احساس کړی چې د ظلم او وحشت د اور په سکروټو مو د امن د ګلانو ګومان کړی ؤ او ځولی مو ترې ډکې کړې وې.

زما یوازې پردې اندیښنه نه ده چې ستاسو مدرسې به وتړل شي، ستاسو کتابتونونه به وسوځول شي، او جوماتونه به مو په کلیساګانو بدل شي، بلکې زه خو دا وینم چې د مرګ او تباهي د لارې هر نوی پړاو به مو له پخوانی څخه ډیر زیات تیاره وي.

بیا به د راتلونکی تاریخ لیکونکی ستاسو د ویجاړو شویو ښارونو د کنډوالو په لیدو وایی چې دا کنډوالې د هغه بد مرغه اولس یادګار دی چې د اسمان تر څنډو د عروج څخه وروسته یې د ذلت او پستی لاره غوره کړې وه.

دا د هغه قافلې وروستی پړاو دی چې لارښوونکو یې پر خپلو سترګو پټی تړلی وي. دا د هغه قوم هدیره ده چې په خپلو لاسو یې خپلې مړی خپه کړې وي.

زما دوستانو! له مانه دا پوښتنه په وار وار شویده چې ما د سمندر نه پورې غاړې ورونو څخه څه پیغام راوړی دی. زما ځواب دا دی چې که د غرناطی اولس د عزت لاره غوره کول غواړی او د الله تعالی له رحمت څخه مایوسه نه وی نو زه دا تسلی ورکولی شم چې د اسلامی نړی ټولې خواخوږی به له دوی سره وی. که تاسو د دین په حصار کی پناه واخستله او نړۍ ته مو دا ثابته کړه چې په اندلس کی د کفر او اسلام وروستی جګړه پیل شوی ده او تاسو به د فتحی او یا شهادت نه پرته بله لاره نه غوره کوی نو تاسو به بی ملاتړه او مرستندویه پاتی نه شی.

مسلمانان به ستاسو ملاتړ خپله فریضه وبولی یوازې افریقایان نه بلکې د ترکانو هغه ستره پاچاهی به هم ستاسو تر شا دریږی چې د بیرغ سیوری یی د دجلې او فرات له سیندونو څخه د دانیوب تر سینده پورې غځیدلی دی. که تاسو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلو قربانیو او خپلونه ماتیدونکو ارادو په سبب د غرناطې د آزادۍ جګړه د کفر او اسلام معرکه ثابته کړای شوه نو د روم له سمندرګي څخه به د اندلس ساحل ته د ترکانو د سمندري بیړیو په رارسیدو کې هیڅ ځنډ ونه شي.

خو که تاسو مایوس او نا امیده شوئ او یا مو داسې وګڼله چې د نورو مرسته ستاسو د خپل قوت بدله کیدای شي نو هیڅوك به هم ستاسو مرستې ته رانشي.

تاسو که د بیرون مسلمانانو ته دننه لاره وربښئ نو لومړی د خپلو وینو ډیوې بلې کړئ، خو که تاسو د مرګ په خوب ویده شوئ نو هغوی به پر تاسو په دې هدیره کې غړونه کړي.

په دې وخت کې یو سړي جګ شو ویې ویل: ښاغلیه! زه ستا هره خبره منم، خو که بې تاسو ګستاخي نه بولی نو دا پوښتنه کوم چې تاسو د هغو بندیانو په اړه څه فکر کړی دی؟

د جومات له هر ګوټ څخه د پاریدلیو خلکو غږونه را اوچت شول: کینه! چوپ شه! دی وباسئ، دا د حکومت جاسوس دی، حامد بن زهره دواړه لاسونه اوچت کړل او په لوړ غږ یې چیغه کړه:

ښاغلیو! تاسو مه راپاڅیږئ، زه د ده پوښتنې ته ځواب ورکولای شم. تر اوسه ما خپلې خبرې پای ته نه دي رسولي. خلکو یو د بل د چوپولو هڅه کوله.

حامد بن زهره لږ ځنډ چوپ ؤ او بیا یې پوښتونکي ته مخ واړاوه:

زما وروره! دا پوښتنه واقعاً ډیره مهمه ده، او زه یې د ځواب نه ډډه نه کوم. خو زما سره تر دې ډیر مهم یو بل سوال دی، او هغه دا چې هغو کسانو چې د دښمن د خوښې ترلاسه کولو په خاطر بندیان سینتافې ته واستول هغوی د قوم په اړه څه فکر کړی ؤ؟

زه هغه زلمي نه تورن کوم چې ستاسو تش په نامه واکمنو او لاربښوونکو د یوې شرموونکې پیښې د بشپړیدو په خاطر دښمن ته ورسپارلي دي. هغوی ته یې دا دوکه ورکړې ده چې که تاسو څه موده د دښمن په لاس کې یرغمل پاتې کیدل ومنئ نو هغوی به ډاډه شي او ستاسو اولس به د تیارۍ فرصت ترلاسه کړي.

اوس ستاسو په ذهن کې دا خبره اچوي چې که تاسو ډله ایزې ځان وژنې ته چمتو نه شئ او بیرته مو جګړه پیل کړه نو ستاسو هغه ورونه به بیرته رانشي خو مونږ به دغه دسیسه بریالۍ کیدو ته پرې نږدو.

دوستانو! هغه څلور سوه تنه ځوانان د غرناطې د پوځ د ژوند ارواوه. خو د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی بیرته راوستل د هغوی له وسه وتلی ده، اوس یوازې ستاسو همت او اراده او ستاسو عزیمت هغوی بیرته راوستلای شي. اوس تاسو باید عملي ثبوت وړاندې کړئ چې د اندلس پر خاوره د آزادۍ د ژوند حق لرئ. او که مو د پسونو لاره غوره کړه نو ویني ګڼبونکي لیوان به مو ووژني.

زما هیوادوالو! د اوربند د تړون کوم شرطونه چې ماته معلوم شوي دي، د هغو له مخې د وسلې ایښودلو او یا د جګړې د بیا پیلولو د پریکړې لپاره او یا ورځې مهلت ایښودل شوي دي، خو دا یوه دوکه وه، کومو غدارانو چې خپله راتلونکې له فردیننډ سره تړلې ده هغوی دا ډاډ ورکړی ؤ چې د اویا ورځو له پوره کیدو څخه د مخه به داسې وضعه جوړه کړي چې د اولس په زړونو کې به د جګړې حوصله پاتې نه شي.

ماته معلومه شوې ده چې د اولس غداران اوس په الحمرا کې راټول شوي دي، له هغوی نه دا لرې نه ده چې نا څاپه دښمن ته د ښار دروازې خلاصې کړي، او تاسو ته باید دا معلومه وي چې تاسو غلامان شوي یاست. ځکه خو تاسو باید د دوی له دسیسو څخه یوه شیبه هم غافل پاتې نشئ.

زه همدا نن غرناطې ته رارسیدلی یم، ماته د هغو خلکو د مشورو ضرورت دی چې په جنګي امورو تر ماښه پوهیږي. د حال او راتلونکې له خطر څخه ستاسو خبرول زما لومړنۍ ذمه واري وه او تاسو شاهدان یاست چې ما د خپل توان او استعداد سره سم خپله ذمه واري تر سره کړه.

د خبرو په پای کې حامد بن زهره لاس په دعا اوچت کړل بیا د البسین خطیب جګ شو ویې ویل:

ښاغلیو! اوس د ښار مشران په یوه ځای کې را غونډ شوي دي او ستاسو د عالیقدر لارښود انتظار کوي ځکه خو حامد بن زهره رخصت درڅخه غواړي، زه له تاسو څخه غواړم چې ده ته لاره ورکړئ او له شانه مه وریسې زغلئ، یوازې څو تنه ملګري به یې ورسره ولاړ شي، د جومات نه بهر هم د ده د ساتنې لپاره کسان شته، اوس د ماسختن لمانځه وخت دی تاسو ډاډه پر خپلو خپلو ځایونو کښینئ.

لږ څنډ وروسته حامد بن زهره له جومات څخه ووت او په یوه بګۍ کې سپور شو.

* * * * *

سلمان چې له خوبه را ویښ شو په کوټه کې تیاره خپره وه، هغه په بیړه جګ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو د کوټې دوره په لوری ولاړ، او له درزونو څخه یې بهر ته وکتل، خو په انګړ کې هم تیاره وه، له یوه لوری د خلکو غږونه راتلل خو سلمان یې خبری نه شوای اوریدای. لږ ځنډ وروسته هغوی په څه خبره په کړس کړس خندل، د سلمان لږ او ډیره پاته اندیښنه هم لری شوه، په ډاډه زړه یې دیوال ته تکیه وکړه او کیناست، د ورځې په حالاتو یې فکر کاوه او ذهن ته یې ډول ډول خیالونه راغلل:

آیا دا امکان لری چې عاتکې کوم سری لیدلی ؤ هغه د دې د پلار د وژونکې سره په څیره کې ورته وی او عاتکې د کومې فرضی اندیښنې په سبب زه په پریشانی کې غورځولی وم؟

که زه حامد بن زهره ته ور رسیدلی وای هم دا څه وړ ممکنه وه چې ما د یوی نجلی پیغام ور رسولی وای او د یوی داسې فریضې څخه می ایسار کړی وای چې د هغې لپاره هغه هر ډول خطر قبلولو ته تیار ؤ؟

ولید ربښتیا وویل : په غرناطه کې د حامد بن زهره سر ښندونکو او ملاتړ کوونکو څخه د قوم د غدرانو هیڅ خبره پټه نه وه، د هغوی ترتیبات دومره بشپړ وو چې که ما د عاتکې پیغام ورسولی وای هم د نورو ترتیباتو نیولو ضرورت نه ؤ، ما تر دې زیات نور څه کولی شوای؟ بنایی په دې کې څه غوره والی وی چې هغوی زه یو شکمن سړی وګڼلم او دلته یې بندی کړم.

بیا هغه په تصور کې له عاتکې سره خبری کولی:

ناپوهی نجلی! تا هسې زه پریشانه کړم، تا دا ولی ګڼلې وه چې هغه حق پال چې په غرناطه کې د قوم غدارانو ته چیلنج ورکوی او د فردیناند پر خلاف د جهاد د اعلان حوصله لری ستا د کاکاګدسیسې څخه به وویریږی او خپله لاره به بدله کړی؟

دده پوره باور ؤ چې ولید به د ده پیغام حامد بن زهره ته رسولی وی. او هغه چې له جومات څخه وزګار شی یا به پخپله دلته راشی او یا به ما ور وغواړی.

تر یو ساعت پوری نور انتظار څخه وروسته هغه بله ناکراری احساس کړه:

آیا دا امکان لری چې ولید زما د پیغام رسول ضروری نه وی بللی او هغه چې له وینا څخه وزګار شوی وی له غرناطې څخه وتلی وی. او بیا هغو غدارانو چې په غرناطه کې یې له څه تکر څخه ویره احساسوله په لاره کې د هغه د ډرولو هڅه کړی وی؟

نه نه! داسې نشی کیدای! داسې باید ونشی، دغه بدمرغه اولس حامد بن زهره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اړتیا لري. هغه بایدژوندی واوسي.

بیا یې په انګړ کې د بوټونو غږ واورید، او لږ ځند وروسته چا دروازه خلاصه کړه، سلمان چې بهر ته ورووت، د غوسې پرځای یې په ګیله منه لهجه وویل: تاسو ظالمان هم یاست او ساده ګان هم.

په ځواب کې د جعفر غږ اوچت شو: بښاغلیه زه جعفر یم، او زما باور نه کیده چې ته به غرناطې نه را رسیدلی وې. د جعفر په لیدو د سلمان ټوله غوسه سړه شوه، هغه زر ور وړاندې شو تر مټ یې ونیو او له نورو پنځو کسانو څخه یې یوې ګوښې ته کړ په ټیټ غږ یې تری وپوښتل:

هغه به په خیریت وي؟

هوکې د الله احسان دی، زه افسوس کوم چې تا یې وینا وانه وریدله، که ماته دمخه احوال راغلی وای نو دلته به راتلم او راسره بیولی مې، ولید هغه وخت سعید ته ستا خبره وکړه چې موږ له جومات څخه راوتلو. سعید پر دې ډیر خفه ؤ چې ته غرناطې ته راغلی یې، که له خپل پلار سره د هغه موجودیت ضروري نه وای نو سمدستي به دلته راتلو. اوس هغه پر ما ټینګار کړی دی چې ولید دوی ته دې ورسوم او سهار وختي له تا سره کلي ته روان شم. ولید دا غوښتنه هم کړې ده چې زه د ده له خوا له تانه بخښنه وغواړم.

: هغه چیرته دی؟

: هغه هم له هغوی سره په بګۍ کې سپور شو.

: هغوی چیرته ولاړل؟

: د کوم دوست کره ولاړل خو اوس ستا لیدل ورسره ممکن نه دي. هلته د غرناطې د مشرانو غونډه ده او هغه به تر ډیره مشغول وي. سعید ویل چې د پلار جان اندیښمن کول ضروري نه دي. هغه چې وزګار شي پخپله به درته راشي، راحه چې زه تا د ولید دوی کره ورسوم،

زه بل لور ته روانیږم.

ستا آس چیرته دی؟

. ما خپل آس د جنوبي دروازې څخه لږ لرې په یوه سرای کې پریښی دی. د سرای د خاوند نوم عبدالمنان دی، هغه به زما انتظار کوي.

جعفر وویل : زه عبدالمنان پیژنم، هغه یو مخلص سړی دی، تا که د هغه سرای ته په رسیدو ویلي وای چې د حامد بن زهره دوست یم نو دومره له پریشانیو سره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



به نه وی مخ شوی. هغه تا ته دا ډاډ درکولی شوای چی هغه ته په غرناطه کی هیڅ خطر نشته، اوس راځه چی تا د ولید کور ته ورسوم، بیا به دی په اس پسی څوک واستوم.

سلمان وویل : که تاسو عبدالمنان اعتمادی بولی نو ایا دا غوره نه ده چی زه هم سرای ته ولاړ شم او هلته د حامد د هدایت انتظار وکړم. که ماته د بیرته ستنیدو اجازه شوه نو چی سهار شو له همغه ځایه به ولاړ شم، اوګوره ستا خو پوره باور دی چی په غرناطه کی حامد بن زهره ته څه خطر نشته؟

جعفر ځواب ورکړ: که تا د هغه له وینا وروسته د خلکو احساسات او جوش لیدلی وای نو د دی پوښتنی ضرورت به دی نه ؤ احساس کړی. اوس د ښار داسی وضعه ده چی که بوازی څوک پر سرك روان وی هم غداران به د حملی جرئت پری ونکری. خو زما دا ګومان دی چی هغه به په غرناطه کی ډیر پاتی نه شی. خو تا دا ونه ویل چی ته د هغه د هدایت پرخلاف دلته ولی راغلی او د هاشم په اړه تا ته څه وړ معلومه شوه چی هغه کوم خطرناکه لوبه لوبوی؟ سلمان لنډه کیسه ورته تیره کړه، جعفر له لږ چورت وروسته وویل:

: موږ چی دلته راغلو هاشم مو نه دی لیدلی، که هغه غرناطی ته راغلی وای نو د حامد بن زهره تلاش به یی خامخا کاوه، بیا دا خبره هم زما ذهن ته رانه غله چی کله حامد بن زهره غرناطی ته د تلو اراده ظاهره کړه هغه په وار وار ورته ویل چی اوس دی د تلواراده وځنډوه، که هغه له غدارانو سره ملګری شوی وای نو د هغه د ژوند او سلامتیا په اړه دومره اندیښمن ولی ؤ؟ زما په ګومان دا ټولی خبری د عاتکی هسی تشویش او وهم دی. که د هغی اندیښنی رښتیا وی هم موږ ته د ډیر تشویش ضرورت نشته، نن د اولس هر غدار د حامد بن زهره د وینو تږی دی که هاشم هم له هغوی سره ملګری شوی وی نو څه فرق نه کوی؟

حامد بن زهره په غرناطه کی خپل مسئولیت سرته رسولی کله چی هغه د جنوب په لور وخوځیږی نو قبایل به ورسره وی.

سلمان وویل : ماته معلومه ده چی هغه به د ځان د خطر په اړه اندیښنه ونه کړی خو ما له عاتکی سره وعده کړی ده چی زه به یی پیغام ور ورسوم. اوس که تاله هغه سره ونه لیدای شوای لږ تر لږه سعید ته دا خبره ور ورسوه.

جعفر ځواب ورکړ: ته ډاډه اوسه زما له لوری به هیڅ تنبلی ونه شی. سعید په وار وار پر دی ټینګار کاوه چی دلته باید څوک ونه پوهیږی چی ته څوک یی په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرناطه کی له حامد بن زهره څخه ستا لری ساتل هم په همدی خاطر دی. ستا په زړه کی داسی تیره نه شی چی هغه اوس له کومو خلکو سره ګوری نو تر تا زیات ارځښت ورکوی، ولید هم په خپلو کړو وړو ډیر خفه او پښیمانه ؤ او له تاسو څخه یی بخښنه غوښته.

: ولید خپله ذمه واری پوره کړی او زما له هغه څخه هیڅ ګیله نشته، خو زه له تانه یوه ژمنه غوارم.

: وفرمایی!

که حامد بن زهره ناڅاپه له غرناطی څخه د وتلو اراده وکړه نو ماته خامخا خبر راکړه، زه غوارم چی هغه خپل کور او یا کوم بل خوندی ځای ته نه وی رسیدلی ورسره وم.

: زه دا وعده کوم.

: زه به دی انتظار کوم

*****

لږ څنډ وروسته سلمان له دوو ځلمیانو سره د سرای په لور روان ؤ. له تنګی کوڅی څخه ووتل او په پراخ سرك ځای ځای دوی د هغو خلکو ډلی لیدلی چی د ابو عبدالله او ابو القاسم پر خلاف یی چیغی وهلی. له خپلو ملګرو څخه یی چی پوښتنه وکړه ورته معلومه شوه چی د غرناطی اولس د غدارانو پرخلاف د مظاهری لپاره د الحمرا په مخکی راټولیږی. سرای ته نژدی یی په یوه پراخ چوك کی ډیره لویه غونډه ولیده، ده خپلو ملګرو ته وویل : نور تا سو زحمت مه باسی، ماته لاره معلومه ده.

څو دقیقی وروسته چی دی د سرای پر درشل ورننوت عثمان دننه ولاړ و، هغه ده ته هر کلی ووایه او ویی ویل : ښاغلیه زه ستا په انتظار وم، د سرای مالك هم ستا په باب زیات په اندیښنه کی ؤ. هغه ماته دا حکم کړی چی ستاسو تر راتلو په دروازه کی ودریږم.

: هغه چیرته دی؟

: هغه د حامد بن زهره خبرو اوریدو ته البسین ته تللی ؤ او اوس ښایی په کوم جلوس کی شامل شوی وی الحمرا ته به تللی وی، هغه ښایی هلته ډیر ځندونه کړی که ماته معلوم وای چی ته دومره ناوخته راځی زه به هم خامخا البسین ته تللی وم، ته د وینا له اوریدو وروسته راغلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



: نه! افسوس چی ما د هغه وینا وانه وریدای شوه!

: راځه، ته به شپه همدلته تیروی که نه؟

سلمان له هغه سره روان شو ویی ویل : کیدای شی زه شپه همدلته تیره کړم خو تر اوسه پوری می دا پریکړه نه ده کړی، زه د یوه ملګری په انتظار یم، کله چی هغه راشی زه به یی په مشورو عمل کوم.

هغه بهر د درشل نه تیر شو او انګړ ته ورننوت عثمان یوه نوکر ته غږ وکړ: ته د میلمه لاسونه ومینځه پاس یی بوزه زه ډوډی ورته راوړم.

سلمان وویل : د ډوډی ارتیا نشته، یوازی د اوداسه لپاره اوبه راوړه.

عثمان وویل : بناغلیه : د سرای مالك ستا لپاره په کور کی د ډوډی تیارولو امر کړی ؤ، تاسولږ خامخا وخوری که نه نو هغه به هم خفه شی او د کور نور غړی به یی هم، تاسو اودس او لمونځ وکړی وروسته به زه ډوډی درته راوړم، راشه زه غلسخانه دروښیم.

* * * * *

د ماسنی پور هغه کوټه چی سلمان پکی ؤ د درشل د لویی دروازی پر سر وه چی یوه دریڅه یی بهر سرك لوری ته خلاصیدله. عثمان ده ته یوه ښکلی قالینه وغوړوله او بهر ته ولاړ.

سلمان چی لمانځه ته اوچت شو نو د کړکی نه یی لږ لږ ځنډ وروسته د اسونو د پښو تربهار اوریده، وروسته بیا چی دی له لمانځه نه وزګار شو نو د سرك له لوری یی د څو تنو غږونه واوریدل، ورجګ شو کړکی یی خلاصه کړه او لاندی یی وکتل، څو کسان د سرك په یوه او بله خوا ولاړ وو او خبری یی کولی. یوه تن وویل:

وروره هغه غدار ؤ، او زما باور دی چی هغه ښار پریښود او بهر ته تېښتی، وګوره هغه نیغ دروازی لوری ته روان دی.

دوهم تن وویل : وروره! غداران له څو ورځو راسی له کورونو د وتلو جرئت نشی کولی. امکان لری هغه د حامد بن زهرة ملګری وی او د څه کار لپاره یی استولی وی.

دریم وویل : د حامد بن زهرة ملګری دومره بی غیرته نه دی چی د غرناطی پر سرکونو هم پر حیدو ځیږو ږدی ... چری کړی ... دا کله کیدای شی چی د شپی په مهال د دروازی ساتونکی دروازه ورته خلاصه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم وویل : نن د حامد بن زهره د یوه وړوکي خدمتگار لپاره هم څوك دروازه نشي ترلي، پهره دارانو ته دا معلومه ده چي نور وضعه بدله شوي ده، كه هغوی غداران واي نو هغوی له دي دروازي څخه د وتلو پر ځای باید سینتهافی ته تللي واي، ځكه چي هغوی ته یوازي فردیناند پناه ورکولي شي.

بیا یو بل غږ واوریدل شو: وروره! تاسو هسي وخت تیروی راځئ الحمرا لوری ته ور شو. راځئ!!

*****

سلمان دریڅه بنده کړه او پر کرسۍ کیناست، عثمان دروازه وټکوله او بیا کوټي ته ور ننوت او بیا یی د ډوډي پتنوس د هغه په مخ کي په یوه وړوکي میز کیښود.

سلمان وپوښتل : عثمانه! تا په سرك څو تنه سپاره ولیدل؟

: هوکي! ما له سرای نه د وتلو په وخت کي دري ډلي ولیدی چي ټول شمیر یی د شلو تنو په شاوخوا کي ژ هغوی ټولو پر مخونو نقابونه غوړولي وو. که شپه نه وای نو ما به په هغوی کي کوم یوله اس څخه خامخا پیژندلي وای، ما ستا له راتگ څخه لږ وړاندي هم اته تنه سپاره ولیدل چي د ښار د دروازي په لور روان وو.

: آیا دا امکان لري چي هغوی په څه کار پسي وتلي وي او پهره دارانو دروازه ورته خلاصه کړي وي؟

عثمان ځواب ورکړ : ماته هم دا خبره عبجیه ښکاري... د شپي له خوا یوازي هغو خلکو ته دروازه خلاصیږي چي له کوم افسر سره یی شخصي اړیکي وي، خو نن هغوی د ورځي هم دروازه بنده کړي ده.

که په لاره کي زموږ لیده کاته نه وای شوی او تاسو د سرای مالك ته زما په باب یادونه نه وای کړي نو ښایي چي تر اوسه به همالته پاتي وم.

: نو د دي مطلب دا دی چي ماته نا څاپي له ښاره د وتلو ضرورت شي عبدالمنان راسره مرسته کولي شي.

: هوکي د پهره دارانو مشر له هغه سره پیژني، نن د هغه په واسطه زما په شمول نورو خلکو ته هم ښار ته د ننوتلو اجازه وشوه.

سلمان وویل : ایا ته دا معلومولي شي چي کوم سپاره همدا اوس له دي ځایه تیر شول هغوی ته د ښار دروازه خلاصه کړای شوه که نه، که هغوی د حکومت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلك وي نو ښـايي پهره دار درته څه حال ونه وايي، خو دا امكان لري چي هلتـه ښاوخوا چا دوی له دروازي نه بهر ته د وتلو په حال كي ليدلي وي.

: كه دا ضروري وي نو زه به سمدستي ووزم او دا معلومات به راوړم.

: ته زما آس درسره بيولی شي!

: نه ښاغليه ! د اس ضرورت نشته زه همدا اوس بيرته راستنيږم.

عثمان په منډه له كوټي نه ووت او سلمان د ډوډۍ څخه خو ګمري په خوله كړي، يـا جګ شـو، په كـوټه كي يې قـدم وهل پيل كـړل، لږ څنډ وروسـتـه هغـه لری د ناڵندي او بريښنا ګرزهار اوريده.

عبدالمنان كوټي ته ورننوت او ويې ويل : د خدای شكر دی چي ته راغلی، ماتر مـاښـامـه سـتـا انتظار كـاوه، بيـا مي دا ګـومـان وكـړ چي ښـايي ته به د حـامـد وينا وري او بيا به راځي.

ما د هغه د وينا اوريدو فرصت ونه موند، سلمان ځواب وركړ.

عبدالمنان د هغه په مخكي كيناست ويې ويل : دا وينـا تا بايد خامخا اوريدلی وای. ما داسي احـسـاسوله چي د ده له ژبي د موسی بن ابی غـسـان فـرياد اورم هغه د يوی ډوبيدونكي كښتۍ د ماښو وروستي فرض ادا كړل.

: آيا ستا هيله شته چي د ده له دی وينا وروسـته به د غرناطي خلك را په خود شي؟

عـبدالمنان تر لږ څنډه سر په ګريوان شو او بيا يې ځواب وركړ: سـمدسـتي دی پوښـتني ته ځواب ډير ګـران دی. تر كـومـه ځـايه چي د خلكو د خـوځـولو او د راتلونكو خطرونو څخه په خبرولو پوری اړه لري نو هغه خپل فرض ادا كـړی دی. بيـا هم د ده دوينا په وخت كي ماته دا خيال په وار وار ذهن ته راتلو چي كه بوده سـړی د قـوم د ګناهونو كفاره ادا كـولي شـوای نو د غرنـاطي پر خلكو به د موسی بن ابی غسان وينا بی اغيزی نه ثابتيدله آه په څومره دردناك غږ هغه ويل:

«موږ تر خپلي آزادی او د خپل راتلونكي نـسل تر بقا څو چنده لـه خپل دولت، ځمكو، مـڼيو او باغونو سره مينه لرو، د آزادی مړه كيدونكي ډبوه د هغو وينو غوښتنه كوي چي زموږ د نيكونو په رګونو كي بي پرېماني دي ځمكي ته د پيړيو پيړيو سـړي ور وبخښل خو نن زموږ رګني په اوښكو بدلي شوی دي او زموږ په سينو كي د ژوند اورونه مړه شوی دي.

كه حامد بن زهره څو اوني دمخه دلته را رسيدلی وای او موږ ته يې د اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونو له خوا د مرستې په باب کوم امیدواروونکی پیغام راوړی وای د دې اولس په سینو کې د ژوند د ولولو راویښول به بیا هم یوه معجزه وه، اوس بنایی پر نامعلومو امیدونو د تکیې کولو مهال هم تیر شوی وی. موږ دښمن ته د دې اجازه ورکړې ده چې زموږ پر ورمیږونو خنجر کیږدی اوس موږ ځانونو ته دا دوکه ورکوو چې بنایی زموږ شارګونه خوندی پاتې شي او یا مو که شارګونه غوځ شي هم موږ به ژوندی پاتې وو.

زموږ اخلاقی برجونه را نړیدلی دي. زموږ د ژوند او ځواك تولی سرچینې زهرجنې شوی دي.

تاسو دا مه ګڼی چې زه د غرناطې د امن خوښوونکو ملګرې شوی یم، زما د کورنې اته تنه شهیدان شوی دي، او زه پردې خبره ویاړم چې زما یو ورور د اوربندله تړون نه وروسته دومره مایوسه شو چې له هغو غازیانو سره ملګری شو چې له ځلورو خواو را کلابند کیدو سره سره یې د خپلې خپلواکی بیرغ نسکوریدو ته پرینښود. هغه د ذلت د ژوند پر ځای د عزت مرګ غوره کړی دی، خوزه له هغه سره توپیر لرم زه یوازې ژوندی پاتې کیدل غواړم.

وضعی زه دې فکر ته اړ ایستی یم چې د کوم اولس واګې د ابو عبدالله او ابو القاسم غوندې خلکو په لاس کې وي چې مشرانو یې له دې ویرې ځلور سوه بچیان د یرغمل په توګه دښمن ت سپارلی چې خلك هغوی بیا په جګړه پیلولو مجبور نه کړي، نو د هغوی په زړونو کې د ژوندی پاتې کیدو هیله هم غنیمت ده.

د اندلس د مسلمانانو په تاریخ کې راتلونکی څو ورځې ډیرې مهمې دي. زه ویریږم چې د حامد بن زهره وینا د تقدیر لخوا موږ ته وروستې جتکه نه وي.

له دې وینا وروسته به په غرناطه کې په هیڅ ګوښه کې هم هغه په امن نه وي، د اولس غداران به د هغه دله منځه وړو لپاره له هیڅ ګام اوچتولو څخه ډډه ونه کړي او که هغه ته څه پیښه وشوه نو پر اولس به هغه عذاب پیلېږي چې نخښې یې را برسیره شوی دي.

د غونډې له پای ته رسیدو وروسته چې ما له کومو دوستانوسره خبری کړی وی هغوی ټول دې خبرې ته اندیښمن وو چې د غرناطې اولس به په بوه وخت کې څه ډول د بهرنیو او داخلی دښمنانوسره وجنګیږي. د کوم قوم لپاره تر دې لوی عذاب بل کوم دی چې د هغوی د آزادی ساتونکی د دښمن د پوځ لومړنی صف جوړ کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالمنان تر لږ ځنده نور هم د قوم د غدارانو د دسیسو په اړه خبري کولې بالاخره جګ شو ویې ویل :

: ویبخښې ! ما دا هیر کړل چې ته یو میلمه یې او زما حیثیت د یوه سرای د مالك نه زیات نه دی، زه د لږ ځنډ لپاره الحمرا ته ځم. که تاسو د غرناطی د اولس احساسات لیدل غواړی تاسو هم راسره ولاړ شی.

سلمان ځواب ورکړ: تاسو لږ صبر وکړی ما عثمان په څه کار پسی لیږلی دی، زه دلته د یوه بل چا په انتظار هم یم.

عبدالمنان بیرته پر کرسی کیناست.

لږ ځنډ وروسته عثمان ساه نیولی کوټې ته ورننوت او ویې ویل:

: ښاغلیه هغوی له ښاره بهر وتلی دی.

عبدالمنان وپوښتل : څوك له ښاره بهر وتلی دی؟ عثمان د ځواب پرځای سلمان ته وکتل او هغه د مول وهلیو سپرو لنډه یادونه ورته وکړه.

عبدالمنان وویل : که دغه سپاره آزادی غوښتونکی وی او حامد بن زهره په څه کار پسی لیږلی وی نو زه یې زر معلومولی شم. خو که هغوی د حکومت جاسوسان وی نو په دی وخت کی د هغوی له ښاره وتل دوه سببه کیدای شی چې زما ذهن ته راځی لومړی دا چې غرنیو قبایلو ته یې استولی دی چې د حامد بن زهره له ملاتړ څخه یې ایسار کړی، او دوهم دا چې حکومت د حامد بن زهره لاره بندول غواړی.

- مګر د پنځلس شل تنو لپاره د جنوب د ټولو لارو بندول آسانه نه دی.

سلمان وویل : خو دا هم امکان لری چې حکومت د دی لپاره تر اوسه دکوزو دروازو له لاری نور کسان هم استولی وی، نن به ټوله ورځ د سولې غوښتونکی آرام نه وی ناست، ځکه خو حامد بن زهره ته دا ویل ضروری دی چې د خپل حفاظت له بندوبست پرته د سفر خطر قبول نه کړی.

عبدالمنان جګ شو ویې ویل : ماته اجازه راکړه.

: ته چیرته روان شوی؟

: زه په دی تشویش کی یم چې سهار هغه روان نه شی ځکه د هغه خبرول ضروری دی.

: تاته معلومه ده چې هغه چیرته دی؟

: نه ما قصداً د هغه د ځارلو هڅه ونه کړه، زما کاروبار داسی دی، دا خطرنه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شم قبلولی چی د حکومت جاسوسان په ځان پسی کړم. خو زما دا پیغام به خامخا هغه ته ورسیږی، زه به کوم داسی دوست وګورم چی د هغه د هستوګنی ځای ورته معلوم وی.

: ماته نه ده معلومه چی هغه به ستا پیغام ته څومره ارځښت ورکړی خو که تاسو ما هغه ته ورولی نو دغه ربړه به ډیره اسانه حل شی.

: ډیره ښه ده، زه هڅه کوم راځه!

سلمان جګ شو عثمان ته یی وویل : ته زما آس تیار کړه، امکان لری زه ناڅاپی روان شم، که څوك زما پوښتنی ته راغلل نو همدلته یی ایسار کړه.

عثمان.په منډه بهر ته ووت څو شیبی وروسته سلمان او عبدالمنان په زینو کی ښکته کیدل چی دوی د یوی ګاډی.غږ.واورید. او چی دوی انګړ ته ښکته شول بګی،«ګاډی» هلته ولاړه وه او یو سړی تری راکوزیده، سلمان چی ولید غږ.یی پری وکړ: جعفره!

جعفر په منډه ورغی او عبدالمنان ته یی له سلام وروسته سلمان ته وویل : هغه ماته دا حکم وکړ چی زه سبا ته کلی ته درسره ولاړ شم.زه چی له لمانځه نه وزګار شوم را به شم ته ځان تیاروه.

سلمان وویل : مـوږ. د هغه په لټه پسی را روان وو اوس مو بیله ځنډه هلته ورولـه.

:مګر هغه خو...!

سلمان په اندیښنه وپوښتل : اوس د خبرو وخت نه دی بیړه کوه، که هغه چیرته لری وی موږ به په دی ګاډی.کی ورشو، زه د دی خبری ذمه واری اخلم چی هغه به له تانه نه خفه کیږی.

جعفر یوی او بلی خواته وکتل او ورو یی وویل : ښاغلیه! په غرناطه کی ستا له هغه سره ملاقات امکان نه لری هغه له دی ځایه روان شوی دی.

: چیرته؟

: دایی ونه ویل چی چیرته خو ناڅاپی روانیدل یی ماته هم سوال وو. کله چی ما له تا سره ولیدل او بیرته ولاړم نو کور به یی په کور کی نه و یوه ملازم زه ډیر ښه پیژندلم هغه ماته وویل چی هغوی د الحمرا په لور ولاړل.

: د الحمرا په لوری؟

: هوکی! هغه ته دا خبر ور رسیدلی ؤ چی مظاهره کوونکی له قابو وتلی دی،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا خطرپیدا شویدی چې هغوی د امارت مانۍ ته اور واچوي. د مظاهره کوونکو د پوهولو لپاره ورغلی دی، او کوم خلك چې د ده د ملاقات لپاره ورغلي وو هغه هم ورسره تللي وو، په هغوی کې کوم یوه زما اس هم ورسره بیولی و. زه پلی پسې ورغلم هغه د الحمرا د دروازې په مخه کې وینا کوله، د خلکو د احساساتو له سړولو او له هغوی نه د آرام اوسیدولو ژمنې اخستلو وروسته له وسله والو رضاکارانو سره له هغه ځایه ولاړ. په زرګونو مظاهره چیان د جلوس په څیر له هغه سره روان شول، زه ډیر په زحمت لنډ ورغلم خو په دې ځنډ کې وسله والو رضاکارو خلك نژدې نه ور پرینښودل او په شاپې تیل وهل. بیا چې ما هغوی ته وویل چې زه د هغه خدمتګار یم نو لاره یې راکړه. لږ وړاندې پر سرك دوې ګاډۍ ولاړې وې او آغا په هغوی کې سپریده. ما منډه کړه او په وروستی بګۍ کې سپور شوم. آغا له درې نورو کسانو سره دننه کیناست. ما ستا یادونه وکړه بیا راته معلومه شوه چې سعید هر څه ورته ویلی دي.

سعید له هغه سره ؤ؟

: نه هغه د مخې په ګاډۍ کې ؤ، له اغا سره د ولید نه پرته دوه نور کسان مانه پیژندل.

: د زیاتو خبرو ضرورت نشته د خدای جل جلاله په خاطر دا راته ووایه چې هغه چیرته ولاړ؟

: بناغلیه ! ګاډۍ چې ختیځې دروازې ته ورسیدلې نو پهره دارانو بیله دې چې څه پوښتنه ترې وکړي دروازه یې خلاصه کړه، اوه اسونه له دروازې بهر ولاړ وو په هغو کې زما اس هم ؤ، پر هغو ولید سپور شو، هغه راته وویل چې ته د دې په بدل کې زما له کوره زما اس راوستلی شې.

سلمان مخ راواړاوه عثمان ته یې چې څو ګامه لرې له یوه نوکر سره ولاړ و وویل:

ته دلته د څه لپاره ولاړ یې ولاړ شه زما اس راوله، عثمان د طبیلې په لورې منډه واخستله ویې ویل : جنابه! اوس به یې راولم.

جعفر وپوښتل : ته چیرته ځې؟

سلمان په ترخه لهجه ځواب ورکړ: دا به وروسته درته ووایم لومړی ته دا راته ووایه چې ته تر الحمرا پورې په هغه پسې ورتلې ولې دې لومړي زه نه خبرولم؟

: آیا دا کیدای شوای چې ما هغه له کوم خطر څخه خبر کړې وای او زما خبرې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یې اهمیت نه وای ورکړی! اوس صفا ووایه هغه چیرته ولاړ؟
: صیب! ما له هغه نه وپوښتل خو هغه ماته دا وویل او ځان یې تیر کړ چې ته له میلمه سره ځان کلی ته ورسوه، ماته څه معلومه وه چې هغه به مظاهره‌چیانو ته له وینا وروسته له ښاره وزي، او د هغوی اسونه هم بهر ته رسول شوی دی. ما د هغه ایسارولو زیاته هڅه وکړه خو د هغه اراده تل نه ماتیدونکې وي.
عبدالمنان وویل : اوس له جعفر سره بحث بې ځایه دئ، زما باور دی چې هغه د غدارانو په اړه څه خوشباوری نه لري او د ختیځې دروازې څخه یې د وتلو سبب هم همدغه کیدای شي چې د ده ملګری د دسیسې څخه پوره خبر دی.
ماته معلومه نه ده چې هغه به کومه لاره غوره کړې وي، خو که هغه تاته کلي ته درسیدو هدایت کړی وي نو د دې زیات امکان دی چې هغه د قبایلو د سیمو له دوری څخه دمخه کلي ته د تلو هڅه وکړي، اوس خو دا دی باران هم راغی امکان لري په غره کې چیرته ایسار شي.
سلمان وویل : زه یوازې په یوه لاره خبر یم او هغه همدغه لاره ده چې زما په نظر، د هغه لپاره زیاته خطرناکه کیدای شي، زه اوس له تانه دا پوښتنه کوم چې اوس له ښاره زما د وتلو امکان شته؟
عبدالمنان ځواب ورکړ: زما په ګومان به څه ستونزه درته مخې ته نشي. تاسو پر اس سپور شئ راځئ، زه په دې ګاډۍ کې ځم او په لویدیځه دروازه کې دې انتظار کوم، که پهره دار ولیدې دروازه یې خلاصه کړه ته بیله دې چې له چا سره څه خبرې وکړې ووزه، که نه نو بیرته راوګرځه.
: بیرته؟
: زما مطلب دا دی چې بیا به د ښار په نورو دروازو خپل نصیب وازمویو.
سلمان د خپلې چپنې دننه لاس ننه ویست او یوه کڅوړه یې را وایستله عبدالمنان ته یې ونیوه ویې ویل :
دا واخله سل اشرفۍ پکې دي. امکان لري ورته ضرورت دې شي.
: نه! دا درسره وساته او یوازې دعا کوی چې کوم افسران زه پیژنم له هغوی نه کوم یو په دروازه کې وي.
سلمان وویل : زما یوې ښې لیندۍ او څو غشیو ته اړتیا ده، د سرای مالك یو بل خدمتګار خپل کورته په لینده او غیشو پسې واستاوه، او بیا په بیره ګاډۍ‌ته ورغی جعفر په منډه ورغی تر مټ یې ونیو ویې ویل :

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دلته د کوم بل اس بندوبست کیدای شي نو زه به له ده سره ولاړ شم که نه نو تاسو پهره دارانو ته ووایی چې په ده پسی یو بل سړی هم را روان دی. زه به تر لږ ځنده د ولید اس راولم او ځان به راورسوم. که په لاره کې خطر ږی نو د ده یوازې سفر ښه نه دی. زه څو نور کسان هم له ځان سره بیولی شم، د الحمرا په مخکې په زرگونو تنه مظاهره چیان دی او زه چې هلته ورشم یوازې د یوه غږ ضرورت دی.

عبدالمنان وویل : ته زما اس درسره بیولی شي. خو هغه داسې سست دی چې پرې سپور شي له ده سره یوځای سفر نشي کولی. او د کوم بل بندوبست په وجه ناوخته کیږي. ته د هغه د ایسارولو هڅه مه کوه.

سلمان د غوسې په حالت کې وراندی ورغی او ویې ویل:

جعفره ! د خدای لپاره ما پرېږده، د کومو خلکو لخوا چې هغه ته څه خطر پیښیدای شي ستا او د الحمرا د مظاهره چیانو د ورتگ انتظار نه کوی، زه ستا لپاره یوه شیبه انتظار هم نشم کولی.

جعفر ملامت غوندې شو سلمان ته یې وکتل او عبدالمنان په منډه په گاډي کې سپور شو.

سلمان د جعفر په اوږه لاس ورکیښود ویې ویل : ته باید خفه نه شي، زه یوازې د خپلې اندیښنې د لرې کولو لپاره ځم. که هغوی په لاره کې په مخه راغلل نو ستا د خبرولو لپاره به ځوك درته راولیږم.

جعفر وویل : صیب! زه د هغه په باب هیڅ اندیښنه نه لرم. کوم کسان چې له هغه سره تللي دی هغوی به یې په ساتنه کې غفلت ونه کړي! په گاډي کې ما له هغه سره دوه ناپیژندوی ولیدل. هغوی داسې معمولي خلك نه وو. یو خو یې د پوځ یو لوی افسر ښکاریدو. کله چې هغوی له گاډي نه پلي او پر اسونو سپاره شول پهره دارانو سلامی ورته ووهله. زه پردی ډیر حیران شوم چې له جامونه هغه د یوه عالم په څیر ښکاریده. او له سترگو پرته یې نور مخ په پرده کې پټ و. سره له دې هم پهره دارانو ته معلومه وه چې هغه څوك دی. زه د داسې خلکو په ملگرې د خپل بادار سفر ته اندیښنه نه لرم زما اندیښنه پردې ده چې ته یوازې روان یې.

: ته زما په باب چورت مه وهه، إن شاء الله زه به ستاسو د کلی لاره نه غلطوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو دقيقي وروسته چي سلمان پر اس سپور له سراى نه راووت نو باران پيل شوى ؤ، پر سرك چوپه چوپتيا وه او هغه اس چارگام زغلاوه.
دروازي ته چي نژدې ور ،ورسيد هغه گاډي وليده بيا يې د درشل دننه د ډيوي په رڼا كي عبدالمنان له څلورو وسله والو كسانو سره دريدلى وليد، چي له هغوى نه يو د نورو منصبدار معلوميده. دوه تنو نورو د دروازي درني پلې بيرته كولى.
سلمان څو شيبي د درشل په مخكي ودريد بيا چي دروازه خلاصه شوه او وسله وال كسان يوى خواته لرې شول نو هغه افسر په لاس اشاره ورته وكړه او ده اس پونده كړ.

سلمان يوه شيبه اس ودراوه او بيا يې واگي سستي پريښودي د دروازي نه چي تير شو شاته يې وكتل منصبدار لاس د خداى پاماني په دود ورته اوچت كړل، سلمان په لوړ آواز ورته وويل : خداى پامان! او بيا يې اس چارگام كړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حامد بن زهره شهادت

باران هره شیبه توندیده، څو دقیقې پرلپسې د ګرندي اس زغلولو نه وروسته سلمان هغه دوه لاري ته ورسید چې له بنې او کیڼ لورې دوې لارې سره یوځای شوي وې. هغه اس ودراوه او څو شیبې یې شاوخواته وکتل او بیا په همغه ګرندي توب پرمخ ولاړ.

نژدې یو میل نور چې وړاندې ولاړ د اسونو شنهار او د پښو ترپهار یې واورید، هغه په بیړه د خپل اس جلب را کش کړ له سرک نه کوز د یوې ونې شاته ودرید. د سترګو په رپ کې دوه اسونه ترې تیر شول او وړاندې ولاړل او ده داسې احساس کړه چې څوک پرې سپاره نه وو. بیا دتورو برښنا دا اټکل سهي کړ.

تر اوسه ده خپل زړه ته تسلي ورکوله چې ښایې حامد بن زهره له بلې دروازې څخه د بهرکیدو نه وروسته خپل کلي ته د تلو اراده بدله کړې وي یا یې کلي ته د تلو لپاره د سرک پرځای بله لاره غوره کړې وي. خو چې تش اسونه یې د ښلیږ په لور په منډو ولیدل زړه یې ولوید.

بیا یې په خیال کې ورغلل چې د حامد او یا د هغه د زوی اسونه خو باید د ښار پرځای د کلي په لوري تښتیدلي وای. امکان لري د دې اسونو خاوندان یا د دښمن سرتیري او یا دحامد بن زهره هغه ملګري وي چې له غرناطې څخه ورسره ملګري شوي وو، هغوی به له دښمن سره مقابله کړې وي او د حامد د ژوندي وتلو لپاره به یې فرصت برابر کړی وي هغه پر نا معلومو امیدونو تکیه کوله او وړاندې روان ؤ د هغه د اس زغاسته ورو ورو کراریدله.

بیا هغه ناڅاپه د څو نورو اسونو د پښو ترپهار واورید، مخامخ د سرک ژوره برخه تر اوبو لاندې وه، چې توري وریښیدې ښې لورې ته یې څو ونې او د یوې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویجاړې ودانۍ، کنډوالې ولیدې، هغه د اس واګې راکش کړې او آس يې د کنډوالو شاته ورساوه، په یوه ونه پورې يې وتاړه او په منډه راغی سرك ته تر تولو نژدې ونې شاته ودرید.

څو شیبې وروسته هغه د تورو په بریښنا کې شپږ تنه سپاره ولیدل، د سرك په بهېدونکو اوبو کې هغو ناڅاپه اسونه ودرول او غوږونه یې واوریدل شول خو د باران په سبب د هغوی خبرې سلمان نشواى اوریدې. بیاهغوی ورو ورو وخوځیدل، د سرك په منځ کې اوبه ډېرې وې او اسونه ورو ورو په یوه لیکه پکې تیریدل، له اوبو څخه چې تیر شول هغوی بیا ودریدل، اوس هغوی سلمان ته دومره نژدې وو چې د باران د شور سره یې غږونه صفا اوریدل کیدل.

یوه سپاره په لوړ غږ ویل : موږ هسې په دې باران کې ځانونه په زحمت کړې دي. هغو به اوس غرناطې ته رسیدلي وي، او هلته پرې د لاس اوچتولو سوال نه پیدا کیږي.

دوهم سړي وویل : تاته معلومه ده چې که هغه ښار ته ننوزي نو زموږ پای به څه وي؟

دریم وویل : د خدای لپاره اوس دا دعا کوی چې پهره دار هغوی ته دروازه خلاصه نه کړي.

: کله چې په دروازه کې هغه چیغه وکړي چې د حامد بن زهره وژونکی راپسې دي نو پهره داران به د هغو د درولو جرئت ونه کړي. بلکې زه داسې احساسوم چې هغوی به موږ ونیسي او پاریدلیوخلکو ته به مو په لاس ورکړي.

وروره! داسې هم امکان لري چې پهره داران هغوی زموږ ملګري وبولي او دروازه ورته خلاصه کړي، او چې موږ کله هلته ور ورسیږو د ښار خلك مو په دروازه کې مخې ته په انتظار ولاړ وي. اوس زموږ پای په هیڅ صورت هم ښه نشي کیدای.

که ماته دا معلومه وای چې هغه د حامد بن زهره د لارې نیولو لپاره روان دی نو ما به هیڅکله هم ملګری نه وه ورسره کړی. اوس به دا څوك ومني چې موږ له کومو خلکو سره راغلي وو هغوی موږ نه پیژندل او موږ ته یې یوازې دومره وویل چې دوی د یو دښمن د نیولو لپاره زموږ ملاتړ ته اړتیا لري، تاسو ټول پردي شاهدان یاست چې ما تاسو د غشو له ویشتلو نه منع کړي.

: ښاغلیه! تا هغه وخت ایسار کړو چې زموږ غشي له لیندو څخه تللي وو، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه تنه رالویدلي وو، اوس موږ ټول په یوه کېنټی کی سپاره یو، موږ ته په تیاره کی دا څه معلومیده چی زموږ د غشیو نخښه حامد بن زهره دی، اوس یو د بل ملامتول هیڅ ګټه نه لري، زموږ هڅه باید دا وي چی په څه ډول خپلو خپلوکورونو ته ځانونه ورسوو.

که ستا سره دا اندیښنه ده چی هغه به ښار ته ننوتلی وی نو موږ باید لږ لږ ودرېږو او وضعه وګورو او وروسته بیا څه پریکړه وکړو. بیا که زموږ نور ملګري راغلل نو امکان لري د هغوی په مرسته ښار ته د ننوتلو موقع ومومو، دا هم امکان لري چی کوتوال پر پهره دارانو اعتبار ونه کړيٰ او پخپله زموږ د راتګ په انتظار وی. اوس د دې خبرو وخت نه دی درځئ!

سلمان ته پردی پوهیدل ګران نه وو چی حامد بن زهره او یا لږ تر لږه د هغه دوه ملګری له اسونو څخه د پریوتلو په وخت کی د دوی لاس ته نه دی ورغلی او دوی د هغه دوو اسونو د فرضی سپرو د نیولو په نیت ورپسی دی چی ده لږ ځنډ دمخه په تیښته لیدلی وو.

سمدستی ده ته دا خیال هم ورغی چی له اسونو څخه محروم شوی تېپان چیرته غلی شوی وی نو تعقیبوونکو ته به د غرناطی تر دروازی پوری دا څرګنده شی چی هغوی په تش اسونو پسی وو، بیا به د غدارانو یو پوځ د دوی د نیولو لپاره ورپسی راولی. د ده په ګومان د حامد بن زهره او یا د هغه د ملګرو دتښتی یوازینی لاره دا وه چی دغه کسان له غرناطی نه بهر مصروف وساتل شی، ځکه خو چی مخکینی سپاره اس پونده کړ سلمان غیښی خوشی کړ. دزخمی چیغی دا ګواهی ویله چی غشی یی په نخښه برابر لګیدلی دی او پخوا له دی چی د هغه نور ملګری وضعیت احساس کړی سلمان دوه نور غشی هم ویشتلی وو.

څو دقیقی په ختبو او اوبو کی د اسونو د پښو شرپ شرپ او د سرتیرو چیغی اوریدل کیدی، بیا چی توری وبریښیدی سلمان نژدی په اوبو کی یو ټپی د منډی په حالت کی ولید.

یو بل سړي له لری خپلو ملګرو ته چیغی وهلی سلمان په ډاډ خپل اس راخلاص کړ پری سپور شو لږ ځنډ یی یوه او بله خوا وکتل، بیا یی اس پونده کړ او د سترګو په رپ کی تر ګونډو پوری په اوبو کی د تښتیدونکی پر سر ودرید، او په لوړ غږ یی وویل:

ودرېږه! ته نور نشی خلاصیدای!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زخمی دواړه لاسونه اوچت کړل ویې ویل: پرما ورحمیږه زه تپی یم.
سلمان ورته وویل : چوپ زما په مخه کې روان شه، زخمی بیله دې چې څه ووایي د هغه په مخ کې روان شو چې له اوبو نه تیر شول سلمان وویل : وسله دې وغورځوه! نور دې ملګری مرستې ته نه راځي.
زخمی وسله وغورځوله او له ویرې په ریږدیدونکې غږ یې وویل: د خدای لپاره په ما رحم وکړه، ما څه ګناه نه ده کړې.
سلمان ځواب ورکړ: د حامد بن زهره قاتل د رحم وړ نه دی.
زخمی چیغې کړې: ما له مجبورۍ د هغوی ملګرتیا وکړه. هغوی ټول به پردې ګواهي ورکړي چې ما په حمله کې هم برخه وانه خستله. ستا د ژغورل کیدو سبب هم دا و چې ما خپلو ملګرو ته وویل چې غشي ونه اوروي.
سلمان پردې د پوهیدو لپاره زیات فکر ته اړتیا نه درلوده چې زخمي دی د حامد بن زهره له ملګرو څخه بولي چې د غدارانو له حملې څخه ساتل شوي وو او د ده هم دا ګومان په یقین بدل ؤ چې په لاره کې یې کوم اسونه لیدلي وو د هغوی سپاره په زخمي حالت کې کومې خوا چیرته غلي شوي دي، بیا یې ډیر زر په ذهن کې یو تدبیر راغی او ویې ویل: کوم دوه کسان چې تاسو وریسې وی، هغوی غرناطې ته نژدې موږ ته په مخه راغلل او تر اوسه پورې به د ښار نیمایي خلک پر هغوی راټول شوي وي.
زما یوازې پردې افسوس دی چې د حامد بن زهره د وژلو په دسیسه ناوخته خبر شوم. ستا په شان خلکو رحم.کول ګناه ده خو که ته د حامد بن زهره په باب ریښتیا ریښتیا راته ووایې نوزه به دی ژوند وبخښم.
زخمي په امیدواروونکې لهجه وویل:
تاسو وعده کوی!
: زه وعده کوم او زما وعده د یوه غدار او د دین د دښمن وعده نه ده.
ستا ملګری چیرته دی؟ زخمی زړه نا زړه وپوښتل. سلمان په ذرانده غږ وویل : ته یوازې زما د پوښتنو ځواب راته وایه، او په یاد لره چې که دی کوم ځواب دروغ ؤ نو ویه دی وژنم، زه درنه پوښتم چې حمله په کوم ځای کې وشوه؟
زخمی په ویریدلې لهجه ځواب ورکړ: کلا ته نژدې د ویالې د پله دې لورې ته.
: حامد بن زهره وژل شویدی؟
: هوکې!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: د هغه زوی سعید څنګه دی؟ سلمان په ژړه غوني آواز وپوښتل.
: د هغه په اړه هیڅ‌نشم ویلی، که هغه له دوی سره ژ نو امکان لري چې ژغورل شوی وي.
: تاسو څو کسه ووژل؟
: موږ چې کوم مرې ولیدل شمیر یې اوه کسه وو، په هغوی کې دوه زموږ ملګري وو، خو خدای شاهد دی چې ما په حمله کې هیڅ برخه نه ده اخیستې.
سلمان په درانه غږ وویل : ته دروغ وایې.
: په خدای سوګند زه دروغ نه وایم، د حامد بن زهره وژونکي ما نه پیژاند، موږ ته له غرناطې نه د روانیدو په وخت کې دا هم نه وه معلومه چې موږ حامد بن زهره ته د لاري نیولو په خاطر روان یو.
کوتوال موږ ته یوازې دومره وویل چې د ښار څو رضاکاران د یوه خطرناك پروګرام لپاره روانیږي هغوی ستاسو مرستې ته اړ دي، تاسو د پوځي جامو پر ځای په ساده جامو کې ولاړ شي.او د جنوبي دروازې نه بهر د هغه انتظار وکړي. له دې نه علاوه یې دا امر هم راته وکړ کله چي له چوکۍ څخه ووتلو باید مولونه ووهو، کله چې له دروازې نه بهر ورسید ولږ څند وروسته هلته شل تنه وسله وال مول وهلي نور راغلل بیا د هغوی قوماندان موږ په دوو برخو وویشلو یوه ډله د جنوب ختیځ لوري ته روانه شوه او زما دري تنه ملګري په هغې کې شامل شول، موږ دیارلس تنه په دې لاره راغلو.
سلمان خفه شو پوښتنه یې وکړه: احمقه! زما سره ستا د دومره اوږده داستان د اوریدو وخت نشته لنډه لنډه یې وایه!
: سناغلیه! ته به د پوره کیسي له اوریدو پرته باور ونه کړې چې زه رښتیا وایم. موږ چې پله ته نژدې شوو باران په زور اوریده، د ډلې مشر پنځو تنو ته امر وکړ چې تول اسونه د پله بلې غاړې ته ورسوي او نور د سړك دواړو خواوو ته د بوټیو او د ډبرو شاته کیناستل او په انتظار شول، بیا موږ د هغوی د اسونو د پښتکو ترپهار واورید، کله چې پله ته را نژدې شول ناڅاپه چاپه زوره وویل : ودریږئ وړاندې مه ځئ! .
له دې سره سم زموږ لارښونکي د غشو د ویشتلو امر راکړ. زما په ګومان پنځه تنه د غشیو په لومړي حمله کې راپریوتل، بیا ناڅاپه یو سپور چې له تولو وروسته ؤ له سړك څخه راکوز شو د غشي ویشتونکو شاته یې ځان ورساوه، د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو په رپ کې یې یو سرې وواژه، بیا د تورو په برېښنا کې ما دوه تنه نور ولیدل چې له سرك څخه ذ لویدیځ په لور یې منډې وهلې.

یو سپور پر زین ځان غورځولی ؤ او بل د هغه د اس جلب نیولی و، زما په ګومان هغه ټپی ؤ دریم سپور چې ناڅاپه یې له ښي لوري څخه حمله وکړه او زموږ یو ملګری یې وواژه له سرکه تیر شو او کیڼ لوري ته یې ځان ورساوه، که ما خپل ملګري له غشي ویشتلو څخه نه وای ایسار کړي د هغه روغ وتل له امکان څخه وتلي وو، موږ ته هغه ځناور ګواښ وکړ که له دې درې واړو څخه کوم سرې روغ خلاص شو نو کوتوال به ستاسو ورمیږونه غوڅ کړي.

سلمان وویل : تاته د خپل ځان د وکالت ضرورت نشته، ماته معلومه ده چې ته څومره نیك سړی یې، زه له تانه د حامد بن زهره په اړه پوښتنه کوم.

: ښاغلیه! هغه وژل شویدی، هغوی د تورو په برېښنا کې د هغه مړی پیژندلی ؤ، زما په ګومان چې کله هغه له اس څخه ولوید چا پر سر او سینه د تورو ګوزارونه پرې وکړل، دوو نورو زخمیانو زګیروی کول هغوی یې هم ووژل.

: د هغوی مړي څه شول؟

: هغوی یې ویالی ته وغورځول، تر اوسه امکان لري سیند ته رسیدلي وي.

سلمان وویل : تایو دروغ وویل.

: صیب! زه سوګند یادوم چې هغوی یې په ویاله کې وغورځول.

: احمقه! زه د مړیو خبره نه کوم، تا وویل چې ستاسو له ملګریو څخه هم دوه تنه ووژل شول، په دې حساب خو د مړیو شمیر شپږ نه بلکې اوه کیږي.

: صیب ! اووم تن بیا وروسته ووژل شو، زموږ لارښوونکي ماته د اسونو له راغوښتلو وروسته دا حکم وکړ چې له خپلو ملګرو سره پر سرك نیغ د غرناطې لاره ونیسم پخپله له خپلو ملګرو سره په کینه لار ولاړ.

موږ به ایله سل ګامه لرې تللي وو چې د تومانچې له غږ سره مو جوخت د رضا کارانو چیغې واوریدې، موږ اسونه ودرول او د احوال لپاره مو یو تن ور واستاوه هغه چې بیرته راستون شو دا احوال یې راکړ چې د تښتیدونکو سپرو څخه یو تن دویالې سره نژدې په بوټو کې ولاړ ؤ او هغه له رضاکارو څخه یو تن وواژه.

: بیا پر سرك یوازې دوه تنه سپاره تاسو ولیدل؟

: هوکې! موږ د لارې له یوه کلې څخه وراندې د سرك په پیچومې د اسونو د پښو غږ واوریده او زموږ دا اټکل ؤ چې هغوی دوه وو، زموږ په ګومان دریم سړی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تومانچي په ډز د رضاکارانو پام ځان ته ور واړاوه او دې نورو دوو تنو ته يې د تيښتې زمينه برابره کړه.

اوزه پردې خوښ شوم چې هغوى ځانونه وايستلى شول.

: ته به په دې خبره ډير خوښ وې چې هغوى ژوندي ووينې او انعام پرې واخلې!

: د خداى په خاطر پر ما اعتماد وکړه، که موږ هڅه کولى نو د هغوى رالاندې کول راته ګران نه وو. موږ هسې دا سېودله چې په هغوى پسې يو او د دې يو سبب دا و چې موږ يو پر بل اعتماد نه درلود چې کله به مو فاصله ورسره لږ شوه نو موږ به کرار شوو او چې هغوى به رانه لرې شول موږ به بيا ورپسې ګړندي شوو.

تاته د حامد بن زهره د شهادت نه وروسته هم دا معلومه نه شوه چې ستاسو لاربنود څوك ؤ؟

: نه، ما عرض وکړ چې هغه خپل مخ په نقاب کې پوښلى ؤ.

سلمان ووېل : ته هغه جونګړې ته ننوزه، کيداى شي د بام کومه برخه يې روغه وي او له باران څخه پناه پکې واخلې، زه چې غرناطې ته ولاړ شم تاته به کوم مرستندوى راواستوم.

زخمي چيغې کړې: د خداى په خاطر دا ظلم مه کوه، که په غرناطه کې چاته دا معلومه شوه چې زه د حامد بن زهره د وژونکې ملګرى يم نو کوتوال ته به مې هم د سر خير ګران شي. خلك به مې د بوټيو ټوټې ټوټې کړي. شکولو ته چمتو شي.

: ته چيرته تلل غواړې؟

: ماته معلومه نه ده خو اوس غرناطې ته نشم تلاى.

زما دا باور هم نه دى چې تر سهاره به ژوندى پاتې شم.

: تا غوندې خلکو ته زر مرګ نه راځي او زه دا احساسوم چې پر تا تر زخم د ويرې اغيزه زياته ده، ته د څه رحم حقدار نه يې خو ما د بخښنې وعده درسره کړې ده. ستا له خبرونه ما دا اټکل کړى دى چې د پوليسو نور کسان ستا تر لاس لاندې وو.

: صيب ! زه له دې څخه انکار نه کوم چې هغوى زما تر قوماندې لاندې له غرناطې څخه راووتل، خو د ښار نه تر راوتلو وروسته زما ذمه وارى يوازې دومره وه چې پر هغوى د خپل لاربښوونکي هدايات عملي کړم، دا زما بد مرغي وه چې کله د رضاکارانو لاربنود د غشو اورولو قوماندې ورکړه ما خپل ملګرى پر وخت

Scanned by CamScanner

ایسار نه کړل، خو که ما هغوی ایسار کړی هم وای څه توپیر به نه ؤ راغلی.
سلمان وویل : زما په گومان به ستا ملگری دا جرئت ونه کړی چی تا په دی حالت کی پری پږدی او غرناطی ته ولاړ شی. څکه خو ته زما په مغ کی درومه، امکان لری لږ وراندی هغوی چیرته غلی شوی وی. راځه!

*****

زخمی د بی وسی په حالت کی د سلمان په مخ کی روان شو، پر سرك کوم دوه سوه گامه له تلو وروسته ناڅاپه له کوم لوری یو غږ راغی، یحیی، یحیی ! مروانه سلمان اس ودراوه او ملگری ته یی وویل : ودرېږه! ستا نوم څه شی دی؟
: زما نوم یحیی دی.
سلمان وویل : ته په څمکه پرېوزه او خپل ملگری را وغواړه، زر کوه کـه نه نو ورمیږ به دی غوڅ کړم. زخمی زر پرېوت او چیغی یی کړی: زه دلته یم.
سلمان وویل : احمقه په پوره زور چیغی کړه.
که تا د هغوی د پوهولو هڅه وکړه نو زما لومړنی گوزار به پرتا وی، هغوی ته وواېه چی زه تپی یم او حمله راوړونکی پر ما د مره گومان وکړ او پری یی ښودم.
زخمی کومی وشلاوه او په زوره زوره یی خپلو ملگروته چیغی وکړی، سلمان د سرك کیڼ لوری ته د څېرېدېه بوټیو کی غلی کیناست. څو شیبی وروسته د سرك له ښی لوری د فصلونو له منځه د اسونو د پښو ترپهار اوچت شو بیا اسونه ناڅاپه ودریدل او د یوه سړی غږ واوریدل شو: یحیی ته چیرته یی؟
هغه ځواب ورکړ: زه دلته یم.
: مروان چیرته دی؟
: ماته نه دی معلوم.
: حمله کوونکی چیرته دی؟
: ماته نه دی معلوم ښایی هغه غرناطی ته رسیدلی وی. تاسو زر راشی موږ باید زر تر زره له دی ځایه ووزو.
یو بل غږ واوریدل شو: هغوی څو تنه وو؟
: ماته نه دی معلوم چی څو تنه وو، خو که تر څو شیبو پوری نور دی تهوکو ته دوام ورکړی نو له غرناطی څخه به په زرگونو کسان راورسیږی.
د اسونو د پښو غږ بیا پورته شو. او د سترگو په رپ کی څلور سپاره سرك ته راووتل، یو تن له اس څخه پلی شو او د تپی د راپورته کولو هڅه یی وکړه ویی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل : ما په وار وار درته ویل چې له سرکه باید لرې شو، ستا اس په موږ پسې راغی موږ هغه لږ وړاندې تړلی دی.

دوه نور سپاره هم له اسونو پلی شول، له هغوی څخه یوه وویل : اوس د خبرو وخت نه دی، ته دې پر خپل اس درسره سپوره کړه، موږ به مروان ولټوو. هغه د ختیځ په لوری ولاړ امکان لري د غرناطې پرځای اوس خپل کلي ته رسیدلی وي.

د بوټیو له منځه آواز راغی : اوس تاسو هیڅرې نشې تلای. او له دې سره بو دز اوچت شو، پر اس سپور کس په یوه غرب پر ځمکه راپریوت او بیا د سترګو په رپ کې سلمان پر سرك دریدلی ؤ د هغه د توری په لومړی ګوزار یو بل تن هم وغورځیده، دریم پر اس سپور شو او د تیښتې هڅه یې کوله چې سلمان ورپسې راوګرځید او خپل اس یې ورپسې خوشې کړ.

ناڅاپه هغه اس کیڼ لوری ته وګرځاوه او د سلمان لومړی غشې هسې ولاړ خو د سترګو په رپ کې هغه بیا د ده تر ګوزار لاندې راغی، هغه دا ځل هم ځان یوې خواته کوږ کړ او غوښتل یې ځان وساتي خو د یوې کربړې سره ځوړند شو، د هغه یوه پښه په رکاب کې بنده وه او بدن یې په اس پسې په ځمکه کش کیده. ترهیدلی اس له څوګامه وروسته ودرید. ناڅاپه سلمان له شانه څه غږ واورید او هغه په بیړه د خپل اس جلب راوګرځاوه او پونده یې کړ، بیا یې د تورو په برېښنا کې دوه تنه ولیدل چې یو له بل سره غیږ په غیږ وو.

هغه چې ورنژدې شو چیغه یې کړه یحیی! په ځواب کې یې یوه کمزوری چیغه واوریده، له دې سره یو تن جګ شو او د تیښتې هڅه یې وکړه، خو دوهم یې تر پښو لاسونه راوغرخول او هغه پرمخې پریوت.

یحیی په ډوبیدونکې غږ وویل : دی درنه خلاص نه شي، ده پر تا د غشي د ګوزار هڅه وکړه.

دوهم سړی د بیا جګیدو هڅه وکړه خو سلمان له اس څخه پلی شو او بیا یې د سترګو په رپ کې توره د هغه په وینو ولمبوله.

سلمان یحیی ته پام واړاوه ویې ویل : ما ګومان کاوه چې دی وتښتید او ته هم بنایي ورسره تللی وې، ما فکر وکړ چې تاته د یوه مرستندوی ضرورت شته، ځکه خو که تښتیدلی نو زه به نه درپسې تلم، اوس تاته یوازې د یوه اس ضرورت دی اوزه ستا دا اړتیا پوره کوم.

یحیی ځواب ورکړ: زما اوس هیڅ شی ته اړتیا نشته، زما وروستی منزل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


رارسیدلی دی. تا ماته دا احساس راکړ چې د یوه ګناهګار لپاره تر وروستي سلګۍ د توبې دروازه بیرته وي او زه ستا مننه کوم، اوس ته باید له دې ځایه ځان وباسې.

ته زما ملګری یې،او زه تا په دې حال کې نشم پرېښودلای. دلته نژدې یو کلی دی، زما باور دی چې که هلته ورسیږو زه به ستا د علاج څه بندوبست وکړای شم.

سلمان هغه ته د تکیې ورکولو هڅه وکړه خو یحیی د هغه لاس ونیو او خپل بغل ته یې نژدې کړ، د سلمان ګوتې په تودو وینو کې ډوبې شوې، بیا یې د خفګان په حالت کې دهغه خنجر په موټې لاس وواهه چې د ده په ټټر کې ښخ ؤ.

یحیی له درده په زګیروېو شو ویې ویل : ستا غشي زما په ښي اړخ کې ښخ ؤ او ما همغه وخت هغه وکیښ او ومې غورځاوه خو دغه خنجر...

هغه د خپلې خبرې د پوره کولو پرځای په توخي، پیل وکړ، او بیا یې سمدستي کانګې وکړې. سلمان نژدې ورسره کیناست، لږ څنډ وروسته یحیی لږ راسنبال شو ویې ویل:

ماته معلومه نه وه چې هغه تاته کمین نیولی دی. ما داسې ګڼله چې هغه له ویرې تښتیدلی نشي. خو چې کله هغه غشي په لینده کې کیښود مایې لاس ونیو. هغه راته ویل چې ته له دښمن سره ملګری شوی یې، تا موږ ته دوکه راکړه، هغه پر ما زور ورنه ؤ خو زه ټپي وم، ته چې په کوم سړي پسې ورغلې هغه خو به تښتیدلی نه وي؟

: نه!

:اوس له موږ څخه یوازې یو تن چیرته تښتیدلی دی خو هغه ټپي دی او زما باور دی چې د غرناطې په ځای به یې هغه خپل کلي ته ولاړ شي.

زه له تا سره نشم تلای خو له دې ځنګو سره یوځای ښخیدل مې زړه نه غواړي.

: زه تا دلته نه پرېږدم. که ته لږ همت وکړې نو ډېر زر ډېر خوندي ځای ته ځانونه رسولی شو. زه اوس اس درته راولم، سلمان جګ شو پر خپل اس سپور شو.

لږ څنډ وروسته هغه بیرته راغی او یحیی ته یې غږ وکړ: یحیی! راځه تاته مې اس راوستی دی.

ته راپورته کیدای شې که زه درسره مرسته وکړم!

خو یحیی هغه ته هیڅ ځواب ورنکړ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: يحيى! يحيى! هغه په اندېښنه له خپل اس څخه راکوز شو، د يحيى نبضونه يې وکتل خو د هغه په بدن کې د ژوند نخښې نه وې.

د لږ فکر وروسته يې د هغه مړي پر اس واچاوه او بيا يې دواړه اسونه تر جلب ونيول او روان شو. لږ څنډ وروسته هغه د سرك پر غاړه د ويجاړ شوي كور مخې ته ودريد او مړي يې دننه يوور، بيا زر راووت او پر خپل اس يې پښه واړوله، په بل لاس يې د دوهم اس جلب ونيو او له هغه ځايه روان شو، د هغه مخه جنوب لوري ته وه، د هغه لومړنى منزل همغه كلى ؤ چې سهار يوې ماشومې نجلۍ بلنه وركړې وه.

اوس باران درېدلى ؤ او سپوږمۍ‌ږد وريځو نه سر را ايستلى ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بــدریه

سلمان کلی ته نژدی ودرید او شاوخوا یی تر نظر تیرکړل، بیا څو گامه وړاندی د سړك ښی لوزی ته یوی چوپی کـوڅی ته ننوت او د کیڼ لوري وروستـی کـور دروازی په مخه کی یی اس ودراوه تری پلی شو.
د کوڅی د نورو کورونو په څیر دغه کور هم داسی ښکاریده چی څوك پکی نه وی، بهر دیوال ځای ځای لویدلی ؤ او د انگړ د دروازی یوه پله ورکه وه.
څو شیبی یی یوه او بل لوری ته له کتلو وروسته دننه قدم کښېښود وروکی انگړ ته یوه دروازه راوتلی وه او د شمال څپو د هغی ماتی پلی ړچولی چی کړچ کړچ غږ یی اوچتیده.
سلمان له څو شیبو چوپتیا وروسته د احتیاط لپاره غږ وکړ:
څوك شته؟ څوك شته؟ او چی څه ځواب یی وانه ورید دواړه اسونه یی د برنډی په ستنی پوری وتړل او په بیړه بهر ته راووت.
څو شیبی وروسته د جومات په مخکی د پراخی حویلی په مخه کی ودرید، څو شیبی یې شاوخواته له ځار وروسته ورو ورو وړاندی ولاړ، او له یوه لویدلی دیوال څخه دننه واوښت، هغه د یوه غله په څیر حویلی ته ننوتل نه غوښتل خو د ننه کور له بهرنی دروازی څخه دومره لرې و چی که یی هر څومره په زوره چیغی کړی وای هم چا به دننه نه وای اوریدلی او د دی خبری ډیر امکان ؤ چی د کور د خلکو پر ځای کلیوال پری ور تول شوی وای.
په باغ کی نژدی دوه سوه گامه وړاندی هغه د یوی ښکلی ماڼی لویه دروازه ور وټکوله، خو هیڅ ځواب یی وانه ورید، هغه بیا دروازه وټکوله او بیا یی څو شیبی وروسته چیغه وکړه: مسعوده! مسعوده!
لږ ځنډ وروسته یی یو ښځینه غږ واورید : ته څوك یی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: تاسو مسعود راوغواړی هغه می پیژنی!
: ته ودرېږه!
سلمان نژدې پنځه دقیقې نور انتظار وکړ، بیا یې ناڅاپه له شانه څه غږ واورید، او ورسره جوخت چا له رعبه په ډکه لهجه تری وپوښتل: ته څوك یې؟
سلمان مخ واړاوه شاته یې وکتل یو سړی د ونو له منځه را ووت چې په لاس کې یې توره وه.
هغه وویل : مسعوده! سهار زموږ لیده کاته شوی وو، زه افسوس کوم چې بې وخته زحمت درکوم. بهر دروازه تړل شوې وه، که بند نه وای هم زما دا تمه نه وه چې غږ به می دومره وړاندې ولاړ شي، له ما سره د دې خبرې په باب هم خطر و چې که ما شور ګډ کړ نو د کلي خلك به په سرك راټول شي، که ماته دا معلومه وای چې ته له کوره بهر پهره کوې نو ما به د کور خلك نه ناکراره کول، ته د کور خاوندې ته خبر ورکړه زه د حامد بن زهره ملګرې یم.
له دننه څخه آواز راغی : ستاسو نوم څه شی دی؟
سلمان ته دغه غږ اشنا په غوږو ورولګید او بې له ځنډه یې وویل : زما نوم سلمان دی.
ناڅاپه دروازه خلاصه شوه او یو د لوړ قد خاوند ترې راووت هغه ولید ؤ.
سلمان پر خپلو سترګو باور نه کاوه، پوښتنه یې ترې وکړه : سعید له تاسره ؤ
: هوکې!
: هغه تپې دی؟
: هوکې مګر تاته څه ور معلومه شوه چې هغه تپې شوی دی؟
: ماته ډېر څه معلوم دي. خو دا راته معلومه نه ده چې تا هغه دلته راوستی دی.
د ولید په پوښتنه سلمان خپل لنډ داستان تیرکړ په پای کې څو شیبې هغه سلمان ته په چوپتیا کتل بیا یې مسعود ته وویل : ته دې میلمستون ته بوزه، بیا د سرك په سر بهر اوسه چې عمر راغی ماته احوال راکړه.
: تشریف راوړی! مسعود سلمان ته وویل:
سلمان په تذبذب ولید ته وکتل ویې ویل:
د سعید وضعه څنګه ده؟
هغه ځواب ورکړ: ښې سده دی، اوس یې پر ټپونو مرهم ایښودل کیږي، خو د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندیښنې خبره نه شته، هغه به انشا الله روغ شي.زه اوس راځم بیا دننه ولاړ او سلمان له مسعود سره روان شو.

دوی له برج سره روان وو او بیا بنی لوری ته وگرځیدل او له دوهم لوری څخه د کور د ناربنه و برخی ته ننوتل، هلته په یوه پراخه کوټه کی دیوه بلیده او بوډا نوکر چی سلمان سهار لیدلی ؤ دروازی ته نژدی په برنډه کی ولاړ ؤ.

مسعود سلمان له دروازی سره پریښود او بیرته روان شو، سلمان لمده چپنه او پگړی لری کړل، بوډا ته یی ورکړل او په یوه کرسۍ کیناست.

نوکر د لمدو جامو له مینځلو او پر دیوال له راځړولو وروسته په نغری کی اور بل کړ او له کوټې نه راووت، سلمان د لومړی ځل لپاره احساس کړه چی له یخنی څخه یی بدن په لړزه دی. کرسۍ یی راکش کړه او اور ته یی لاسونه ونیول.

*****

نژدی تر نیم ساعت پوری هغه د ولید انتظار وکړ، بیا یی ناڅاپه په دهلیز کی د چا د درنو بوټونو غږ واورید او ده د دروازی لوری ته سترگی ور واړولی.

ولید کوټی ته ورننوت او بی سیکه یی ده ته نږدی په یوه بله کرسۍ ځان ور وغورځاوه.

سلمان په اندیښنه له هغه د سعید پوښتنه وکړه، هغه ځواب ورکړ: اوس خو یی وضعه لږ ښه ښکاریده خو تر اوسه پوری را پخود شوی نه دی.

دوی دواړو بیا تر لږ ځنډه یو بل ته په چوپړ خولو کتل بیا ناڅاپه د ولید په سترگو کی اوښکی راغلی او سر یی ځوړند کړ.

سلمان وویل : وروره! اوس باید له صبر او زغم څخه کار واخلی.

ولید ډیر په زحمت خپلی سلگۍ راتم کړی ویې ویل : زما اوس هم باور نه راځی چی حامد بن زهره موږ پریښی یو، ما هغه د غشو په لومړی حمله کی ولید چی له اس څخه راولوید پردی سربیره می خپل زړه ته دا دوکه ورکوله چی ښایی هغه ژوندی وی او ظالمانو د وژلو پرځای نیولی وی، خلك به اوس دا وایی چی ما هغه د مرگ په کومی کی پریښود او تری وتښتیدم، خو خدای شاهد دی چی زما په مخکی د سعید د زغورلو مسأله نه وای نو د ژوند تر وروستی سلگۍ به ورسره ملگری وم، زما به تر مرگ ورځی دا ارمان وی چی زه یو ناپوه دوست وم، که ما تا ته ورخلاص پرېښی وای ښایی ژوندی زغورل شوی وای.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان ده ته تسلي ورکړه ويې ويل : هغه خپل منزل ليدلی ؤ او لاره بدلول يې زموږ له وسه وتلي وه، اوس زموږ لومړنی ذمه واري همدغه ده چې د سعيد د ژغورلو هڅه وکړو. د هغه زخم خو به ډېر خطرناك نه وي؟

وليد ځواب ورکړ: سمدستي د هغه په باب هيڅ خبره نشي کيدای.

سلمان وويل : که ته د کوم ښه ډاکتر درك راکولی شی زه غرناطې ته تلو ته چمتو يم.

وليد ځواب ورکړ: که زه پر دې ډاډه وای چې د حکومت جاسوسان به هغه تر دې کوره تعقيب نه کړي نو د غرناطې هر ښه ډاکتر دلته راغوښتل کيدای شي خو تاسو بايد انديښنه ونکړی اوس د هغه زخمونه تړل کيږي لږ وروسته به يې پخپله ووينی.

سلمان وويل : دوهمه مهمه مسئله دا ده چې د هغه دريم تن د ژوندي ژغورل کيدو څومره امکان دی چې دوه تنه حمله کوونکي يې ووژل او د نورو پام يې ځان ته ور واړاوه او تاسو ته يې د تيښتې زمينه برابره کړه، د دغسې توريالي ژغورل زموږ لومړنی ذمه واري ده، که تاته معلومه وي چې هغه کوم لوري ته تللی زه د هغه مرستې ته چمتو يم.

وليد ځواب ورکړ: اوس به هغه ډېر لرې تللی وي.که موږ هڅه وکړو هم مرسته ورسره نشو کولی، خو تاسو د هغه په باب انديښنه مه کوی. د هغه اس دومره ګړندی دی چې دښمن يې په ګرد پسې نشي رسيدای.

که د حمله راوړونکو د دوکي لپاره موږ خپل اسونه نه وای پريښي نو دلته د سعيد له رارسولو وروسته به زه ورپسې ورغلی وم. په دې کور کې يوازې دوه اسونه وو خو هغه د داسې کار ورنه وو، ما د سعيد په اړه له ډاډ وروسته د کلي خلك راټول کړل خو له هغوی سره يوازې يوه تن ښه اس درلود ، ځکه خو ما دا مناسبه وبلله چې څلور تنه پله ته ور واستوم چې دا معلومه شي چې غدارانو له تېښتيانو سره څه سلوك کړی دی. اميد دی چې تر لږ ځنډه هغوی بيرته راستانه شي.

سلمان له لږ فکر وروسته وويل : دا دريم تن څوك و؟

: ويخښنې د هغه په باب زه تاته څه نشم ويلی، موږ ته د هغه د نوم ښودلو اجازه هم نشته، اوس تاته همدومره پوهيدل بس دي چې هغه يو ښه سرتيری دی.

: هغو تاسو له پله نه اخوا له تلو څخه ايسار کړي وی؟

: هوکې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



: ته پردې داده یې چې سعید ته دغه کور خوندي دی؟

ولید ځواب ورکړ: سمدستی له دې کوره غوره ځای د هغه لپاره نشته، که یې وضعیت لږ ترڅه غوره واى نو ما به غرناطې ته استولی و. اوس به تر څو ورځو پورې هغه همدلته وی، دا زما د ماما د لور کور دی او یوه تپی ته تردې ښه سرپرست اوس نشی موندل کیدای، د هغې په گومان که سعید په خود شی هم ترڅو ورځو پورې به د سفر توان نه لری.

: که هغه بې سده وی نو تر ټولو دمخه باید د یو ښه طبیب بندوبست ورته وکړو.

ولید ځواب ورکړ: د طبیب په باب اندیښنه مه کوه، زما پلار د غرناطې د څو نومیالیو ډاکترانو څخه یو دي، که ضرورت و هغه به دلته راشی، مگر اوس د حکومت جاسوسان ډیرمځك شوي دی، مونږ دا خطر نشوزغملی چې هغه له کوره راووزی او قاتلان ورپسی شی.

بدریه زما د ماما لور د هغه شاگرده ده او تر عامو طبیبانو زیاته تجربه لري، د سعید د بیهوښی سبب دا دی چې د ده له بدن څخه د دوو غیشو د ویستلو لپاره یې د بې هوشي دوا ورکړې وه.

سلمان وویل : اوس تاسو د هغه بدمرغه د مړی ښخولو بندوبست هم وکړی چې ما په لاره کې پرېښی دی، د سرك پر غاړه د یوه ویجاړ کور موندل به زیات گران نه وی. هغه ته نژدې ډیرې اوبه بهیږي، دا ضروری ده چې هغه له هغه ځایه ښه لرې ښخ کړای شی.

ولید وویل : تاسو د دې غم مه کوی زه ستا په مطلب وپوهیدم.

: اوس تاسو د سعید احوال واخلی که د هغه حالت ښه و زه هم درسره ملگری کیږم.

*****

مسعود کوټې ته ورننوت اوولید ته یې وویل : هغوی بیرته راغلل او وایی چې مونږ د پله په شاوخوا کې هیڅ مړی ونه لید. عمر وایی چې که ستاسو اس ته ضرورت وی زما اس درسره بوزی.

: نه اوس هغه ته د زحمت ورکولو ضرورت نشته، خو ته هغه ایسار کړه اوعمر ته ووایه چې دلته راشی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسعود بیرته ولاړ ولید سلمان ته وویل : ماله تاته ډیر څه پوښتل خو اوس زما سمدستی غرناطی ته تګ ضرور دی.

: اوس به دوهم اس زما په کار راشی.

: خو ته سمدستی غرناطی ته نشی تلای.

سلمان وویل : نو دا څه وړ کیدای شی چی زه د غرناطی د سهی احوال نه پرته بیرته ستون شم؟

: نه،نه! ته هلته نشی تلای. ماته په لاره سعید ستا کیسه کړی وه، هغه په دی خبره ډیر خفه ؤ چی ته غرناطی ته راغلی یی. ځکه خو زما دا مشوره ده چی ته همدلته پاتی شی، إن شاء الله زه به ډیر زر بیرته راشم، که زه چیرته غلی شوم هم نو زما پیغام به خامخا درته راورسیږی. د سعید د ساتنی لپاره هم ستا دلته پاتی کیدل ضروری دی. امکان لری د کوم ناځاپی خطر څخه د هغه د ایستلو لپاره ستا مرستی ته ضرورت پیښ شی، ته تر څه وخته دلته پاتی کیدای شی؟

سلمان ځواب ورکړ: له نن نه څلور ورځی وروسته به یوه کښتی په ساحل کی چیرته زماانتظار کوی، که په ټاکلی وخت ور ونه رسیدم نو هغه به ولاړه شی او بیا به څو ورځی وروسته په بل ځای کی د هغی انتظار کوم. په دی ډول به تر راتلونکو دوو میاشتو پوری زماملګری پر ټاکلیو نیټو د مختلفو ځایونو چکری وهی که زه بیا د ډیر وخت لپاره پاتی شوم نو بیا په ساحلی سیموکی هغه کسان پیژنم چی څه مرسته راسره کولی شی.

ولید وویل : په عامو حالاتو کی د حامد بن زهره د شهادت څخه وروسته زموږ دښمن ښایی د سعید په باب زیات اندیښمن نه وای خو زه ویریږم چی د حامد بن زهره د نورو ملګرو د لټولو لپاره دوی د سعید نیول ضروری ونه بولی. که د دوی دا اشتباه وی چی له بهر نه هم کوم مرستندوی ورته رارسیدلی دی نو د سعید نیول به ورته د مرګ او ژوند سوال شی، ځکه ته باید زیات پام وکړی.

*****

مسعود له عمر سره کوټی ته ورننوت، د هغه عمر د ځلوښتو کالو په شاوخوا کی معلومیده، ولید هغه ته سلمان د حامد بن زهره د یوه دوست په نامه معرفی کړ بیا یی د هغه مړی د ښخولو هدایت ورکړ او مسعود ته یی د اس د راوستلو وویل ، او چی هغوی بیرته ووتل سلمان وویل :زه داسی احساسوم چی په غرناطه کی می خپل کار نیمګړی پریښی ؤ او زه باید هلته ولاړ شم، که ستا له خوا کوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغام راونه رسید امکان لري یوه ورځ ناڅاپه هلته ولاړ شم، زه د دې دعوه نه کوم چې زیات هوښیار یم خو بیا هم زه ستا ملګرو ته دا مشوره ورکوم چې په اوسنۍ وضعیت کې دې د حامد بن زهره د وژل کیدو خبره پټه وساتي. که اولس راپورته شي نو د قوم له غدرانو څخه دا لرې نه ده چې د ځانونو د ژغورنې په خاطر دښمن ته د ښار دروازې خلاصې کړي. تاسو له ننني غدارانو او بهرنيو دښمنانو سره د ټکر نه وړاندې دومره فرصت خامخا باید ترلاسه کړې چې غرنۍ قبایل له ځان سره ملګرې کړې. له هغې وروسته د حامد بن زهره له قاتلانو څخه هر وخت کسات اخستل کیدای شي.

ولید وویل: تاسو دا‌ده اوسې موږ ته معلومه ده چې دښمن به زموږ له هرې غلطۍ نه د ګټې پورته کولو هڅه وکړي. اوس وخت په ذهنې کشمکش کې د حکومت د ښکیلولو لپاره غوره لاره دا ده چې موږ له خپل لوري هیڅ ونه وایو، له ما پرته یوازې دوه کسان دي چې د دغې دردوونکې پېښې په باب خبر دي یو سعید چې ټپي دی او غرناطې ته نشي تلای او دوهم سړی زما د مخه په هیڅ صورت هم غرناطې ته نشي تلای او که ولاړشي هم هغه ډیر باتدبیره او هوښیار دی، زه به یوازې څو اعتمادي ملګرو ته د دې پېښې په باب ووایم، یوې بوډۍ خدمتګارې له دروازې وروکتل وېې ویل : صیب! بدریه وایي چې اوس له میلمه سره دننه راشي.

دوی دواړه له کوټې نه ووتل.

*****

لږ ځنډ وروسته دوی د کور دننه یوې پراخې کوټې ته ننوتل، سعید سترګې پټې په بستره پروت ؤ او په څېره یې آرامي او سکون غوړېدلی ؤ، داسې معلومیده چې هغه په درانه خوب ویده دی. سلمان ور وړاندې شو او پر تندې یې لاس کېښود ناڅاپه د بلې کوټې څخه یو ښځینه غږ اوچت شو:

تاسو به تر لږ ځنډه له زخمي سره خبرې نشي کولی، تر اوسه د دواګانو اغېزه ده پرې، سلمان مخ ور واړاوه او سترګې یې په یوه ښایسته، با وقاره او جدي څېره ولګیدې.

ولید هغې ته وویل : بدریې! دی سلمان دی، او ده چې څه کیسه وکړه داسې ښکاري چې حامد بن زهره شهید شوی وی. او قاتلانو پر ده سر بیره زموږ د څلورو نورو ملګریو مړي هم په ویاله کې غورځولي دي. زه اوس سمدستي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرناطي ته تلل غوارم، دي به د سعيد د ساتنې لپاره ستاسو سره پاتې وي، كه تاسو ته د سعيد د ساتنې په باب څه اندېښنه پيدا شوه نو له دي ځايه پړلار جان پسې څوك واستوی.

بدريې ځواب وركړ: كه د وژونكي غشي په زهرو ككړ نه وي نو هغه ته د زحمت وركولو ضرورت نشته، خو چي ته كله كور ته ورسيدی څو ضروري دواګانی راواستوه، ته يوه دقيقه تم شه زه به د ماما جان په نامه يو ليك درته وليكم امكان لري هغه كومه غوره مشوره راكړي.

وليد وويل : زما كورته تګ د غرناطي په حالاتو پوري اړه لري، امكان لري زه تر څه وخته پوري غلي شم، په هر صورت زه دا هڅه كوم چي ستا رقعه پلار جان ته ورسيږي.

: زه اوس راځم.

بدريه زر بلي كوټي ته ولاړه، سلمان وليد ته وويل : كه د دواګانو د را استولو لپاره بل بندوبست ونشو نو جعفر پيدا كړه او دلته يې راواستوه، تاسو نيغ سراى ته ورشی، اميد دي چي هلته يې پيدا كړی، او هغه دريم تن چي د سعيد لپاره يې د ليوانو دډلي پام ځان ته ورو اړاوه چي په خيريت در ورسيږی زما سلام ورته ووايه، او زما له لوري دا پيغام وررسوه چي كه ماته بيا غرناطي ته د راتلو زمينه برابره شوه نو تر ټولو لويه آرزو به مي دا وي چي هغه يو نظر ووينم.

وليد ځواب وركړ: زما باور دي چي كله زه هغه ته ستا په اړه يادونه وكړم نو هغه به هم ستا-ليدو ته ډير ناكرار شي.

د جګړي د بيا پيليدو په صورت كي به زموږ تر ټولو ړومبي ضرورت دا وي چي د تركانو او افريقايانو سره د اړيكو لپاره بايد يو تجربه كار منصبدار ور واستوو اوزه دا احساسوم چي دغه سړی چي ته يې دريم كس بولي د دي كار لپاره ډير مناسب دی، ځكه خو دا له امكان نه لري نه ده چي هغه كله ناڅاپه درته راشي او درته ووايي چي زه له تاسره ځم.

: زه به د داسي سړي په ملګري سفر د ځان لپاره وياړ وبولم.

بدريه د څنګ له كوټې نه راغله او يو كاغذ يې وليد ته په لاس كي وركړ.

وليد سمدستي سلمان ته لاس وركړ او خداى پاماني يې واخسته له كوټي ووت

* * * * *

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدریی کرسۍ راکش کړه نغری ته نژدی یی مخامخ کړه او ویی ویل : ویخښنی! زما دی ته پام نه ؤ چی ته په باران کی لوند شوی یی، دلته کښینی زه د نورو جامو بندوبست درته کوم.

سلمان د اور خواته ور وښوییده ویی ویل: نه! تاسو کینی اوس زما ساړه نه کیږی او جامی به می هم ډیری زر وچی شی.

بدریی د سعید نبض وکوت او بیا له سلمان نه دوه گامه لری په بوه کرسۍ کیناسته ویی ویل:

ولید ویل چی ته د ترکانو له سمندری ځواك سره یی، زه در څخه د حامد بن زهره د بندی کیدو او ژغورل کیدو کیسه اوریدل غواړم، آیا هغه وخت یی هغه نیولی ؤ. چی له اندلس څخه روان شوی ؤ؟

: نه! هغه د مراکش تر څنډو پوری رسیدلی ؤ. له هغه ځایه یوه بربری مانو تر قسطنطنیی د رسولو ذمه ورته وهلی وه، خو په لاره کی د مالتا دوو جنگی بیړیو حمله پری کړی وه او کومو مسافرو چی له اور اخستی کښتۍ څخه په اوبو کی ځانونه غورځولی وو هغوی یی نیولی وو او مالتا ته یی رسولي وو. څو اونی د حامد بن زهره په اړه دوی ته هیڅ معلومات نه ؤ، خو وروستیو پیښو وښودله چی په اندلس کی د هغه دښمنان غافل نه وو، یوه ورځ یی هغوی بندیان د فردیناند سفیر ته ور وستلی ووا څو ساعته وروسته حامد بن زهره د هسپانیی یوی جنگی بیړی ته وروستل شوی ؤ.

په همغو ورځو کی د تونس او صقلیه ترمنځ د ترکانو دوو کښتیو گزمی کولی، هغوی یو ماښام د هسپانیی د بیړیو څرك ولید او راتلونکی سهار وختی هغه د دوو لوریو څخه تر ډزو لاندی ؤنیوه په لومړی گولی بادبان را ولوید، دښمن ته له تسلیمی او ډوبیدوپرته بله لاره نه وه، ځکه خو یی په څو دقیقو کی سپینه جنډه اوچته کړه، تاته د دی تفصیل ضرورت نشته، حامد بن زهره په داسی حالت کی بلی کښتی ته ولیږدیده چی سخته تبه یی وه، هغه تر دوو ورځو پوری بی سده ؤ.

دریمه ورځ چی په هوښ راغی لومړنۍ پوښتنه یی د غرناطی په باب وه، او چی چا ځواب ورکړ چی هلته اوربند شوی دی نو په زوره زوره یی چیغی کړی: نه! نه! ته دروغ وایی، داسی هیڅکله نشی کیدای. ته موسی بن ابی غسان نه پیژنی، له دی وروسته هغه بیا بی سده شو. بله ورځ چی را په خود شو لومړنۍ غوښتنه یی دا وه چی د هسپانوی بیړۍ د کپتان توره بیرته ور وسپاری او دا ډاډ ورکړی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه سره به د یوه شریف دښمن په حیث چلند وشي. د دې سبب دا و چې کله پر دوی حمله وشوه نو د بېړۍ د نوروافسرانو پردې پرېکړه اتفاق ؤ چې حامد بن زهره سمدستي ووژني، خو کپتان ډېر په سختۍ دا تجویز رد کړی ؤ.

بدریې وپوښتل : ته په دې وخت کې د حامد بن زهره سره وې؟

: نه! زموږ ملګري له جګړې وروسته بېل شول زه د هغې بېړۍ کپتان وم چې پر هسپانوي کښتۍ یې ډزې وکړې، حامد بن زهره یې وروسته زما بېړۍ ته راوست.

زموږ د سمندري ځواك یوه برخه له یونان څخه د افریقا ځنډو ته لېږدول کېده، او امیر البحر کمال رئیس ترابلس ته نژدې لنګر اچولی ؤ.

د غرناطې د وضعې په باب چې موږ د حامد بن زهره اندېښنه ولیده نو موږ د دې اړتیا احساس کړه چې سمدستي یې امیر البحر ته ورولو.

د سمندري قواو امیر د هغه ډېر تود هرکلی وکړ، او دا مشوره یې ورکړه چې بې له ځنډه بېرته ولاړ شه او د دښمن له ولکې د غرناطې د ژغورلو هڅې وکړه، که د غرناطې اهل وسلې کېښودې نو سلطان ته به ستا ورتلل بې ګټې وي موږ به په هغه صورت کې د غرناطې مرسته وکړای شو چې ستاسو دننه مورچل مزبوت وي.

د حامد بن زهره د ډاډ لپاره امیر البحر دا ژمنه وکړه چې دی به پخپله سلطان ته د غرناطې خبره کوي. بیا یې اندلس ته د هغه د رارسولو ذمه واري ماته وسپارله. د افریقا د سمندري ځواکونو څو تنه مانوګان چې د ترکانو حلیفان وو زموږ د سمندري قواو له امیر سره د لیدو لپاره راغلي وو هغوی زما د بېړۍ د دفاع ذمه واري واخستله او خپلې کښتۍ یې راسره رواني کړې.

د اندلس د ځنډونه څو میله لرې د دښمن دوو بېړیو ګزمې کولې، هغوی په موږ پسې راغلې، ماښام لږ لوېدوته دوه ساعته پاتې وو موږ د تکر نه د ژغورنې په خاطر د ساحل پرځای د لوېدیځ لاره ونیوه او ترماښامه د هغوی ترمخې زغلېدو له هغې وروسته مو له تیارې نه ګټه واخسته او له خپلو ملګرو سره مې تر مشورې وروسته خپله بېړۍ ځنډې ته نژدې د دوو کمرونو ترمنځ یوه تنګ خلیج ته یوړه.

زموږ یوه کښتۍ له ساحل نه لږ لرې ودرېده او دوهمې کښتۍ دوه میله وړاندې د دښمن په یوه چونۍ حمله وکړه د دې نتیجه دا شوه چې د دښمن بېړۍ چې په عامو حالاتو کې باید ډېر په احتیاط وړاندې راغلې وای ډېرې ګړندۍ وړاندې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي او لږ ځنډ وروسته خليج ته مخامخ زما د توپونو تر بريد لاندي راغلي چي د سترګو په رپ کی يی تختتی په هوا کي څرخيدی او په هغه پسی بلی بيړی خلاص سمندر لوری ته د تيښتی هڅه وکړه خو هغه چی لاره بدلوله زموږ د بلی کښتی تر بريد لاندی راغله

بيا موږ هم له خليج څخه ور ووتلو او پر هغی مو بريد وکړ چی تر څو دقيقو زيات يی د دوارو بيړيو د بريد تاب رانه وړ چی له دی پيښی وروسته شاوخوا يو ځای هم د حامد بن زهره د پلی کولو لپاره مناسب نه ؤ.

موږ له ساحل څخه لری د دريمی کښتی د راتلو انتظار وکړ او له هغی وروسته بيا دا پريکړه وشوه چی هغه بايد ختيځ لوری ته هغه ځای بايد پلی شی چی پخوا مو غوره کړی و.

ماته امير البحر دا امر کړی ؤ چی د حامد بن زهره د امنيت له پوره او ډاډمن بندوبست پرته بيرته راستون نه شم، او که ضرورت ؤ تر وروستی منزله بايد ورسره ولاړ شم.

حامد بن زهره چی د کومې غرنی قبيلې د مرستی په تمه ؤ هغه له ساحل څخه پنځه ميله لری وه، که د دښمن له کښتيو سره مو ټکرنه وای راغلی نو ما به هغه په شپه کی هغه ځاي ته رسولی ؤ او بيرته به تري راستون شوی وم او زما ملګرو دومره زما انتظار کولی شوای خو اوس داسی امکان نه ؤ، سهار کيدونکی ؤ او زموږ کښتی د ورځی له مخی ساحل ته نژدی د جګړی خطر نشوای قبلولی.

ځکه خو ما خپل ملګری رخصت کړل او خپل مرستيال ته می امر وکړ چی هغه هم خپله کښتی‌بوزی، حامد بن زهره تر اوسه د پلی تلو توان نه درلود او په غرنی سخته لاره په وار وار ماته دا مجبوری وه چی هغه تر لاسه ونيسم. له لمر ختو سره مو د څو کډوالو جونګړی وليدی ما له هغوی نه د حامد بن زهره د سپارلی په خاطر يو اس واخست او بيا موږ د ډېر شپنو او کروند ګرو کلی ته ورسيدو.

د دی کلی مشر په غرناطه کی د حامد بن زهره شاګرد پاتی شوی و، هغوی زموږ ډير تود هرکلی وکړ، او پردی يی ټينګار کاوه چی ورسره پاتې شو، خو حامد يوه شيبه وخت تيرولو ته تيار نه ؤ، هغه وويل چی موږ ډوډی وخورو بيا به روانيږو او زما ملګری ته د يوه اس بندوبست وکړی، زموږ کوربه ماته يو ډير غوره اس راکړ ويی ويل چی دا زما له لوری سوغات ومنی له هغه وروسته پاتی سفر په آرامی تير شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ورځې وروسته چې حامد بن زهره کور ته ورسید زما مسئولیت ختم شو، خو هغه ناڅاپي غرناطې ته د تلو پریکړه وکړه او ماته یې امر وکړ چې د ده تر راتګ پورې یې انتظار وکړم، خو بیا داسې حالات رامخې ته شول چې زه هم په هغه پسې غرناطې ته ورغلم.

بدریې له لږ فکر وروسته وویل : که غدارانو ته دا معلومه شي چې د حامد بن زهره یو ملګری د ترکانو دسمندري قواو څخه دی نو زر تر زره به دښمن ته دا حال ووایي او بیا به د سمندر څنډې ته ستا د تلو لارې بندې کړي. که تاسو د سعید په خاطر پاتې شوی یاست نو زه داډ درکوم چې د ده لپاره خو یوه شیبه هم مه ایساریږئ.

سلمان ځواب ورکړ: ماته معلومه ده چې په موجوده حالت کې هیڅوک هم له سعید سره مرسته نشي کولی، خو اوس د بیرته ستنیدو څخه وړاندې باید د غرناطې وضعه معلومه کړم، که تر سبا پورې د ولید څه درک رامعلوم نه شو نو زه به پخپله هلته د تلو خطر قبلوم. حامد بن زهره د دې لپاره زه ایسار کړی وم چې بنایي په غرناطه کې له خپلو دوستانو سره تر مشورې وروسته امیر البحر ته د څه پیغام استولو ضرورت شي.

*****

بدریې په ډیر غور د سلمان خبرې اوریدلې، او سلمان داسې احساسوله چې ورو ورو یې د زړه بوج لږې کیږي، لږ څنډ د مخه چې هغه لومړی ځل دې کوټې ته راغی نو یوازې د یوې شیبې لپاره یې بدریې ته وکتل خو وروسته یې بیا دا حالت ؤ چې په بې پروایي کې به یې هم هغې ته وکتل نو له حیا څخه به یې سترګې ښکته واچولې. بیا یې ناڅاپه دا په ذهن کې ور وګرځیدل چې لکه چې تر ضرورت زیاتې خبرې کوي او هغه بیا چوپ شو.

بدریې له څو شیبو چوپتیا وروسته وویل : ماته داسې ښکاري چې ته زموږ د وطن سرې یې بهرنی سړی ته زموږ د سمندر غاړې دومره نه دې معلومې.

سلمان ځواب ورکړ: زه د المریې په یوه عربې کورنۍ کې زیږیدلې یم، مور مې بربري وه خو دا یوه اوږده کیسه ده.

: که ته ستومانه نه وې نو زه همدا اوږده کیسه اوریدل غواړم.

د بدریې پر ټینګار سلمان خپله کیسه پیل کړه:

بیرې چلول او سوداګري زموږ کورنۍ کسب ؤ، زما د پلار څلور شخصي بیرې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی، هغه المریې او مالقې نه علاوه په مراکش او الجزایر کې هم د سوداګرۍ مرکزونه جوړ کړي وو او زیاتره به د کوره بهر ؤ، چې زما عمر د شپږو کالو شو مور مې وفات شوه، زه مې بابا خپل کورته بوتلم، پلار جان مې دوې میاشتې وروسته راغی او زه یې له ځانه سره مالقې ته بوتلم هلته ما لومړنۍ زده کړې ترسره کړې، د پلار جان مې تر ټولو لویه هیله دا وه چې زه یو بریالی ماڼو شم، د دې لپاره چې ما ورزوی هغه به کله کله له ځانه سره بیولم. دوه کاله وروسته هغه په یوه اوږده سفر ووت او زه د ده په غیاب کې سخت ناروغ شوم، چې بیرته راستون شو هغه له ځانه سره دا پریکړه وکړه چې ما تل له ځانه سره وګرځوي؟ له دې وروسته زما کور د هغه کښتۍ وه، زما د ښوونې لپاره یې یو داسې استاد راته ونیو چې په کښتۍ کې به راسره په سفر روان و.

د یو نیم کال په موده کې د المریې او مالقې په منځ کې موږ څو ځله چکر وواهه. کله چې ترکانو پر ایتالیا بریدونه پیل کړل نو د نورو ترکي ماڼوګانو په شان زما پلار جان هم د ترکانو د رضاکارانو په ډله کې شامل شو، دا ځل زه هغه په کور کې پریښودم، څو میاشتې وروسته چې هغه بیرته راستون شو نو سلطان ابو الحسن هغه د مالقې د سمندرې زده کړو د ښوونځي ناظم وټاکه، زه یو کال نور هم له هغه سره وم، بیا یې زه د کښتۍ چلولو د اعلی تعلیم لپاره قسطنطنیې ته واستولم، د جګړې په موده کې ما واوریدل چې دی د سمندرې قواو د امیر مرستیال ټاکل شوی دی.

ښه نو ته د نائب امیر البحر ابراهیم زوی یې؟

بلډریې وپوښتل.

: هوکې! د جګړې په موده کې ما له ماما څخه واوریدلې چې بابا مې وفات شوی دی او کورنۍ یې الجیریا ته هجرت کړی دی. شپږ میاشتې وروسته یې دوهم پیغام دا ؤ چې پلار جان مې هم په یوه تونده سمندرې جګړه کې شهید شوی دی، له هغه وروسته زما اړیکې له اندلس سره غوڅې شوې.

کمال رئیس چې اوس د روم په سمندرګی کې د ترکي سمندرې قواو امیر دی زما د پلار له هغه وخت دوستانو څخه دی چې دواړو د «ترانتو» (د ایتالیې مهمه سمندرې قرارګاه وه چې ترکانو ونیوله) په جګړه کې برخه درلوده.

هغه به چې کله قسطنطنیې ته راغی نو زما پوښتنه به یې خامخا کوله، د پلار جان د وفات نه وروسته هغه زما پالنه په غاړه واخستله. کله چې زه له تعلیم نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارغ شوم په خپله شخصي عمله کې يې شامل کړم او دوه کاله وروسته ماته د یوې جنګي بېړۍ کپتاني وسپارل شوه.

سلمان چې تردې ځایه خبره راورسوله چوپ شو، د بدريې په ذهن کې زياتې پوښتنې را پيدا شوې، ناڅاپه سعيد د هغوی پام ور واړاوه، هغه د بېهوشۍ په حالت کې له ورو وروزګيرويو سره عاتکې ته ناري وهلې، هغوی دواړه په بېړه جګ شول او د سعيد د بسترې خواته ورغلل، بدريې د هغه په نبضونو لاس کېښود او سلمان ته يې وکتل، سعيد د ناکرارۍ په حالت کې څو ځلې اړخ په اړخ واوښت او بيا چوپ شو، بدريې د هغه له تندي څخه خولې پاکې کړې سلمان ته يې وويل:

: دی به تر ډېره وخته په هوښ رانشي، که تاسو لږ څند دلته کښېنې نو زه له تا څخه نورې ډېرې پوښتنې لرم.

سلمان پر کرسۍ کيناست ويې ويل : که ستا اعتراض نه وي نو زه به د سعيد تر بيدارۍ پورې له دې ځایه لرې کيدل خوښ نه کړم.

بدريه او سلمان دواړه په خپلو خپلو ځايونو کيناستل او بدريې وويل : وليد ويل چې تاسو د غدارانو له دسيسو څخه د حامد بن زهره د خبرولو لپاره غرناطې ته تللي وئ: خو تاته دا څنګه معلومه شوه چې د هغه پرخلاف دسيسې رواني وي؟

سلمان ځواب ورکړ: د سعيد د کلي يوه نجلۍ ده، هغه سهار وختي د دوی کره راغله هغې ماته وويل چې د قوم غداران د حامد بن زهره په لټه کې دي، دا يوه غميزه وه چې د وليد او د هغه د ملګرو په رامخې ته کيدو زه حامد بن زهره ته ورونه رسيدای شوای، هغوی زه په يوه کوټه کې بندي کړی وم.

بدريې وپوښتل : د کلي يوې نجلۍ ته څه دول معلومه شوه چې غداران د هغه په لټه کې دي!-تاته معلومه ده هغه څوك وه.

: د هغې نوم عاتکه دی، هغې دا انديښنه ښکاره کړه چې تره يې له خاينانو سره لاس يو کړی دی.

د بدريې په نور ټينګار سلمان خپله پاتې کيسه واوروله.

په پای کې هغې ورته وويل : سعيد د بې خودۍ په حالت کې هم دوه ځله عاتکې ته غږ وکړ، که تر سهاره دده حالت همدغسې ؤ نو ښايي همغه ورته راولو. خو که د هغې کاکا له خاينانو سره ملګرې شوی وي نو دی ته به له کوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتل آسان نه وي.

سلمان وويل:که د سعيد د اوسني حالت په نظر کي نيولو سره يي دلته د راوستلو اړتيا احساسوی نو موږ بايد وخت تير نه کړو، تر يو دوو ورځو پوري به په شاوخوا ټوله سيمه کي د حکومت ځړی خپاره شي.

: د حکومت جاسوسان دی کور ته د ننوتلو جرئت نشي کولی، او هغوی ته دا معلوميدای هم نشي چي سعيد ټپي دی. غرناطي ته سمدستي د وليد د تلو مقصد هم همدغه دی چي د غدارانو پام د دی سيمی پرځای غرناطي ته ور واوړی.

سلمان وويل : که تاسو اجازه راکړی نو زه همدا اوس هلته تلو ته تيار يم.

: نه ته اوس ئشي تلای، امکان لری تر سهاره د ټپي حالت ښه شي او موږ هغه نجلی ته د پريشاني پرځای کوم ښه پيغام ورکړو.

دواړه لږ څنډ چوپ شول بيا بدريي وويل:

پرون زما لور ډيره خوښه وه، هغې چي ته وليدی ماته يي پيغام راکړ چي يو مجاهد غرناطي ته تللی او چي بيرته راستون شي زموږ ميلمه به شي. هغه ستا تر راتلو د مخه ويده شوی وه، که نه نو تر سهاره به يي خبري درسره کولی.

اسما پر دی اصرار کاوه چي زه يي ميلمه شم. او ما هسی د دی د زړه ساتلو په خاطر کومه وعده کړی وه اوس يي په داسی حالاتو کي پوره کوم چي ماته يو ويروونکی خوب ښکاری.

بدريي وويل : تاته معلومه ده چي زه د سعيد په خير ستا په باب هم زياته اندينمنه يم. که غدارانو ته دا معلومه شوه چي له حامد بن زهره سره کوم ترکي يا بربر ملګری هم ؤ نو ستا په نيولو او دښمن ته په سپارلو به هم دريغه ونه کړی. که له تلو نه وړاندی دی د غرناطي له څينو مشرانو سره ليدل ضروری نه وای نو ما به دا مشوره درکوله چي همدا اوس روان شه.

اوس په دی کور کي هم بايد چاته دا څرګنده نه شي چي ستا له ترکانو سره څه اړيکی شته، که څوك پوښتنه وکړی نو ته ورته ووايه چي له «اندراش» نه راغلی يی او زما د ميړه د عمه زوی يی، زما د خاوند نوم عبدالجبار ؤ.

سلمان وويل : کله چي زه د قسطنطنيي د سمندری قواو د ښوونځی زده کوونکی وم زياتره به مي دا خوب ليده چي زه د يوی جنګي بيړی قوماندان يم او د اندلس پر څنډه د دښمن پر کومه کلا ډزی کوم، خو اوس داسی احساسوم چي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقدیر ناڅاپه پر داسی لاره برابر کړی یم چې بالکل راته نویی ده، زه د داسی کار لپاره مناسب نه وم، د دې لپاره زیات هوښیار سړی ته اړتیا وه په هر صورت زه به دا هڅه وکړم چې دلته زما له پاتی کیدو سره د غرناطی خپلواکی غوښتونکو ته څه گټه ونه رسیږی نو کوم تاوان هم ور ونه رسیږی.

بدریی وویل : ستا له راتلو څخه لږ وړاندی ولید ویل چی د حامد بن زهره وینی بهوونکو پر موږ د الله د رحمت دروازی بندی کړی دی په غرناطه کی د هغه وینا د دی اولس د ضمیر وروستی کریغه ده چی له کلونو راسی د مرگونو او ورانیو توپان ته ناری وهی. اوس به موږ ته د سلامتی لاره څوك راوښیی، بیا چی کله هغه وویل چی ته د ترکانو له سمندری پوځ سره اړیکی لری نو ما ناڅاپه احساس کړه چی موږ یوازی نه یو. زه د غرناطی د اولس په اړه مایوسه کیدای شم خو له ترکانو څخه باید مایوسه نشو.

زه د محمد فاتح د میراث خواره لمن نیولی او ورته ویلی شم چی اوس زما د عزت او آزادی ساتونکی ته یی، اوس که ته د ترکانو د سمندری قواوو امیر را استولی وی نو دا د دی ثبوت دی چی هغوی له موږ څخه غافل نه دی.

سلمان وویل : کاشکی ما د ترکانو لخوا د څه اعلان اختیار درلودای.

له امیر البحر کمال رئیس سره دا اندیښنه وه چی اوریند د وسلی ایښودلو مقدمه نه شی. هغه پر دی خبری امیدوار ؤ چی که حامد بن زهره د هغوی حوصلی را اوچتی کړی نو ترکان به د دوی د جگړو چوپ نندارچیان نه وی، اوس موږ باید دا دعا وکړو چی د غرناطی اولس له وخت څخه وړاندی د ځان وژنی پریکړه ونکړی. تاسو دعا وکړی چی حامد بن زهره د خلکو په زړونو کی کومی ولولی راپارولی هغه سړی نشی.

ناڅاپه د بدریی پر څیره د مایوسی سیوری خپور شو ویی ویل:

کله چی د اولس مشران د نفاق او بی لاری لاره غوره کړی او کله چی فاسق او بد چاری خلك د اولس د تقدیر د پریکړو واکمن شی نو اولس به څه وکړای شی؟

له ما سره د هغوی په اړه هم څه ښه گومان نشته، هغوی پر حامد بن زهره د دی لپاره نه وو راټول شوی چی زړونه یی د ژوند له ولولو او د آزادی له جذبو ډك وو، بلکی د پسونو درمی غوندی د مرگ له ویری د لږ وخت لپاره پر هغه راټول وو.

اوس چی هغوی دا واوری چی د آزادی په لاره د وینو ډیوی بلوونکی به بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته رانشي، نو په دوی کی به زیاتره پردی داده شي چی له نورو قربانیو ورکولو څخه وژغورل شول. زه تا مایوسه کول نه غواړم خو کاشکی ما د غرناطی د اولس په اړه غوره نظر درکولی شوای. ما په شپاړس کلنۍ کې د غرناطې د آزادی په جګړه کی برخه اخستل پیل کړل، په ډیرو جګړو کی می د تیپانو پر تیپونو پتی ایښی دی، ما هغه غازیان لیدلی دي چی ارادی یی د فتحی او بری ضمانت بلل کیدی، چی غږ به یی وزو واورید له زمریانو سره د مقابلی حوصله ورسره پیدا کیده، زما د ژوند ملګری د هغوی له ډلی څخه یو ؤ. هغه د دی کلی مشر ؤ او له موسی بن ابی غسان سره یی په ډیرو جګړو کی برخه اخستی وه. د هغه پر بدن « ۱۱ » تیپونه وو، هغه له هغو زړګونو غازیانو څخه یو ؤ چی دښمن به یی د نامه په اوریدو په لړزه شو، که هغه مهال چا دا ویلی وای چی د دی غیرتی غازیانو د قربانی او اخلاص سره سره به یوه ورځ زموږ دغه لویی سوبی په ماتو بدلی شی نوزه او زما په څیر د اندلس هره لور به د هغه د مخ د شکولو لپاره تیاره وه، خو موږ ته خپل غداران، بی اهلیته واکمن او دسیسه کوونکی امیران تر بهرنی دښمن زیات خطرناك ثابت شول او نن دا حالت دی چی د اولس با نفوذه طبقه د غلامی درس ورکوونکو پر ځای د جهاد لارښوونکی خپل دښمنان بولی، زه ویریږم چی که د حامد بن زهره د شهادت خبر مشهور شی د اولس حوصلی به ماتی شی او غداران به پر دی خوښی کوی چی د جګړی له مصیبت څخه د تل لپاره خلاص شول، هغوی له دښمن سره د آزادی په معامله کی خپل کښتونه ، کوروونه، او شتمنی ژغورلی دی.

هغوی به د حامد بن زهره په اړه خلك داسی پوهوی چی هغه یو شر خوښوونکی او باغی ؤ او د خپل غرور په خاطر یی غوښتل اولس د بربادی په لاره رهی کړی.

سلمان وویل : ماته ستا له نوکرانو څخه معلومه شوه چی ته دی خپل ویجاړ کور ته څو شپی وراندی راستنه شوی یی، ایا په دغسی ګډو وډو حالاتو کی دا غوره نه وه چی ته له دی ځایه لری پاتی وای؟

بدریی ځواب ورکړ: زه هغه وخت له دی ځایه تللی وم چی دلته د ماشومانو او ښځو پاتی کیدل ممکن نه وو، که یوازی د ځان ژغورنی مسئله وای نو زه به په هر صورت له خپل میړه سره پاتی وای خو په دی کور کی تر ځلوېښت تنو زیات زخمیان پراته وو، په غرناطه کاختی وه او تول روغتونونه له ناروغانو ډك وو، کله چی زما خاوند ماته له زخمیانو سره د تلو امر وکړ نو انکار می ونکړای شو، هغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعده وکړه چې کله د دې کلي دفاع نا ممکنه شي نو له پاتې خلکو سره به زه هم ځان در رسوم، خو زما زړه هغه وخت هم دا گواهي راکوله چې دا زموږ وروستۍ ديدن دی، موږ «اندراش» ته نژدې پناه يووړه، هلته زما د ميړه د ماما کورنۍ اوسيږي.

کله چې پر کلي دښمن قبضه وکړه ځو تنه کډوال هلته راغلل هغوی راته وويل چې زما ميړه شهيد شوی دی، هغه يې د کور شاته ښخ کړی دی.

د اوربند نه وروسته زموږ په مخکې دوې لارې وې، يوه دا چې اندلس د تل لپاره پرېږدو او مراکش، الجيريا، او يا تونس ته ولاړ شو، دوهمه دا چې موږ له هغو لکونو انسانانو سره پاتې شو چې د دې خاورې نه بهر ځان ته د راتلونکې تصور نشي کولی، زه له هغو يتيمانو او کونډو سره اوسيدل غواړم چې ورور، خاوند او يا پلار يې زما له ميړه سره يوځای شهيدان شوي دي.

هغوی تر لږ ځنډه نور هم خبرې سره کولې بالاخره بدريې وويل:

ويخښې ستا سره په خبرو کې زما د وخت تيريدو ته پام نه شو ستا خوب ته ضرورت دی.

سلمان ځواب ورکړ: ته زما غم مه کوه، زه له خوب نه د سعيد په خدمت کې زيات آرام احساسوم.

: د سعيد د خدمت لپاره له مانه پرته دوې خدمتګارې نورې هم دلته شته، ته لږ خوب بايد وکړې امکان لرې تاسو ناڅاپي سفر کولو ته اړ شې.

بدريې دا وويل او خدمتګارې ته يې غږ وکړ، خدمتګاره له برنډې څخه کوټې ته ورننوته او له دې سره په بله کوټه کې د اسماء غږ اوچت شو.

بدريې وويل : لورې زه دلته يم. تر اوسه تر سهاره لا ډير وخت دی ته آرامه پر خپله بستره پريوزه زه دا دی درځم.

خو اسماً سترګې مښلې کوټې ته ورننوته څو شيبې يې په حيرانۍ سلمان ته کتل بيا ناڅاپه ور وړاندې شوه او نژدې ورغله ورته وې ويل : ته خو به زخمي نه يې؟

: زه بالکل روغ يم سلمان د هغې پر سر لاس ورکيښود

: مامې مور جانې ته وويل چې دی به خامخا راشي دوی راپورې خندل، ماتوله ورځ ستا د راتلو انتظار کاوه، کله چې باران پيل شو نو ومې ويل چې نه به راځې، بيا چې وليد ماما راغی نو ما داسې ګڼله چې ته راغلې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: لوری! د خبرو وخت نه دی، ده ته د خوب ضرورت دی ته هم ولاړه شه ویده شه.

بدریې دا وویل او بیا یې یوې خدمتګارې ته وویل: ته دی میلمستون ته بوزه.

سلمان جګ شو وېې ویل : نه! دی ته د زحمت ورکولو ضرورت نشته.

لږ څنډ وروسته چې دی خپلې کوټې ته ورننوت په نغرۍ کې اور بلیده او مسعود مخامخ ورته ناست ؤ او د ده چپنه یې ورته اړوله، سلمان یې چې ولید جګ شو چپنه یې پر میخ راوځړوله ویې ویل:

اوس به دا زر وچه شي، ولیدتینګار کاوه چې تاسو باید له میلمستون څخه بهر ونه وزئ. تاسو څه شي ته ضرورت لرئ؟

: نه ته ورځه ویده شه.

مسعود څو لرګي نور هم نغرۍ ته وروغورځول او له کوټې ووت.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پلاراو زوی

دلوی وزیر ابو القاسم په کور کی د هاشم بی وسی او نا چاری هره شیبه په زیاتیدو وه، هغه څو ځلی له محل څخه د وتلو هڅه وکړه خو د پهره دارانو او خدمتگارانو چلن دا ورته معلومه کړه چی دی د یو بندی حیثیت لری. ده هغوی ته بد رد وویل او اخطارونه یی ورکړل تر دی چی په غوسه یی یو خدمتگار پرڅپیره پر مخ وواهه، سلطان ابو عبدالله او لوی وزیر ابو القاسم یی وطن پلوری او غداران وبلل خو د محل پهره داران د ده د دی کنځلو او گواښونو څخه بی پروا وو، هغوی ظاهراً له ده سره په ډیر درناوی چلن کاوه خو د کوټی د دروازی څخه د ایستلو تورو پهره دارانو لری کولو ته چمتو نه وو.

له پهر· دارانو سره د ده د تولو پوښتنو . بوازی یو ځواب ؤ:

وزیر اعظم دا امر کړی دی چی ته دلته پاتی شی، هغهٔ وفرمایل چی ستا بهر ته وتل ډیر خطرناك دی، ځکه خو به د ده تر راتگه ته همدلته وی، اوس که ته بهر ته ولاړی او په لاره کی څه پیښه درته وشی نو هغه به زموږ څرمنی وباسی، موږ ته دا امر شوی چی تاته څه تکلیف نه وی خو دا لاربښونه راته شوی ده چی تاسو که بهر ته د وتلو هڅه وکړی نو له نیولو څخه به دی ډډه نه کوو.

هاشم د ابو القاسم د کور د ډوډی له خوړلو څخه انکار وکړ، ماسپښین یی د یخنی په پلمه وغوښتل چی بهر لمر ته کینی، وسله والو کسانو انگړ ته بوتلو، نژدی یو ساعت هغه سترگی پتی کړی او لمر ته یی سده ناست ؤ، بیا ناڅاپه جگ شو او د حویلی د غولی په لوری وراندنی ولاړ، خو لا له دروازی څخه پنځوس گامه لری ؤ چی پهره دارانو ور منډه کړه راوبی نیو او په زور یی د یوه کونج په کوټه کی بند کړ، اوس هغه د یوه وړی ځناور په څیر په کوټه کی قدم واهه.

هاشم پردی پوهیدلو ته ناکراز ؤ چی په غرناطه کی څه پیښیری. هغه به چی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا د تگ او یا راتگ په وخت کی د پښو ترپهار واورید ور غږ به یی کړ خو هغوی له ده څخه بی پروا شوی وو.

بالاخره له ډیر غم او غوسی څخه بی سیکه پر بستره ورو غورځید.

*****

د شپی یوه برخه تیره وه چی د کوټی دروازه خلاصه شوه، یو افسر او دوه خدمتگاران ورننوتل، یوه نوکر د مشال له لمبی څخه د کوټی ډیوه بله کړه، هاشم په هیله منه لهجه ورته وویل : د خدای «ج» لپاره ماته ووایه چی تر څه وخته به ستاسو بندی وم. په ښار کی څه تیرېږی او ابو القاسم چیرته دی؟

افسر ځواب ورکړ: په ښار کی بد امنی ده بلکی د بغاوت خطر دی، او لوی وزیر خپل.دوستان له دی هنگامی څخه لری ساتل غواړی، ته اندیښنه مه کوه، زموږ باور دی چی د ښار وضعه به ډیر زر ښه شی، اوس که ستا اجازه وی نو ډوډی به درته راوړی!

هاشم په غوسه ورته وویل : آیا دا نشی کیدای چی ماته زهر تیار کړی!

: ویخښنی! موږ د دی سوال ځواب نشو درکولی، افسر د بیرته گرځیدو په حال کی ځواب ورکړ.

هاشم چیغی کړی: د خدای «ج» لپاره ودریږه!

هغه ودرید هاشم ته یی راوکتل.

هاشم له لږ ځنډ وروسته وویل : د حامد بن زهره په باب پوښتنه کوم، آیا ابو القاسم د هغه د نیولو او یا وژلو امر کړی دی؟

افسر ځواب ورکړ: لوی وزیر ته د هغه په باب د څه امر کولو اړتیا نشته، د هغه معامله د غرناطی د هغو لکونو انسانانو سره ده چی امن غواړی او له هغه نه ځان ژغورل د دغو خلکو لومړنی فرض دی چی ورونه، پلرونه او زامن یی له دښمن سره دی. زما زوی هم د هغوی په ډله کی دی او اوریدلی می دی چی ستا هم دوه زامن په یرغملو کی تللی دی! ماته دا هم معلومه ده چی تا د هغه له شر څخه د غرناطی د ژغورلو ذمه واری منلی وه.

هاشم د درد په حالت کی چیغی کړی: زه ځان له دی شرمناکی دسیسی څخه لری ساتل غواړم، زه له کومی بدی څخه د ځنگ کولو او له کومی گناه د توبی او یا د کومی غلطی لاری پرځای د سمی لاری غوره کولو حق لرم او ابو القاسم ما له دی حق څخه نشی محرومولی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: که ستا په گومان سهی لاره دا وی چی غرناطه یو ځل بیا د جگړی په اور کی ښکیل کړی نو زموږ لومړنی او لویه ذمه واری به دا وی چی د غرناطی اولس د داسی سړی له شره وژغورو چی په خبرو بی ستا په څیر هوښیار خلك هم تر اغیزی لاندی راغلی، زه درسره وعده کوم چی د حامد بن زهره جادو به ډیر زر مات شی.

دا بی وویل او افسر له کوټی نه ووت، هاشم تر ډیره بی حرکته ولاړ ؤ، د هغه په ذهن کی ډیر خیالونه راګرځیدل.

*****

هاشم د غرناطی د پاچاهی له راتلونکی نه تر مایوسی وروسته له ابو القاسم سره مرسته کړی وه، او د خپل ضمیر د داډ لپاره تر ټولو لوی دلیل دا ؤ چی حامد بن زهره یا د کومی پیښی قربانی شوی دی یا د غرناطی له وضعی او بهرنی ملاتړ څخه دومره مایوس شویدی چی بیرته راتګ نه خوښوی، خو تیره شپه له هغه سره د ناڅاپی لیدو ورسته بی په زړه کی د امیدونو مړژواندی ډیوی بیا بلی شوی. حامد بن زهره ویلی وو چی که د غرناطی اولس څو میاشتی نور هم دښمن له ښاره بهر ایسار کړی نو ترکان به دوی مایوسه نه کړی، خو که دوی پخپله پر غلامی راضی شول نو له بهر نه به هیڅ څواك هم د دوی د سیاسی ګناهونو د کفاری ادا کولو لپاره را نشی.

کله چی هاشم له غرناطی څخه د حامد بن زهره د ایسارولو لپاره د هغه ځای د خلکو د بی حسی او مایوسی تصویر کاږلو نو د ده پر ذهن دا ویره سپره وه چی که هغه د خلکو په پارولو بریالی شی او جګړه بیا ونښلی نو هغه به د فتحی او ماتی څخه بی پروا ورسره ملګری شی، د دی به لومړنی نتیجه دا وی چی کوم کسان فردیناند ته د یرغمل په توګه سپارل شوی دی هغوی به د دښمن د کسات نخښنه شی.

د اولاد مینی دی، دی ته مجبور کړ چی ابو القاسم ته راشی خو بیا هم هغه ابو القاسم ته د زاریو په وخت کی هم خپل ضمیر ته پردی داډ ورکاوه چی که حامد بن زهره د غرناطی د اولس په غیرت راپارولو کی بریالی شو او زما زامن د دښمن له منګولو راخلاص شول نوزه به دوی د آزادی د بیرغ اوچتوونکو په لومړی کتار کی وینم، د ابو القاسم چلند د هغه په خوبوری ضمیر د متروکی د ګوزار کار وکړ. هغه په وار وار په زړه کی ویل : حامد بن زهره داسی وخت راغی چی اولس

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زهرو پیاله پر سر اړولې ده، کاشکې هغه څو هفتې دمخه راغلې وای، او مور د قوم له قاتلانوسره د خپل راتلونکې د ترلو له ذلت څخه ژغورل شوی وای.

آیا ماته له حامد بن زهره سره مرگ د ابو عبدالله او ابو القاسم غوندی وطن پلورو سره تر ژوند غوره نه ؤ؟

عمیر به خامخا پردی خبره خوښ وی چی د ابو القاسم او ابو عبدالله د خوښی په ترلاسه کولو سره مو کورنی د راتلونکو خطرونو څخه وژغورله، د ددی په سبب به فردیناند مور د غوره سلوك وړ وبولی، سلمی به هم د خپلو دوو زامنو په ورخوشی کیدو خوښه شی. خو که د حامد بن زهره اندیښنی رښتیا شوی او نصرانیانو د غرناطی له اولس سره هماغسی وحشیانه سلوك وکړ چی تر دی دمخه یی د نورو فتحه شویو ریاستونو له مسلمانانو سره کړی دی نو راتلونکی نسلونه به زما په اړه څه وایی؟

زه ابو القاسم ته ولی راغلم؟ زه باید له حامد بن زهره سره پاتی شوای وای، ما دخپلو زامنو لپاره د غلامی د ژوند پرځای د آزادی د مرگ آرزو ولی ونه کړه؟ کاشکی ما هغوی د فردیناند د قید څخه را ایسارولی شوای. اوس به څه کیږی او زه څه کولی شم؟

*****

هاشم به لږ څنډ پر کرسۍ کیناست او بیا به د خفگان په حالت کی جگ شو او قدم به یی واهه، نژدی نیمه شپه ناڅاپه دروازه خلاصه شوه یو پهره دار مشال په لاس کی ورننوت او ویی ویل : لوی وزیر صاحب ورغوښتی یی: هغه دا هم وفرمایل چی که تاسو خوب کوی نو غرض مه پری لری.

هاشم د وینو غوړپ تر ستونی تیر کړ او له څه ویلو پرته چوپه خوله له پهره دار سره روان شو. څو شیبی وروسته د مجلس په کوټه کی د ابو القاسم په مخ کی ولاړ ؤ. هغه یو ځل هاشم ته وکتل او په لاس یی تشو کرسیو ته اشاره وکړه ویی ویل : مهربانی وکړی!

هاشم زړه نا زړه د هغه په مخکی په یوه کرسۍ کیناست. څو شیبی دواړو چوپ یو بل ته کتل، بالاخره ابو القاسم وویل : زه افسوس کوم چی زما په غیر حاضری کی په زحمت شوی. ما خپلو خلکو ته دا لارښوونه کړی وه چی تا بهر ته پرینږدی. زما اندیښنه ده چی که تاسو یو ځل د جگړی د پلویانو په گیر کی ورغلی نو د بیرته راتلو هیڅ لاره به ونه مومی. هیڅ هوښیار سړی دا نه خوښوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له خپلو دوستانو څخه محروم شي. که ما ستاسو د ايسارولو هڅه نه وای کړې نو ښايي نن د الحمرا د دروازې په مخه کې زما پرخلاف په شعار ورکوونکو کې ترټولو اوچت آواز ستا وای.

هاشم ځواب ورکړ: که ما د غرناطې په اولس کې د ژوند څه نخښې ليدای، نو د دې پرځای چې حامد بن زهره د غرناطې له راتګه ايسارم کړم د هغه ملګرتيا مې کړې وه، بيا به ما د دې پروا هم نه درلوده چې فرديناند زما له زامنو سره څه ورړ سلوك کوي! ته بايد له نارو څخه پريشانه نشې، دا د هغو بې وسه انسانانو وروستي احتجاج دی چې د تباهی پر وروستي ګړنګ درېدلي دي، زما باور دی چې د غرناطې په کوڅو او واټونو کې به ډېر ژر د هديرو چوپتيا حاکمه شي.

ابو القاسم ووېل : ماته يې ووېل چې تاسو بهر ته تلو ته ډېر بې تابه يې؟

: ما غوښتل پردې وپوهيږم چې له حامد بن زهره سره مو څه چلند وکړ، خو دلته څوك له ما سره خبرې کولو ته تيار نه وو.

: موږ له هغوی سره کوم بد سلوك نه دی کړی، هغه د خلکو له پارولو څخه وروسته له ښاره ووت او موږ يې د لارې ترلو هڅه هم ونه کړه، زموږ معلومات داسې دي چې هغه به د غرنيو سيمو دوره وکړي او د قبايلو له منظم کولو وروسته به غرناطې ته د رضاکارانو را اسرل پيل کړي.

هاشم ووېل : کوم قبايل چې مايوسه شوي وي بيا جګړې ته دهغوی دتيارولو لپاره يوازې احساساتي وينا ګانې کافي نه دي ، او کوم چې تر اوسه په جګړه بوخت دي هغوی به دغرناطې پر اولس د اعتماد پرځای دا غوره وبولي چې همالته غرونوته د دښمن د راتلو انتظاروکړي هلته چې يو غيشي ويشتونکی د سلو تنو لاره بندولی شي ،د اوربند له ترون وروسته هغوی له موږ نه ډېرلرې شوي دي ،حامد بن زهره په هغه صورت کې بريالی کېدای شي چې ترکان اوبربريان زموږ مرستې ته راورسيږي ،هغه د ترکانو د سمندري ځواك دراتلو اميد واردي خوماته يې دا داډ رانکړای شو چې داوربند دمودې له پای ته رسيدو وړاندې به هغوی زموږمرستې ته راورسيږي.

ابوالقاسم ووېل : حامد بن زهره دغرناطې اولس ته هم کوم ډاډ من پيغام ورنکړای شو ،بيا هم هغه دښاريوزيات شمير خلك جګړې ته چمتوکړي دي ،امکان لرې ځينې قبايل هم دهغه دخبروتراغيزې لاندې راشي اوهغه دجګړې اوربل کړي دښمن تـه يوځل بيا دلوټ اووژنې پلمه برابره کړي ،دهغه هدف دادې چې موږ په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرحال له دښمن سره په جگړه کی کیوزو.له هغه سره داولس د هغو څلور سوه تنو غم نشته چی د اولس د تباهی د مخنیوی لپاره مودښمن ته یرغمل ومنل، هغه ته دا خبره هم هیڅ ارځښت نه لری چی کله قبایل غرناطی ته مخه کړی نو دښمن به بیا پر ښار د کلابندی صرفه نه کوی.

هاشم وویل : تاسو له دی ټولو اندیښنو سره د هغه د ایسارولو هڅه ونکړه؟

ابو القاسم ځواب ورکړ: د هغه ایسارول یوازی زما مسئولیت نه دی، په غرناطه کی په زرگونو داسی کسان شته چی د جگړی د بیا پیلیدو د پای په اړه فکر کوی.

هاشم څو شیبی د ابو القاسم پر سترگو سترگی ورښخی کړی بیا یی وویل :

که هغه په خپله خوښه چیرته تللی وی نو د دی مطلب دا دی چی هغه پخپله ستاسو پریشانی لری کړه.

: زه ستا په مطلب ونه پوهیدم!

: زما مطلب دا دی چی تاسو په غرناطه کی پر هغه لاس نشوای اوچتولی، خو له غرناطی څخه بهر به د هغه د امنیت په اړه په تاسو هیڅ ذمه واری نه وی.

ابو القاسمه! ته له مانه څه خبره پټوی، زه پردی پوهیدل غواړم چی تاسو له هغه سره څه ورسلوك کړی دی؟

ابو القاسم ځواب ورکړ: زه داسی احساسوم چی تاسو به زما پر کومه خبره باور ونکړی. ځکه خو به دا غوره وی چی تاسو نیغ له هغو کسانو سره خبره وکړی چی تر ما زیات معلومات لری.

: هغوی څوك دی؟

ابو القاسم لاسونه وپرقول او ویی ویل : اوس به درته معلوم شی.

هاشم تر څو شیبو پوری یوه او بله خوا کتل، بیا یی په مخامخ بله کوټه کی د پښو غږ واورید، دروازه خلاصه شوه او ده بیا په حیرانی عمیر او عتبه ته کتل.

ابو القاسم وویل : عمیره! ستا پلار د حامد بن زهره په اړه زیات اندیښمن و ته څه تسلی ورکولی شی؟

عمیر پلار ته وکتل خو د څه ویلو جرئت یی ونکړ، عتبه ور وړاندی شو ویی ویل : صیب! اوس د عمیر د ورونو په اړه ستا اندیښنه باید لری شوی وی!

حامد بن زهره چی په غرناطه کی کوم اور بل کړی ؤ هغه د تل لپاره گل شو، اوس خلك د هغو لیونیانو خبری نه اوری چی دغه لوی ښار یی په هدیره بدلول

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل او نور تاسو ته هم د دې ضرورت نشته چې قبايلو ته ولاړ شې.
هاشم په خپ غږ وویل : تاسو هغه وواژه!
عتبه د ځواب پرځای ابو القاسم ته وکتل، هاشم د درد په حالت کې خپل زوی ته وکتل او په زوره يې چيغه کړه:
عـمـيـره! زه له تا پوښـتـم، د خـدای «ج» په خـاطر راته ووايه چې زه په دې دسيسـه کې شريك نه وم، سـتـا لاسونه د حـامد بن زهره په وينو نه دي داغـدار شوي، زه له مرگه وړاندې دا اوريدل غواړم چې د غلامۍ، ذلت او رسوايۍ له منلو سره سره زماکورنی د اولس په وروستي گناه کې برخه نه درلوده، ته ولې چپ يې؟
ابوالقاسم وويل : هاشـمـه !زه سـتـا داحساساتوقدر کوم ،که ته دحـامـد بن زهره دوست وې موږيې هم دښمنان نه يو ،خوزمـا به پردې خبره بالکل باوررانشي چې ته ديوه له سره تيرسړي دولولو د تسکين په خاطردغرناطې نوره تباهي خوښوې .تا پردې حقيقت اعتراف کړی دی چې موږجگړه بـايللې ده ،ته پردې هم خبريې چې دغـرناطې دخلکو احـسـاسـات او جـوش به له شـعـارونو اوناروړاندې ولاړنشي ،اوبيا په قبايلوکې بيا زيات کسان داسې دي چې بې زړه اومايوس شويدي او هغه څو سرتيري چې تراوسه جنگيږي دانه خوښوي چې دغـرناطې دخلکولپاره له خپلو مورچلو څخه راووزي په يوه لږ مـحدوده سيمه کې په محلي ډول جگړې دفرديناند لپـاره دځه اندېښنې سـبب نشي کـيـدای ،داندلس دحـاصل ورکـوونکوسـيـمـو مـهـموښاروسنواوبندرونوله نيـولووروسته به دوی دوروستـي گـوزارلپاره په پوره ډاډ دمناسب فرصت راتلو انتظارکولای شي .کله چې دهغو سرتيرو وروستې څاڅکي وينې هم وبهيږي نوددوی پوځونه به دځه مزاحمت څخه پرته په هغو درو او گوټونو کې خپاره شي چې دغه خلك يې نه فتحه کيدونکې بولي.
حامد بن زهره ناڅاپه دا خطر را پيدا کړی ؤ چې امن خوښوونکې قـبايل هم د جگړې په اور کې ور ښکيل شي او فـرديناند هسې انتـقـامي چلن ته مـجـبـور شي چې له ويرې يې موږ د اوربند ترون ته مجبور شوي وو.
هاشمه! ته خپل زامن په خطر کې غـورځولی شې، خو د نورو د زامنو او ورونو ژوند په خطر کې اچولو حق نـه لرې، ته د لکونو انسـانانو څخه پردې مـاتې، بې وسی او مايوسی برسيره د ژوندي پاتې کيدو حق نشې اخيستلی.
عمير بوازې د ژوندي پاتيکيدوهيلي له ښکاره کولوپرته هيڅ گناه نه ده کړې.
هاشم په لړزيدونکې غـږ وويل : د دې لکونو انســانانو مــاته، بې وسی او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مایوسی د هغو غدارانو د دسیسو نتیجه ده چی زموږ د ماضی تول عظمتونه یی تر خپلو پښو لاندی کړی او د راتلونکی د امیدونو تولی ډیوی یی گل کړی دی.

حامد بن زهره اولس ته د هغو عیاشو، بی حسو او بی غیرتو چارواکو د گناهونو د کفاری ادا کولو له بلنی سره راغلی ؤ چی د اقتدار لپاره یی د هیواد راتلونکی له گوابنونو سره مخ کړی وه.

ابو القاسمه ! ته دا ویلی شی چی هغه یو له سره تیر او بی پروا سړی ؤ، او په دغو حالاتو کی له هغه نه د معجزی هیله هسی لیونتوب ؤ خو ته دا حق نه لری چی ووایی اوس قوم د ذلت پر ژوند رضا شوی دی ځکه خو حامد بن زهره قوم ته د عزت د لاری په گوته کولو هیڅ حق نه درلود. اوس چی په لکونو انسانان د ظلم او وحشت پرخلاف د جگړی له حق څخه د تل لپاره لاس پر سر شوی دی، ځکه هغه ستر انسان د وژلو لایق ؤ چی له دی حق څخه لاس اخستلو ته تیار نه ؤ اوس چی د ذلت او رسوایی ژوند زموږ په برخه شوی دی ځکه خو د آزادی د ژوند او یا غیرت د مرگ د لاری په گوته کوونکی گناهکاران دی.

حامد بن زهره د هغه نیك ذاته خلکو د ضمیر غږ ؤ چی ډیر بدمصیبتونه یی هم د الله له رحمت څخه نه مایوسوی. که موږ هغه ته له لاس ورکولو څخه انکار کولی او دا مو ورته ویلی چی موږ د دښمن پرغلامی رضا شوی یو او یوازی د ژوندی پاتی کیدو د ذلت او رسوایی د زغملو لپاره تیار یو نو نړۍ به د بی همته او نامردانو پیغور راکړی ؤ، بیا به هم موږ په همدی تمه ژوندی پاتی وو چی د اوسنی وخت تیاری به تل نه وی، موږ به د بیا راپاڅیدلو او سنبالیدو د مناسب فرصت په انتظار وو، موږ به د مایوسی په تیارو کی د هغو لاربنوونکو انتظار کاوه چی لارورکو قافلو ته د رڼا څلی کیږی او په یوه غږ یی په مړو رگونو کی د وینی حرکت توندیږی.

که حامد بن زهره په خپلو مقصدونو کی نه وای بریالی شوی هم دا امید به پاتی ؤ چی تردی بنه لیدونکی او پوهیدونکی او تردی د لوړو ارادو خاوندان به راپورته شی او زموږ راتلونکی نسلونه به د هغوی د ضمیر په رڼا کی د خپلی بقا او سلامتی لاره ووینی.

خو د حامد بن زهره وژل کیدل به د دی ثبوت وی چی موږ د دایمی تیارو سره نه یوازی خپل بلکی د خپلو راتلونکو نسلونو برخلیك هم تړلی دی. اوس به په دی تیارو هیڅکله هم رڼا رانشی، موږ به د هغو تیارو شپو مسافر وو چی لمن به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د ستورو او سپوږمۍ له وړانګو نه تشه وې، اوس به هيڅ سرتيرى هم د حامد بن زهره په پله د تلو هڅه ونکړي، هغه د دغه بدمرغه اولس په رګونو کې د ژوند د وينې وروستي څاڅکي ؤ، او په کومه ځمکه چې دا وينې تويې شوې هغه ښايي تر قيامته زموږ پر بې حسې ماتم وکړي.

د ابو القاسم حوصلې ځواب ورکړى ؤ شونډې يې وچيچلې او ويې ويل :

هاشمه!

د غرناطې د زياتې بربادۍ مخنيوى که ګناه وي نو د دې پړه يوازې پرما نه ده، تا پخپله پردې حقيقت اعتراف کړى ؤ چې موږ د بيا جګړې پيلولو توان نه لرو، ځکه خو که حامد بن زهره بيرته راغى هم د خلکو، راپارولو ته يې پريښودل لويه اشتباه ده، تا د دې خبرې ذمه واري منلې وه چې قبايل به د هغه له ملاتړ څخه ايساروې، اوس ته يوازې له دې ويرې خپل دريغ بدلوې چې د خلکو په مخ کې له رسوايي ويريږې. خو زما پرخلاف د خولې خلاصولو نه وړاندې پردې ښه غور وکړه چې ستا خپل زوى په دې ګناه کې نيغ ککړ دى.

ته به يوه يادوې ورځي خلك زما پرخلاف وپاروڵې شې، خو هغه با نفوذه خلك چې زامن او ورونه يې له دښمن سره برغمل پراته دي ستا تائيد او ملاتړ نه کوي. هغوى تاته ښايي د خولې چوله کولو موقع هم درنکړي. زه دا هم تاته ويلې شم چې د غرناطې هغه خطيبان او مفتيان چې پرخلکو يې اغيزه شته په هر صورت زما ملګرتيا کوي.

هاشم په ماته خوړلې لهجه وويل : که ما خلکو ته خپل مخ وربښکاروڵى شواى نو له هر څه وړاندې به مې په خپله بې غيرتي او بې همتي اعتراف کاوه، که زه چوپ پاتې شوم نو ستا له ويرې به نه وم، بلکې د خپل شرم او پښيمانۍ په سبب به چوپ وم.

مګر ته ګواه اوسه چې زه د حامد بن زهره پرځولو کې شريك نه يم.

ابو القاسم څو شيبې په غوسه او انديښنه هغه ته کتل بيا يې پر شونډو يو له حقارت څخه ډك تبسم خپور شو ويې ويل:

: تر اوسه يوازې څو تنو ته دا راز معلوم دى چې موږ غرناطه د هغه له شره وژغورله، او که ته خپله خوله چوپه وساتلاى شې.نو په هغوى کې به يو هم دا ونه وايي چې ستا زوى هم په دې وژنه کې شريك و. چاته به د دې شاهدۍ ويلو ضرورت هم نه وي چې تا د قبايلو د نه پاريدلو ذمه وارى منلې وه، ته له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت څخه انکار نشی کولی چی موږ د یوی کښتنۍ سپاره یو، توپیر یوازی دا دی چی ته پر موږ پره اچوی او د خپل ضمیر بار سپکول غواړی.
اوس تاته د خوب ضرورت دی، تر سبا پوری به دی طبعه ښه شی او ته به دا احساس کړی چی موږ د خپل ضمیر له فریادونو سره ژوندی پاتی کیدل غواړو. زه پردی خبره ډیر خفه یم چی حامد بن زهره وژل شوی، خو زه د دی پاچاهی وزیر یم چی اولس یی په خپلو ویتو د آزادی د ډیوی بلولو پرځای یوازی د بی وسی په اوښکو سودا او معامله کول غواړی، زه یی د هغه هدیری ساتونکی ټاکلی یم چی اوسیدونکی یی د کوم ژوندی انسان چیغی نشی زغملی، ته پخپله دا منی چی ما غرناطی ته د هغه د نه راتلو هڅه وکړه، آیا د دی مطلب دا نه دی چی ته د غرناطی له اولس څخه مایوس شوی یی او د نوی جګړی د دردونو او مصیبتونو څخه د ژغورل غوښتل؟ تاته اوس زما د پوښتنو د ځواب ارتیا نشته، زما باور دی چی دوی ورځی وروسته ته د البسین په څلور لاری کی د خلکو خبری واوری نو د حامد بن زهره یاد به دی نه پریشانه کوی. ابوالقاسم لاسونه وپړقول، یو وسله وال سړی کوټی ته ورننوت. ابو القاسم ورته وویل : دی میلمستون ته ورسوه.
هاشم څو شیبی په غوسه او پښیمانی ابوالقاسم ته کتل بالاخره یی وویل : که زه ستا بندی نه وم نو اجازه راکړه!
ابو القاسم ځواب ورکړ: خلك په نیمه شپه کی له خپلو بندیانو سره بحث نه کوی، که زه ستا دښمن وای هم په دی وخت کی به می رخصت نه و درکړی. تر سهاره آرام خوب وکړه، اوس د غرناطی وضعه ښه نه ده، تر اوسه د حامد بن زهره ملګری ډیر څك دی، امکان لری چی د بهر ته وتلو په وخت کی ورسره مخامخ شی، د حکومت د طرفدارانو معامله له تا سره توپیر لری. دوی به دلته د هغو تلو راتلو ته چندان اهمیت ورنکړی، خو ته د حامد بن زهره پخوانی آشنا او ملګری یی، که اوس ته هغوی زما له کوره د وتلو په حال کی ولیدی نو په زړونو کی به ډول ډول شکونه ورته پیدا شی، ته پاتی شپه همدلته ویده شه.
هاشم له نوکر سره روان شو خو چی دروازی ته نژدی شو ناڅاپه ودرید مخ یی راوګرځاوه او ویی ویل : عمیره! ته هم راسره راځه!
عمیر په یوازیتوب کی له پلار سره خبروته تیار نه ؤ، هغه په هیله من نظر ابو القاسم ته وکتل ابو القاسم یی پلار ته وویل: عمیر لږ ځنډ له ماسره پریږده، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ضروری خبری ورسره لرم.

هاشم په دردناك نظر څو شیبی عمیر ته کتل او بیا ناڅاپه له کوټی ووت.

*****

ابو القاسم عمیر او عتبه ته وویل : که د حامد بن زهره زوی غرناطی ته رارسیدلی وی نو موږ ته به زر احوال راشی، خو که هغه تاسو ته دوکه درکړی وی او په بل لوری تللی وی نو د هغه موندل ستاسو تر ټولو لویه ذمه واری ده، هغه ته په هیڅ صورت هم د قبایلو د راپارولو زمینه باید برابره نه شی. که هغه خپل کلی ته تللی وی نو عمیر ته به یی درك معلومول ګران نه وی.

عمیر وویل : صیب! تاسو د هغه غم مه کوی، موږ به سهار ته وخوځیږو.

ابو القاسم وویل : د ډیرو کسانو د بیولو ضرورت نشته، په اوسنیو حالاتو کی برالا له هغه سره د ټکر خطر نشو قبلولی، هغه ته باید معلوم نه شی چی د پلار قاتل یی څوك ؤ، او تاته باید د یوه دښمن پرځای د یوه دوست په حیث د هغه راقابو کول آسانه وی. ته اوس تلای شی، پلار به دی انتظار کوی، خو هغه ته د دی ویلو ضرورت نشته چی ته چیرته روان یی. زما باور دی چی تریو دوه ورځو پوری به د هغه غم او غوسه لری شی.

عمیر وویل : صیب! زه له هغه سره له مخامخ کیدو ویریږم.

ډیر ښه! ورځه اوس له هغه سره خبری مناسب نه دی. زه به سهار ته هغه ته د تسلی هڅه وکړم.

سمدستی د سعید راپیدا کول ضروری دی، د هغه اهمیت یوازی پردی نه دی چی هغه د حامد بن زهره زوی دی او د جګړی پلویان به یی د لاس اله کړی د حکومت پرخلاف به یو توپان را اوچت کړی بلکی د هغه په راقابو کولو سره به حکومت ته د حامد بن زهره د بهرنیو ملاتړ کوونکو نیول اسانه شی، د فردیناند پردی باور دی چی کومو بیړیو هغه د سمندر پر څنډه پلی کړی دی هغوی بهرنی جاسوسان هم راوړی دی. که د سعید په واسطه د هغوی درك ته معلوم کړای شی نو فردیناند به دی دا خدمت هیڅکله هم هیر نه کړی. سمدستی باید د حامد بن زهره د وژلو خبر پټ وساتل شی. که د هغه ملګرو دا خبر مشهور کړ هم تاسو څانونه تری بی خبره ښیی.

عتبه وویل : موږ ته دا معلومه وه چی که موږ دا خبر مشهور کړ نو خلك به پر موږ شکمن شی، ځکه خو ما خپلو ملګرو ته پخوا دا ویلی وو چی باید پټه خوله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی. که د هغوی کوم ملګری دلته رارسیدلی وی نو تر سبا پوری به دلته کربړی پورته شی، د پهره دارانو په اړه موږ له پخوا نه ډاډه نه وو او اوس خو دا خبره هم ثابته شوی چی د هغوی مشر پټ له باغیانو سره ملګری شویدی، د پولیسو کوم کسان چی له موږ سره استول شوی وو هغوی هم د خپلی ذمه واری ښه احساس نه دی کړی، که د هغوی مشر خپل ملګری له دوهم ځلی غیشو ویشتلو څخه نه وای ایسار کړی نو هغو پاتی دری تنو به هم د ژغورنی زمینه نه وه موندلی.

زه پدی خبره خفه یم چی موږ له څو میله اوږده چکر وروسته راورسیدو خو د پولیسو شپږ کسان چی نیغ پر سرك را استول شوی وو تر اوسه پوری ورك دی.

ابو القاسم وویل:

تاسو له پهره دارانو څخه پوښتنه کړی ده؟

: نه! موږ له لویدیځی دروازی څخه ښار ته راغلو او نیغ کوتوال ته ورغلو، خو هغه ته هم تر هغه مهاله خبر نه و ورغلی. ما پر هغه ټینګار وکړ چی زر تر زره د هغوی درك معلوم کړی او بیا دلته تاسو ته خبر درکړی، که له دی پیښو څخه ستاسو خبرول ضروری نه وای نو موږ به هم ورسره تللی وو، اوس به موږ بیا هغه ته ورشو.

عمیر وویل : موږ په یوه سپور پسی ورغلو او دوه نور ناڅاپه چیرته ورك شول، امکان لری هغه موږ ته دوکه راکړی وی او بیرته سرك ته وتلی وی او د پولیسو د ډلی کسانو ته یی درك معلوم شوی وی، دا هم کیدای شی چی هغوی تر اوسه هغه نیولی وی او په ډاډه زړه بیرته راغلی وی.

ابو القاسم وویل : دا هم کیدای شی چی هغوی تر اوسه د هماغه سپاره په تعقیب کی وی، په هر حال تاسو کوتوال ته ورشی او درك یی معلوم کړی. که کومه داندیښنی خبره وه هغه ته ووایی چی سملستی ما خبر کړی وروسته بیا ستاسو ذمه واری دا ده چی سعید پیدا کړی.

*****

د ابو القاسم د ساتونکو ډلی مشر کوټی ته ورننوت او ویی ویل : صیب! کوتوال د حاضریدو...!

ابو القاسم یی خبره بشپړولو ته پری نښوده چیغه یی کړه : هغه راوله! هغه په بیړه له کوټی نه ووت او یوه دقیقه وروسته کوتوال سیلیدلی کوټی ته ورننوت، د هغه جامی په ختو کی لیت پیت وی او پرمخ یی هم د ختو څاڅکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارېدل.

هغه وویل : صیب! پرسرك د څلورو تنو مړي وموندل شول او د پاتې دوو نورو لټون دوام لري.

ابو القاسم په حیرانۍ وپوښتل : څلور واړه د پولیسو کسان دي؟

: هوکې!

: د هغوی وژونکي روغ خلاص شویدي؟

: صیب! تر اوسه له هغو څلورو پرته د بل چا مړي موږ نه دي موندلي، زموږ یو سړی د تومانچې پر ګولۍ وژل شویدی او پاتې نور دري..

ابو القاسم په غوسه شو ویې ویل : احمقه! زما له دې سره هیڅ مینه نشته چې دوزخ ته ستا د خلکو د لیږلو قاتلانو څه ور وسله کارولې ده، ته باید اوس دا هڅه وکړې چې تر سهاره د خپلو دوو نورو ملګرو مړي هم پیدا کړې، چې هغوی زخمي د دښمن لاس ته نه وي ورآغلي که داسې وي د ځان د ژغورنې په خاطر به تاسو قرباني ته وتړي، د هغوی موندل او خولې یې ګنډل زما نه ستاسو مسئولیت دي.

کوتوال په دې اړه د نور څه ویلو جرئت ونه کړ او حیران حیران یې ابو القاسم ته کتل.

ابو القاسم لږ نرم شو ویې ویل : تاسو مړي څه کړل؟

: صیب! مړي مودلته راوړي!

: ابو القاسم چیغې کړې: دلته زما کورته!

: نه صیب، مړي به د هغوی کورونو ته ورسول شي.

: د څه لپاره؟

: صیب! که یې دلته راوړل مناسب نه ګڼې نو په لاره کې به یې ایسار کړو.

: زما پردې څه کار نشته چې تاسو مړي چیرته غلې کوئ، خو زه دا درته وایم چې که خلکو ته دا معلومه شوه چې حامد بن زهره وژل شوی دی نو دا مړي به پر تاسو شاهدي وایي چې د هغه په وژلو کې مو لاس درلود، د خدای «ج» په خاطر ماته داسې مه ګوره!

عتبه کوتوال ته وویل : تاسو زر تر زره د مړیو بندوبست وکړئ او د هغو نورو دوو تنو د موندلو هڅه وکړئ، له هغې وروسته په غرناطه کې د حامد بن زهره د ملګرو لټون پیل کړئ. تاسو له پهره دارانو څخه پوښتنه وکړه؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: هوکې! هغوی وویل چې تر اوسه هغوی ښار ته نه دی راغلی خو زه پر هغوی اعتماد نشم کولی.

ابو القاسم وویل : کاشکې تا دي ړ، خپلو کسانو په اړه هم داسې پام درلودای. د خدای په خاطر نور زما وخت مه ضایع کوه ورځه!

کوتوال له کوټې نه ووت.

ابو القاسم عتبه او عمیر ته وکتل: .تاسو سهار د سعید د کلي په لور ولاړ شئ، کېدای شي چې هغه د پولیسو د کسانو له وژلو وروسته غرناطې ته تر راتګ دا مناسبه بللې وي چې همالته پناه واخلي، خو څوك باید پردې پوه نه شي چې تاسو د هغه دښمنان یئ، په کلي کې پر هغه د حملې ضرورت نشته، موږ چې د هغه د پټېدو ځای پیدا کړو مناسب ګام به اوچت کړو.

*****

هاشم په زړه یو له زغم نه وتلی بوج احساساوه او د میلمنو حجرې ته ننوت، تر لږ ځنډه یې په ناکراری قدم واهه، هغه ته دا خبره له باور نه لرې ښکارېده چې حامد بن زهره شهید شوی دی، او په زړه کې یې په وار وار ځانته دا ډاډ ورکاوه چې ابو القاسم یو خیالي داستان ورته اورولی او د ده د ازمویلو هڅه یې کړې ده، ښایي هغه نیول شوی وي او ابو القاسم د هغه د وژلو د امر څخه وراندې غوښتل دا معلومه کړي چې د هغه د دوستانو عکس العمل به څه وي، خو بیا به ناڅاپه د عمیر څیره مخې ته ورغله او زړه به یې ولوید، لږ ځنډ وروسته هغه له زغم نه وتلی فشار احساس کړ، له کوټې راووت په برنډه کې یې یو وسله وال پهره دار مخې ته ورغی او ورته ویې ویل:

: صیب تاسو چېرته ځئ!

: زه له صدر اعظم سره یو ه مهمه خبره کوم.

: صیب! تاسو تر سهار د مخه له هغه سره نشي لیدای، هغه دننه تللی دی؟

: ماته معلومه ده، تاسو هغه ته ووایی چې زه مې یوازې له زوی سره لیدل غوارم.

ستا زوی!

: هو هغه د ابو القاسم په کوټه کې دی.

: صیب! زه اوس د هغه کوټې ته چېرته تلای شم!

: تاته د دې ضرورت نشته چې د هغه کوټې ته ورشې، زه دا غوارم چې عمیر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لومړي وزير سره د مجلس نه وروسته ماته راشي. څکه خو ته کوم نوکر ته ووايه چې هغه له کوټې نه راووزي زما پيغام دې ورکړي که نه نو زه به يې پخپله په لاره کې ودريږم.

: نه صيب! تاسو پخپله کوټه کې استراحت وکړی. زه د هغه درك درته را معلوموم.

پهره داردا وويل او له هغه ځايه ولاړ، هاشم کوټې ته د ننوتلو پر ځای په برنډه کې قدم وهل پيل کړل. د فکر د خرابی په سبب په سخته يخنی نه پوهيده څو دقيقې وروسته پهره دار بيرته راوګرځيد له هغه سره د ساتونکو د ډلی مشر هم ؤ چې د ورځې يې هم له ده سره ملاقات شوی ؤ پهره دار څو ګامه وړاندې ودريد افسر هاشم ته نژدې ورغی وېې ويل:

: صيب ! عمير خو ډير څند وشو چې تللی دی او صدر اعظم اوس د ښار له څو مشرانو سره مجلس کوی.

د هاشم زړه ولويد په لويدلی غږ يې وپوښتل : عمير چيرته تللی دی؟

: صيب! ماته هيڅ معلومات نشته، که کومه ضروری خبره وی نو زه به سهار څوك د هغه په لټون پسې ور وليږم اوس تاسو بايد استراحت وکړی.

هاشم د وړاندې تلو هڅه وکړه وېې ويل : نه زه يې همدا اوس د لټولو هڅه کوم. خو افسر يې سمدستی مخې ته ورغی وېې ويل : زه د دې ګستاخی بخښنه غواړم خو تاسو د لومړي وزير له اجازې پرته له محل څخه نشی وتلی. اوس پهره دار تاسو ته د مانۍ د دروازې خلاصولو جرئت نشی کولی.

هاشم له غوسی شونډې وچيچلی وېې ويل : زه له صدر اعظم سره خبری کول غواړم.

: صيب ! تاسو اوس له هغه سره نشی ليدای، او بيا افسر بيرته مخ واړاوه.

هاشم په پوره زور هڅه وکړه چې چيغی کړی خو غږ يې په کومی کې بند شو، هغه غونبتل چې منډه واخلی خو په پښو کې يې د ځان بوج پورته کولو توان نه ؤ.

هغه په دواړو لاسونو د برنډې پايه ونيوه او په رډو رډو يې پهره دار ته کتل، ساه يې ورو ورو تونده شوه او د درد په څپيکو کې يې د زړه درزا ورو ورو کراريدله، بيا يې ناڅاپه لاسونه بې سيکه شول او دواړه ګونډې يې پر ځمکه ولګيدې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهره دار په بيړه راوړاندې شو او غوښتل يې هغه تر متهو ونيسي، خو ده يې لاسونه وښنډل او بيا يوې خواته ړنګ شو، بيا يې څو شيبې پښې ووهلې او د وروستي ځل لپاره يې اوږده ساه واخستله او د سترګو مخې ته يې د مرګ دايمي تياري خپرې شوې.

پهره دار يې په وارخطايي په بې روحه بدن لاسونه وهل او بيا يې د خپل افسر د خبرولو لپاره منډه واخستله، لږ ځنډ وروسته درې تنو د هغه مړي کوټې ته يوړ او په بستره يې څملاوه، د ساتونکې ډلې مشر يو پهره دار ته د دروازې ترلو او د کلکې پهرې هدايت ورکړ او بيا يې يو بل تن ته وويل چې سمدستي ولاړ شه په دروازه کې دا امر وکړه چې څلور تنه همدا اوس په کوتوال پسې ورشي، هغه ته دا ووايې چې له دروازې بهر يوه ګاډې تياره ودروې او هم ورته ووايې چې د لومړي وزير درسره ضروري کار دی.

: صيب! که تاسو غواړئ چې عمير را پيدا کړئ نو د کوتوال راوستلو ته هيڅ ضرورت نشته، کله چې دوی د صدر اعظم له کوټې راووتل نو ما واوريدل چې هغه عتبه ته ويل چې اوس سهار کيدونکی دی ځکه خو خپل هستوګنځي ته د تلو پرځای له ماسره ولاړ شه.

افسر وويل : نه اوس عمير ته د دې خبر ورکول ضرور نه دی. سمدستي خو په دې ماڼۍ کې دننه او بهر هيچا ته هم بايد د هاشم د مرګ په باب معلومات ونه شي او په ياد ولرې چې دا د لومړي وزير امر دی.

*****

لا سپيدې نه وې چاودلې چې يوه نوکر عتبه په زوره زوره وخوځاوه او ورته وې ويل : صيب! زه د دې ګستاخي بخښنه غواړم خو کوتوال همدا اوس له تا سره په ليدو ټينګار کوي، هغه وايي چې لومړي وزير را استولی يم.عتبه ډېر په زحمت خپله غوسه راقابو کړه وې پوښتل: هغه چيرته دئ؟

: صيب! هغه بهر په ګاډۍ کې ناست دی، ما هغه ته د ملاقات په کوټه کې د کيناستلو وويل خو هغه وايي چې زما بيړه ده او د عمير په موجوديت کې زما دننه راتګ ښه نه دی. دوه تنه سپاره نور هم ورسره دي، ما ورته وويل چې هغه اوس ويده دی خو دوی ويل چې ضروري پيغام يې راوړی دی.

عتبه له بسترې راپورته شو پايزار يې پښو کړ او نوکر ته يې وويل چې د هغه پر اوږو ور واچوله. څو شيبې وروسته عتبه د کور دروازې ته ورسيد کوتوال چې وليد

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ګاډي نه پلي شو او ویې ویل : وبخښئ یې وخته مې له خوبه راپورته کړی، خو ستاسو خبرول ضروري وو، او د لومړي وزیر هم دا مشوره وه چې د هاشم په باره له تاسو سره مشوره وکړم.

عتبه وویل : مګر موږ خوله پریکړې وروسته له هغه ځایه راووتو، چې ترڅو موږ د خپل پروګرام له بری وروسته بیرته نه یو راستانه شوي نو هغه همدلته وساتي، عمیر هم پردې پریکړه څه اعتراض نه درلود چې که د هغه پلار د څه اندیښنې سبب کیدای شو نو تر سهاره یې تردې مناسب ځای ته استولی شي.

: زه د دې لپاره راغلی یم چې درته ووایم چې هاشم مړ شو، زه چې کورته ورسیدم. بیرته هلته د ورتلو امر راته وشو، د هاشم زړه ناڅاپي ودرید، اوس یې مړی له هغه ځایه د یوه حکومتي طبیب ځای ته رسول شویدی، او هغه ته یې دا لاربښونه کړې چې سمدستي له دې راز څخه څوك باید خبر نه شي.

صدر اعظم غواړي پردې وپوهیږي چې که عمیر پردې خبره خبر شي عکس العمل به یې څه وي؟

عتبه د هاشم د مرګ په اړه له څو پوښتنو وروسته وویل : عمیر به په مناسب وخت کې خبر کړای شي، اوس هغه پر شرابو مدهوشه پروت دی، له هغه سره یوازینۍ اندیښنه دا وه چې که سهار ته موږ د سعید د لټون په غرض کلي ته ولاړ شو نو لومړی وزیر د ده پلار راخوشي نه کړي. هغه چې څومره د حامد بن زهره له زوی څخه ویرېږي تر هغې زیات له خپل پلار سره د مخ کیدو څخه ویره لري. اوس به هغه په خپل کلي کې په پوره ډاډ خپلو مشغولتیا و ته دوام ورکړي، او چې کله زموږ سفر پای ته ورسیږي نو دی به موږ ته د څه پریشانۍ سبب نه وي، په دې ښار کې چاته دا باید معلومه نه وي چې هاشم تیره شپه د ابو القاسم په ماڼۍ کې د هغه میلمه ؤ. که نه نو د هغه په ناڅاپي مرګ همدا نتیجه اخستل کیږي چې موږ د حامد بن زهره یو بل ملګری هم له خپلې مخې لرې کړ.

کومو خلکو چې هغه هلته لیدلی ؤ تاسو هغه هم ښه وپوهوی.

: خو د هغه مړی؟

: عتبه ځواب ورکړ: د هغه د لاش خوندي کول تر ټولو مهم کار دی او زما په ګومان په دې کار کې ته زما مرستې ته ضرورت نه لرې، موږ د ضرورت په وخت کې داهم مشهوروالای شو چې هغه د حامد بن زهره د لټولو لپاره چیرته تللی دی.

یا هغه د خپلو بندي زامنو لپاره اندیښمن ؤ او لومړي وزیر هغه ته یو سپارښت لیك ورکړ او سیتنانې ته یې واستاوه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عاتکه د بدرېي کره

غرناطی ته د تللیو کسانو په اړه عاتکیه د څه خبر په انتظار وه، سهار یې چې لمونځ ادا کړ د سعید دوی کره ورغله په زبیدی او منصور یې ټینګار وکړ چې که د غرناطی څخه څوك راغلل ماته سمدستي احوال راکړه، پر دې سربیره د هغی ناکراری شیبه پر شیبه زیاتیدله، له ډېره زیات انتظار وروسته لمر ته د کیناستلو په پلمه بام ته وخته هلته به یې کله له کندی پوری غاړی د سعید دوی کورته کتل او کله به یې شمال لوری ته د غرناطی لاری څارلې.

چې کله به یې له درې نه پوری غاړی ته پر کوم سپاره سترګی ونښتی نو د زړه درزا به یې ورسره زیاته شوه خو چې کله به هغه له خوړ نه له پوری وتلو وروسته د سعید دوی د کور پرځای بل لوری ته مخه کړه نو د دې پر تندی به د مایوسی سیوری خپور شو.

هغې اراده وکړه چې کوزه شي چې ناڅاپه یې یو سپور ولید د هغه اس ورو ورو کندی ته ښکته کیده، خوړ ته نژدی یې لږ ځنډ هغه له سترګو پناه شو او چې بیرته یې سترګی پری ولګیدی نو مخه یې د کندې پورې غاړې ته د کلی بلې غاړې کوړونو ته وه، او لږ ځنډ وروسته دی سلمان لیده چې د سعید دوی کورته ننوت.

دی منډه واخستله او د زینو په لوری ولاړه، نیمایی زینی ته چې کوزه شوه پام یې شو چې سلمی ورته ګوری لږ خجالت شوه یوه شیبه ودریده خو بیا ورو ورو راکوزه شوه په انګړ کی یې د بهرنی دروازی په لوری مخه وکړه چې سلمی پری غږ کړ:

لوری چیرته ځی؟

: د منصور دوی کره کاکا ناوی! هغی بی له دی چی مخ راواړوی دا وویل او ګړندی له کوره ووته.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ څند وروسته چې دا له خوږ ته تیریدله منصور یې ولید دی ته یې وویل : زه ستا په لور در تلم، بیا په منډه ورغی د دې په څنګ کې ودرید.

: هغه میلمه بیرته راغی او همدا اوس له تا سره لیدل غواړي.

عاتکې وپوښتل : هغه ستا د بابا په باب څه ونه ویل؟

: نه!

: هغه دا هم ونه ویل چې سعید او جعفر به څه وخت راشي؟

: نه هغه تاته کوم ضروري پیغام راوړی دی. ښه وشول چې ته مې دلته مخې ته راغلې، هغه په وار وار راته ټینګار کاوه چې زه د بل چا د وړاندې هم درته ونه وایم.

: هغه خو به ټپي نه وي؟

: بالکل روغ رمټ دی.

عاتکه لږ دړه شوه او له هغه سره روانه شوه، کله چې د منصور دوی کورته ورسیده سلمان یې ولید چې په غولي ولاړ و له زبیدې سره یې خبرې کولې. هغه یوه شیبه تم شوه، بیا ور وړاندې شوه او په سوالیه نظر یې سلمان ته وکتل.

سلمان زبیدې ته وویل : تاسو منصور دننه درسره بوزی، زه له دې سره یوه ضروري خبره کوم.

زبیده ور وړاندې شوه او منصور یې تر لاس ونیو او هغه زړه نا زړه ورسره روان شو.

عاتکه وارخطا شوه وې ویل : د منصور دننه استول ضرور نه وو کوم خبر چې ماته د زغم وړ وي هغه د حامد بن زهره د ملسې لپاره هم له زغم نه وتلی نه شي کیدای. موږ ټول ډېرو خبرو له اوریدو سره روږدي شوي یو.

سلمان وویل : کاشکې ما تاته ښه خبر راوړای شوای، سعید په یوه پیښه کې ټپي شوی دی.

عاتکې وپوښتل : ستا پردې باور دی چې تر دې بد خبر خو به دې نه وي راوړی؟

: د سعید په اړه زه دا درته ویلی شم چې حالت یې د خطر نه بهر دی.

: زه د هغه د پلار په اړه درنه پوښتم، چې ماته د هغه په خاطر استولی وي. او د خدای «ج» په خاطر ته زما حوصله مه ازمویه!

سلمان ځواب ورکړ: هغه د خپل بدمرغه اولس د ګناهونو کفاره اداء کړې ده،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه د لارې ترلو په خاطر زما تولې هڅې ناکامې شوې. او چې کله پرې ـ برید وشو زه ورسره نه وم. هغه د شپې ـ ـال ناڅاپي له غرناطي څخه د وتلو پریکړه کړې وه.

«هغه شهید شو»، إنا لله و إنا الیه راجعون». عاتکه څو شیبې هکه پکه ولاړه وه، بیا یې په ژړغوني آواز وپوښتل : سعید چیرته دی؟

سلمان وویل : له تیپې کیدو وروسته یې غرناطي ته نږدې یوه کلي ته رسولی دی، هغه اوس د ډیرو اعتمادي خلکو تر ساتنې لاندې دی. او زه د دې لپاره راغلی یم چې هغه د بې هوښي په حالت کې په وار وار ستا نوم اخلي.

: ته به ما هغه ته بوروولې؟

: هوکې خو له دې ځایه په وتلو کې ته باید ډیر زیات پام وکړې. د حامد بن زهره قاتل د هغه د زوی په لټه کې دی، که په تا پسې له شانه څوک د سعید د غلي کیدو ځای ته ورسیدل بیا به د هغه ساتنه ډیره گرانه شي. هغه بنايي ډیرې ورځې نور هم د تگ راتگ وړ نه وي. ته زما پر اس سپره شه موږ باید بیله ځنډه هلته د رسیدو هڅه وکړو.

: او ته به څه کوې؟

: زه پلې تلای شم.

عاتکې وویل : نه تاته د پلي تگ ضرورت نشته، زموږ په طبیله کې اوس هم دري اسونه ولاړ دي، تاسو پر خپل اس ولاړ شئ او د خوږ نه پورې غاړې ته زما انتظار کوئ زه به ډیره ژر هلته ځان دررسوم.

سلمان وویل : سعید د غرناطي د لارې پر سر په یوه کلي کې دی، خو تاسو په کور کې چاته مه وایئ چې ته چیرته روانه یې.

عاتکې وویل : په داسې حال کې بیا له دې ځایه زموږ یوځای وتل سهي نه دي، که په لاره کې چا ولیدم نو پردې پوهیدل به ورته گران نه وي چې زه چیرته ځم.

: تا په لاره کې یوه ویجاړه کلا لیدلې ده؟

: هوکې! هوکې!

: نو ته هغې کلا ته ځان رسوه او زما انتظار کوه. زه به عامه لاره پریږدم په بله لاره هلته ځان رسوم. دوهمه لاره ډیره اوږده او سخته ده، ځکه خو که لږ وځنډیدم اندیښنه مه کوه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان وویل : کـه زه په کـوم سبب کـلا ته ونه رسـیدای شـوای نو ته هلتـه د ایساریدو هڅه مه کوه، د کلا نه وړاندی د غرناطی سرك د یوه کلی په مـینځ کی تیر شویدی، هلته به د سرك کیڼ لوری ته یو جومـات درته ښکاره شی چی له هغو نه څو گامـه وړاندی د کلی د رئیس کور دی، چی سعید پکی دی، تاسو بی غمـه ور ننوزي د کـور اوسـیـدونکی به سـتـا د ورتگ په انتظار وی، او تاته به ددی ضرورت نه وی چی ځان ور وپیژنی.

: ما له بهر څخه هغه کور لیدلی دی، تاته یی د دومره بیان ضرورت نشته، تا زبیدی ته ویلی چی سعید هلته دی؟

: نه! ما هغوی ته یوازی دومره ویلی دی چی ما عاتکی تـه یو ضروری پیغـام راوړی دی.

عاتکی وویل : اوس زه دا احساسوم چی د سعید لټوونکی خامخا دلته راځی، ځکه خو ته زبیده ښه وپوهوه چی که څوك د سعید په باب پوښتنه وکړی دا دی دا ورته ووایی چی یو نا آشنا سړی عـاتکی ته کـوم پیـغـام راوړی ؤ او اوس هغـوی دواړه جنوب لوری ته ولاړل.

عاتکی چی دا وویل پر اس یی پښه واړوله او ولاړه خو چی سلمان وړاندی گام واخست زبیده او منصور یی مخی ته ورغلل.

زبیدی په شاکی لهجه وویل : تاسو له موږ نه څه خبره پټوی!

سلمان ځواب ورکړ : زما د احتیاط سبب دا نه دی چی پر تا اعتمـاد نه لرم، کله چی جعفر بیرته راستون شی نو ټوله کیسه به درته وکړی.

: زه د سعید او د هغه د پلار په باب پوښتنه کوم هغوی خو په خیـریت دی که نه!

: زما له هغوی سره ملاقات ونشو.

: مگر تا خو ویل چی د سعید له لوری دی عاتکی ته څه پیغام راوړی دی؟

: د هغه پیغام د یوه بل سړی په لاس ما ته رارسیدلی دی. جعفر به نن یا سبا ، راورسیږی، زه یوازی دومره درته ویلی شم چی سـعـید په غرناطه کی نه دی،هغه چیرته غلی شوی دی، هغه تـه په کلی کی د هاشم له لوری خطر ؤ. ځکه هغه دلته را نه غی اوس کـه هاشم یا د هغه ملگری دلتـه راشی او له تاسو څخه د سعید په باب پوښتنه وکړی نو تاسو یوازی دومره ورته ووایی چی یوه نا آشنا د هغه له خوا یو پیـغـام عـاتکی تـه راوړ او بیرته ولاړ او هغـه موږ ته یوازی دومره وویل چی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعید جنوب لوری ته تللی دی.

زبیدی وویل : که هاشم د هغه دښمن وی نو زه بیا دا کله ورته ویلی شم چی سعید کوم لوری ته تللی دی؟

سلمان له لږ فکر وروسته ورته وویل : کیدای شی هغه کوم بل لوری ته تللی وی، او موږ د هغه پلټونکی د الفجاره په لاره برابر کړو او له دوی سره څه مرسته وکړو، زه تاته تولی خبری نشم کولی. سمدستی همدومره ویل کافی دی چی که تاسو د هغوی د دښمنانو پام الفجاره لوری ته ور واړوی نو لوی خدمت به ترسره کړی.

: ستا باور دی چی هاشم د سعید دښمن شویدی؟

: موږ ته به ډیر زر معلومه شی.

سلمان دا وویل او پر اس یی پښه واړوله، زبیدی د نور څه ویلو حوصله نه درلوده.

سلمان د اس د جلب له نیولو وروسته وویل : منصوره! ته باید پریشانه نشی، امکان لری ستا ماما تا ځان ته ور وغواړی.

: ته بیا راځی؟

: إن شاء الله زه خامخا راځم. خدای پامان!

سلمان دا وویل او اس یی پونده کړ.

*****

عاتکی له اوږدی او یوی غرنی سختی لاری مزله وروسته له هماغه ژور خوړ څخه تیره شوه چی دوهمه ځنډه یی د هغه ویجاړی کلا له جنوبی دیوال سره نښتی وه، دی له ځانه سره توره، لینده او غشی را اخستی وو.

کله چی دا له سرك څخه څو گامه لری وه سلمان یی ولید چی زر زر یی شاته کتل او راواوښت، هغه زر د لاس په اشاره ورته وویل : زر راشه!

عاتکی خپل ستومانه اس پونده کړ او د سترگو په رپ کی د هغه ځنگ ته ورغله، سلمان د اس جلب ونیو او گړندی د کلا د ماتی دروازی له لاری دننه ننوتل.

عاتکی په ویره تری وپوښتل : څه وشول، ستا اس چیرته دی؟

سلمان د کلا په بله گوښه کی ودرید ویی ویل: څو تنه سپاره دی لوری ته را روان دی. ما په وړاندی غونډۍ ولیدل چی ښکته راکوز شول، تاسو زر هغه برج ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ورسوی.

عاتکه له اس څخه پلی شوه او په منډه د برج زینو ته ورسیده سلمان د هغې اس په نژدې یوه کوټه کی له خپل اس سره وتاړه له خپلی کڅوړی څخه یې تومانچه را وایستله او په منډه د برج د زینې په لوری ولاړ، عاتکی له یوې دریڅی څخه سر ایستلی ؤ او لاندې یې کتل. د سلمان د پښو د ترپهار له اوریدو سره یې پام ور واوښت ویې ویل : د هغوی شمیر اته تنه دی، پله ته نژدې شویدی، امکان لری د کلا د لټون هڅه وکړی.

سلمان وویل : تاسو اندیښنه مه کوی، که د دوی تر شا کوم لښکر نه وی نو دا شپږ، اته تنه موږ ته څه خطر نشی جوړولی، عاتکی له ترکش څخه غیشی راویوست په لینده کی یې کیښود، ویې ویل : زما یوازی دا اندیښنه ده چی که په دوی کی کوم یو بهر پاتی شو نو د تیښتی زمینه به ورته برابره شی.

: ته فکر مه کوه! موږ به ... له دې برج څخه لاره پری بند کړو. خو زه ویریږم چی ته بی سببه غشی ونه چلوی!

عاتکی له دریڅی څخه لاندې وکتل ویې ویل : ته بی غمه اوسه، لږ څنډ وروسته سپاره چی له پله پوری وتل د دوی له سترګو پناه شول، عاتکی د برج د بل دیوال دریڅی ته منډه واخستله، هلته یې د کمره کنډو ته کتل.

سپاره نژدې دوه سوه ګزه وړاندی بیا راښکاره شول، سلمان په اندیښنه کی عاتکی ته وویل : ته شاته شه چی ودی نه وینی.

عاتکه یو ګام شاته شوه هغه ته یې وکتل او ویې ویل:

ښایی دا هماغه وی!

: هماغه څوك؟

عمیر او د هغه ملګری!

: که عمیر له هغوی سره وی نو زما باور دی چی دوی د سعید په لټون ستاسو کلی ته روان دی.

تر لږ ځنډه دوارو په چوپه خوله یو بل ته کتل او چی بیا د اسونو د پښو ترپهار ورنژدې شو نو عاتکه دریڅی ته ورنژدې شوه یو ځل یې پر سرك نظر وغوړځاوه، ناڅاپه یې له کڅوړی غیشی راویوست او په لیندۍ کی یې کیښود، خو په هماغه مهال چی دی سر له دریڅی بهر یوست او پر غشی یې نخښه نیوله سلمان دا تر مټ ونیوله او شاته یې کش کړه، عاتکی د بی وسی او غوسی په حالت کی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وکتل سمدستي يې له بهر څخه واوريدل چې دوړاندي تلونه دا غوره نه ده چې لومړی دغه کلا ولټوو؟

دوهم ځواب ورکړ: هغه دومره احمق نه دی، که هغوی دی لوری ته راغلي وي نو له خپل کلي پرته به بل ځای ايسار نه شي، بلکې زما خو دا ګومان دی چې هغوی به له خپل کلي څخه په ميلونو، ميلونو لرې تللي وي.

عاتکې د سلمان لاس وځنډه او بلې کړکۍ ته يې ځان ورنژدې کاوه خو هغه زر ترمټ ونيوه او د زينې لوري ته يې بوتله، عاتکه د هغه په اوسپنيزو پنجو کې بې وسه پاتې شوه.

سپاره تير شول، سلمان له لږ ځنډ وروسته وويل : ويخښنې ما داسې احساس کړه چې ته به رښتيا غشي وولي، تا خپل سر له دريڅې نه ور ايستلی ؤ، او دا هسې يو تصادف ؤ چې په هغه مهال هغوی کوم يوه دې خواته نه راکتل.

عاتکې ځواب ورکړ: زه يوازې پردې خبره افسوس کوم چې عمير د دوی په مخکې روان ؤ او چې هغه زما د غشي دم ته برابر شو تا مې لاس ونيو.

د عاتکې سترګې له اوښکو ډکې شوې.

: عتبه ورسره ؤ؟

عاتکې د هو په دود سر ورته وخوځاوه او له دې سره يې اوښکې له سترګو وبهيدې.

سلمان وويل : د سعيد د ژغورلو مسئله له عتبه څخه د انتقام نه مهمه ده، که نه نو ستا دا هيله اوس هم زه پوره کولای شم، اوس به دوی کلا ته نه راځي، زه وريسې ورځم، ته د احتياط لپاره څو دقيقې ودريږه، بيا وخوځيږه!

عاتکې وويل : نه! پر هغوی پسې ستا ورتلو ته اړتيا نشته.

هغوی تر لږ ځنډه په چوپتيا د کلا انګړ ته کتل او بيا رابښکته شول.

سلمان وويل : ته دلته ودريږه زه اوس بيرته راځم!

عاتکه ودريده او هغه په بيړه له کلا راووت، لږ ځنډ وروسته چې هغه بيرته ورغی نو عاتکه يې وليده چې د يوې چوترې ترڅنګ له دوو قبرونو سره ولاړه وه او لاسونه يې په دعا لپه نيولي وو، د چوترې شاوخوا زيات قبرونه وو، سلمان چې نژدې ورغی هغه هم لاس په دعا اوچت کړل. د فاتحې له لوستلو وروسته سلمان وويل : راځه اوس به هغوی ښه وړاندې تللي وي.

: تاته معلومه ده چې دلته زما مور او پلار ښخ دي؟ عاتکې له هغه سره په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلو کی وویل.

: هوکی! الله تعالی دی د هغوی قبرونه د خپل رحمت په گلانو کی پټ کړی، حامد بن زهره ماته د دی کلا د تباهی او ستا د پلار د شهادت کیسه کړی وه.

لږ څنډ وروسته هغوی پر اسونو سپاره له کلانه راووتل.

د ویالی له پله نه چی تیر شول سلمان ناڅاپه د اس جلب راکش کړ او عاتکی ته یی وویل : زه اوس د منصور په باب په تشویش کی یم، که ما هغه له ځانه سره راوستلی وای نو ډیر به ښه وو.

عاتکی ځواب ورکړ: ماته هم د عمیر په لیدو هغه را په یاد شو، خو ته غم مه کوه عمیر زموږ په کلی کی د حامد بن زهره پر لمسی د لاس اوچتولو جرئت نشی کولی.

: مگر زه داسی احساسوم چی هغه باید هلته نه وای پاتی شوی، له سعید سره تر مشوری وروسته که دا پریکړه وشوه چی هغه باید له کوره راوباسو نو زه به بیرته زر وریسی راشم.

: نه، نه! هلته چی ورسیدو کوم بل بندوبست به وکړو، ستا دوهم ځلی دلته راتلل سهی نه دی.

سلمان له څه فکر وروسته وویل : زه به د احتیاط له مخی د تانه دوه دري سوه گامه وړاندی ځم، که کوم ځای زه ناڅاپه له سرکه لری شوم نو معنی یی دا ده چی په مخکی خطر دی او ته باید شاوخوا د کوم کمره او یا ونو تر شا پټه شی او د وضعی انتظار وکړی. کلی ته چی نژدی شوو نیغ د سرك پرځای په ښی لاس ته په کښتونو کی د کور د شا دروازی له لاری کور ته د ننوتلو هڅه وکړو.

*****

نوره لاره دوی ته څه ستونزه پیښه نه شوه، کله چی دوی د کور د شا دروازی ته نژدی شول اسما او مسعود بهر ته راووتل او د دوی د ور رسیدو په انتظار شول، اسما ور وړاندی شوه سلمان ته یی وویل : ما چی لری ته ولیدی ومی پیژندلی، زه له سهار راسی پریام ناسته وم.

بیا یی زړه نا زړه عاتکی ته وکتل ویی ویل : راځه مورجانه می ستا هم ډیر انتظار کوی، که لږ دمخه زارسیدلی وای نو د تپی شوی کاکا جان سره به مو خیری هم کړی وی، مورجانه وایی چی اوس هغه ته بیا خوب ورغی، خو هغه به ډیر زر روغ شی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاتکې د هغې لاس ونیو کورته ننوته، او لږ ځنډ وروسته د سعید چپرکټ ته ولاړه وه او اوښکې یې پاکولې.

بدریې هغې ته په وار وار تسلي ورکوله:

له همت څخه کار واخله، إن شاء الله روغ به شي، تاسو کښېنئ! هیله ده زر را په خود شي، اوس یې یو ساعت وړاندې خبرې کولې او پردې خبره پریشانه ؤ چې ما په تا پسې احوال لیږلی دی. خو بیا یې هم سترګې پر دروازه نښتې وې، زما اندیښنه ده لکه چې تا دلته پر راتګ ډېر لوی خطر قبول کړی دی، خو ما دا احساس کړه چې راتګ دې تر زر ځله علاج غوره او ضروري دی. موږ به هڅه وکړو چې د ده په باب ډاډ ترلاسه کړو او تا بیرته واستوو.

نه، نه! عاتکې په دردناکه لهجه وویل : د خدای «ج» په خاطر داسې مه وایی چې زه دې د حامد بن زهره قاتلین بیا ووینم، او بیا هغې په زوره زوره وژړل.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تبنتول

عمیراو د هغه ملګری د سعید دوی له کوره لږ لری ودریدل عمیر له اس څخه پلی شو او عتبه ته یی وویل : تاسو همدلته ودریږی! زه به یی اوس دلته درك معلوم کړم تاسو ته به خبر درکړم. زه به هم درسره ولاړ شم، عتبه له اس نه پلی شو ویی ویل.

دوه تنو نورو د دوی د اسونو جلبونه ونیول اول لږ څنډ وروسته هغوی د کور انګړ ته ننوتل.

عمیر چیغی کړی : سعیده! سعیده!

د کور له بڼی اړخه دوه تنه نورکسان رابښکاره شول له هغوی نه یو په منډه ورغی او ویی ویل : هغه دلته نشته. په دی څنډ کی منصور او زبیده هم د مینځ له کوټی راووتل او په برنډه کی ودریدل، په اندیښنه یی عمیر او د هغه انډیوال ته کتل، عمیر ور وړاندی شو ویی ویل : ماته معلومه ده چی سعید دننه دی ما یو مهم پیغام ور رسول غوښتل.

زبیدی ځواب ورکړ: هغه دننه نشته تاسو یی لیدای شی. عمیر بی له دی چی څه ووایی دننه ننوت او یو پر بل پسی یی د تیټ پوړ د کوټو له لټولو وروسته پرزینو پاس وخوت او د کور ګوټ ګوټ یی سنه ولټول، په دی موده کی عتبه په چوپه خوله د زبیدی ټول حرکات او د څیری حالت څاره، عمیر چی د کور له لټولو څخه وزګار شو زبیدی ته یی وویل: کوم لوری ته تللی دی؟

هغی وویل : زه دروغ نه وایم سعید یی له پلار سره چی غرناطی ته تللی تر اوسه یو هم بیرته نه دی راستون شوی خو د عمیر له څیری داسی ښکاریدله چی تر اوسه یی تسلی نه ده شوی، بالاخره عتبه وویل : عمیره! دلته د وخت ضایع کولو هیڅ ګټه نشته، راځه!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمیر زړه نا زړه زبیدی ته وکتل بیا یې له منصور څخه وپوښتل : منصوره! تا دی هم ماما دلته نه دی لیدلی؟ هغه ځواب ورکړ: نه!

خو عمیر زر د عتبه خواته ورغی او بیا دواړه له کوره ووتل. لږ وړاندې دواړه ودریدل او یو بل ته یې وکتل.

عتبه وویل : چې نوکران مې ولیدل وپوهیدم چې سعید دلته نشته. تاته د کور لټولو ضرورت نه ؤ. بیا هم هغې ښځې چې مونږ ولیدو وویریدله.

عمیر وویل : که ته ماته د څه سختی کولو اجازه راکړې نو زه به هر څه درته پرې ووایم.

عتبه ځواب ورکړ: اوس نه چې کله د سختۍ وخت راغی بیا به د ایسارنه کړم. که سعید دلته راغلی وای نو د حامد بن زهره په باره کې د خبر په اړه به د دی کور وضع او فضا خامخا بدله وای.

عمیر وپوښتل : ستا په خیال مونږ اوس باید څه وکړو؟

: زما په ګومان مونږ باید همدلته پاتې شو، که سعید غرناطې ته نه دی رسیدلی نو کیدای شی کوم وخت دلته راشی، دا هم امکان لري چې هغه تېی وی او د خپل کور پرځای یې په کوم بل کلي کې پناه اخستې وی، په هر حال زما باور دی چې په هغه صورت کې هم د خپل ځان په باب خبر کورته ورکوی ترڅو چې د هغه وراره دلته شته هغه له دی سیمې څخه لرې نشی تلای. ځکه خو دا ضروري ده چې مونږ دی کور ته د تلو راتلو څارنه وکړو.

عمیر وویل : راځی تاسو زمونږ په کور کې استراحت وکړی، زه له هماغه ځایه خپل نوکران د دی ځای د پهری لپاره را استوم. هو رښتیا ستا خو پردی باور دی چې لومړی وزیر خو به زما پلار جان دی خواته زر نه را پریږدی؟

زه تر اوسه دا خطر احساسوم چې که هغه ناڅاپه دلته راورسید نو زه به له سخت جنجال سره مخ شم.

عتبه وویل : ما څو ځله دا ویلی دی چې په اوسنیو حالاتو کې هغه د لومړی وزیر له کوره نشی راوتلی، که زما دا باور نه وای نو دی کلی ته به مې د راتلو جرئت هیڅکله نه ؤ کړی. ستا پلار تا بخښلی شی خو پر ما به هیڅکله هم رحم ونه کړی، کله چې مونږ د سعید او د هغه د ملګرو له خوا ډاډه شو بیا به لومړی وزیر ته ستا د پلار پوهول ګران نه وی چې مونږ څه وکړل، د اولس او هیواد د خیر لپاره مو وکړل، اوس له دی ځایه ولاړ شه، ترڅو ستا کسان دلته نه وی رارسیدلی زمونږ یو تن به دلته غلی کور څاری.

لږ څنډ وروسته دوی پر اسونو پښې واړولی او د عمیر د کور په لور ولاړل.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * * * *

عمیر چی کورته ورسید له یوه غیر معمولی حالت سره مخ شو، د صحن دروازه خلاصه وه، شا او خواته یو نوکر هم نه ؤ، یوازی د کلی څو تنه د دوی د دروازی تر څنګ ناست وو، هغوی په بیړه راپاڅیدل او وړاندی راغلل خو عمیر تری وپوښتل: زموږ کسان چیرته تللی دی؟

یوه بوډا د اس جلب ونیو ویی ویل : معلومه نه ده چیرته تللی دی سهار ما ستاسو دوه نوکران ولیدل چی پر اسونو سپاره ووتل له هغی وروسته ښایی نور نوکران هم چیرته تللی وی، اوس ستاسو خادمی هم هغوی لټول.

عمیر پریشانه شو عتبه ته یی وکتل او بیا په منډه دننه ننوت.

پنځه دقیقی وروسته بیرته راووت او طبیلی ته د اسونو له بیولو وروسته یی عتبه د میلمنو حجری ته بوت.

عتبه وپوښتل : عمیره! څه خبره ده ته ډیر اندیښمن معلومیږی؟

هغه په غمجنه لهجه ځواب ورکړ: عاتکه په کور کی نشته، هغه سهار وختی له کوره وتلی ده، اوس زما یقین راغی چی سعید تپی دی، او شاوخوا چیرته غلی شوی دی.

: عاتکه د نصیر لور!

: هوکی! زما پخواهم دا اندیښنه وه چی که سعید دی خواته راغلی وی عاتکی ته به خامخا احوال ورکوی.

عمیر څو ځلی له عتبه سره سرسری د خپلی تره دلور یادونه کړی وه خو دا یی نه وو ورته ویلی چی د هغی له سعید سره دلچسپی ده، هغه د خپل ذهنی خفګان د پټولو هڅه وکړه ویی ویل : امکان لری چی په کلی کی د کومی ملګری کره تللی وی؟

: هغه سهار د سپارلی په پلمه له کوره وتلی ده او تر اوسه بیرته نه ده راستنه شوی.

له بهر نه کوم استازی ورته راغلی ؤ؟

: نه! مګر سهار چی لږ څنډ له کوره وتلی وه دایی ویلی وو چی زه د سعید دوی کره ځم. له هغی وروسته بیرته راغله او پر آس سپره شوی او کوم بل ځای ته ولاړه د کلی خلکو ته یوازی دومره معلومه شوی چی هغی د جنوب لاره نیولی وه، تاسو دلته ودریږی زه ځم!

: ته چیرته ځی؟

: زه د سعید دوی کره ځم، زما باور دی چی هلته به د دی ملاقات له سعید

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره شوی وی او هغه به دا ورته ویلی وی چی په پلانی ځای کی به دی انتظار کوم.

: ته به اوس هلته څه وکړی؟

: زه به د هغوی له خدمتګاری او واره څخه دا زر معلومه کړم چی هغوی چیرته ولاړل که ماتری ځرمن وویسته هم صرفه نه پری کوم.

: ته داړه کښینه!

:عمیر په حیرانی هغه ته وکتل وبی ویل : زه داړه کښینم؟

: هوکی! ته اوس بهر ته نشی تلای!

: مګر زه نه پوهیږم چی ته څه کول غواړی؟

عتبه په داړمنه لهجه ځواب ورکړ: د عقل په هیڅ خبره به اوس ستا سر خلاص نشی، اوس ته دا فکر نشی کولی چی د حامد بن زهره د لمسی کورته روان بی او د هغه په یوه وړوکی کړبزه به د کلی خلك ټول ورباندی راټول شی، ته پردی هم نه پوهیږی چی که ته هلته د سعید هستوګن ځای معلوم کړی هم د دی کلی د خلکو له مرستی پرته نشی ورتلای، او بیا عاتکه هم له هغه سره دد، نو په دی سیمه کی به داسی څوك نه وی چی هغه ته د پورته کتلو جرئت وکړی. ؟

: خو زه په هر قیمت چی وی غواړم عاتکه بیرته راولم.

: اوس ته هغه بیرته نشی راوستلای، خو زه بی بیرته راوستلای شم.

کښینه او په داړه زړه زما خبری واوره!

عمیر بی سیکه پریوه کرسی کیناست او عتبه یی په مخ کی کیناست وبی ویل: زموږ وروستی هڅه باید دا وی چی د سعید وراره ونیسو او وبی تښتوو.

له هغه وروسته دا پیغام را استولی شو چی که مو عاتکه موږ ته راونه سپارله نوستا وراره به سینتیاقی ته واستوو، بیا به وګوری چی هغوی دواړه څه ور زموږ په ګیر راځی، خو د هغه هلك د نیولو لپاره دغه وخت مناسب نه دی، موږ به د شپی لخوا د هغوی پر کور ورځو او تر څو شپه راځی ستا مسئولیت دا دی چی دوه تنه اعتمادی کسان دی هلته پهره وکړی، که نه نو زما نوکر به درسره مرسته وکړی، خو ته باید له کوره لری اوسی او شا و خوا د کلی څوك باید دا شك ونه کړی چی ته د څه پروګرام لپاره راغلی یی، اوس ته تلای شی زه لږ خوب کوم، خو دا په یاد لره چی که دی زما د هدایت څخه یوه ذره هومره سرغړونه وکړه نو سر له نن څخه به د دواړو لاری بیلی وی.

عمیر وویل . ستا تجویز سهی دی خو زما په زړه کی دا اندیښنه تر اوسه پاتی ده چی که بیلار جان ځی پوزسیری نو موږ به ډیر خطرنات حالت سره مخ شو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه په موجودیت کی به د منصور په کور برید ته بیا د یوه لښکر ضرورت وی او د کلی یو سړی به هم زموږ ملګرتیاونه کړی.

زما سره یوازی د ځان په باب اندېښنه نشته بلکی ستا ژغورل به هم ماته محال شی، ځکه خو تاسو زما خبره ومنی د منصور نیول او له دی ځایه تښتیدل به څو لحظي ونیسی.

عتبه په غوسه شو ویی ویل : زه به ترڅو ځلی تاته تسلی درکوم چی ستا پلار دلته نه راځی، ما نه غوښتل چی ته اندېښمن شی خو اوس ښایی دا ضروری وی چی درته ووایم چی هغه بالکل د تګ راتګ نه دی او تر ډیرو ورځو پوری ستا د مخامخ کیدو سوال نه پیدا کیږی. که ته نوره تسلی غواړی نو دا ده چی هغه یی د یوه طبیب کورته رسولی دی او طبیب ته یی دا هدایت کړی دی چی ته به دا حال چاته نه وایی. له دی کار څخه چی وزګار شوی ته د زړه له تله د هغه خدمت کولی شی او امکان لری چی څو ورځی وروسته د هغه د غوسی په سړولو بریالی شی. خو تر کومه چی ماته احوال راغلی دا دی چی په راتلونکی کی به ستاسو نرمنځ د ناندریو او غوسی وار را نه شی، تقدیر د هغه د خبرو ځواک تری اخستی دی.

عمیر تر لږ ځنده په حیرانی هغه ته کتل بیا یی وویل :.مګر زه خو له تا سره بوځای وم دغه خبر تاته کله راغی!

سهار وختی له مانیږنه یو استازی راغلی ؤ، ته هغه مهال ویده وی او ما د دی پروګرام د ارځښت په خاطر ستا راپاڅول مناسب ونه بلل، ته خوبه پردی خفه نه وی؟

عمیر ځواب ورکړ: تاته دا ګومان څه وخت پیدا شو چی زه به د یوه ناروغ سړی د کتځلو داوریدو په خاطر ستا ملګرتیا پریښودو ته تیار یم! ستا دا ګومان غلط دی چی زه له هغه څخه ویریږم، زما سره یوازی دا اندیښنه وه چی هغه زموږ پریشانی زیاتی نه کړی، دا اوس زه دننه کور ته تللی وم، داسی می احساسوله چی زه ښایی د پلار په ژوند کی بیا دلته رانشم. او ښایی په مرګ هم هغه په میراث کی ما له ناسکه ورونو سره شریك نه کړی، خو زما پردی خبره هیڅ خفګان نشته، ما ژمنه کړی وه چی خپله برخه مسئولیتونه به خامخا ترسره کوم.

عتبه وویل : ته به د خپلو مسئولیتونو له ترسره کولو وروسته تاوان ونه کړی.

ستا ناسکه ورونه به ستا له رضا پرته له سینتهانی څخه راستانه نشی، زه د دی خبری ذمه واری اخلم، کله چی د جګړی خطر لری شی نو فرديننه ته د ډېر لوی انعام حقدار وګنبی او زما به دا هڅه وی چی زما دوست په دی سیمه کی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولو لوی سردار وی، خو زما دا اندیښنه ده چې ستا یوه هیله به هیڅکله هم ترسره نه شي، ماته هغه تجلي ډیره سرتمبه ښکاري که هغه د سعید لپاره د خپل ظالم تره څخه بغاوت کولی شي او خپل کور او کهول پریښودلای شي نواوس به په آسانی ستا گیر ته رانشي.

عمیر وویل : زما سره د هغې د کرکي سبب سعید دی، کله چې مور د هغه کیسه ختمه کړو د عاتکي لاری ته راوستل بیا گران نه دی.

عتبه وویل : مگر مخکي تا هیڅکله هم نه وو ویلي چې هغه تجلي ‌تاته دومره مهمه ده؟

: ما تل دا فکر کاوه چې یوه ورځ به تاته د خپل ژوند تر ټولو لویه هیله بیانوم، او ته به ما مایوسه نه کړې.

عتبه وویل : زما باور دی چې د سعید او د هغه د وراره د ژغورنې په خاطر به هغه تر لویې نه لویې قربانۍ ته تیاره شي. خو که ته دا غواړې چې کومه ورځ د هغې کرکه لرې شي نو کیدای شي تر څه وخته پورې ته له صبر او حوصلي څخه کار واخلې. که هغه ډیره بد دماغه وي نو امکان لري چې د لاری راوستلو لپاره یې مور د کلیسا د احتساب له اداری څخه مرسته وغواړو، او بیا یوه ورځ تا د هغې د ژغورونکي په حیث ورمخې ته کړو، که ته په دې مسئله کې زما مرسته غواړې نو زه له تا څخه دا ژمنه اخستل غواړم چې ته به په هره خبره کې زما په مشوره او هدایت عمل کوې.

عمیر ځواب ورکړ: زما لخوا به یوه ذره غفلت هم نه وي، دعاتکې تر لاسه کول زما د مرگ او ژوند سوال دی.

عتبه هغه ته په ځیر ځیر وکتل او بیا یې ناڅاپه مخ واړاوه.

*****

نژدې نیمه شپه زبیدې داسې احساس کړه ‌لکه څوك چې د کوټې دروازه ورټکوي، هغه وپسیده راجگه شوه او کیناسته، د کوټې په یوه کونج کې ډیوه بلیده، منصور دی ته نژدې په درانه خوب ویده ؤ، راجگه شوه، په گوته یې د ډیوې ایرې لرې کړې، تیل یې پکې واچول او د دروازې ټك ټك یې خپل خیال وباله او بیرته پر بستره وغځیده. څو شیبې وروسته بیا چا دروازه وټکوله، زبیدې په ویریدلې لهجه وپوښتل : څوك یې؟

په ځواب کې د نوکر غږ اوچت شو: زه یم دروازه خلاصه کړې زر کوی. یوه سړی د سعید پیغام راوړی دی.زبیدې وره ته منډه ور واخسته خو چې زنځیر ته یې لاس ور وړ څه یې په خیال کې ور وگرځیدل او لاس یې ودرید.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبي پوښتل : هغه څه وايي؟
نوکر ځواب ورکړ: هغه دا وايي چې د سعيد حالت خراب دی او هغه منصور ورغوښتی دی.
: سعيد چيرته دی؟ او له دی سره سم يې دروازه خلاصه کړه. يوه سړی ناڅاپه د دی ورميږ کلك کړ او شاته يې تيل وهله وبي ويل : تاته به اوس معلومه شي چې سعيد چيرته دی؟
د سترګو په رپ کې د نوکر نه علاوه دری نور کسان کوټې ته ورننوتل او زبيدی په حيرانۍ عمير او د هغه ملګرو ته کتل.
عمير د توری څوکه د هغې تر سترګو لاندی تيره کړه وبي ويل : که تا ډير لږ دشور او زوږ هڅه وکړه پر سرغوڅولو به دی لږ ډيل ونه کړم. اوس ووايه عاتکه او سعيد چيرته دی؟
دوهم سړی هغه خوشې کړه خو دی د عمير د ځواب پرځای نوکر ته په سپك او له خفګان څخه ډك نظر کتل، د هغه پر مخ د نويو سوکونو خاپونه وو او له پزې څخه يې وينې روانې وې.
هغه زبيدی ته وکتل او سر يې کښته واچاوه وبي ويل :
: زه بې ګناه يم، دوی راته وويل چې که دروازه راته خلاصه نکړی کور ته به اور واچوو.
عمير وغوريد وبي ويل : دی خپل ملګری ته بوزی او دواړه کلك وتړی که کوم يوه شور ماشور جګاوه وبي وژنی!
خپلو ملګرو ته ووايي چې اسونه دننه راولی او تر څو چې موږ له دوی نه وزګاز شوی نه وو يو سړی له انګړ نه بهر ودريږي، دوو تنونوکر ونيو او بهر ته يي کش کړ.
زبيدی وويل : عميره! د خدای څخه ووېريږه، دا د حامد بن زهره د لور کور دی، د خپلی کورنی عزت او وقار وساته.
عمير چيغې کړي : زما د کورنی د رسوايي سبب ته يې، ووايه عاتکه چيرته ده؟
: عاتکه؟!
عمير هغه پر مخ پر څپيړه ووهله او وبي ويل : ته ماته دوکه نشی راکولی، ماته معلومه ده چې سعيد دلته راغلی و او عاتکه ورسره تللې ده.
: نه په خدای «ج» سوګند که به سعيد دلته راغلی وی!
عتبه وويل : عميره! وخت مه ضايع کوه، ته دغه هلك درسره واخله له دی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو سره زه پوهیږم چې څه وکړم!

عمیر په بیړه بستری خواته ورغی او منصور یې وخوځاوه، منصور له ویرې چیغې وکړې خو عمیر یې په لاس خوله ورپټه کړه او ورته ویې ویل : که دې شور ګډ کړ مری به دې غوڅه کړم، ووایه ماما دې چیرته دی؟ زبیدې عمیر له ګریوانه ونیو او چیغې یې کړې : د خدای «ج» په خاطر دده ته څه مه وایه، دده ته د سعید په باب هیڅ معلومات نشته.

عمیر په پوره زور یوه څپیړه ورکړه او هغه یوې خواته لرې وغورځېده، منصور په غوسه راپورته شو او پر عمیر یې ور توپ کړل، خو عتبه هغه تر ورمیږ ونیوه او ټیله یې ورکړه چې له دیوال سره وجنګید او راوغورځید، هغه د بیا جګیدو هڅه وکړه خو عمیر ور وړاندې شو پر ټټر یې په لغته ووهه او هغه ولوید او بې سده شو. عتبه وویل : دی په اوږه کړه بهر ته یې بوزه.

عمیر منصور ورسره واخست او له کوټې څخه وت چې زبیده یې مخې ته ودریده عتبه د توری څوکه د هغې پرسینه ورکینبوده او ویې ویل:

بوډۍ! که ددې هلك ژوند درته ګران وي نو چوپه اوسه اوس د دده د ژوند ژغورلو یوازې یوه لاره ده، ته سعید ته دا پیغام واستوه چې عاتکه یې کور ته ورسوي او ځان حکومت ته وسپاره!

زبیدې سلګۍ وکړې ویې ویل : ماته نه ده معلومه چې سعید ستاسو څه ګناه کړې، خو هغه کور ته نه دی راغلی او زه د عاتکې په اړه هم هیڅ خبره نه یم.

عتبه وویل : امکان لرې تر اوسه ته له هغوی نه خبره نه وې، خو زموږ باور دی چې سعید دلته نژدې شا او خوا چیرته غلي شوي دي، که ژوندي پاتې شو نو خپل وراره ته خامخا راځي، ته زموږ له لوری دا پیغام ورکولی شې چې که هغه زموږ پرخلاف د خلکو د پارولو هڅه وکړه نو د خپل وراره مړی به هم ونه ګوري، مونږ د هغه دښمنان نه یو خو زموږ په نظر د غرناطې د نوری بربادۍ د مخه نیولو وروستی لاره همدغه ده چې شر خوښوونکو ته له سره د جګړې د اور بلولو فرصت برابر نه شي، تاته له دې د زیات څه ویلو ضرورت نشته، ستاسو نوکران تر سهاره باید په کوټو کې بند وي، او له هغه وروسته یې چې ته خلاصوی دا تسلی باید ورکړې چې هغوی باید زموږ په باب چوپه خوله وي، که موږ بیا دلته راغلو هیڅوك به ژوندي پرینږدو.

زبیده بې اختیاره د عتبه پر پښو ور پریوته:

د خدای «ج» لپاره هغه پریږدئ! زه وعده کوم چې ستاسو حکم عملي کړم، زه سوګند کوم، خو عتبه له کوټې څخه بهر ووت.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

لږ څنډ وروسته هغوی له کور نه لږ لری وو عتبه عمیر ته ویل : ته اوس آرام خپل کور ته ولاړ شه، زه به دا هلك له ځانه سره بوزم، که عاتکه دلته شا او خوا وی نو ډیر زر به بیرته راشی. که هغه بیا رانغله هم بیله څنډه به راته معلومه شی چی هغه چیرته ده.

بیا یی یو بل ملګری ته مخ ور واړاوه او ویی ویل :

ضحاکه! زه تاته ډیر مهم مسئولیت سپارم، دغه خلك به د منصور د ژغورنی په خاطر خامخا د عاتکی د بیرته راوستلو هڅه وکړی، ځکه ته باید ټوله شپه کور ته نژدی ویښ وی، او پهره وکړی، که څوك له دی کوره ووتل نو ته ورپسی شه، هغه چی د کلی کوم کور ته ولاړ شی هلته پر عاتکه برسیره بنایی څو نور باغیان هم وی.

ته باید له کور نه لږ لری انتظار وکړی، که کومه نجلۍ له هغه کوره راووته باید پوه نه شی چی څوك یی تعقیبوی، هغه به یا په منډه دی کورته ځان رارسوی او له دی ځایه به نیغه خپل کور ته ځی او یا به له هماغه ځایه سیده خپل کور ته ځی، د نورو خلکو د نیولو لپاره مونږ ته د بیړی ضرورت نشته، مونږ به د حالاتو سره سم ګام اوچتوو.

عمیر وویل : ایا دا به غوره نه وی چی له کلی څخه څو نور نوکران هم له ده سره وی، او چی کله د عاتکی د پناه اخستلو د کور درك معلوم شی نو هغوی پاتی شپه هلته پهره وکړی.

عتبه ځواب ورکړ: ته یوازی یو سړی د ضحاك د لاربنوونی لپاره را استولی شی او د هغه کار به یوازی دا وی چی هغه غلی په ضحاك پسی شی او د ضرورت پر وخت تاته خبر درکړی.

نور خلك دیوازی له کلی نه وتلی لاری وڅاری، زه خپل دری کسان درته پریږدم او ځم، دوی به د کلی نه بهر ته تللیو لارو په ترلو کی ستاسو د نوکرانو ملاتړ کوی، خو تاسو ته په هیڅ صورت کی هم پر کوم کور د یرغل اجازه نشته، که نه نو تاسو به د کلی د ټولو خلکو مقابله کوی، په دی صورت کی بنایی له عاتکی هم لاس پری مینځی، که د عاتکی له راتلو وروسته کوم بل چا له کلی د وتلو او تیښتی هڅه ونکړه نو د هغی سبب دا کیدای شی چی هغه ټپی دی او مونږ چی کله وغواړو نیولی یی شو. هغه وخت ډیر لری نه دی چی ته د دی کلی پر ټولو خلکو لاس واچوی.

زه سمدستی دغه هلك د غرناطی پرځای «ویګا» ته خپل کلی ته رسول مناسب

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولم، او سمدستي زه په دې کلي کې د عاتکې اوسېدل هم مناسب نه بولم، که هغه راغله ته یې زموږ کلي ته راوله، موږ به بیا له ډېرو اندېښنو څخه په امان شو، اوس که ته تر لږ ځنډه چوپ شې زه ضحاك ته څو نورې لاربښوونې هم ضروري بولم دابې وویل او بیا یې بیرته ضحاك ته مخ ور واړاوه:

ته زما خبرې په غور واوره، دا حتمي نه ده چې عاتکه او نور ملگرې به یې په همدې کلي کې غلي شوي وي، یو کس به د احتیاط لپاره ستا له اس سره له کندې پورې غاړې ته وي، که د دې کلي له کوم کور څخه څوك پر اس سپاره راووتل نو مطلب یې دا دی چې هغوی لرې روان دي، ځکه به یوازې په هغه پسې ورځې چې شکمن نه شې، که هغه د سیمې په کوم بل کلي کې چیرته وگرځید نو ته کور په نخښه کړه او ماته ځان رارسوه. دا هم امکان لري چې ته د دې کلي د پیغام وړونکي سپاره په تعقیب آن غرناطې ته ولاړ شې او هغوی په غرناطه کې چیرته غلي شوي وي، په هغه صورت کې بیا ته کور په نخښه کړه او نیغ کوتوال ته ورشه.

واخله! هغه له خپلې گوتې یوه گوته راو ایستله هغه ته یې ونیوله ویې ویل:

کوتوال ډېر احتیاط کاره دی، له کومې ورځې چې د هغه څو تنه د غرناطې پر لاره وژل شویدي پر هر سړي د آزادۍ پالو گومان کوي، که د هغه پردې خبره باور نه کیده چې ته زما په هدایت ورغلی یې نو دا گوته ور وښیه بیا به ستا سره هر ډول مرسته وکړي.

لږ ځنډ وروسته عتبه او درې سپاره چې له ځانه سره یې غوره کړي وو له هغه ځایه وخوځېدل، یوه سپور خپلې مخې ته منصور پر اس اچولی ؤ.

هغه په نیمه بې هوښۍ کې د دوی خبرې اورېدلې وې او چې لږ مزل وروسته دوی سرك پرېښود ښې لورې ته یې په یوه تنگه مخ ځوړې سفر پیل کړ هغه پوره وا په خود شوی ؤ. خو له وېرې یې د نیغ کیناستلو او یا له چا سره د خبرو جرئت ونکړ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جعفر راتګ او د دریم کس پیغام

سعید په نیم بې هوښی حالت کې د عاتکې غېږ ته واورید، هغه څو شیبې دا یو خوب ګاڼه او بې حرکته پروت ؤ.

عاتکې په وار وار له بدریې څخه پوښتل : دی ولې تر اوسه په هوش رانغی؟ او بدریې به دې ته داسې تسلي ورکوله: ته غم مه کوه دغه دارو به اوس ډیر زر إن شاء الله اغیزه پرې وکړي، خو له ده سره په خبرو کې باید ډیر پام وکړو.

عاتکې وویل : زه له دې خبرې ویریږم چې که هغه ما دلته وویني خفه نه شي! کله چې دی د کور د احوال پوښتنه وکړي نو زه به دا څنګه ترې پټه کړم چې موږ د حامد بن زهره قاتلان په لاره کې ولیدل، آیا داسې نشي کیدای چې تاسو یو حوك له کلي نه د منصور دوی کره واستوئ او د هغوی احوال راوړي، زما باور دی چې دی په هوښ راشي نو زما څه یې لومړنی پوښتنه د منصور په باب وي.

سلمان وویل : که ولید جعفر ته دا ویلي وي چې سعید دلته دی نو هغه به له غرناطې څخه نیغ دلته راشي، موږ به یې د منصور دوی د احوال لپاره واستوو، که نه نو زه پخپله پسې ورځم.

عاتکې وویل : که عمیر په کومېده اراده تللی وي، نو له هغه سره د مقابلې همدا یوه لاره ده چې له کلیوالو څخه مرسته وغواړو، او دا کار تر هر چا زیات ماته آسانه دی. عمیر یو لیونی سړی دی او د هغه له ظلم نه د منصور د ژغورلو لپاره زه د خپل کاکا په پښو کې پرېوتو ته تیاره یم، زما په خاطر د هغه یو وینښته هم باید بیځایه نشي، زه د بیرته ستنیدو څخه دمخه یوازې دا تسلي کول غواړم چې سعید به روغ شي؟

عاتکې ډیر په زحمت خپلې سلګۍ راتم کړې او بدریې هغې ته تسلي ورکوله: زما خورې! له همت څخه کار واخله، که ته دلته نه وای راغلې هم څه فرق یې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کاوه، د حامد بن زهره د قاتلانو لپاره د سعید موندل اوس د مرګ او ژوند سوال جوړ شوی، إن شاء الله موږ ته به ډیر زر دا معلومه شي چي هغوی هلته تللي دي څه يي وکړل، او موږ بايد د دوی په مقابل کی څه وکړو، اوس ته یوازې دعا کولی شی.

سعید پوره په هوښ راغلی ؤ، خو څو دقیقی يي خپلو خدمتګارانو ته د کتو توان نه درلود، بیا يي یو ځل سترګی له رپولو وروسته وغړولي او دوی ټول چوپ شول. د سعد سترګی د عاتکی پر څیره میخ شوی او په کتو کی يي بې شمیر پوښتنې اوښتې.

بدریه په بیره ورغله پر تندی يي لاس ورکیښود ويي ویل : وروره، د عاتکی په اړه اندیښنه مه کوه! ستا وضعه ښه نه وه ما پیغام ور واستاوه او راومی غوښته، ستا دی ته اړتیا وه، سعید هڅه وکړه چي پورته شي خو سر يي وربانډی وڅرخید او بیرته يي بې سیکه پر بالښت سر ورکیښود، بیا په خوب کی ویوګنیده: داسی می ګنله لکه خوب چي وینم، کاشکی عاتکه مو نه وای راغوښتی، په دی حالت کی موږ له یو بل سره هیڅ مرسته نشو کولی، بیا يي څو شیبې ترخوله بې معنی غږونه ووتل او بالاخره بې سده شو.

بدریې او سلمان په ډیر زحمت دوا پری وخوړه، چي بیا لږ را په خود شو یوه شیبه يي خپلو خدمت کوونکو ته وکتل او بیا يي سترګی پټی کړی، لږ ځنډ وروسته په درانه خوب ویده شو.

*****

دوه ساعته وروسته سلمان د میلمنو حجری ته تللی ؤ او بدریې په بله کوټه کی د مازدیګر لمونځ ادا کړ، چي جګیده اسما چي له عاتکی او سعید سره وه په منډه ورغله ورته ويي ویل : مور جانی! هغه بیا را په خود شو او له عاتکی خاله سره خبری کوی، هغه له دی نه خفه ښکاری، ما ورته وویل چي خاله پخوا هم ډیر ژړلی دی، اوس يي لږ دوت ناست دی. میلمه به لمونځ ادا کړی وي هغه راولم؟

بدریې د هغی لاس ونیو ويي ویل : نه ته دوی پریږده چي خبری وکړی، د سیلمه د پریشانه کولو ضرورت نشته، ورشه هغه ته یوازې دومره ووایه چي اوس د ... وضعه ښه ده.

یو ساعت وروسته بدریه په خپله کوټه کی ناسته وه چي یوه دردناکه چیغه یي وا... ریده، په منډه له اسما سره د سعید کوټی ته ورغله، خو هغه بې سده شوی ؤ،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او عاتکه ورته ناسته وه په زوره زوره یې ژړل.

بدریې په ویره تری وپوښتل : څه وشول؟

عاتکې ډېر په زحمت خپلې سلګۍ راتم کړی ویې ویل : دی بالکل روغ ترسترګو کیده، خو ناڅاپه د عمیر او عتبه یادونه راغله هغه لکه چې ماسپښین په نیم بیهوشی حالت کې زموږ خبری اوریدلی وی، اوس یې پرلپسې په همغه باره کې رانه پوښتنې کولی، د هغه ایسارول راته له وسه بهر وو او ټولی خبری مې ورته وکړی، او چې د هاشم کاکا د غداری خبره مې ورته وکړه نو په یوه خیز راپورته شو او بیا ناڅاپه بیرته بې سده پریوت.

بدریې وویل : ما ګومان کاوه چې له تا سره به په تسلی خبری اتری د ده وضعه ښه کړی، خو سمدستی تا باید د عمیر او عتبه په باب څه نه وای ویلی، اوس که دی را په خود شی نو ډېر به ناکرار وی څکه خو باید بیا د خوب دوا ورکړم، اسما لوری، ته ورشه په بیړه میلمه راوله!

* * * * *

سعید پاتی شپه را په خود نه شو، د هغه پالونکی د ماسختن لمانځه په وخت په یوه کونج کې کیناستل او ورو ورو یې خبری کولی چې مسعود کوټې ته ورننوت ویې ویل : له غرناطی څخه یو سړی راغلی او وایی چې زه د سعید نوکر یم او ولید راليږلی یم.

عاتکې په بیړه تری وپوښتل : د نوم پوښتنه دی تری ونه کړه؟

: نوم یې جعفر دی!

: هغه یوازی دی؟

: هوکی!

سلمان جګ شو نوکر ته یې وویل : زه یې یو ځل ګوره!

عاتکه خفه شوه ویې ویل : ته ودریږه تش لاس بهر ته مه وزه، امکان لری هغه بل څوک وی.

: تاسو زما په باب اندیښنه مه کوی، که هغه جعفر نه وی نو دا به ورته معلومه نه شی چې زه څوک یم. سلمان بیا د دروازی په لور روان نوکر ته اشاره وکړه او وریسې روان شو.

عاتکه او بدریه لږ څند چوپې وی چې جعفر له سلمان سره کوټې ته ورننوت د سعید د کټ ترڅنګ کیناست او تر لږ شیبې پوری یې سترګې اوښلنی شوی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدریی هغه ته تسلیورکړه وېی ویل : د سعید وضعه ښه ده، إن شاء الله ډېر زر به روغ شي. اوس یې راپاڅول مناسب نه دي.

جعفر څو شیبې په حیرانی عاتکې ته کتل بیا یې وویل : مګر ته...؟

عاتکې د خواب پر ځای بدریې ته وکتل هغې وویل : دا ما راغوښتی وه، سلمان وپوښتل : ته ولید دلته را واستولې؟

: هوکې! سهار د هغه نوکر د سرای مالك ته راغلی ؤ، هغه دا پیغام راکړی ؤ چې له سهاره زما په انتظار دی او څه ضروري خبره راته لري.

هغه د سرای مالك هم راغوښتی ؤ. هغه د خپل کور پر ځای له کوم دوست کره دی، ماته یې د تولو پیښو له کیسې وروسته دا امر وکړ چې سلمان ته کوم مهم پیغام لیږم لږ ځنډ په غرناطه کې ایسار شه، بیا هغه یو لیك راکړ او وېی ویل چې له عبدالمنان سره زما پلار ته ورشه د سعید لپاره دوا واخله او بیرته راشه همدلته زما انتظار کوه.

زه ابو نصر ته ورغلم، هغه چې لیك ولوست څو دوله دوایي راکړه او دا ټینګار یې وکړ چې که تر سبا پورې د سعید حالت ښه نه شو ماته خبر راکړې، که حالاتو اجازه راکړه نو پخپله به ورشم، یا به مې له شاګردانو څخه څوك ور واستوم، واخلی په دې کڅوړه کې هغه له دواګانو سره یو لیك هم ایښی دی.

سلمان کڅوړه بدریې ته ونیوه هغې په بیړه لیك پرانیست او په لوستلو یې بوخته شوه.

جعفر له جیبه دوهم لیك راوکیښ سلمان ته یې وړاندې کړ او وېی ویل:

واخله! دا هغه لیك دی چې ما یې تولې ورځ په انتظار تیره کړه، سلمان په بیړه لیك پرانیست او په لوستلو یې مصروف شو د لیك مضمون داسې ؤ:

ګرانه وروره!

زه هغه درېم کس یم چې په تیاره شپه کې مې له ملګرو څخه بیل شوم، ستا سره مې لیدل ډېر ضروري دي، ځکه زما انتظار وکړه، زه به له یوه مهم کار څخه تر وزګاریدو وروسته ستا سره د لیدو هڅه وکړم. امکان لري ته غرناطې ته راشې، هغه زلمی چې د هغه په منځګړیتوب زموږ پته پیژندګلوی شوې په کوم کار پسې تللی دی او تر څو ورځو پورې به تاسو ته درنشي. خو ته باید پریشانه نشې، زه دلته یو بل دوست پیژنم د هغه په مرسته به له تا سره د اړیکو هڅه وکړم. سمدستی دی ته له هستوګنځی څخه مه راوزه، که تاسو په غرناطه کې خپلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستانو ته کوم ضروری پیغام را استول غوښتل نو إن شاء الله ډیر زر به تاته زموږ یو اعتمادی استازی درشی. و السلام، دریم کس.
سلمان جعفر ته وکتل تری وبی پوښتل : ته دا قاصد پیژنی چی څوك دی؟
: نه!
:ته پوهیږی چی د دی لیك لیکونکی څوك دی:
: نه! ما هغه نه دی لیدلی، او له ولید سره هم زما دوهم ځلی ملاقات نه دی شوی، سرای ته چی بیرته راستون شوم تر ماښامه می انتظار وکړ، په دی موده کی دوه ځله عبدالمنان په ولید پسی ورغی او چی بیرته به راغی راته ویل به یې چی، د کوم سری پیغام چی باید ته ورسوی هغه چیرته تللی دی، ولید د هغه انتظار کوی او ته به هم په هر حالت د هغه انتظار وکړی، بیا د ماښام لمانځه نه وروسته یوه نوکر دغه لیك راوړ او وبی ویل چی ولید د څه کار لپاره بهر ته روان دی څکه دلته نشی راتلای، عبدالمنان ویل چی د ښار د نورو ځوانانو په څیر یی ښایی ولید هم د غرنیو قبایلو د مشرانو لپاره استولی وی.
سلمان وویل :
ولید به د حامد بن زهره د شهادت کیسه درته کړی وی؟ د جعفر سترګې راډکی شوی وبی ویل : هوکی!
: هغه به تاته دا هم ویلی وی چی عام خلك باید له دی کیسی نه خبر نه شی؟
: هوکی! که هغه ماته د چوپ پاتی کیدو نه وای ویلی نو ما به د غرناطی په کوڅو کی چیغی وهلی وای.
سلمان وویل : ته باید د ولید په لارښوونه عمل وکړی اوس ته بیله ځنډه خپل کور ته د ځان رسولو هڅه وکړه او په منصور پام کوه، هغه باید په هیڅ حالت کی هم له کوره بهر ونه وزی.
جعفر اندیښمن شو وبی پوښتل : هغه ته څه خطر دی؟
: هوکی! عمیر او ملګری یې کلی ته رسیدلی دی، زه ویریږم چی د سعید ددرك معلومولو په خاطر به هغه څه جبر ونکړی، کورته د نیغ ننوتلو پرځای یو ځل څوك واستوه چی هغوی ستا د ورتګ په انتظار غلی نه وی.
جعفر په غوسه وویل : د هاشم زوی زموږ په کور کی دننه پل نشی ایښودلای، زه به یی غوښی وشکوم، خو تاته څه وږ معلومه شوه چی عمیر کلی ته رسیدلی دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان لنډ لنډ پېښې ورته بيان کړې. جعفر تر لږ ځنډه په چوپه خوله هغه ته کتل: بيا يې وويل : په دې حال کې زه بايد زر تر زره کور ته ځان ورسوم.
بدريې وويل : که دې په کلي کې څه خطر احساس کړ، نو منصور دلته راوله.
جعفر ځواب ورکړ: زما باور دی چې که عمير څه جبر پرې وکړ کليوال به ترسره پرې تېر شي.
عاتکې وويل : بيا هم ته بايد ډېر پام وکړې.
تاسو چورت مه وهئ، زه چې کلي ته ورسېږم وضعه به داسې جوړه کړم چې عمير ته هلته د تم کېدو امکانات نه وي.
سلمان وويل : کله چې هغوی په دې پوه شي چې عاتکه په کور کې نشته پوچوکارونو ته لاس اچولی شي، خو ته بايد په هېڅ صورت کې هم احساساتي نه شې دوی بايد ونه پوهېږي چې ته د حامد بن زهره په شهادت خبر شوی يې او پر ده شکمن يې، اوس ورځه، که زما له سعيد سره پاتې کېدل ضروري نه وای نو له تا سره به يوځای تللی وم.
جعفر وويل : نه ! وليد ماته په وار وار دا ټينګار کړی چې ته بايد همدلته پاتې شې، که خدای مه کړه کوم وخت ستا د مرستې ضرورت شي نو زه به درته پيغام واستوم.
سلمان وويل : راځه زه دې بهر ته رسوم.
جعفر څو شيبې په بې حسي سعيد ته کتل او بيا يې اوبنکې پاکولې له کوټې ووت.
لږ ځنډ وروسته هغه پر خپل اس پښه اړولې وه او سلمان ته يې ويل : که له ما سره د منصور غم نه وای نو يوه شيبه به هم له سعيد څخه نه وای لرې شوی. زه له تا څخه نوه ژمنه اخلم، چې تر څو د سعيد په اړه نه يې ډاډه شوی ته يې ملګری مه پرېږده، که تا دا احساس کړه چې حالت يې د انديښنې وړ دی نو ماته پيغام را واستوه.
سلمان هغه ته د تسلي په دود وويل : زه وعده کوم، خو ته بايد دومره انديښمن نه وې، إن شاء الله سعيد به ډېر زر بيرته روغ شي.
: خو هغه تر اوسه بې سده دی؟
: دا د دارو اغېزه ده، په موجوده حالت کې هغه ته خوب ډېر ضروري دی.
: بيا هم زما په ګومان د ابو نصر په هدايت بايد عمل وشي. زما پوره باور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کومې دواګانې هغه را استولې دي ډیرې به ورته ګټورې وي.
: ته غم مه کوه، سلمان ورته وویل:
جعفر هغه ته یو شیبه وکتل او بیا یې اس پونده کړ.

*****

راتلونکي سهار عاتکه د سعید له بستري سره نژدې په چوکۍ ناسته وه ا بیمې یې ایستل، بدریه کوټې ته ورننوته او.
وړاندې ورغله د سعید په نبض یې لاس کیښود او بیا یې وویل : ما درته وویل چې ته خوب ته ضرورت لرې. اوس ته ولاړه شه په بله کوټه کې ویده شه، تا ده ته دوا ورکړې ده؟
: هوکې!
: مګر زه حیرانه یم چې دومره ځنډ ولې را په خود نه شو؟
عاتکې ځواب ورکړ: ما چې دوهم ځل دوا ورځښله را په خود شو او تر ډیره وخته یې له ما سره خبرې کولې، بیا د شپې په دریمې برخې کې هغه په لړزه شو، ما غوښتل تا راویښه کړم خو هغه زه منع کړم، بدریې په اندیښنه وویل : تا باید زه راویښه کړې وای، تر اوسه یې تبه نه ده شکیدلې، اوس ته جګه شه په بله کوټه کې ویده شه.
عاتکې ځواب ورکړ: اوس ماته خوب نه راځي.
: زما خورې! ستا خوب ته اړتیا ده، ولاړه شه!
بدریې په ډیره مینه ورته وویل.
عاتکه جګه شوه بلې کوټې ته ولاړه او بدریې بیا د سعید نبض وکوت او پر کرسۍ کیناسته، څو دقیقې وروسته بوډا نوکر ورو ورو ور وټکولو او بیا دننه ورغی وې ویل : میلمه وایي که اجازه وي زه سعید وینم.
بدریې زر ټیکرې پر سر راسم کړ وې ویل : هغه زر راوله.
نوکر ولاړ او لږ ځنډ وروسته سلمان کوټې ته ورننوت.
: مهرباني وکړه! بدریې وویل : بیا یې زیاته کړه : سعید د شپې بیا را په خود شوی ؤ، ظاهراً یې وضعه ښه معلومیږي خو زه یې د تبې په باب اندیښمنه یم.
سلمان د سعید د نبض له کتلو وروسته په کرسۍ کیناست او وې ویل : که یې مناسبه بولې زه به غرناطې ته ولاړ شم ډاکتر به راولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



: نه که يې ډاکټر ته ضرورت شو ستا پر ځای به بل څوك واستوم. هغوی خبرې کولې چې مسعود په منډه کوټې ته ورننوت ويې ويل : صيب! جعفر بيرته راغې.

سلمان خفه شو بدريې ته يې وکتل او بيا يې مسعود ته وويل : هغه چيرته دی، دلته يې راوله!

مسعود بهر ته ووت او عاتکه له بلې کوټې راووته ويې پوښتل: جعفر راغی؟!

بدريې ځواب ورکړ: هوکې! مگر ته بايد ويده شوې وای.

: زه د منصور په باب پوښتنه کوم خدای «ج» دې وکړې چې هغه کوم ښه خبر راوړی وي.

بيا يې سيکه بدريې ته نژدې کيناستله.

*****

لږ څند وروسته جعفر له مسعود سره يوځای کوټې ته ورننوت او له څيرې يې ښکاريده چې کوم ښه خبر يې نه دی راوړی. هغه په ډير زحمت خپلې سلگۍ ټمې کړې او ويې ويل:

صيب! کورته زما تر ور رسيدلو دمخه هغوی منصور نيولی ؤ او کوم لوری ته يې ورسره بيولی ؤ.

سلمان له ځايه اوچت شو ويې ويل: چا؟

: عمير او د هغه ملگرو، هغوی زما ميرمن ته دا گواښونه هم کړي وو چې که عاتکه زر کورته راستنه نه شوه نو بدل به يې له منصور نه اخلي.

د سلمان په پوښتنه جعفر زر زر کيسه ورته تيره کړه.

سلمان بيا وپوښتل : هغوی کومې خواته تللي دي؟

: ماته معلوم نه دي، ما پر سرك نه دي ليدلي.

: تا د عمير له کوره معلومه نه کړه؟

: نه! امکان لري هغوی له هغه ځايه تللي وي، ما په دوی پسې د ورتلو پرځای دا ضروري وبلله چې تاسو ته خبر درکړم.

عاتکې چې دا واوريدل سر يې کلك ونيو بيا يې وويل : د دې ټول مصيبت سبب زه يم خو زه دا نه خوښوم چې زما په سبب د سعيد وراره ته څه تکليف ورسيږي.

زه همدا اوس بيرته تلو ته تياره يم.

له دې سره يې په سترگو کې اوښکې راوخوټيدې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان وویل : پردی خبرو به ورروسته فکر وکړو، سمدستی ما پرېږدی چی له جعفر نه پوره معلومات ترلاسه کړم، مسعوده ته زر تر زره زما اس تیار کړه.
مسعودِ له کوټی څخه ووت او سلمان له جعفر څخه وپوښتل : ته سیده دلته راغلی یی؟
: هوکی!
: په لاره کی خو به دی څوك نه وی لیدلی چی په تا پسی وی؟
جعفر وویل : زه چی له کوره راووتم د خوږ پلی غاړی څخه یو سپور راپسی شو.
سلمان په غوسه وویل : تا چی د منصور په اړه واورېدل بیا دی هم دا په خیال کی در ونه ګرځېدل چی ستا تګ راتګ به څارل کېږی؟ که د هغوی کوم جاسوس په تا پسی را روان وی نو تا خو دی کلی او کور ته د هغه لارښونه وکړه.
جعفر وویل : د شپی په ورروستی برخه کی ما هغه ونه لیدای شو چی څوك دی، زموږ په منځ کی ډېره فاصله وه، بیا چی زه کلی ته را نژدی شوم شکمن شوم اس می ودراوه او په فکر کی شوم.
سلمان وویل : هغه تردی کلی درسره راغلی او ته دومره احمق یی چی نیغ دلته راغلی!
: جعفر وویل : صیب! له ما څخه اشتباه خامخا شوی ده خو ته لږ په ډاډ زما خبره واوره! امکان لری بیا می دومره احمق ونه بولی.
کلی ته چی را نژدی شوم پر دی باوری شوم چی هغه په ما پسی دی څکه چی جومات ته نژدی شوم له اس څخه پلی شوم. اس می په ونه پوری وتاړه او جومات ته ننوتم، له نیکه مرغه د سهار اذان وشو او څو تنه لمونځ کوونکی راټول شوی وو، ما د جومات له غولی څخه د دیوال له څنګه سرك ته وکتل هغه سپور لږ لری ولاړ ؤ، زما باور ؤ چی هغه زه جومات ته د ننوتلو په وخت کی لیدلی یم او ترڅو زما اس د سرك تر څنګ وی دی به ډاډه وی چی زه په جومات کی یم، څکه خو زه له شا څخه پر دیوال راواوښتم او له جومات څخه راووتم.
له یوه اوږده چکر وروسته می ځان دلته رارسولی دی. زما باور دی چی تر څو خلك له لمانځه څخه وزګار نه شی او بهر راونه وزی هغه به دا ګومان نه کوی چی زه په جومات کی نه یم او بل لوری ته تللی یم.
سلمان لږ ډاډه شو ویی ویل : اوس ته ورځه همدغسی جومات ته ننوزه او له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازې څخه ووځه او غرناطې ته مخه کړه، زه به په لاره کې درسره ملګرې شم، ستا له څه حرکت څخه باید دا معلومه نه شي چې ته پر هغه شکمن شوی یې.

جعفر وویل : که تاسو څنګ وکړې نو زه به په غرناطه کې په همغه سرای کې ستاسو انتظار کوم.

: ته عادي مزل کوه، زه به نه ځنډیږم.

ورځه اوس بیړه کوه!

جعفر په منډه له کوټې څخه ووت.

بدریې وویل : ته څه کول غواړې؟

سلمان ځواب ورکړ: زه تاسو ته د دې زمینه برابرول غواړم چې سعید له دې ځایه وباسي کوم بل ځای ته یې ورسوي، دې کلې ته نژدې کوم بل ځای شته چې تر دې زیات خوندي او په امن وي؟

بدریې ځواب ورکړ: د شیخ ابو یعقوب کلی له دې ځایه یوازې دوه نیم میله لرې دی، هغه څلور ورځې له موږ نه وړاندې خپل کور ته راغلی دی. که زه هغه ته خبر ورکړم نو په خوښۍ به سعید ته په پناه ورکولو راضي شي. خو په داسې حال کې د سعید وړل خطرناک دي.

: که هغه جاسوس یوازې وي نو دلته سملستي سعید ته څه خطر نشته، زه به په لاره کې ورسره ټکر شم، خو بیا هم سعید او عاتکه هر وخت باید له دې ځایه وتلو ته چمتو وي... هغه کلی کوم لورې ته دی؟

بدریې ځواب ورکړ: ختیځ لورې ته زموږ د کور سره نژدې لاره تیره شوې ده، خو دا لاره ډیره سخته ده، یوه اوږده خو هواره لاره زموږ له کلي څخه دوه میله لرې له سړکه بېله شوې ده او په تنګه دره کې د ابو یعقوب تر کلي پورې رسیدلې ده، خو په هغه لاره د خلکو تګ راتګ وي ځکه خو که ضرورت شو نو سعید باید په غرنۍ لاره هغه کلي ته ورسوو.

سلمان وویل : که تاسو پر شیخ ابو یعقوب اعتماد کولی شې نو دلته یې راوغواړې!

بدریې ځواب ورکړ: هغه زما د میړه ډیر ښه اندیوال ؤ. هره دوهمه دریمه ورځ زموږ د احوال د پوښتنې لپاره راځي!

عاتکې وویل : که کور ته زما په بیرته ستنیدلو سره د سعید او منصور د سرونو خیر وي نو زه تیاره یم. سعید هم پردې ډیر ناکرار ؤ چې زه ولې دلته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلی یم.

سلمان ځواب ورکړ: سعید دا نه خوښوی چی تا هغه لوړتارو ته وسپاری، د هغوی لاسونه د حامد بن زهره په وینو رنګ دی، تاسو په خپله قربانی منصور نشی راژغورلی، اوس د خبرو وخت نه دی که نه نو ستا پر دی قانع کول راته ګران نه دی چی که ته د هغوی په لاس ورغلی نو لاسونه به یی د سعید شارګونو ته ورسیږی.

سلمان د دروازی په لوری ولاړ او بیا یی بدریی ته مخ راواړاوه ویی ویل: تاسو پر دوی پام کوی.

: تاسو د دوی غم مه کوی خو...!

سلمان زر بهر راووت او بدریی خپله خبره پوره نکړای شوه.

*****

له کلی نه نږدی دوه میله لری له جعفر سره دوهم سپور ولیدل شو، هغوی په عادی رفتار مزل کاوه، لږ ځنډ وروسته سلمان هغوی ته نږدی ور ورسید او د خپل اس جلب یی راکش کړ، له جعفر سره روان سپور یو زلمی ؤ چی په یوه شین وزمه رنګ اس سپور و، سلمان خپل اس د هغه له اس سره نژدی کړ تری ویی پوښتل: دغه سړك غرناطی ته تللی دی؟

: هوکی! هغه په بی پروایی ځواب ورکړ او د اس رفتار یی لږ ګړندی کړ.

سلمان بیا وپوښتل : غرناطه له دی ځایه څومره لری ده؟

نا آشنا ځواب ورکړ: غرناطه هغه مخامخ ښکاری، ته له کوم ځایه راغلی یی؟

سلمان ځواب ورکړ: زه له ډیر لری ځایه راغلی یم، ته هم غرناطی ته روان یی؟

ځوان د ځواب پر ځای اس پونده کړ او څوګامه وړاندی شو.

جعفر په خپ غږ وویل : دا هماغه دی!

: ماته معلومه ده خو دا ځای د حملی لپاره مناسب نه دی، څو تنه دی لوری ته را روان دی او لکه چی په هغوی پسی یوه ګاډی هم را روانه ده، تر څو هغوی وړاندی نه دی تیر شوی ته داده راسره روان اوسه زموږ له خبرو نه باید دا ښکاره نه شی چی دواړه سره پیژنو.

هغه وړاندی روان وو، د شین وزمه اس سپور اوس اندیښمن و او په وار وار یی شاته پسی راکتل، تر څه وخته دیرش څلویښت ګامه فاصله د دواړو ترمنځ پاتی وه، بیا نا آشنا تګ ورو کړ او چی سلمان ورنژدی شو په زوره یی جعفر ته وویل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ډیر له لری راغلی یم، ما چی تر دی وړاندی غرناطه لیدلی وه هغه وخت زه ډیر کوچنی وم، دوهم ځلی ترڅو ساعته زیات ماته د ایساریدو فرصت په لاس رانغی، د غرناطی وضعه دومره خرابه وه چی کاکا می سمدستی له هغه ځایه د تلو امر راته و کړ، اوس ماته دا معلومه نه ده چی د هغه به څه حال وی؟ له جګړی وروسته د هغه هیڅ احوال نه دی راغلی.

مخکینی سپاره بیله دی چی ده ته وګوری دا خبری اوریدی، لږ چی نور وړاندی ولاړل دری تنه چی یو یی په کچره سپور و په مخه ورغلل او تری تیر شول. بیا سلمان څو دقیقی پر هغوی پسی د ګاډیوان انتظار وکړ، د ګاډی خاوند چی پنځلس شل ګامه ور نژدی شو دواړه لاسونه یی اوچت کړل. دا عثمان ؤ، خو سلمان د دی پرځای چی هغه ته پام وکړی خپل اس یی پونده کړ، د شین وزمه اس خاوند په بیره وغوښتل چی ځان یوی خواته کړی خو سلمان ناڅاپه پری ور تېبت شو او یو لاس یی د هغه تر ملا راوڅرخاوه هغه یی له زین څخه راپورته کړ او لاندی یی وغورځاوه. له دی سره سلمان په بل لاس د اس جلب راکش کړ خو ګړندی اس څو ګامه وړاندی تیر شو او بیا ودرید.

غورځیدلی زلمی څو شیبی بی حرکته پروت ؤ، بیا زر راپورته شو او توره یی وکښله، سلمان هم بیرته راوګرځید او له اس څخه پلی شو د هغه مخی ته راغی، په دی ځنډ کی جعفر هم له اس څخه پلی شو او توره یی را ایستلی وه، خو سلمان ورته وویل :

جعفره! ته شاته شه او زموږ اسونه ونیسه. نا آشنا په ډیره تیزی حمله وکړه، خو سلمان پر خپله توره د هغه حمله ودروله، بیا د هغوی توری سره ټکر شوی. سلمان څو دقیقی دفاع کافی وبلله، خو بیا یی یو پر بل پسی څو حملی وکړی او مقابل لوری یی په شا تلو ته اړ ویست، لږ ځنډ وروسته هغوی له سرک نه لاندی کیوتلی وو، نا آشنا زلمی ناڅاپه پل بدل کړ او د ځوابی حملی هڅه یی وکړه خو په سلمان یی داو ونه چلیده او یو ځل بیا مات شو او پر شا ولاړ، چی بیا د اوبو په یوه وړوکی ډنډ کی وغورځید ورسره سم د سلمان د توری څوکه د هغه پر خیټه ولګیده. هغه ورته وویل : جګ شه! زه یو ځل بیا موقع درکوم.

نا آشنا وپوښتل : ته حوك يی؟

: اوس به درته معلوم شی راجګ شه؟نا آشنا توره یوی خواته وغورځوله او له کندی څخه راوچت شو دواړه لاسونه یی اوچت کړل ویی ویل : زه خپله ماته منم!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان وپوښتل : ملګری دی چیرته دی؟
:زما ملګری ؟
: هوکی! ستا ملګری! سلمان په درانه غږ وویل او بیا وراندی ورغی د هغه پر مری یی توره ورکیښوده. هغه په ویریدلی لهجه ځواب ورکړ: صیب! له ما سره هیڅوك نشته، زه یوازی غرناطی ته تلم او دغه سړی می په لاره کی ملګری شو.
سلمان وویل : ته دا خوښوی چی همدغه وړوکی کنده دی قبر شی؟
: مګر زما ګناه څه ده؟
: ستا ګناه دا ده چی د حامد بن زهره له وژونکو څخه یی، تاسو یو معصوم ماشوم تښتولی دی. او اوس ته د عتبه او عمیر په امر د هغه په نوکر پسی راغلی یی. ستا هیڅ خبره له مانه پټه نه ده، ستا ملګرو د منصور له تښتولو څخه وروسته دا امر تاته کړی چی راشه غلی د دی کور څارنه کوه او که د شپی څوك تری راووتل وریسی ورشه او دا معلوم کړه چی هغه چیرته ځی؟ ځکه چی یو د شریف سړی زوی چیرته غلی شوی دی او د دښمن جاسوسان د هغه د نیولو هڅه کوی.
نا آشنا د ځواب پرځای په حیرانی سلمان ته کتل.
سلمان مخ واړاوه او عثمان ته یی وکتل چی د هغه اس یی رانیولی ؤ او دوی ته نژدی ورغلی ؤ، هغه وویل : جعفره! ماته د دی سړی د خولی چوله کولو په خاطر یوازیتوب ته ضرورت دی، ته یی سمدستی لاس او پښی وتړه، بیا یی بندی ته پر ګاډی د سپریدو امر وکړ او هغه هم سمدستی ومانه، جعفر یوه رسی را خلاصه کړه د هغه لاس او پښی یی وتړل او پر خوله یی یوه ټوټه ورننویستله.
سلمان پر خپل اس سپور شو او عثمان دواړه نور اسونه پر ګاډی له شانه پسی وتړل او بیا یی سلمان ته وویل:
: صیب زه تاته څه وایم!
: ووایه!
عثمان د هغه د اس جلب ونیوله ګاډی څخه څوګامه لری ولاړل ویی ویل : زه عبدالمنان د تپی د پوښتنی په خاطر را استولی یم. هغه دا هم راته وویل چی ولید په یوه مهم کار پسی تللی دی، خو هغه سړی چی تاته یی لیك را استولی ؤ ډیر زر به له تا سره د ملاقات هڅه وکړی، د ډاکتر په باب هغه وویل چی سمدستی له غرناطی څخه د هغه بهر ته وتل خطرناك دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکومت جاسوسان ډیر ځك دي، خو که هغه تاسو راغواړي نو نن یا سبا ته به یې ورته راواستوو.

سلمان وویل : ډیر ښه اوس تـه زر ځان کلي ته رسوه موږ به په ګاډي کي وابنه درواچوو او تا به بیرته واستوو. امکان لري چي پر وښو برسیره یو یا دوه تنه هم درسره بوزي.

ته خو وایه یې چي په دروازه کي به دي ګاډی نه تلاشي کوي؟

: که څوك تر وښو لاندي غلي شوي وي نو پهره داران یې نه تلاشي کوي، خو که تاسو څه خطر احساسوی نو د دي بندوبست کیدای شي چي په دروازه ډیر اعتمادي کسان زموږ هرکلي وکړي او کوم پهره دار ګاډي ته د راکتو جرئت هم ونه کړي.

: ستا دا مطلب دئ چي ترتلو د مخه ته بېا عبدالمنان ته پیغام استولی شي چي په دروازه کي لـه پهره دارانو څخـه د خوندي کیدو پـه خاطر د هغـه د مرستي ضرورت دی؟

: عثمان موسکی شو، موږ یوه داسي سړی ته پیغام استولی شو چي د ضرورت په وخت کي د غرناطي هري دروازي ته ستاسو هرکلي ته په سلګونو تنه استولی شي.

: هغه څوك دی؟

: آغا ویل چي هغه دریم سړی دی چي استازی یې هر وخت هغه ته ستا پیغام ور رسولی شي.

: خو هغه استازی یې څوك دی؟

: صیب! هغه استازی په هوا کي الوزي، تا زما په ګاډي کې د کوترو یو کپس ونه لید، ما څلور کوتري درته راوړي دي، او آغا چي دغه کپس ماته سپاره را ته ویې ویل:

دا د دریم سړي سوغات دي، او تـه د ډیر سخت ضرورت پـر وخت کـار تري اخستلي شې. که سعید تـه کوم خطر وي نـو یوازي یوه کوتره والوزوی. هغه بـه له پیغام پرته وپوهیږي چي د سعید مرستي ته اړتیا ده، نوري کوتري وروستـه درته په کاریدای شي، تاته به د سړي د استولو ضرورت نه کیږي.

: ډیر ښه اوس زر کلي تـه د ځان رسولو هڅه وکړه، له هغه ځایه په ګاډي کي وابنه بار کړه موږ بـه بیرتـه درسره راځو، پـه لاره کي بـه پـه کوم مناسب ځای کي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جعفر دغه سړی کوز کړی او زموږ انتظار به کوی.

عثمان وویل : ما هم دا فکر کاوه چی کلی ته د هغه بیول خطرناك دی، د کلی خلك چی هغه ووینی پری راټول به شی، له دی ځایه لږ لری د کروند ګرو څو څپرې تر اوسه پوری تشی دی، ته دی هلته غلی کولی شی.

هغه لوری ته د خلکو تګ راتګ هم زیات نه دی.

عثمان دا وویل او په ګاډی کی کیناست، نژدی له نیم میل مزله وروسته عثمان ګاډی کیڼ لوری ته وګرځوله او بیا نیم میل نور په کنده کپره لاره له مزله وروسته پنځلس شل خامو کورونو ته ورسیدل.

عثمان له لاری څخه نژدی پنځوس ګامه لری د کلی د وروستی کور په مخ کی ګاډی ودروله.

جعفر زر راکوز شو بندی یی په اوږه کړ او دننه یی یووړ، عثمان دواړه اسونه له بګی نه خلاص کړل او په غولی کی یی دننه وتړل، لږ ځنډ وروسته عثمان او سلمان بیرته تللی وو او جعفر په یوه کوټه کی پر بندی پهره کوله.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عاتکی پریکړه

مسعود چی د سلمان اس ولید چی حویلی ته ورننوت ورمنډه یی کړل او د اس جلب یی ونیو، هغه غوښتل څه ووایی خو سلمان خبروته پری نښود او له اس نه راکوز شو ویی ویل:

: زه زر بیرته روان یم، د اس څخه د زین اخستلو ته ضرورت نشته، ته اس وتړه بهر پر سرك ودریږه، تر لږ ځنډه به هغه ملك چی کلی ته په وښو پسی راځی را ورسیږی، ته د هغه ګاډی،هم دننه راوله او د هغه لپاره سمدستی واښه برابر کړه، زه د یوه ضروری کار لپاره له هغه سره ځم.

مسعود پوښتنه وکړه: ته چی په کوم سړی پسی ورغلی هغه څه شو؟

: ته د هغه غم مه کوه هغه زموږ په ولکه کی دی، اوس د تپی وضعه څنګه ده؟

مسعود ځواب ورکړ: لږ ځنډ وړاندی هغه ډیر ناکراره ؤ، خو اوس ویده دی.

سلمان په بیړه د کور د هستوګنی کوټو ته ولاړ، اسما په انګړ کی ناسته وه، هغه زر راجګه شوه او چیغی یی کړی: مورجانی! مورجانی کاکا جان راغی. بدریه د منځ له کوټی راووتله او سلمان یی دننه ورسره بوت، په پراخه کوټه کی یو عمر خوړلی سړی پر کرسی،ناست ؤ چی پر سپین ژیرتوب برسیره زیات روغ او ځواکمن معلومیده.

بدریی وویل : دا شیخ ابو یعقوب دی.

ابو یعقوب جګ شو او سلمان وړاندی ورغی لاس یی ورکړ، بدریی وویل:

ما ستا له تلو وروسته د ده د رابللو اراده کوله خو ده پخپله تشریف راوړ، ته ډیر زر بیرته راغلی، د هغه سړی په باب څه معلومات وشول؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان ځواب ورکړ: هغه ربښتیا هم د قاتلانو جاسوس ؤ، خو اوس موږ ته څه خطر نشي جوړیدای، هغه ټپي دی او ما دلته نژدی جعفر ته لاس او پښې تړلې پریښې.

د بدریي او ابو یعقوب د پوښتنو په ځواب کې سلمان ټوله کیسه ورته تیره کړه.

بدریي وویل : د یعقوب کاکا هم دا نظر دی چې په دې حالاتو کې د ددوی کلي د سعید لپاره ډیر مناسب دی.

ده خپل کلي ته پیغام استولی دی، له هغه ځایه به څو تنه راشي، او إن شاء الله چې ماښام شي سعید به له غزني لاری هلته ورسوو. خو زه اوس له یوی بلی اندیښنې سره مخ یم، عاتکه خپل کورته تللې ده.

: څه وخت؟ سلمان په حیرانۍ هغې ته وکتل او ویې پوښتل.

: لږ ځنډ وړاندې، ستا له تلو څخه نژدې نیم ساعت وروسته سعید را په خود شو، چې سترګې یې وغړولې لومړنی پوښتنه یې دا وه چې تر اوسه پورې جعفر د منصور په اړه کوم احوال نه دی را استولی؟

موږ د هغه دپام غلطولو هڅه وکړه خو عاتکې ته د اوښکو ایسارول ممکن نه وو، هغه څو شیبې موږ ته په چوپه خوله کتل بیا یې چیغې پیل کړې:

تاسو له مانه څه خبره پټوئ، ما لومړي هغه ته د ډاډ ورکولو هڅه وکړه چې تاسو «سلمان» هم په منصور پسې تللی یاست. او موږ ته به ډیر زر یو ډاډمن احوال راشي، او بیا چې موږ ته د یوې خبرې د پټولو امکان نه ؤ نو په ویره ویره مو د هغوی پر کور حمله او د منصور د تښتولو پیښه ورته یاده کړه، هغه تر لږ ځنډه د بې وسۍ په حالت کې موږ ته کتل، بیا ناڅاپه راپورته شو او له کوټې څخه یې د وتلو هڅه وکړه خو دروازې ته نژدې ولوید، مسعود هغه راپورته کړ او په بستره یې واچاوه، په ډیر زحمت ما د خوب دوا پرې وڅښله او تر لږ وخته د لاس او پښې وهلو او غړمبیدو وروسته ویده شو.

: بیا څه وشول؟

سلمان په سوالیه نظر بدریي ته کتل، عاتکې چې د هغه دا حالت ولید ناڅاپه یې د بیرته ستنیدو پریکړه وکړه، هغې پخوا هم څو ځله ماته وویل چې که هغو ظالمانو منصور ته څه زحمت ورکړ نو سعید به ما بالکل ونه بخښي او زه به د هغه له قیده را خلاصولو په خاطر تر سر هم تیره شم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د هغې د ايسارولو ډېرې هڅې وکړې، خو اراده يې کلکه وه، هغې ويل چې که زه کور ته ولاړه نه شم د منصور او سعيد دواړو ژوند په خطر کې دی، زما له عمير څخه د څه خير تمه نشته خو د خپل تره نه اوس هم تمه لرم چې هغه به د حامد بن زهره د زوی او لمسی د ژغورنې په اړه زما غوښتنه رد نه کړي، که نه نو زه به په کلي کې يو توپان راپورته کړم.

سلمان ورويل : هغه يوه زړوره نجلۍ ده، او زه پوهېږم چې د منصور د تېښتولو نه وروسته د دې په ضمير کوم بوج ؤ له هغه نه يې د ځان ژغورلو په خاطر ځان پخپله قربانۍ ته وړاندې کړ، خو هغه ته دا ولې په خيال کې ورنغلل چې کور ته ولاړه شي نو دا پوښتنه به ترې کيږي چې ته چيرته وې؟ او بيا به هغوی نيغ دلته راځي.

بدريې ځواب ورکړ: له هغې سره د دې خطر احساس ؤ خو ويل يې چې زه به په اور کې ځان واچوم مگر د سعيد درك به ورنکړم، د هغوی د غلطولو لپاره د دې په ذهن کې ډېر تدبيرونه وو، هغې ماته دا وويل چې زه به نيغه د خپل کور پر ځای مابنام مهال د جنوب له لوری کلي ته ننوځم، او کله چې دوی رانه پوښتنه وکړي نو ځواب به ورکړم چې ماته د سعيد د کوم ملگري په لاس دا احوال راغی چې د هغه پلار يې وژلی دی او دی د خپل ځان د ژغورلو لپاره چيرته لرې روان دی، اوس د يوه تېږي ملگري په سبب په يوه غار کې پټ دی، هغه پر هاشم کاکا او عمير شکمن ؤ ځکه خپل کور ته رانغی، زه يې د ځای معلومولو لپاره تللې وم، هلته څو نور مجاهدين هم د دوی مرستې ته ورغلي وو، اوس زه په ډاډه زړه بيرته راستنه شوم چې دوی به څو ميله نور تللي وي او له خطر څخه يې ځانونه ايستلي دي.

سلمان ورويل : خدای «ج» د وکړي چې د هغې دا پلان کامياب وي، خو زما انديښنه ده چې هغه هلته په تلو اشتباه وکړه، هغه به عمير تير باسي او ښايي خپل کاکا هم دوکه کړای شي خو عتبه ماته خطرناك سړی ښکاري، که هغه لږ شك وکړي نو پر منصور به د تکليف اخطار ورکړي او دا به رښتيا ويلو ته مجبوره کړي.

ابو يعقوب چې تر اوسه پورې چوپ ؤ او خبرې يې اوريدلې وويل : تاسو ډاډه اوسئ، زه هاشم ډېر ښه پيژنم، او د قبايلي مشرانو له خوا هغه ته د دې پيغام ذمه واري اخلم چې دوی ته دسيسې معلومې شوې دي او د حامد بن زهره پر لمسي به

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظلم وته زغمي، خو اوس سمدستي مسئله دا ده چې سعید زر تر زره له دې ځایه وباسو.

سلمان وویل : پخوا زما هم دا نظر ؤ چې دې باید سمدستي ستاسو ځای ته ورسوو. خو اوس تقدیر یو بل سبب پیدا کړ، لږ ځنډ وروسته به له دې ځایه د وینو یوه ګاډې روانیږي. موږ سعید په هغې کې غرناطې ته رسولی شو، هغه ته به خامخا زحمت وي خو دغه سفر به ستاسو د کلي د غرنیو لارو نه ډیر آسانه وي.

ما د سعید په نوکر پسې راغلي جاسوس هم غرناطې ته بیول غوښتل خو هغه به اوس ستا سره بندي وي، اس یې باید همدا اوس درسره بوزې او چیرته یې غلې کړې.

بدریې وویل : که سعید یو ځل غرناطې ته ورسیږي نو هلته به هیڅ خطر ورته نه وي، هلته به په زرګونو آزادي غوښتونکي پرده ځان قربانولو ته تیار وي خو که په دروازه کې یې ګاډې ولټوله بیا به څنګه کیږي؟

سلمان ځواب ورکړ:

د دې خبرې بندوبست شوی دی، آزادي غوښتونکو ته به تر لږ ځنډه د هغه د روانیدو خبر ور ورسیږي. او هغه خلك به په دروازه کې زموږ هرکلي ته راغلي وي چې پهره داران د هغوی په وړاندې ګاډې ته د نیغ کتو جرئت نه لري.

سلمان ځواب ورکړ: دریم سرې د ګاډې د خاوند په لاس ځلور کوترې را استولې دې، ماته یوازې د یوې رقعې لیکل ضروري دي خو د عاتکې په اړه زه اوس هم ډیر پریشانه یم، که ماته دا معلومه وای چې تر ماښام به دا چیرته وي نو ما به اوس جعفر ور استولی ؤ، او دا احوال به مې ور کاوه چې کورته ولاړه نه شي هلته یې تګ خطرناك دی.

بدریې وویل : نه! هغې پردې ډیر تینګار کاوه چې ترڅو زه له تاسو سره احوال ونه نیسم ځوك دې په ما پسې د راتلو هڅه نه کوي، ستاسو په باب هغې ویل چې د سعید او منصور څخه پرته ستاسو مرسته هم زه خپله ذمه واري او مسئولیت ګڼم زه به غدارانو ته داسې ور فهموم چې یو مجاهد له حامد بن زهره سره راغلی ؤ هغه هم له سعید سره د جنوب په لورې تللی دی چې د غدارانو پام په بل لورې واوړي.

ابو یعقوب وویل : اوس ستا په اړه بدریې خبره وکړه او د اوسنیو حالاتو په پام کې نیولو سره خپل کور ته د عاتکې له ستنیدو وروسته بنایي د هغو خلکو تر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعيد هم زيات ستا په باب اندېښنه وی، ځکه خو ته بايد زيات پام وکړی، زما څو تنه به د ښار تر دروازې ستا په مخکی او وروسته بدرګه درسره روان وی دخطر په وخت کی به ستاساتنه کوی.
انشاءالله په غرناطه کی به ډېر زرزموږ ملاقات وشی.
بدريی ورېل : زه به په کومی لاری دعاتکی احوال واخلم که کومه ضروری خبره وه نودابو نصر په واسطه به تاسوته احوال در کړم، امکان لری پخپله غرناطی ته درشم، ماچی سعيد ته کومه دوا ور کړی ده هغه به ترډېره پری په هوښ راشی، بيا هم تاسو داحتياط لپاره يو څه دوا ګانی درسره يوسی.
بوډا نو کرکوټی ته راننوت اودکوترو کپس يی دسلمان په مخکی کېښود ويی ويل:
دګاډی خاوند راغی ، مسعود هغه ته وانبه راتولوی سلمان اسما ته وويل چی قلم اوکاغذ ورته را وړی بيا پر کرسی کيناست او به بيړه يی څو کرښی وليکلی، ترهغی وروسته يی له کپس نه يوه کوتره را وايستله او په نری تاری ليك دهغی پرپښه وتاړه بدريی ته يی ورېل:
نوری کوتری به له تاسره وی ، زه به جعفر بيرته راواستوم، خو هغه سمدستی کورته دتلو پر ځای بايد يوه ورځ وروسته ولاړ شی، ظاهراً ددی خبری امکان هيڅ نشته چی عمير دمنصور له تښتولو وروسته په خپل کور کی دپاتی کيدو جرئت وکړی بيا هم ترڅه ځنډه دجعفر دلته پاتی کيدل ضروری دی. بيا که له هغوی نه څوك هلته وو هم دی به ووايی چی نيغ له غرناطی څخه را غلی يم هلته چی دسعيد څه دوستان ماوليدل له دی څخه خبر نه وو چی هغه چيرته دی.
ته له هغو کوترو څخه يوه ده ته ور کړه اوزما نه خوا داهدايت ورته وکړه چی دعاتکی احوال واخلی او بيا موږ ته احوال راواستوی، زه به يی له دريم کس څخه خبر اخلم.
سلمان چی له کوره بهرته ر اووت ليك وړونکی کوتره يی والوزوله ،کوتره په هواکی ترکوريو چکرراوګرځيدله اوبيا نيغه دغرناطی په لوری والوته.
سلمان چی بيرته راغی دابو يعقوب په مخکی کيناست. ويی ويل : جعفر به دلته تربيا راتګ دمخه ستاديوه تن په ملګرتيا بندی ستاسوکلی ته ورسوی، ماغوښتل له هغه نه څو خبری معلومی کړم.
خو هغه به په آسانه درازونو را سپړلوته چمتو نشی، ځکه خو ما هغه جعفر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وسپاره اوتري راغلم هغه ويل چی زه دداسی خلکو په چاره پوهیږم، په لاره کی به زه دهغه له چلن څخه ځان خبر کړم، که نه نو بیا به هغه زه ستارحم اومهربانی ته حواله کوم.

بوډا نوکربیا کوټې ته را غی اوابو یعقوب ته یی خبر ور کړ چی ستا له کلی څخه شپږ کسه سپاره راورسیدل اولس تنه نور په هغوی پسی پلی راروان دی.

ابو یعقوب خلکو ته دهدایت ور کولو لپاره بهرته ورووت اوسلمان څودقیقی له بدریی سره ترخبرو اترو وروسته جگ شو ویی ویل:

زه هم یوځل کوچوان گورم اوراځم.

یوساعت وروسته له وښو ډکه گاډی دهستو گنی د کوټو مخی ته دریدلی وه، سعید یی په درانه خوب ویده پکی څملاوه او په وښو کی یی پټ کړ.

بدریه اواسما په دروازه کی ولاړی وی کله چی گاډی روانه شوه سلمان هغوی ته نژدی ورغی دواړه لاسونه یی داسما پرسرکیښودل هغی سرځوړند کړاو په سلگیو شوه، بیا لږ راتکیه شوه ویی ویل:

ته خو به بیرته راځی که نه اوس به زمونږ سپی دشپی مهال هم تاته نه غپیږی.

بدریی وویل : لوری ! ته دژړا پر ځای ده ته باید دعا وکړی.

سلمان چی بدریی ته وکتل دهغی په ستر گو کی هم اوښکی ځلیدی. هغه پر خپل زړه له زغم څخه وتلی بوج احساس کړ بدریی اسما ته پام ور واړاوه ویی ویل:

اسما! ددی هیواد هرسر ته د سلامتی په خاطر دخپلو معصومو خویندو اولونو ددعا گانو اړتیا ده ستاسو دکور سپی له یوه نااشنا میلمه سره بلدیدای شی خو کاشکی دهغو بی وسه انسانانو چاره له ماسره وای چی ټول اولس بهرنیولیوانو ته په مخ کی غورځوی.

بیا یی په ډیر زحمت خپلی اوښکی رااېساری کړی اوبدریی ته یی وکتل:

زه نه پوهیږم چی تاسو به بیا چیرته او په څه ور حالاتو کی ولیدای شم، خو که الله تعالی زه د خپل نیمگری کار د بشپړولو لپاره ژوندی پریښودم نو تل به په دی خبره ویاړم چی له تاسو سره د پیژندگلوی او لیدو نیکمرغی را په برخه شوی وه، ما د الحمرا د لیدو ډیره مینه درلوده، خو اوس دغه کور ماته له هغی نه زیات له دبدبی ډک ښکاری.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به تل دا دعا کوم چې د اندلس له افق څخه د مرګ تیارې لیرې شي، خو که خدای «ج» مه کړه غلامي زموږ برخه ګرځیدلې وې نو بیا به دا خیال ما ډیر ځوروي چې هغه ښځه چې په څیره کې یې داولس د تیرو عظمتونو داستانونه لیکل شوي وو د مرګ په تیارو کې سرګردانه ده.

بدریې په غمجنه لهجه ځواب ورکړ:

د اولس د لوښو د عزت او ذلت مسأله د اولس د زامنو په غیرت او همت پورې اړه لري، بیا هم که د ورکیدو او مرګ لاره غوره کوونکې ولس یوه یې وسه ښځه د عزت ورګنې نو له تا څخه مننه کوم او زه داسې احساسوم چې دا زموږ وروستی لیدل نه دي.

سلمان د نوکر له لاسه د اس جلب واخست او خدای «ج» پامان یې وویل پرې سپور شو، له کوره تر راوتو وروسته د دغې ساده، له وقار او حیا څخه ډکې ښځې څو انځوړونه د ده تر سترګو کیدل او ده ته هر انځور تر بل زیات په زړه پورې او جذاب ښکاریدو.

له هغې سره د سلمان لومړی ځل لیدل په داسې حالت کې شوي وو چې که هغه د غیر معمولي شخصیت خاونده نه وای هم نو د یوې ښځې د ایثار او خلوص او د یوې ځوانې کونډې صبر او زغم او د یوه تپې په خدمت کې د دې خلوص او خواخوږۍ او بالاخره له یوه نا آشنا مسافر سره د مخامخ کیدو پر وخت د دې اعتماد او جرئت بس ؤ چې دې ته تر اغیزې لاندې راغلی وای.

بیا په لومړي ځل چې هغې له ده سره په کوم جرئت خبرې وکړې دې یوازې تر اغیزې لاندې رانه غی بلکې رعب یې پرې ولوید، خو بیا هم بدریې چې په خپل ښځینه حسن او جمال او خپله بې پروایي د ده د روح په تل کې د ژوند د کتاب په څیر کومې اغیزې پریښودي د هغې سهي احساس ده ته هغه مهال وشو چې کله یې رخصت ترې اخست.

*****

له کلي لږ لرې هغه له عثمان سره مخ شو، بیا یې ناڅاپه دا احساس کړه چې له بدریې څخه ډیر پراوه لرې شوی دی او وړاندې هر ګام د حامد بن زهره اروا ده ته د نویو هدفونو په لوری غږ کوي، دې به د مرګ تر شیبې پورې د عاتکې په څیر د زړګونو نجونو، د منصور په څیر زرګونو ماشومانو کړیږې اورې، دې له یوه زړه وړونکې خوبه راویښیده او د ژوند د ترخو حقیقتونو سره مخ کیده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشیخ ابویعقوب کسان له دوی نه لږلږ وړاندې وروسته ورسره روان ووهغه به کله کله کوچوان ته دګاډي درولو امرکاوه اوتروښولاندې دتپې زګیروی ته به یې غوږنیوه اوخپل داړ به یې کاوه.

دسرك دکومې دوه لارې نه لږوړاندې چې ده بندي اوجعفر پریښي وو هلته ابو یعقوب دده انتظار کاوه ده ته یې وویل: مابندی ستاله ملګری سره واستاوه،پخپله به هم ژرورپسې ځان رسوم، دالاره زموږکلي ته تللې ده ته یې ښه په یاد لره ،غوښتل مې درته ووایم چې دهغه ناآ شناسري نوم ضحاك دی او د ورور نوم یې یونس دی.

جعفروویل چې ماپه ډیرزحمت دامعلومات ترې واخستل اووروسته بیا هغه بې سده شو،مګرزه تردې غوره لارې پیژنم، ان شا الله ترسباپورې به غرناطې ته پوره معلومات درواستوم.

# له ابو نصر سره لیدل

پاتې لاره دوی بیله څه پیښې ووهله،له دروازې څخه یو میل لرې یې د عبدالمنان یو نوکر ولید چې پرخره سپورو،هغوی چې نژدې ورغلل ګاډی یې ودروله عثمان له هغه سره ښوخبرې وکړې اوبیا یې مخ راوګرځاوه اوسلمان ته یې چې څوګامه وروسته ور روان و غږوکړ،هغه اس ور وزغلاوه اودسترګوپه رپ کې ور ورسېد،خدمتګار په ادب سلام وکړاوویې ویل:

صیب ! زه آغاستاليپاره رالیږلی یم چې دریم سړی ته ستا پیغام رسیدلی، خودځینو مهمو کارونو په سبب تراوسه ستاله هغه سره لیدل ممکن نه دی، دغر ناطې په دروازه کې به پهره داران ستاسو د درولو هڅه نه کوې اوتاسو به په پوره ډاډ ښارته ننوځئ، تاسوله درشل څخه وړاندې کیڼ لورې ته په دوهمه کوڅه ننوزئ،هلته به جمیل پخپله ستاسو دلارښوونې لپاره موجود وي ، آغا ویل چې هغه تاسو ښه پیژني، ګاډی به په تاسو پسې راځي اوزه به هم له هغوی سره وم. سلمان وویل: ستاداطمینان دی چې پهره داربه دګاډي تالاشي نه اخلي؟

:تاسي داده اوسی پهره داران زیات له موږ سره دي دکومو کسانو چې افسران داعتماد وړنه دي، هغوی به ګاډي ته نژدې هم راپرینښودل شي، اودضرورت په وخت کې به هغوی پخپلو کې لاس اوګریوان شي،شاوخوا به زموږرضاکاران هم وي خوداهسې داحتیاط لپاره که نه نو هیڅ خطراوویره نشته.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما عثمان ته ویلی دي چي ګاډۍ باید چیرته بوزي، آغا ته دا معلومه نه وه چي څېني نور کسان هم له تا سره راغلي دي، خو اوس تاته د هغوی د وړاندي بیولو اړتیا نشته.

سلمان ځواب ورکړ: دوی به تر لږ ځایه راسره ځي او بیا به بیرته راوګرځي، زه سمدستي په تاپسي یم او چي دروازي ته نژدي شم نو ستاسو څخه به مخکي شم.

نوکر وویل : آغا دا هم وویل چي کله د کوڅي په مخکي جمیل وویني داسي به ښيي چي نه ورسره پیژني، هغه به په چوپه خوله ستا په مخ کي روان وي.

*****

لږ څنډ وروسته ښار ته د ننوتلو په وخت کي سلمان داسي احساسوله چي د ده د ملګریو زیاتره تدبیرونه بي ځایه او غیر ضروري وو، له دروازي نه وړاندي د سرك په شاوخوا کي زیات خلك د کورونو نه بهر راوتلي وو او د حکومت پرخلاف بي ناري وهلي، د کوڅي په مخه کي یې چي جمیل ولیدونو وړاندي روان شو، بیا هم سلمان دګاډۍ په باب سخته اندیښنه درلوده شاته به یې پسي کتل، چي نژدي دوه سوه ګامه وړاندي ولاړل جمیل ته یې نژدي اس ودراوه او ورو یې وپوښتل : وروره! هغه ګاډۍ چیرته ورکه شوه!

هغه په ډاډ ځواب ورکړ: صیب! ته غم مه کوه زموږ په یوه لاره تګ مناسب نه ؤ، کوچوان ته لارښوونه شوي وه چي ګاډۍ په لومړي کوڅه وګرځوي، هغه به اوس زموږ مخي ته راووزي، د تېپي وضعه څنګه ده؟

: هغه مو د بي هوښي په حالت کي راوړي دي.

لږ لري دوه ځوانان او یو نوي زلمکي ولاړ وو، جمیل په تلو تلو کي هغوی ته اشاره وکړه او هغوی هم ورسره ملګري شول، څو دقیقي وروسته سلمان شاته مخ واړاوه ویې لیدل چي اته، لس تنه له شاوخوا کورونو څخه راووتل او پر دوی پسي روان شول. وړاندي په یوه چوك کي جمیل ښي لاس کوڅي ته د سلمان پام ور واړاوه ویې ویل:

ته اوس ګاډۍ لیدای شي، خو موږ ورسره تلای نه شو، ما یوازي ستا تسلي کول غوښتل اوس دي له اس څخه پلي شه.

سلمان له اسه راکوز شو، جمیل کم عمره هلك ته وویل:

ته د ده اس درسره بوزه، میلمه به له ما سره پلي درځي. هلك پر اس سپور شو او پونده یې ورکړه، په دې څنډ کي د ښو ګاډۍ چوك ته را رسیدلي وه، د سراي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم نوکر چې له عثمان سره را روان ؤ د سلمان په لیدو ودرید، جمیل په بیره وویل : اوس ستا له عثمان سره تلو ته ضرورت نشته، ته دې بیرته سرای ته ورځه، که کوم د بهر سړی د عثمان پوښتنه کوله نو ورته ووایه چې د تولو وبنو بیه په دروازه کې یوه سړی ادا کړی ده او عثمان د هغه کور ته واپنه رسوی، د پهره دارانو خو د کوم یوه په تا شك را نه غی؟

ملازم یوی او بلې خوا ته وکتل بیا یې وویل چې له موږ سره عجیبه پیښه وشوه، که زما آغا عثمان ته دمخه هدایت نه وای کړی نو تولو لویه به خرابه شوی وه، یو پهره دار له عثمان څخه د مفته وبنو په اخستلو عادت و، په دروازی کې هغه د وبنو د گیډی اوچتولو هڅه وکړه، او عثمان دومره په زوره پری چیغې کړی چې هغه یې وارخطا کړ او شاته شو، افسر را وړاندی شو او د عثمان د چیغو او کوکارو په اړه یې تری وپوښتل زه وویریدم چې د غدارانو کوم جاسوس ته به د وبنو د پلټلو پلمه په لاس ورشی خو عثمان یوه هوښیاری وکړه، هغه زر خپله لهجه بدله کړه، ویې ویل : هیڅ خبره نشته صیبا! دی زما پخوانی یار دی، ما ده ته هم د وبنو د یوی گیډی راوړو وعده ورکړی وه، خو کوم سپور چې همدا اوس تیر شو هغه په لاره کې د تولو وبنو بیه راکړه هغه راته وویل چې که دی په لاره کې یو ډکی هم چاته تری ورکړ نو ورمیږ به دی غوڅ کړم، پر دی بیا افسر پهره دار ورټلود خدای شکر دی چې موږ تری راخلاص شوو او راغلو که نه نو زما حالت داسی ؤ چې له کوڅې نه راتیر شوم هم له ویری لړزیدم. چې که هغوی د وبنو گیډی اوچته کړی وای نو هر څه به یې لیدلی وو، په خدای «ج» سوگند هغه هلك ډیر هوښیار دی په تولو لاره یې په کړس کړس خندل.

په دی ځنډ کې گاډی وړاندی تیره شوی وه، جمیل لږ وړاندی ولاړ او بیا بنی لاس ته یوی‌تنگی کوڅې ته وگرځید، سلمان چوپه خوله وریسی روان ؤ، څو نوری کوڅې یې چې شاته پریښودی یوی پراخی کوڅې ته ووتل او د یوه کور مخی ته نژدی شول، عثمان یې ولید چې له تشی گاډی سره له کوره راووت، هغه په خوله د څه ویلو پر ځای د لاس اشاره وکړه او وړاندی تیر شو او سلمان له خپل لاربښود سره کورته ننوت.

په پراخ انگړ کې پر عبدالمنان برسیره یو بودا سړی او هغه هلك چې د سلمان اس یې راوستلی ؤ ولاړ وو، په یوه کونج کې واښه انبار وو، څلورو نوکرانو واښه گیډی گیډی را اخستل او طبیلی ته نژدی یې په یوه خونه کې ځای پر ځای کول،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ یوه دوه پوړه ودانی وه، او کیڼ لوری ته په یوه لوړه چوتره څو نوری کوټې وې.

عمر خوړلی سړی ور وړاندې شو سلمان ته یې لاس ورکړ، عبدالمنان هغه سلمان ته ور وپیژاند ویې ویل : دا قاضی عبید الله دی او دی یې زوی ابو الحسن دی.

ستا ملګرو سمدستي ستا د کوربه توب مسئولیت دوی ته سپارلی دی او سعید به هم له دوی سره وي، د ده په باب همدومره ویل کافي دي چې د ابو الحسن پلرورور چې لس کاله تری مشر ؤ له حامد بن زهره سره په وروستي سفر کې ملګری ؤ. د حملې په ورځ موږ له سیند څخه دری مړی راوایستل، په هغو کې یو د ده د زوی، بل د اویس او دریم د یوه نا آشنا سړی ؤ.

څرنګه چې سملستي پریکړه وشوه چې دغه پیښه باید له عام اولس څخه پټه پاتې وي ځکه رضا کارانو هغوی غرناطې ته د راوړو پرځای همالته د ویالې شاو خوا غلی کړل او بله شپه یې د ویجاړ کلي په هدیره کې خاورو ته وسپا.ل.

ده خپل زوی په خپلو لاسو په لحد کې کیښود او چې بیرته راغی له خپلو دیرو نژدې خپلوانو پرته یې هیچا ته هم نه.دی ویلي چې پر ده څومره لوی غم تیر شوی دی.

رضاکارانو نور مړی ونه موندلای شول، د هغوی په باب دا ګومان دی چې هغه به په سیند کې بهیدلي او سمندر ته به رسیدلي وي، او دا هم امکان لري چې غدارانو نصرانیانو ته خبر ورکړی وي او هغوی له سیند څخه ایستلي وي.

سلمان سر ښکته اچولی ؤ او ولاړ ؤ، بالاخره یې بوډا ته غیږ ورکړه او ویې ویل:

الله دې همت درکړي، او بیا یې سترګې له اوښکو ډکې شوې. بیا یې څو شیبې وروسته جمیل ته وکتل په ژړه غوني آواز یې وویل: ولید دا راته ونه ویل چې اویس هم له دوی سره ؤ.

جمیل وویل : دا نیکمرغي باید زما په برخه شوې وای خو هغه تر ما زیات نیکمرغه ؤ. ماته یې په وروستي وخت کې دا حکم راکړ چې زه باید د ولید په غیاب کې دلته پاتې شم، د حامد بن زهره دا نظر ؤ چې په قبایلو کې د کار لپاره یو ښه خطیب ته اړتیا لري، او په ځوانانو کې اویس ډیر ښه خطیب ؤ، ځکه خو یې ماته د پاتې کیدو امر وکړ.

سلمان له عبدالمنان څخه وپوښتل : د طبیب بندوبست شوی دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: هوکي! ابو نصر دننه هغه کوري.
: د ولید په سبب خو به دا خطر نه وي چي جاسوسان په هغه پسي وي؟
عبدالمنان ځواب ورکړ: یوازي دغه کور داسي دی چي ابو نصر بی ویری ورته راتلای شي او چاته دا نشي معلومیدای چي هغه په خپل کور کی دی که نه، د هغه د کور بام د دی کور له بام سره جوخت دی.
عبید الله وویل : اوس تاسو دننه ولاړ شی، ابو نصر ویل چی تر ډیره وخته به بوخت وي.
لږ ځنډ وروسته دوی د هستوګنی په یوه کوټه کی ناست وو، عبیدالله سلمان ته ویل : دا زما نیکمرغی ده چی تاسو دلته تشریف راوړی دی، زما په کور کی چاته دا معلومات نشته چی ته څوك یی، نوکرانو ته به دا وویل شي چی ته له الفجاره څخه راغلی یی او ما له هغه وخته راسی پیژنی چی زه د اسونو د سوداګری په اړه هلته تلم او کله کله به هلته له تاسو کره اوسیدم.
پرون تاسو زما د احوال اخستلو لپاره غرناطی ته راغلی یاست او ما د څو ورځو لپاره دلته ایسار کړی یی. په اوسنیو حالاتو کی د حکومت یو جاسوس هم ستا د احوال په خاطر الفجاره ته نشی تلای، تا چی څوك پیژنی هغوی پر ما ډیر تینګار کړی دی چی تاسو سملستی له کوم نا آشنا سره خبری مه کوی، دلته چی کوم خلك راځی په هغوي کی کوم یو د حکومت جاسوس هم کیدای شي. ځکه خو ما ستا د هستوګنی بندوبست د میلمه د حجری پرځای دننه په کور کی کړی دی.
سلمان په اندیښنه جمیل او عبدالمنان ته کتل بیا یی وویل: ولید تر اوسه پوری رانه غی؟
عثمان ځواب ورکړ: نن! امکان لری هغه دوی ورځی نور هم بهر پاتی شي.
سلمان وپوښتل : ستاسو کوم ملګری چی عثمان ته لیك ورکړی ؤ له هغه سره به زما لیدل څه وخت وی؟
عبدالمنان ځواب ورکړ: تا ته به وخت پر وخت د هغه احوال په څه طریقه رارسیږی، کله چی وضعه اجازه ورکړی خبری به دی هم ورسره وشی.
: خو وضعه داسی ده چی زه باید زر تر زره ورسره وګورم.
عبدالمنان جمیل ته کتل او ویي وویل:
هغه او د هغه نورو زیاتو ملګرو ته ستا د اندیښنو معلومات شته دی، په عامو حالاتوکی زه هم باید دلته نه وای او عبدالمنان هم ډیر نور کارونه درلودل،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هغه موږ ته دا احوال کړی ؤ چې له موږ پرته بنایي نور څوك ستا تسلی ونکړای شي، هغه د حامد بن زهره لمسی ته زیات خفه دی، د عمیر او د هغه د ملګرو لټون دوام لري، که هغوی غرناطي ته را رسيدلي وي موږ ته به همدا اوس معلومه شي، بیا به هم هغه داسي کوم ګام اوچت نه کړي چې د کم عمره هلك سرته خطر وي. ستا د پیغام په رارسیدو هغه د هغه نجلۍ په باب هم زیات اندیښمن شو، ځکه خو نور هم دا ضروري شوی ده چې راتلونکی هر ګام باید په ډیر پام واخستل شي، زموږ د بري ټول راز به په دې کې وي چې کومو د قبایلو مشرانو ته موږ دلته د راتلو بلنه ورکړې ده هغوی تر کوم حده زموږ ملاتړ کوي، د غرناطي اولس د خپلو وګړنې او تولنیزو خطرو مقابلې ته څومره زر راویښیدای شي او بیا حکومت تر کومه حده د اولس د احتساب له ځواك څخه ویرېږي؟

که موږ د دې خبرې عملي ثبوت وړاندې کړای شو چې اولس د بهرنیو دښمنانو په مقابل کې د سر قرباني ته چمتو دی نو دننه غداران به زر ربوهیږي چې وروستی وخت یې را رسيدلي دی او دوی به له فرډیناند څخه د خپلې غداری د انعام وصولولو پرځای د غرناطي په هره څلور لاري کې راځړیدلي وي.

دوی به بیا د اولس یوه واړه کس ته هم د برندو کتو جرئت ونکړي، د خپلې آزادۍ او بقا لپاره د یوې پریکنده جګړې څخه دمخه به زموږ تر ټولو لویه او مهمه مساله دا وي چې زموږ ترکان ورونه به په څومره وخت کې زموږ مرستي ته راورسیږي او ته به څو ورځې د هغوی لپاره ایسار وي چې بنایي موږ دوی ته د خپلو مشرانو د یو هیأت استولو ضرورت احساس کړو.

تر لږ ځنډ نورو خبرو اترو وروسته چې کله دوی د ماښام لمانځه لپاره جګ شول نو طبیب کوټې ته ورغی او په لمانځه ورسره شریك شو، له لمانځه څخه چې وزګار شول هغه سلمان ته لاس ورکړ ویې ویل: زما نوم ابو نصر دی، إن شاء الله ستا د دوست ژوند به له خطره وساتل شي، زه غواړم له تانه ډیرې پوښتنې وکړم، خو ممکن نن شپه د دې پوښتنو فرصت نه وي، تر څو ناروغ را په خود کې شوی نه وي زه باید ورسره واوسم، إن شاء الله سبا ته به سره ګورو، بیا هغه عبید الله ته وویل : تاسو په ډوډۍ کې زما انتظار مه کوي، ما د ورځې ناوخته ډوډۍ خوړلې او اوس مې اشتها نشته.

*****

ابو نصر بلې کوټې ته ولاړ سلمان له لږ ځنډ وروسته له عبدالمنان څخه پوښتنه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه : تاته د هاشم په باب څه معلومات وشو؟

: نه‌ا موږ ته د هغه په باب د ښې پلټنې فرصت نه دی برابر شوی، نن د ځینو لوړېو څخه دومره معلومه شوی ده چې د حامد بن زهره له راتلو څخه دمخه هاشم د لومړی وزیر ماڼۍ ته د ننوتو په وخت کې لیدل شوی دی، د حکومت یوه مامور هغه د محل تر دروازې پورې را رسولی ؤ، له هغې وروسته دی بیا چا نه دی لیدلی، په همغه ورځ او راتلونکې شپه د ابو القاسم په ماڼۍ کې څو غدارانو له هغه سره لیدلی وو، کیدای شي هاشم له کومې ډلې سره وتلی وي، په هغه ورځ کوتوال هم زیات بوخت ؤ هغه د شپې هم یو ځل ابو القاسم ته وراغلی ؤ.

سلمان لږ فکر وکړ بیا یې وویل : زما پوره باور دی چې که د یوې دقیقې لپاره هم له لومړي وزیر سره خبرې وکړم دا به ترې معلومه کړم چې هاشم چیرته دی؟

جمیل وویل : له لوی وزیر سره د خبرو لپاره نور خلك شته، ستا ملګري تاته د خطر قبلولو اجازه نه درکوي.

سلمان وویل : دوهم کس کوتوال دی چې زما سره د دې په اړه پوره ثبوت شته چې هغه له ابو القاسم سره په هره دسیسه کې شریك دی.

جمیل وویل : دا ټولو ته معلومه ده چې ابو القاسم هر ډول ذلیل کارونه پر هغه کوي، خو تر اوسه د هغه په مخکې هم د څه جرم د ثبوتونو وړاندې کولو وخت نه دی راغلی.

سلمان وویل : زه له تا څخه بل کار اخستل غواړم لومړی دا چې ته د داسې پولیس د کور درك معلوم کړه چې یحیی نومیده، له هغې وروسته به د حامد بن زهره پر قاتلانو د لاس اوچتول درته ډېر آسانه شي، زه د غرناطې له پریښودو څخه دمخه خپلې مهمې ذمه واري پوره کول غواړم.

جمیل وویل : موږ ته د هغه د کور درك معلومول ګران نه دي، په پولیسو کې زموږ زیات ملګري شته په هغوی کې چاته دا کار سپارل کیدای شي.

سلمان وویل : د منصور د میندلو لپاره موږ ته د عمیر او عتبه د تګ راتګ نه خبریدل ضروري دي. إن شاء الله زه به ډېر زر درته ووایم چې هغوی چیرته دي؟ یوازې دا ضروري ده چې ماته کوم پیغام راځي هغه ماته سمدستي راشي. که ابو یعقوب له نیول شوي سړي څخه درازونو په راویستلو بریالی شو امکان لري هغه پخپله دلته راشي، هغه به له سرای څخه زما درك معلوم کړي، او تاسو یې بیله ځنډه ماته راولي او یا ما هلته وبولي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالمنان وویل : زه د دې ټولو خبرو مسئولیت پخپله اخلم، که په څه سبب زه پخپله رانه غلم، عثمان به درته راورسیږي اوس ماته اجازه راکړې.
جمیل وویل : زه هم بیرته ځم، زموږ ملګري به د دې اوریدلو ته ناکراره وي چې تاسو په خیر غرناطې ته ورسیدې. عبیدالله هڅه وکړه چې هغوی دواړه ته را ایسار کړي، خو عبدالمنان جګ شو ويې ویل : نه تاسو موږ ته اجازه راکړې، تر اوسه به په سرای کې ماته زیات احوالونه راغلي وي، جمیل هم ډیر کارونه لري، زموږ هیله ده چې زموږ عزتمن میلمه به پر دسترخوان زموږ نشتوالي نه احساسوي.
عبیدالله د دوی د رخصتولو لپار د بهر ته راوتلو هڅه وکړه خو د عبدالمنان پر ټینګار پاتې شو.
لږ څنډ وروسته سلمان د خپل کوربه او د هغه له زوی سره پر دسترخوان ناست ؤ دوډۍ يې خوړله او د غرناطې د تازه حالاتو په اړه يې خبرې اوریدې، د ده اندیښنه شیبه په شیبه زیاتیدله.

*****

له نیمایی شپې نه یو ساعت دمخه په بستره هغه ناکراره پروت ؤ او لټ پر لټ اوښت، طبیب په خپو پښو دننه ورغی او هغه زر راپورته شو کیناست.
ابو نصر وویل : ته پریوزه! زه د دې لپاره راغلم چې ویل مې که ویښ وې د ناروغ په باب بشپړ ډاډ درکړم، إن شاء الله سهار به ما دلته ووینې، زما یو کس به د ناروغ د خدمت لپاره پاتې شي او که ضرورت شو ما هم هر وخت راغوښتلی شي.
سلمان وویل : که تاسو ډیر نه وي ستومانه نو لږ کښینئ! اوس چې ما د غرناطې په اړه کومې خبرې واوریدې ډیرې د اندیښنې وړ دي، کوم سړی چې ماته تسلي راکولای شوه له هغه سره مې سمدستي د لیدو امکان نشته، که زه پر دې ډاډه وای چې د غرناطې اولس را روانو مصیبتونو ته د څه مودې لپاره ایساریدلی شي نوزه به دومره اندیښمن نه وای.
ابونصر بستري ته نژدې کیناست ويې ویل : ستا د خیال ساتلو په خاطر ټوله شپه خبرې درسره کولی شم، ولید ستا په باب ماته ډیر څه ویلي دي، خو زه ویریږم چې زما په خبرو به ستا اندیښنې لږ نه شي، د غرناطې وضعه ډیره په تیزۍ سره خرابیږي، د حامد بن زهره په راتلو چې کومې ټولنیزې ولولې راپاریدلې وي هغه اوس بیرته سړې شوي دي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره چی آزادی غوښتونکو هڅه وکړه چی د هغه د وژلو خبره پټه کړی هومره حکومت د اولس په زړونو کی د شکونو را پیداکولو لپاره هڅی کوی چی له روانی وضعی څخه مایوس او خفه شوی او چیرته غلی شوی دی. هغه چی د غرناطی د کومو اغیزمنو خلکو د ملاتړ له هیلو سره بیرته راغلی ژ په هغوی کی زیاتره د اولس د زیاتی بربادی لپاره د هغه ملاتړ ته چمتو نه شول.

سلمان وویل : ما دا خبری اوریدلی دی او پردی پوهیدلی یم چی کومو غدارانو چی له فردیناند سره خپله راتلونکی تړلی ده هغوی به په اولس کی د مایوسی او بی همتی د احساس راپیدا کولو لپاره له هری حربی څخه کار واخلی، خو زما پر دی سر نه خلاصیږی چی د غرناطې اولس د حامد بن زهره په باب داسی خبری څنګه اوریدای شی؟

ابو نصر وویل : کومو خلکو چی د حامد بن زهره په رښا کی د خلکو د احساساتو او ولولو جوش ولید هغوی دا تصور هم نشو کولای چی اوس به کوم غدار له کوره بهر ته د راوتلو جرئت وکړی، خو د غرناطی تازه وضعه داسی ده ی پر دی تـرخه حقیقت باید اعتراف وکړو چی دښمن تر موږ څو چنده زیات چالاک ژ، دوی ته د خپلی لاری تهول خنډونه معلوم وو او د ډیری مودی راهیسی یی د دغو خنډونو د لری کولو لپاره تیاری نیوه، د غرناطی او سینتهافی ترمنځ د سوداګری لاره پرانستل موږ ته د فردیناند له تهولو جنګی چالونو څخه زیات خطرناك شول.

زه په هغه غونډه کی وم چی ابو القاسم دا اعلان پکی وکړ چی دغه ورځ د غرناطی د لوږی او قحطی وروستی ورځ ده، په راتلونکی کی به په غرناطه کی د لوږی او قحطی نوم او نښه نه وی، فردیناند زما دا غوښتنه منلی ده چی د غرناطی د اولس د ستونزو د حل په خاطر له سینتهافی سره باید د سوداګری لاره خلاصه شی، ځکه خو به سبا ته له لمر ختو سره سم تر ماښامه ستاسو سوداګر د فردیناند له پړاو څخه غلی او نور ضروری سامان راوړی.

څو شیبی د دغه ناڅاپی اعلان له اوریدو سره اوریدونکو پر خپلو غوږونو باور نشو کولی، او ما داسی احساسوله چی د خوب په حالت کی دغه اعلان اورم.

کله چی بیا ابو القاسم دا اعلان کاوه چی سر له سبا څخه به تاسو سینتهافی د یوه دښمن د مرکز په څیر نه د یوه سخي ګاونډی د منډیی په حیث وګوری او د غرناطی هغه خلك به چی له میاشتو میاشتو یی په مړه ګیده ډوډی نه ده خوړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډیره ارزانه بیه د ژوند ضروری څیزونه وپیری. چی بیا د خلکو د خولی نعری پورته شوی.

بیا ابو القاسم د خپلو فعالیتونو یادونه کوله ویی ویل : ما له فردیناند سره د دی غوښتنو د منلو په خاطر دری ځله ولیدل او د هغه راضی کول عادی خبره نه وه!

: دی خبرو نتیجه او اغیزه دا وه چی د ده ډیر بد غلیم هم دی ډیر د تدبیر او عقل خاوند وباله او هوښیاری یی وستایله، زه پخپله له هغو کسانو څخه یو وم چی سبا ته یی کور ته ورغلم او مبارکی می ورکړه او زه به تل پر دی پښیمانه وم. خو هغه ورځ دا چا ویلای شو چی ابو القاسم خلکو ته د غنمو د کومی منډیی لاره ورښیی، هغه به څو ورځی وروسته مونږ ته د فردیناند د وسله تونو نو څخه زیاته خطرناکه وی. له غرناطی څخه چی کوم سوداګر له هغه ځایه غله واخلی او را یی وړی په هغوی کی به ډیر داسی وی چی د خپل ضمیر معامله به یی کړی وی او بیرته به راستنیږی او له هغوی سره به د دښمن جاسوسان هم غرناطی ته په راننوتلو بریالی شی.

زمونږ ګومان دی چی د حامد بن زهره له راتلو څخه دمخه غرناطی ته په سلګونو جاسوسان راغلی وو، په هغوی کی زیاتره یهودیان دی چی د مسلمانانو په جامه کی د کارکولو هدایت ورکړ شوی دی، هغوی له ځانه سره ډیره زیاته شتمنی هم راوړی وه او بی ضمیره خلکو د خپلو کوړونو دروازی ورته خلاصی کړی، د حامد بن زهره تر راتګه د هغوی فعالیتونه پټ وو خو اوس هغوی ناڅاپه رابرالا شوی دی.

له غرناطی څخه د حامد بن زهره له وتلو نه یوه ورځ وروسته حکومت د څو ساعتونو لپاره د سپنتاڼی د لاری په تړلو مجبور شو. یوازی هغه خلك ملته تلای شوای چی د پولیسو مرسته به ورسره کیدله، خو ماسپښین مهال یی دروازی خلاصی کړی او ځای ځای یی د پولیسو په مرسته د امن پوستی جوړی کړی، اوس داسی وضعه ده چی د اولس اتحاد ورو ورو ماتیږی، حکومت د دی پوره هڅه کوی چی خلك سره په مخالفو ډلو وویشی، د دښمن جاسوسان او زمونږ تش په نامه علماء چی د هغوی په اشارو ناڅی د پولیسو په امنیتی پهرو کی وینا وی کوی، امن خوښوونکی د خلکو د ویرولو لپاره د کسبی وژونکو څخه کار اخلی.

حکومت د اوربند له تینګیدو وروسته د پوځ د شمیر، راکمولو هڅی پیل کړی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د پولیسو شمیر ورځ په ورځ زیاتیږي.

ابو القاسم چې د پوځ په څیر په پولیسو کې له کومو افسرانو څخه ویریده په هغوی کې څینې پرغمل استول شوي دي او پاتې یې یو یو برطرف کیږي.

پخوانی کوتوال د سینتبافي د لارې خلاصولو مخالفت کړی ؤ، ځکه خو یې د هغه پر ځای یو داسې څوك کوتوال ټاکلی دی چې ډیر بې ضمیره او بې همته دی او د صدر اعظم د خوشحالولو لپاره هره گناه کولی شي.

د حکومت په هڅو د غرناطې خلك په درې ډلو ویشل کیږي او د دښمن جاسوسان د عربو، بربریانو او د افریقا او هسپانیې پر مسلمانانو بد رد وایي.

دوهمه ډله د افریقایي سارایانو په پلوی خبرې کوي او نورو ته کنځلې کوي، دریمې ډلې د هسپانوي مسلمانانو قیادت أخستی او مقامي عیسایان او یهودیان یې ملاتړ کوي، دغه خلك تر اوسه د اولس له ویرې عامو ځایونو ته نه ځي یوازې په ځلور لارو او بازارونو کې غونډې جوړوي او پولیس د هغوی امنیت نیسي.

د هغوی د جرئت اندازه له دې څخه لگولی شي چې لس ورځې پخوا حکومت د یوې داسې سیمې د جومات خطیب وواژه چې زیاتره اوسیدونکي یې هسپانوي مسلمانان وو. دغه خطیب هم له دوی څخه یو ؤ. عربو او افریقایانو هم د هغه همغسې قدر کاوه، خو حکومت له هغه نه پر دې خبره خفه ؤ چې هغه د اورېند پرخلاف ویناگانې کولې، او لنډ مهالې سوله یې د دایمي غلامۍ مقدمه بلله، یوه شپه هغه د ماسختن له لمانځه وروسته کور ته را روان ؤ چې کوم نا معلوم سړي وواژه.

سبا ته څو د نفوذ خاوندانو د جومات د امامت ذمه واري یوه داسې چاته وسپارله چې د دې منصب لپاره بالکل نوی ؤ. زموږ خلکو دغسې خلك کلك څارل، خو د یوه وړوکي جومات نوي امام ته د چا پام نه شو او له جومات څخه بهر د هغه فعالیتونه چاته معلوم نه وو، خو تیره شپه هغه په یوه پراخ میدان کې په یوه ډیره لویه غونډه کې پخپله اصلي څیره زاڅرگند شو، ظاهراً دا د ځایي مسلمانانو غونډه وه خو یهودیان او نصرانیان هم زیات پکې وو. نیمې شپې ته نژدې د هغې سیمې یو طبیب چې زما شاگرد پاتې شوی ؤ د هغه خطیب له خبرو اوریدو وروسته نیغ ماته راغی او ویې ویل:

د خدای لپاره د حامد بن زهره ملگری خبر کړه چې پر موږ په دې نژدې وختونو کې د خدای «ج» عذاب نازلیدونکی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا چې هغه د غونډې د جریان کیسه راته وکړه زما پخپله وضعه داسې شوه چې پاتې شپه په بستره کې لټ پر لټ اوښتم، که کوم بل ځا د هغه غدار د وینا په باب راته ویلې وای نو باور به مې نه و شوی چې د غرناطې اولس په دغه ګرځېدلې ورځ کې هم داسې خبرې اوریدای شي، په خاص ډول په داسې وخت کې چې د حامد بن زهره غږ یې لا په غوږونو کې کړنګیږي، هغه غدار خطیب هسپانوی مسلمانانو ته په خطاب کې ویلې وو:

عرب او افریقایان پردي خلك دي، هغوی یوازې د حکم چلولو مینې دلته راوستي دي، اوس اته سوه کاله پردي ځمکه له حکومت کولو وروسته دوی ته دا خطر دی چې کله د دوی برلاسي پای ته ورسیږي نو دلته به یې اوسیدل ګران شي، د هغوی وروستی امید دا دی چې که جګړه بیا پیل کړي نو د افریقا مسلمان هیوادونه او ترکان به یې ملاتړ ته راشي، بیا که دوی له څلور واړه لوریو څخه مایوسه شي نو :ا امید واري به ورسره وي چې په کومو لارو دلته راغلي وو په همغو لارو بیرته تلای شي، خو موږ دلته پیدا شوي وو او همدلته به مرو.

موږ د دې خاورې زامن یو چې د ساتنې لپاره یې «را درك» توره اوچته کړې وه او له اته سوه کاله غلامې وروسته فردیناند آزاده کړه، پر مسلمانې برسیره پر دې هیواد کې له زیاترو سره زموږ نسلي اړیکې ونه شلیدې.

طارق بن زیاد او موسی بن نصیر تیرې کوونکې وو، د هغوی برې د عربو او افریقایانو برې ؤ، او د «رادرك» ماته زموږ ماته وه.

زه عربو او بربریانو «افریقایانو» ته دا مشوره ورکوم، چې که هغوی دلته اوسیږي نو باید د دې هیواد له اکثریت سره په امن د اوسیدو او ګاونډیتوب اداب زده کړي، که نه نو هغوی ته د مراکش، مصر او شام لارې خلاصې دي.

موږ د ابو عبدالله او ابو القاسم مننه کوو چې د امن خوښې ثبوت یې وراندې کړ او د اندلس د مسلمانانو د زیاتې بربادې مخنیوی یې وکړ.

موږ د فردیناند او ملکې ازابیلا څخه هم مننه کوو چې د عیسویانو او مسلمانانو ترمنځ د کرکې پخوانی دیوالونه یې راوغورځول او پر موږ یې د بشپړ برې ترلاسه کولو سره سره له خپلو عیسوی رعایاؤ څخه زیات امتیازات راکړي.

سلمان وویل : ما فکر نشو کولی چې د غرناطې خلك داسې خبرې هم اوریدای شي.

: د غرناطې د اولس زیات اکثریت اوس هم پر دې خبره اتفاق لري چې موږ هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره زر د خپلی بقا جګړی ته میدان ته راووزو همدومره زموږ لپاره غوره ده، د غرناطی د اولس جرئت به د قبایلو حوصلی اوچتی کړی، خو په موږ کی یوه ډله داسی هم ده چی دا احساسوی چی هغه افسران چی زموږ د پوځ جوهر پیژندل کیدل د دښمن په جیل کی دی، ځکه خو موږ باید د جګړی له پیل څخه پخوا د هغوی د راخلاصولو څه تدبیر ونیسو، لږ تر لږه [illegible] د اوربند په دوران کی باید داسی ګام اوچت نه شی چی فردیناند ته د هغوی د ایسارولو پلمه په لاس ورشی.

سلمان وویل :

فردیناند ته د هغوی د ایسارولو لپاره د کومی پلمی اړتیا نشته، هغه به د غرناطی له نیولو پرته هغوی په هیڅ صورت هم بیرته را پری نږدی. او له هغی وروسته هم زما اندیښنه ده چی له کومو خلکو څخه چی د ابو القاسم څخه د تحقیق او پوښتنی ویره ده هغوی به په هیڅ صورت هم بیرته را نشی، زه حیران یم د کومو غازیانو پالنه چی د موسی بن ابی غسان غوندی حقیقت خوښوونکی سپاهی کړی وی هغوی په دی دسیسه کی ولی راغلل؟

د هغوی پردی خبره ولی باور شو چی کله د غرناطی خلك د غذایی موادو څخه ځانونه پوره کړی نو فردیناند به یی د خپلو پوځونو سره د مقابلی لپاره بیرته واستوی.

ابو نصر ځواب ورکړ:

په پوځ کی دننه کومو لویو لویو منصبدارانو چی د ابو القاسم دوکی پیژندلی هغوی د اوربند له ترون سره جوخت برطرف کړای شول، او هغه غوندی چالاك سړی ته دا اسانه وه چی ځوانانو ته دوکه ورکړی چی که تاسو غواړی چی د اوربند له مودی پای ته رسیدو وروسته بیا جګړه وکړی نو همدا اوس غذایی مواد ذخیره کړی او همدایی یوازینی لاره ده، او دا کار هغه مهال امکان لری چی د یرغملو په باب د فردیناند شرط ومنل شی.

دا زموږ دومره لویه بدمرغی ده چی په هغه مهال کی حامد بن زهره غوندی ستر شخصیت په غرناطه کی نه ؤ ابو القاسم د سولی غوښتونکو سره جوړ جاړی وکړ، نه یوازی دا چی د غرناطی څو ډیری د نفوذ خاوندانې کورنی یی د ځان پلوی کړی؛ بلکی د پوځ زیات شمیر ځوان افسران یی هم د ځان ملاتړی کړل.

له اوس څخه هغه د مخالفت اندیښنه نه درلوده، د سینتافی د لاری په خلاصولو سره ده ډیر هوښیار او باتدبیره خلك هم پردی فکر کولو ته مجبور کړل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی فردیناند د ده په لاسو کی دی او په کومه آسانی چی هغه خلك د لوږی له مرگه وژغورل همدغسی به په اسانی سره زموږ سری د دښمن له جیل څخه راوژغوری.

په دی دسیسو کی د هغو یهودیانو د ماغونو هم کار کاوه چی په غرناطه کی دننه یی د دښمن د لومړی لیکی د سرپو کار کاوه، زه ستا له دی خبری سره موافق یم چی فردیناند به په هیڅ حالت کی هم د خپلو هدفونو له ترسره کولو پرته جنگی بندیان خوشی نکړی.

ابو القاسم هره دوهمه او دریمه ورځ د یرغملو د لیږلو په پلمه سینتهافی ته ځی او په ښار کی داسی جار وهل کیږی چی هلته هغه بندیان ډیر آرام او په مزو کی دی خو زموږ د مشرانو دا گومان دی چی تر اوسه هغه له بندیانو سره هیڅ لیدلی هم نه دی. اوس د پوځ د افسرانو خوشباوری لری شوی ده او هغه پردی خبره ویریږی چی کله د هغوی سترگی پری ولگیږی نو بوتی به یی وشکوی.

ابو نصر له لږ او ډیر ونورو خبرو وروسته ولاړ او د سلمان حالت داسی ؤ چی نوره شپه خوب ورنغی.

هغه په وار وار په خپل زړه کی ویل، ای زما پروردگاره! زه څه کولی شم؟ داولس د گناهونو بار یوازی اولس اوچتولی شی، زه یو تن یم، ماته یوازی دومره بری را په برخه کړه چی د خپل محدود عقل او ځواك سره سم خپله برخه ذمه واری ترسره کړم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عمير مشغوليت

د منصور له تښتولو وروسته عمير ته دا خبر ضروري ؤ جعفر كلي ته راغى او بيرته غرناطې ته روان شوي دى او ضحاك وريسې دى. خو سبا ته هغه سخت خفه ؤ چې كه عاتكه ناڅاپه كور ته راشي شور ګډ كړي نو دى به څنګه ورسره مخامخ كيږي.

څكه خو ده لومړى د هغو نوكرانو څخه ځان بيغمه كاوه چې د ده د ناسكه مور «ميرى» په څير يې په هره معامله كې د عاتكې پلوى كوله، چې سهار شو دوو تنو ته يې امر وكړ چې سملستي «لانجران» ته روان شي د عاتكې ماما ته ورشي او د دې درك معلوم كړي، دريم نوكر يې د ګاونډيو اتو تنو سره د جنوب ختيځ هغو لرې كليو ته واستول چې هلته د دوى نور خپلوان اوسيدل. په كور كې يوازې يو. داسې خدمتګار پاتې شو چې د ده پرې بشپړ اعتماد ؤ.

د خپلې ميرې د ويرولو لپاره يې همدومره ويل بس وو چې : پلار جان به ډير زر له غرناطې څخه بيرته راستون شي، كه هغه شكمن شو چې عاتكه ستا په مشوره چيرته تللې ده نو هغه به دې هيڅ ونه بخښي.

له دې وروسته د هغې دا حالت ؤ چې د خپلې بې ګناهي د ثابتولو لپاره يې څو ځلې اوښكې تويې كړې وې، تر ماسپښين پورې زيات خلك د غرناطې د احوال په خاطر ده ته راغلل خو د عمير په لارښوونه خدمتګار هغوى ته بهر ځواب وركړ چې آغا مريض دى او بشپړ استراحت ته اړتيا لرى.

تر قضا ماسپښين پورې عمير د عاتكې په انتظار كې ؤ د هغه وضعه داسې وه چې د خفګان په حالت كې به كله خپلو ملګرو ته د ميلمنو حجرې ته ورغى او كله به يې د ننه په كور كې په برنډه يا كوټو كې قدم واهه.

ماښام مهال هغه خپلو ملګرو ته د اسونو د تيارولو هدايت وكړ، پخپله پر بام

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوت یوی او بلی خواته یی وکتل، ناڅاپه یی د جنوب ختیځ په غونډیو کی پر یوه سپاره نظر ولگید، تر لږ ځنډه یی په ځیر ځیر ورکتل، بیا ناڅاپه د ده په رگونو کی وینه توده شوه، سپور تر اوسه پوری نیم میل لری ؤ، بیا هم د ده زړه گواهی ورکوله چی هغه عاتکه ده، څو دقیقی یی نور په ځیر ځیر په هغه لوری له کتلو څخه وروسته په بیړه د سلمی کوټی ته راغی او ویی ویل : موری مبارك دی شه عاتکه بیرته راغله، خو ترڅو زه د دی دماغ سم نه کړم ته د ځان وربنودلو هڅه مه کوه، ځکه خو ته پاس کوټی ته ولاړه شه او غلی هلته کبینه!

د غه نجلی او خدمتگاره هم هلته درسره بوزه، که ستا له طرفه لږ اشتباه وشوه نو خبره به خرابه شی، راځه زر کوه!

سلمی د خپلی خدمتگاری او خالدی سره زینی پلو ولاړه، عمیر په دوی پسی د پاس پورتر دروازی پوری ورغی، سلما چی کوټی ته ننوته ناڅاپه یی مخ راوگرځاوه او ویی ویل:

عمیره! زه ویریږم چی که دی څه توندی خبری ورسره وکړی نو خبره به ډیره وراندی ولاړه شی.

: موری! ته غم مه کوه دا ددی لومړی حماقت دی او زه یوازی دا تسلی غواړم چی بیا به له کوره دوتلو جرئت نه کوی. عمیر دا وویل او له بهر څخه یی دروازه ورپسی زنځیر کړه.

سلما چیغی کړی : عمیره! عمیره! ودریږه زما خبره واوره!

هغه ځواب ورکړ: که ته نه غواړی چی ټول کلی دلته راټول شی نو شور مه کوه!

سلمی نرمه شوه ویی ویل : زویه! زه یوازی پردی ویریږم چی هغه په خبره ونه پاریږی.

: ته فکر مه کوه، که ستا له خوا د هغی حوصله اوچته نه شی زه به یی د پارولو هڅه ونه کړم.

عمیر دا وویل او بیا گرندی په زینو کی ښکته شو هغه نوکر ته وویل : عاتکه را روانه ده خو دننه تر راتلو پوری هغی ته باید دا معلومه نه شی چی موږ یی دلته په انتظار کی یو، که هغی د پوښتنی هڅه وکړه پردی یی ایساره کړه چی زه له نورو نوکرانو سره ستا په لټون کی مشغول وم، دا ضروری ده چی پردی پسی بل ځوك له درشل څخه دننه رانشی. ځکه خو د دی له راتلو وروسته دروازه زنځیر

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړه: زما يو ملګرى به د ميلمنو په حجره کې ستا سره د مرستى لپاره چمتو وى، بيا دى په منډه د ميلمنو حجرى ته ولاړ يوه شيبه وروسته له دوو تنو نورو سره د هستوګنى د کوټو په لور روان ؤ.

*****

لږ څنډ وروسته عمير د ډيرى انديښنى په حالت کې د عاتکى په انتظار ؤ، هغه بايد تر اوسه پورى کور ته راغلى واى، خو مابښام شوى ؤ لا د هغى د راتګ نښه هم نه وه، د کور په منځ يوه کوټه کې د ډيوى له بلولو وروسته به کله هغه راووت او په برنډه کې به يې قدم واهه او کله به د کوټى دننه په کرسۍ کيناست.
بالاخره هغه له کور څخه بهر داس د پښو ترپهار واوريد، په بيړه راووت، عاتکه چې په درشل ورننوته له اس څخه پلى شوه او دى په منډه بيرته کوټى ته ننوت.
عاتکه د برنډى په مخکى يوه شيبه ودريده او بيا زره نازره کوټې ته ورننوته چې په عمير يې سترګى ولګيدى ويې ويل : کاکا ناوى چيرته ده؟
عمير چې د دى څېرى ته وکتل د لومړى ځل لپاره يې په کور کې د بډلاسى احساس وکړ په بى پروايى يې ځواب ورکړ:
خالدى له کلى څخه بهر کوم سپور کلى خواته راروان وليد هغوى دواړه بيا ستا په لټه پسى ورتى، که ته نيغه کورته راغلى واى په مخه به درغلى واى. زما په ګومان ته د منصور دوى کره وځنډيدې!
ناڅاپه د عاتکى څيره له غوسى تکه سره وځليده او ويې ويل: زه په دى تمه هلته تللى وم چې ښايى د حامد بن زهره د قاتلانو د هغه پر لمسى رحم راغلى وى.
: ته څه وايى؟ عمير په وارخطايى له کرسۍنه جګ شو زياته يې کړه: آيا حامد بن زهره چا وژلى دى؟
عاتکى ورېل : که دى اوس هنداره مخ ته ونيسى ځواب به پخپله واورى، زه يوازى دا پوښتنه درڅخه کوم چې منصور چيرته دى؟ په ياد ولره چې دروغ ويل دى هيڅ ګټه نه لرى، که تا ماته داړ رانکړاى شو نو تر سبا پورى به د کلى د هر ماشوم او بوډا پر خوله همدا پوښتنه وى.
عمير ورېل : تاته دا سعيد ويلى دى چې د هغه پلار وژل شوى دى.
: هوکې! ته دى خپلو ملګرو ته دا خبر ورکولى شى چې هغوى پر خپلو ګناهونو پرډې اچولو کې نه شى بريالى کيداى، سعيد ژوندى دى او ستاسو له ولکى څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر لرې تللی دی، سمدستی هغه ته دا نه ده معلومه چې د پلار قاتل یې څوک دی، هغوی د شپې پر مخ نقابونه راخپاره کړي وو خو په غرناطه کې دننه او بهر داسې خلك شته چې ستاسو او ستاسو د ملګرو هيڅ خبره ترې پټه نه ده، که هغوی سعيد ته د قاتلانو په باب څه ويلي وای نو هغه پردې سربېره چې تپې ؤ په بدله اخستلو کې به يې يوه شيبه هم ځنډ نه ؤ زغملی، خو د هغه ملګري داسې ګڼي چې د حامد بن زهره له مرګه وروسته د هغه زوی ته اړتيا ده، هغوی به دی غرناطی ته د بيا راوستلو لپاره د مناسب فرصت په انتظار وي او پردې بيا فکر کول ستا کار دی چې د اولس د غدارانو د ورميږونو او د وطندوستو غازيانو د تورو په منځ کې به څومره فاصله وي.

د عمير رنګ تك ژيړ شو هغه تر لږ ځنډه په حيرانی عاتکې ته کتل، بيا يې پر ځان د قابو کيدو هڅه وکړه ويې ويل:

عاتکې! ما ته نه ده معلومه چې حامد بن زهره کله او چيرته وژل شوی دی، او زه ډاډ درکوم چې منصور ته هيڅ خطر نشته، ما د جعفر له ميرمنې سره ژمنه کړې وه چې ته کله راستنه شې نو هغه به روغ رمټ بيرته کورته راستون کړای شي، زه اوس هم پر همغه وعده ولاړ يم.

: ته په ډيرو خبرو خبر نه يې، خو زه پر ډيرو پوهيږم، ځکه خو که نه غواړې چې تر سبا پورې دغه کورايرې او خاورې شي نو په دي.کې دې خير دی چې د منصور په بيا راوستلو کې يوه شيبه ځنډ مه کوه. ،

: زه د منصور دښمن نه يم، دا ټول ستا په سبب وشول، ستا لټول د کورنۍ د عزت سوال ؤ، د خدای «ج» لپاره اوس کښينه او په ډاډه زړه زما پوښتنو ته ځواب راکړه، تا د حامد بن زهره د وژنې آوازه او پر ما بې سببه د هغې د تور لګولو ضرورت ولې احساس کړ؟

د عاتکې د زغم او صبر ځواك پای ته ورسيد، هغې په زوره وويل : زه پردې شرميږم چې د کاکا زوی مې يې، ته چې د ليوانو له کومې ډلې سره ملګرې شوی يې د هغو لارښوونکی زما د مور او پلار قاتل دی، د هغه اصلی نوم طلحه نه بلکې عتبه دی، زه چې څومره د خپل پلار او مور قاتل پيژنم همدومره د حامد بن زهره قاتلان هم پيژنم، ځکه خو ته منصور ته د تکليف رسولو او يا د سعيد د لټولو پرځای د ځان غم کوه.

د عمير حالت هغه زخمی ځناور ته ورته ؤ چې پر خپل ښکاری وروستی حملې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته تياري نيسي، هغه وويل:

عاتکې! ډيرې خبرې داسې وې چې پر خوله يې راوړل خطرناك وې، ترکومه چې په ما پورې اړه لري زه ستا هره خبره زغملی شم، خو که تا د کلي د نورو خلکو په مخکې هم داسې بې احتياطي کړې وي نو يوازې زما لپاره نه بلکې د ځان لپاره دې هم لوی خطر پيدا کړی دی.

عاتکې وويل : زه په دې تمه کور ته راغلې يم چې ته به کورته د منصور د راوستلو وعده ترسره کړې او بيا به خلکو ته زما د څه ويلو اړتيا پاتې نه شي.

: ته دا وعده کوی چې ته به بيا ما د يوه دښمن په حيث نه ګورې!؟

: زه يوازې دا وعده کولی شم چې چاته به ستا په باب څه نه وايم، خو زما يو شرط دی.

: څه شرط؟

: دا به راته وايې چې زما د پلار او مور قاتل څيرته دي؟

: په خدای «ج» سوګند چې ماته ستا د پلار او مور قاتل نه دی معلوم.

: کيدای شي چې پخوا درته معلوم نه وي خو اوس ما درته وښود .

: هغه دلته نشته.

: که زما د کورنی غيرت مړ شوی وی نو زه به يې د دنيا تر ورروستي کونجه ولټوم، تاته معلومه ده چې انسان د يوې ګناه د پټولو لپاره د څو نورو جرمونو په کولو مجبوريږي.

ماته معلومه ده چې ثا د حامد بن زهره د وژلو د پټولو په خاطر د سعيد د وژلو هڅه کوله، خو اوس د هغه يو وينبته ضايع کولی نشې.

عمير وويل : فرض کړه چې پرکومو خلکو تا د حامد بن زهره د وژلو تور لګولی دی په هغوی کې څينې دلته موجود وي او ستا خبرې يې اوريدلې وي او دا پريکړه يې کړې وي چې ستا دلته اوسيدل سهي نه دي. عاتکه پريشانه شوه يوې او بلې خواته يې وکتل او بيا ګرندی د بهر دروازې په لور ولاړه خو عمير زر تر مټ ونيوه، له دې نسره سم بنی او کيڼ لوری ته دروازې خلاصې شوې او دوه تنه دننه ورغلل.

عاتکې په بل لاس خنجر راوايست او چيغه يې کړه:

غداره! خاينه! خو يو تن په بيره د هغې مړوند ونيو او دوهم يو دروند څادر پرې وروغورځاوه، عاتکه په تريکو شوه، چيغې او کوکارې يې وکړې خو زر د هغوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنجو کې يې وسه او يې سيکه شوه.

عمير هغه په غولي وغورځوله او په خوله کې يې دسمال ورکړ بيا يې يوه رېتاړه و ايستله او خوله يې پرې وتړله، د هغه نورو ملګرو زر زر د هغې لاس او پښې په پړيو وتړل.

پنځه دقيقې وروسته عمير عاتکه اوچته کړه له کوټې راووت د هغه ملګري له برنډې سره له اسونو سره ولاړ وو ده عاتکه پر يوه اس واچوله او وروسته دې پرې سپور شو، بيا يې خپلو ملګرو ته وويل:

اوس موږ بايد په بېړه له دې ځايه ووزو، سمدستي دغه ځنګلي بيوازي پر اس نشو سپرولی، خو چې لږ ليرې ولاړ شو بيا به کوم خطر نه وي ځکه خو د دې اس هم درسره بوزي.

سلمی د پاسني پوړ له کوټې نه چيغې کړې: عميره! عميره! دا څه پېښه ده؟ ته چيرته ځې!

: زه د عاتکې د درك معلومولو لپاره ځم!

: مګر اوس ما د هغې غږ اوريده.

: تا وهم کړی دی، زه د پاس دروازې د خلاصولو لپاره نوکر در استوم دا يې ووېل او اس ته يې پونده ورکړه.

لږ ځند وروسته هغه له کلي څخه وتلي ؤ او خلك د شپې په تياره کې له کورونو څخه راوتل، له يو بل څخه يې پوښتل : دا څوك وو، او اوس چيرته روان دي؟ خو د دوی تګ دومره ګړندی ؤ چې چاته يې د لارې نيولو او څه خبرو فرصت ورنکړ.

له کلي نه چې يو ميل لرې ولاړل په يوه نرۍ غرنۍ لاره ورسم شول، پر عاتکې د غوسې پرځای د بې وسۍ احساس زورور کيده او له عمير څخه يې د ژغورنې په لارو چارو فکر کاوه. ناڅاپه عمير اس ودراوه او ترې کوز شو وېې ويل:

زه ستا په تکليف پوه يم خو دا يوه مجبوري وه، اوس که ته له هوښياري څخه کار واخلې نو پاتې لاره به په آرامه مزل وکړو.

اوس به تاته زما هره خبره بده درلګيږي خو سبا ته بنايي ته پخپله دا احساس کړې چې زه دې دښمن نه يم.

بيا هغه د عاتکې د پښو پړی غوڅ کړ بيا يې د دې د اس جلب يوه سپاره ته ورکړ او امر يې ورته وکړ چې له دې سره يوځای درومه او بيرته پر خپل اس سپور شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاتکه چی یوازی پر اس سپره شوه د بدنی درد او تکلیف سره له روحی او ذهنی تکلیف څخه هم تر څه حده خلاصه شوه، بیا هم د دی لاس اوس هم تړلی او په خوله کی یی ټوکر ورتړلی ؤ.

* * * * *

د عبید الله په کور کی تر دوو ورځو سلمان د منصور په باب څه خبر وانه ورید، د بدریی له لوری هم کوم پیغام رانه غی، هغه دوه ځله ابو الحسن د عبدالمنان د درك معلومولو لپاره واستاوه، خو هغه هم په خپل سرای کی نه ؤ، هغه یوازی پر دی داډه ؤ چی د سعید تبه شکیدلی وه او وضعه یی ورځ په ورځ ښه کیده.

د سلمان زیات وخت د ده په خدمت کی تیریده خو څومره به چی ده تسلی ورکوله هومره به هغه خپل ضمیر ملامت کاوه چی تش الفاظ د هغه د زړه بار نشی کمولی، د منصور په باب ده په وار وار همدا ویل چی د هغه لټون دوام لری، امکان لری تر اوسه کورته راستون شوی وی، او نن یا سبابه‌موږته له کلی څخه خبر راشی، خو هغه د عاتکی د اتکل نه لری پریکړی په باب د څه ویلو جرئت نه کاوه او د خبرو په وخت کی هغه سعید ته د داسی ښودلو هڅه کوله چی هغه د بدریی په کور کی خوندی او آرامه ده.

سعید د عاتکی او منصور په باب د څه نا آرامی ښودلو پرځای په چوپه خوله د سلمان خبری اوریدی او په څه ژور فکر کی به ډوب شو، هغه ډیر کمزوری او ډنگر شوی ؤ. او طبیب چی هر سهار او ماښام د هغه د لیدو لپاره راتلو د هغه خدمت کوونکو ته یی په کلکه دا ټینگار کاوه چی د غرناطی په باب کوم خطرناك خبر ورته ونه وایی، ځکه خو به چی کله هغه له عبید الله، د هغه له زوی یا له کوم نوکر څخه څه پوښتنه کوله نو هغوی به د ده د تسلی په خاطر د غرناطی د خلکو د احساساتو او د غرنیو قبایلو د امیدوارروونکو پیغامونو خبری ورته کولی.

* * * * *

دریمه شپه سلمان له سعید سره ناست ؤ، ابو الحسن له طبیب سره کوټی ته ورننوت او ویی ویل: پلار جان می تاسو بللی یاست.

سلمان جگ شو په هغه پسی روان شو کله چی له کوټی ووت ابو الحسن په ټیټ غږ ورته وویل : ته دی خپلی کوټی ته تشریف یوسه.

سلمان زر خپلی کوټی ته ننوت، هلته د عبیدالله پرځای ولید د ده په انتظار

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤ.

سلمان لاس ورکړ او ویې ویل : د خدای «ج» شکر دی چې راغلی، زه ډېر اندیښمن وم، زما له عبدالمنان او جمیل څخه دا تمه نه وه چې دومره غفلت به وکړي.

ولید ځواب ورکړ: ستا ملګري ستا له احساساتو څخه بې پروا نه دي، هغوی ته معلومه ده چې ستا پر زړه څه تیرېږي، همدغه سبب دی چې زه کله غرناطې ته راورسیدم، هغوی امر راته وکړ چې ستا خدمت ته حاضر شم.

: دلته خو به دې په راتګ کې څه خطر نه وي؟

: نه! غدارانو ته معلومه ده چې زه یوازې نه یم.

: تاته معلومه ده چې د سعید ورار‌ه یې تښتولی دی؟

: هوکې! ماته دا ټول معلوم دي، ما د عاتکې په باب هم اوریدلي دي، ما غوښتل له تا سره د خبرو نه وړاندې سعید ته داډ ورکړم، خو پلار جان مې سمدستي مناسب ونه ګڼل او د هغه له لیدو څخه یې ایسار کړم، هغه وایې چې تا وویني ځو پوښتنې به وکړي خو سمدستي د هغه وضعه داسې نه ده چې د بهر احوال ورته ورکړای شي.

سلمان وویل : تاته معلومه ده چې ما هغه ته په وار وار په دروغو تسلي ورکړې ده، او اوس حالت داسې دی چې زه یې اوس مخې ته په ورتلو پښیماني احساسوم.

دلته ما دری ورځې وایستلې خو ماته دا هم معلومات ونه شو چې قاتل منصور چیرته بیولی دی، ما یو داسې څوك پریښې او راغلی یم چې ډیر څه تری معلومیدای شوای، زما پردې باور ؤ چې یو څه پیغام به خامخا راشي او په غرناطه کې به ستا ملګري هغه احوال ماته راوړي، خو چې مایوس شوم د کوربه زوی مې په عبدالمنان پسې واستاوه، خو هغه هم په سرای کې نه ؤ، اوس ما سر له سبا څخه پخپله د منصور د لټون اراده کړې ده، ماته په دې کار کې یوازې د یوه ملګري ضرورت دی.

موږ تاته زر تنه درکولی شو خو د هغوی لومړنی مسئولیت به ستا ساتنه وي، ته زما پر خبره خپه نه شې، زه تاته د دې لپاره راغلی یم چې درته ووایم چې ملګري دې د منصور په باب ډیر اندیښمن دي، که دوی سمدستي تاته څه احوال درنکړ نو سبب یې دا ؤ چې په غرناطه کې ستا دوستان نه غواړي تا په خطر کې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغورځوی.

: د څه احوال؟

ولید له جیبه دوه ټوټې کاغذونه راوکښل او سلمان ته یې ونیول ویې ویل : دغه دواړه احوالونه له لږ ځنډ وروسته رارسیدلی دی، د بلربې لیك پیژنم، ته یې هم ولوله.

سلمان یو پر بل پسې دواړه لیکونه ولوستل.

«د ضحاك خوله چوله شوی ده، د هغه وررور یونس هم د عتبه خدمتگار دی، په ویګا کی درنده لوری ته تلونکی سرك پر سر یو لوی بڼ دی په هغه کی یو کور دی چی د جګړی په وروستیو شپو ورځو کی زما د پلار قاتل قبضه کړی ؤ، د شاوخوا نورو باغونو ځلور دیوالونه دومره اوچت نه دی، هغوی منصور هلته بیولی دی، تاسو په غرناطه کی خپلو ملګرو ته ووایی چی تر ټولو دمخه یونس پیدا کړی، د هغه دا یقین دی چی د ده په لټولو پسی به ویګا ته خامخا راشی او ستاسو ملګری به له هغه نه زیات معلومات ترلاسه کړی.

سلمان سمدستی دوهم لیك خلاص کړ د هغه مضمون داسی ؤ:

ما کوتره الوزولی وه چی جعفر راغی، هغه دا خبر راوړ چی عمیر تیره شپه عاتکه هم ورسره تښتولی ده، په اوسنی وضعه کی هغه غرناطې ته نشی تلای، همدغه اټکل دی چی عاتکه به یې هم منصور ته ور وستلی وی، خو زه هیله کوم چی تاسو دغه معامله هغو خلکو ته پریږدی چی د ویګا له وضعی څخه خبر دی.

سلمان د ډیر خفګان په حالت کی ولید ته وکتل او هغه ورته وویل : اوس ته پوهیدای شی چی تاته یې ولی احوال درنکړ، د هغوی مونډل د غرناطی د خلکو مسئولیت دی، تاته د څه خطر زغملو اجازه نشی درکول کیدای.

سلمان وپوښتل : دا لیکونه چاته لاس ته ورغلی وو؟

: دریم کس تهٔ ولید ځواب ورکړ، بیا یې زیاته کړه:

ما نن دیرش تنه د قبایلو مشران راسره راوستی دی او له څو نورو سردارانو سره د لیدو لپاره د یوه هیأت سره می بیرته د تلو نیت ؤ خو دریم کس حکم راته وکړ چی زه تا ووینم او بیا ولاړ شم، هغه تاته دا تسلی درکول غواړی چی موږ منصور او عاتکی له حاله بی خبره او غافل نه یو.

سلمان لږ فکر وکړ بیا یې وویل: هغوی د عتبه له هستوګنځی څخه د ضحاك د وررور درك معلوم کړی وی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: هوکې! مګر هلته یوازې دوه تنه نوکران وو، هغوی ویل چې یونس دلته نه دی راغلی.

: ته د عتبه کور راښودلی شې؟

: نه ستا تګ هلته مناسب نه دی، زه د دې خبرې ذمه واری اخلم چې که د ضحاك وروو راغی نو بیرته به تلو ته پرې نښودل شې.

سلمان وویل : ولیده! دغه وضعه زما له زغم څخه وتلې ده، کله چې سعید وینم او په هغه او دغه خبره داډ ورکوم نو خپل ضمیر مې ملامتوي، زه تاته دا نشم ویلی چې د منصور او عاتکې په خاطر د خپل ټولنیز مسئولیت څخه مخ واړوی، خو د هغوی په څیر زه هم یو فرد یم، که زه په خپله بنربښند نه د حامد بن زهره د لمسې او یا د یوه مجاهد د لور عزت وساتلای شم نو دا سودا به راته ګرانه نه وی.

که تاسو د ترکانو د سمندری قواو د امیر لپاره کوم هیأت لیږی نو هغه زما څخه پرته هم استولی شې، زه د دې هیأت مشر ته معرفی خط ورکولی شم او دا هم ورته ویلی شم چې هغه په کومه نیته په کوم ځای کې د کښتی د راتلو انتظار وکړی.

ولید وویل : د جیل پر بدلـوڼد بندیانو په وضعه کې بدلون نه راځي نن منصور او عاتکه د دښمن په بند کې دی، که یې سبا ته تاسو له ویګا څخه غرناطې ته راولی او ځو ورځې یا څو هفتې وروسته غرناطه بیرته د دښمن په لاس کیوزی نو پردی به ستا څه داډ حاصل شی. د منصور په څیر په لکونو هلکان او د عاتکې په څیر په لکونو لونې به په نیول شویو سیمو کې د دښمن د ظلمونو سره مخ وی.

سلمان وویل : کاشکې ما په لکونو ځله ساه ورکړې وای او د هر منصور او د هرې عاتکې لپاره یو یو ځل مړ وای، د ولید سترګې راډکې شوی او تر لږ ځنډه یې هغه ته کتل، بیا یې وویل : ګوره زموږ هیله ده چې زر تر زره ته له دې ځایه روان شې خو دوی ورځې به خامخا نور انتظار کوی، کوم سړی چې دلته ستا په انتظار تینګار کوی هغه اوس په غرناطه کې په کوم ځای کې د قبایلو له مشرانو سره په مشورو بوخت دی، امکان لری نن یا سبا څه پریکړه وکړی او سبا ته تاته وویلی شی چې تر څه وخته تلای شی.

: ستا باور دی چې کوم سرداران چې له تا سره راغلی دی له غدارانو څخه به څه خطر ورته پیښ نه شی؟

: نه! ترڅو حکومت ته دا معلومه نه شی چې موږ څه کول غواړو هغوی تر هغې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې څه لانجه او جنجال نه خوښوي او زموږ هڅه دا ده چې تر وروستی وخته زموږ ارادې چاته معلومې نه شي. د قبايلي مشرانو د غولولو لپاره د حکومت غداران هم بوخت دي، ځکه خو ډېرو اعتمادي کسانو ته دا ويل کېږي چې موږ به څه وخت او چيرته خپل کار پيلوو.

: تاته دا معلومات شته؟

: هوکې! موږ د تياري لپاره چې څومره کولی شو فرصت ترلاسه کول غواړو، ځکه خو زموږ د مشرانو دا پرېکړه ده چې د اوربند د مهال تر پای ته رسيدو پورې له ډېر احتياط څخه کار واخلي او يوازې يوه يا دوې ورځې پخوا بايد په ټول اندلس کې جګړه پيل شي.

: ستاسو دا باور دی چې په غرناطه کې دننه او بهرني دښمنان به تاسو ته د څه تياري فرصت درکړي او د حکومت د هڅو په نتيجه کې چې په ښار کې دننه کوم فسادونه پيل شوي دي هغه به تر څو ورځو پورې د بشپړې کورنۍ جګړې بڼه غوره نکړي؟

وليد لږ په فکر کې ډوب شو بيا يې ځواب ورکړ: موږ ته تر ټولو لوی خطر همدغه دی او موږ له دې خطر څخه د خلکو د خبرولو پوره هڅې کوو، بيا هم زه ستا د دې پوښتنې په باب ډاډمن ځواب نشم درکولی چې زموږ هڅې به تر کومه حده بريالی شي.

که موږ ناڅاپه په غرناطه کې د کورنې جګړې خطر احساس کړ، نو د اولس د پام اړولو په خاطر موږ بايد سمدستي د جګړې ډګر ته راووزو، خو زموږ دغه هڅه به هم هغه وخت نتيجه ورکوي چې پيل قبايل وکړي او ورسره جوخت زموږ بهرنی مرستندوی که سمدستي پر ساحلي برخو حمله ونکړای شي نو لږ تر لږه زموږ دومره ملاتړ وکړای شي چې زموږ خلکو مورال ورسره اوچت شي، همدغه مسأله ده چې ستا مرستي ته په کې اړ يو.

سلمان ورېل : مګر تاته دا معلومه ده چې زه د سمندري قواو له امير څخه د څه پرېکړې له صلاحيت سره يوځای نه يم راغلی. زما هدف د حامد بن زهره رارسول وو، اوس زه هغوی ستاسو له وضعې څخه خبرولای شم، کيدای شي زما غوښتنه هغه څه اقدام ته اړ کړي خو زه له تاسو سره وعده نشم کولی.

: که ستا کښتۍ له لرې پر څنډو ډزې وکړي هم ډيرې ښې او اوږد مهالی اغيزې به ولري، زموږ مشران ګومان کوي چې تقدير يې له کوم سببه ته دلته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې را استولې.

تاته معلومه ده چې سیلاب اخستې انسان ته د خاشاکو تکیه هم غنیمت وي، زموږ د ملگرو دا خیال دی چې کله قبایلي مشران دلته راټول شي نو تا به د هغوی په وړاندې د وینا کولو لپاره ور وغواړي له هغې وروسته به ته زموږ له یوه هیأت سره روان شې، څو ته چې ستا خبرې او ملاقات ورسره ضروري دي تر اوسه پورې دلته نه دي را رسیدلي خو زموږ هغه ده چې تاسو ته به تر دوو ورځو زیات دلته د پاتې کیدو ضرورت پیښ نه شي.

د سعید په باب پلار جان داده دی چې تر څو ورځو پورې به د تگ راتگ شي، بیا به په یوه مناسب وخت هغه د البسین په جامع جومات کې په منبر ودریږي چې له هغه ځایه یې پلار وروستی وینا کړې وه، زما باور دی چې د پلار د شهادت کیسه خلك د زوی له خولې واوري نو غداران به دا احساس کړي چې د حساب ورځ یې را رسیدلې ده.

سلمان وویل:

ولیده زه یوه خبره درته کوم.

: ووایه!

: زه دا نه درته پوښتم چې هغه دریم کس څوك دی؟

خو زه غواړم هغه ووینم، له هغه سره زما څو خبرې ضروري دي.

: ستا دا هیله به ډیر زر پوره شي، او زه دا هم درته ویلی شم چې هغه د «بنو سراج» له کورنۍ څخه دی، مور یې د سلطان د مور د خاله لور او د الحمرا د ناظم لور ده، د جگړې په وروستیو شپو کې د پنځو زرو تنو قومانده ور سپارل شوې وه، خو د موسی بن ابی غسان له شهادت څخه وروسته د نورو څو وتلیو مشرانو په څیر دی هم له پوځ څخه ووت، ظاهراً اوس هغه له سیاسي او پوځي معاملو څخه بیل دی خو د ده ارځښت کم نه شو، په غرناطه کې ډیر لر کسان د ده له پټو مصروفیتونو څخه خبر دي، زه هم یوازې پردې پوهیدم چې د یوه با نفوذه سړي په واسطه زموږ اړیکې له پوځ سره ټینگې شوې دي، خو له غرناطې څخه د حامد بن زهره له روانیدو څخه لږ دمخه ماته دا معلومات نه ؤ چې هغه سړی له موږ سره روانیږي او نوم یې یوسف دی.

طبیب ابو نصر له ابو الحسن سره کوټې ته ورننوت، دوی دواړه د احترام لپاره ودریدل، هغه ولید ته وویل : زویه! نن د سعید وضعه ډیره ښه ده، او د دې امید

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چی که د خدای «ج» رضا وه نور به په وار وار دلته زما د راتلو ضرورت نه وی.

ولید وویل : پلار جانه! که ته اجازه راکړی نو زه به کور ته د تلو پرځای له همدی ځایه بهر ته ووزم، پرٔ ما ډیره ناوخته شوه او ملګری می انتظار کوی.

ابو الحسن وویل : زه به ګاډی‌درته تیاره کړم.

: نه، نه! زه له دی ځایه پلی ځم.

هغوی بهر ته ووتل او له ولید سره یی خدای پامانی وکړه لږ ځنډ وروسته سلمان، عبیدالله او زوی یی په بام طبیب ته رخصت ورکاوه، د ابو نصر او ګاونډیو کوروټو ترمنځ کوم دوه نیم ګزه لوړ دیوال و چی یوځای یی نړولی ؤ او د تګ راتګ لاره یی په کی جوړه کړی وه، سلمان د لومړی ځل لپاره د هغه د رخصتولو لپاره بام ته راختلی ؤ، ابو نصر هغه ته وویل : که کله درته ضرورت شو ته بی له ځنډه په همدی لاره زما کره راتلای شی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د يوه راز ښرګنديدل

راتلونکی سهار چی سلمان د سعید د پوښتنی لپاره د هغه کوټی ته ورننوت نو هغه د بستری پرځای په کرسۍ ناست و او له ابو الحسن سره یی خبری کولی، سلمان یی چی ولید د جګیدو هڅه یی وکړه خو دی زر ور وړاندی شو او هغه ته یی تکیه ورکړه، ورو یی پر بستره څملاوه ویی ویل: تر اوسه ستا استراحت ته اړتیا ده.

سعید د موسکی کیدو هڅه وکړه ویی ویل : د شپی ابونصر ویل چی ته به زر د ګرځیدو راګرځیدو وړ شی، نن می لومړی ځل له څه تکیی پرته په کوټه کی د ګرځیدو هڅه وکړه، ابو الحسن په زوره پر کرسۍ کینولم، که نه نو ښایی زه ستا تر کوټی درغلی وای.

: إن شاء الله ته به ډیر زر روغ شی، خو تر اوسه پوری باید ته د ګرځیدو راګرځیدو په باب د طبیب هدایت په پام کی ونیسی.

ناڅاپه عبدالمنان له یوه نوکر سره په دروازه کی راښکاره شو او بیا ژر یوی خواته شو.

سلمان جګ شو بهر ته وتلو ته چمتو شو ویی ویل : زه اوس بیرته راځم. او بیا یی د عبدالمنان لاس ونیو او هغه یی خپلی کوټی ته ورسره بوتلو په یوه ساه یی څو پوښتنی تری وکړی:

ما پر ولید تینګار وکړ چی سهار تا یا عثمان ماته را واستوی تا دومره ځنډ ولی وکړ؟ هغه کور څومره لری دی؟ تر اوسه د ضحاک په لټه څوك راغلی دی که نه؟

عبدالمنان وویل : تاسو داډه کښینی، ما ډیر مهم خبر درته راوړی دی، یو سپور وختی سهار د عتبه کور ته رسیدلی هغه اوس زموږ په ولکه کی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



: تاته معلومات شته چې هغه څوك دی؟
: د ضحاك ورور دی.
: تاسو د عتبه نور نوكران هم نيولي دي؟
: نه د هغوی د نيولو ضرورت نه ؤ.
: كه هغه ژوندی وی او تاسو د عتبه د كوره يو تن راوستلی وی نو دا بايد ورته معلومه وی چې دا خبره له عتبه څخه پټه نه پاتې كيږي، ستاسو د كړو وړو نتيجه به دا وی چې هغه به نور هم پام كوی او زموږ لپاره به د منصور درك لګول او يا د عاتكې راخلاصول ناممكن كړي، ځكه خو ما غوښتل چې زه پخپله هلته بايد تللی وای.

عبدالمنان په ډاډ ځواب وركړ: د عتبه په كور كې يوازې دوه تنه نوكران وو هغوی د ضحاك د ورور له نيولو څخه خبر نه دي، كله چې ته تولـه كيسه واوری نو ډاډه به شې. د ضحاك ورور يونس د شپې په وروستی برخه كې هلته راغی، د عتبه نوكران دننه ويده وو، بهرنی دروازه تړلې وه، هغه له اس څخه پلی شو لومړی يې دروازه وټكوله بيا يې په پوره زور دروازه ټيله كړه او چيغې يې وكړې خو دننه څخه يې څه ځواب وانه وريد، ما يوه بل ملګری ته زر دا هدايت وركړ چې شاوخوا رضاكاران خبر كړی پخپله له عثمان سره كوځې ته ووتم، د يونس پام مې ځان پلو ته واړاوه ومې ويل:

ګوره وروره شور او زوږ هيڅ ګټه نه لري، ستا ملګری به د لمر له راختو دمخه راويښ نه شي، كه د دروازې خلاصول ضروری وی نو دغه هلك له ديوال څخه اوښتلی شي، هغه زما څخه مننه وكړه عثمان د ده په اوږو ودريد او پر ديوال وخوت، دننه كوز شو دروازه يې خلاصه كړه هغه زر دننه ننوت او په دومره زور يې د نوكرانو د كوټې دروازه ورټيله كړه چې هغوی په چيغو او فرياد بهر ته راووتل، د هغوی د رټلو او ګواښونو څخه وروسته د ده لومړنی پوښتنه د ضحاك په باب وه، هغوی ځواب وركړ چې ستا ورور له آغا سره يوځای وتلی دی او بيا مو نه دی ليدلی

لږ ځنډ نور له هغوی سره په خبرو اترو كې موږ. ته معلومه شوه چې هغه كوتوال ته د كوم مهم پيغام لپاره ورځی او بيا به بيرته راګرځی، موږ له هغه ځايه لری شوو او څو دقيقې وروسته چې هغه د كوځې يوه سرته ورسيد هغه وخت يې د خطر احساس وكړ چې د څلورو تنو رضاكارانو توری په يوه وخت د هغه په سينه، كيده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پوښتيو ولګيدی، يوه ځوان د هغه غاړې ته کمند وراچولی ؤ او عثمان د ده د اس جلب نيولی ؤ، اوس هغه زموږ په لاس کې بندي دی.

سلمان زر راپورته شو ويې ويل : راځه چې ځو.

: چيرته؟

: زه دغه سړی ليدل غواړم.

: نه ته سمدستي هلته نه‌شې تلای، زما هدف تاته دا ؤ چې درکول وو چې موږ له خپلو مسئوليتونو څخه غافل نه يو، ماته وليد دا ويلي وو چې ته ډېر پريشانه يې، ځکه خو زه سهار وختي بايد ستا خدمت ته راغلی وای خو هغه دا ټينګار هم کړی چې لږ تر لږه به دوی ورځی نور هم ته انتظار کوی، هغه تاته د يوسف په باب خبره کړی ده، او ته بايد د هغه په ذهانت او مسئوليت پيژندنه اعتماد ولری.

ما دا ټولی پيښی هغه ته په ليک کې وليکلی او وامی ستولی او زما باور دی چې هغه فارغ شی دی مسألی ته به پام وکړی، سمدستی هغه ډېر مصروف دی، که تاسو په دی مسئله کی څه هدايت راکوی نو زه به ډېر ګړندی عمل پری وکړم.

ستا مقصد له دی پرته بل څه کيدای شی چې موږ دضحاک وروړ مرستی ته اړ کړو، او دا کار ماته مشکل نه ښکاری چې هغه به د خپل وروړ د ځان ژغورنی په خاطر د عمير او عتبه غوندی خلکو وژلو ته هم چمتو شی.

سلمان پوښتنه وکړه : تاسو هغه ته ويلی چې ضحاک زموږ په لاس کی بندی دی؟

: هوکی! ما هغه ته دا هم ويلی دی چې که ته زموږ سره مرسته وکړی نو د وروړ ژوند دی ژغورل کيدای شی. په عامو حالاتو کی هغه بنايی زما پر خبره باور نه وای کړی خو چې کله عثمان د ضحاک د څيری، جامو او قد او د اس نخښی ورته وويلی نو د ده رنګ وتښتيد او چيغی يی کړی:

د خدای «ج» لپاره ما ضحاک ته وروړلی، زه يوازی هغه ژوندی ليدل غواړم، بيا به زه ستاسو هری خبری منلو ته چمتو يم.

ما ځواب ورکړ چې:

ضحاک دلته نشته، زموږ انديښنه وه چې عتبه او د هغه ملګری به يی د خپلو ګناهونو د پټولو په خاطر ووژنی ځکه هغه موږ داسی ځای ته رسولی دی چې د عتبه او نورو جنايتکارانو له ولکی لری وی، که ته زموږ سره مرسته وکړی نو د هغوی د کسات څخه ستا او ستا د بوډا پلار د ژغورلو ذمه واری هم اخلو، که نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا امکان نه لري چې ته هغه بیا ووینې.

هغه تر لږ ځنډه په فکرونو کې ډوب شو بیا یې پوښتنه وکړه: تاسو په څه خبره کې زما مرسته غواړئ؟

ما لږ په توند لهجه ورته ووېل : احمقه! ته په هر څه پوهېږې، ته د فردیناند د هغه جاسوس خدمتګار یې چې په ویګا کې یې یو کشر هلك او یوه عزتمنده نجلۍ بندي کړي دي، ستا ورور مور. ته هر څه ویلی دي او هغه پر دي پوهېدلی دی چې د هغو دوو بندیانو د یو یو ویښته په بدل کې به په سلګونو کسان ووژل شي، د فردیناند جاسوس به په قسطله او یا ارغون کې پناه واخستلی شي خو تاته به په اندلس کې په هیڅ ګوټ کې هم د امن ځای نه وي.

هغه ووېل : په خدای سوګند چې هغوی کله هغه ماشوم راوست زما ورور ورسره نه و، او د هغې ځوانې نجلۍ په راوستلو کې هم د هغه لاس نه ؤ، هغه یوه نا اشنا او د هغه درې نوکرانو راوستل، نجلۍ او هلك یې په پاسنۍ پوړ کې په جلا جلا کوټو کې واچول او هغه نا آشنا سړی چې د عتبه د دوست په نامه مو نه پیژاند یوه ورځ یې په حجره کې تیره کړه سبا ته یې زولنۍ ور واچولې او په یوه زیر زمیني کوټه کې یې واچاوه.

زما خور چې د هغوی په کور کې کار کوي د دې سبب دا باله چې عتبه سهار سینټافي ته ولاړ او د کور ښځو او نوکرانو ته یې دا امر وکړ چې د بندیانو سخته څارنه وکړي او چاته له هغوی سره د خبرو اجازه مه ورکوي.

میلمه درې څلور ځله نجلۍ ته د ورتلو هڅه وکړه خو نوکرانو هغه ایسار کړ، ماسپښین مهال هغه یو ځل بیا هڅه وکړه او نوکرانو ته یې دا ګواښ وکړ چې کله مو اغا بېرته راشي نو ځرمن به مو وباسي، زه په دې کور کې بندي نه یم میلمه یم او نجلۍ زما د کاکا لور ده، زه یې یوازې د احوال پوښتنه کوم.

د عتبه مور او خور د ده خبرې واورېدلې او هغه ته یې د پاس تلو اجازه ورکړه، بیا چې کله هغه کوټې ته ورننوت نو نجلۍ لومړی هغه ته ډیکه ورکړه بهر یې ویوسته او بیا یې کرسۍ راپورته کړه او پر سر یې د وهلو هڅه وکړه، د هغه د کاکا زوی کرسۍ ترې واخستله او دواړه لاسونه یې ونیول، زما خور او د کور درې ښځو له بهر څخه دغه ننداره کوله، هغه ویل : عاتکې! د خدای «ج» لپاره زما خبره واوره، او هغې به په ډیر زور چیغې وهلې : بې غیرته! دا زما د پلار او مور د قاتل کور دی، زما له مخې لرې شه، زه له تا سره تر خبرو مرګ غوره بولم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هغوی جګړه کوله، په بله کوټه کې نژدې هغه هلك د دروازې د ماتولو هڅه کوله، بیا ناڅاپه عتبه راورسید او څو دلیقی وروسته د هغه نوکرانو هغه میلمه زیر زمینې ته کشولو.

سلمان پوښتنه وکړه : تاسو له هغه نه پوښتنه وکړه چې کوتوال ته هغه څه پیغام راوړی ؤ؟

عبدالمنان له خپل جیب څخه دوه کاغذونه راواخستل هغه ته یې ونیول او ویې ویل:

موږ لومړی د هغه تلاشي واخستله او دغه کاغذونه ورسره راووتل، یو د حکومت ځانګړی اجازه لیك دی چې درلودونکی یې هر وخت کولی شي له ښار څخه ووزي او دروازه ورته خلاصه وي، او دا د هغه لیك نقل دی چې د بندي په وینا عتبه کوتوال ته را استولی دی، ته یې پخپله ولوله.

سلمان زر زر لیك ولوست چې مفهوم یې داسې ؤ: تاسو سمدستي صدر اعظم ته ورشی او ورته ووایی چې فردیناند له پرون راسې د خپل احوال د خواب په انتظار دی، تاسو باید سمدستي سینتهافی ته ولاړ شی، اوس له باغیانو څخه زموږ هیڅ خبره پټه نه ده، او هغوی د کوم کلك انتقامي حرکت لپاره د مناسب فرصت په انتظار دی.

سمدستي د غرناطې د راتلونکي پریکړه زموږ په لاس کې ده، خو باغیانو ته زیات مهلت ورکول به سخت خطرناك وي، موږ سعید پیدا نکړای شو، هغه غالباً په غرونو کې پناه اخستې ده او ښایی ملګری یې هم هلته ورغلي وي، خو که لوی وزیر پر وخت څه ګام اوچت کړي هغوی به موږ ته د څه اندیښنې سبب نه شي.

سلمان خفه شو ویې ویل : تاسو خپلو مشرانو ته د دې لیك احوال ورکړی دی؟

: هوکې! تر اوسه به د دې لیك خبر یوسف ته هم رسیدلی وي، خو موږ د هغه معلومات نشو اضافه کولی، ځکه چې ابو القاسم سینتهافی ته روان شوی دی.

: څه وخت؟

: نژدې یو ساعت وړاندې، زه چې تاته راتلم په لاره کې خبر شوم چې د غدارانو زیات شمیر مشران له هغه سره د خدای پامانی لپاره په دروازه کې ولاړ وو او د هغه ډنډورچي ځای ځای دا اعلانونه کول چې لوی وزیر د نورو اسانتیاو د ترلاسه کولو لپاره سینتهافی ته روان شو، ځکه خو د هغه د بری لپاره دعاګانی وکړی، تاسو باید پریشانه نه شی، هغه څو ځلی سینتهافی ته تللی، موږ د هغه په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب هیڅ خوشباوری نه لرو بیا هم دا امید لرو چی ترڅو د اولس په باب پوره ډاډه نشی د کوم خطرناك گام اوچتولو جرئت ونه کړی، اوس ماته اجازه راکړه.

سلمان په پریکنده ډول وویل : زه له تا سره ځم.

: چیرته؟

: یونس ته.

عبدالمنان پریشانه شو ویی ویل: مگر ما گومان کاوه چی اوس به ستا ډاډ حاصل شوی وی.

. سلمان وویل : که د عاتکی خبره تر عمیر پوری محدوده وای نو ما به دا گنڼله چی هغه یی د کاکا لور ده، او دی به د بی غیرتی او بی حیایی له یوه حد نه وړاندی نه ځی خو اوس دا د کور د یوه سپی ښځه د ځان زغورنی په هڅه کی د ځنگل د یو خونړی لیوه په پنجو کی لویدلی، عتبه یوازی د قسطلی یو جاسوس نه بلکی د عاتکی د پلار قاتل هم دی، اوس به هغه پر ېلو سکروټو ولاړه وی او د خپلو ورونو غیرت ته چیغی وهی او زه خپل غوږونه نشم بندولی، هغی زه د حامد بن زهره د ځان ژغورلو په خاطر غرناطی ته را استولی وم، هغی د حامد د تپی زوی د خدمت په خاطر د کور پرېښودلو خطر قبول کړی ژ او اوس د حامد بن زهره د لمسی د ژوند ژغورلو په خاطر د خپل پلار د قاتل منگولو ته لویدلی ده.

په خدای «ج» سوگند! زه دا په داسی حال کی نشم پرېښودلای، نن ښایی زه د دی مرستـه وکړای شم، خو سبا تـه که عتبه هغه سینتافی یا کوم بل ځای تـه واستوله نو امکان لری چی ځو میاشتی د ځمکی چان کولو وروسته هم ور ونه رسیدای شم.

تاسو یوسف ته ویلی شی چی تاسو د سمندری قواو د امیر حضور ته د هیأت له استولو څخه پخوا ما دلته حاضر واخلی، که نه نو دغه خلك زما څخه پرته هم تلای شی، که زه بیرته راستون نه شوم نو دوی امیر البحر ته دا خبر ورکولی شی چی ستا یو ملگری د یوی داسی نجلی پر عزت قربان شوی دی چی هغی ته په لور او خور ویلو به هر ترك ویاړ کوی.

عبدالمنان په چوپه خوله سلمان ته کتل او د سترگو په پرده یی ورو ورو د اوښکو پردی راغوړیدی بیا یی وویل:

زه له تا سره بحث نه کوم، او زما باور دی چی که یوسفهم دلته وای ستا د ایسارولو هڅه به یی نه وای کړی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


راځه! زه ستا د ښې لپاره دعا کوم، خو ته سملستي بايد د عتبه پر نوکر اعتماد ونه کړې، امکان لري ويګا ته په رسيدو د هغه نيت بدل شي.

: دا پريکړه زه هغه وخت کولې شم چې هغه ووينم زما باور دی چې هغه به ماته دوکه رانکړای شي.

: ډير ښه راځه! سلمان جګ شو او ويې ويل: ودريږه زه مې اس تيار کړم.

: نه اوس اس ته ضرورت نشته، زه چې په کومه ګاډۍ کې راغلی يم هغه له دروازې څخه لږ بيرته ولاړه ده، لومړی تاسو له يونس سره ووينې له هغه وروسته که ضرورت ؤ، نو اس به دی هلته را وغواړم.

هغوی لـه کوره راووتـل او نژدې دوه سوه ګامـه لري په يوه ګاډۍ کـې سپاره شول.

*****

ګاډۍ د يوې تنګې کوڅې په مخ کې ودريده او هغوی ترې پلي شول او کوڅې ته ننوتل، لږ وړاندې چې ولاړل عبدالمنان د يوه کور دروازه درې ځلې له لږ وقفې وروسته وټکوله او يوه وسله وال ځوان دروازه خلاصه کړه، بيا سلمان په عبدالمنان پسې کور ته ننوت.

يوه دقيقه وروسته هغه د کور په شاتني برخه کې په يوه کوټه کې د يونس په مخ کې ولاړ ؤ، هغه په غولي پروت ؤ او لاس او پښې يې په پړی کلك تړلې وو، له عثمان څخه پرته دوه تنه نور رضاکاران هم نژدې ورسره ناست وو، هغوی جګ شول او ودريدل.

سلمان څو شيبې يونس ته کتل بيا يې وويل:

که ته د ضحاك ورور وې نو دا بايد درته معلومه وي چې موږ يوازې اته خابنته نور د بنديانو د راتګ انتظار يو که په دی موده کې هغوی رانـه غلل نو سبا دغه مهال ښايي ستا ورور غرغره کړای شي.

يونس په ګونګړو ژبه وويل:

د خدای «ج» لپاره په ما رحم وکړئ! زه د خپل ورور لپاره سر قربانولی شم خو د بنديانو را ايستل له هغه ځايه به زما په وس کې نه وي، هلته شپږ تنه وسله وال کسان شپه او ورځ پهره کوي او وړاندې د ويګا په پهره کې يو نيم سل تنه پهره داران دي.

زه يوازې هيڅ نشم کولی، که تاسو له ما سره څو تنه واستوئ هم پر هغه کور

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمله امکان نه لري.

: پردې فکر کول زموږ کار دی، موږ یوازې دومره معلومات کوو چې پر تا څومره اعتماد کیدای شي.

: زه د خپل ورور د ژوند ژغورلو په خاطر له خپل ځانه تیریدلو ته حاضریم، خو هلته زما بوډا پلار او د ضحاك میرمن هم ده او هغوی به د عتبه له کسانو څخه خلاص نه شي.

: زه د هغوی د ژغورنې مسئولیت اخلم، موږ به هغوی هم له هغه ځایه راوباسو او کوم داسې ځای ته به یې ورسوو چې هلته هیڅ خطر هم نه وي.

: مګر په غرناطه کې هیڅ ځای هم موږ ته خوندي نه دی.

: ما ته معلومه ده او زه د دې مسئولیت هم اخلم چې د خطر په وخت کې به غرونو ته ورسولي شي. هلته داسې خلك شته چې تاسو ته پناه درکړي او له ما سره د دې خبرې احساس هم شته چې ته به خپل سامان او لوبنې لرګي پرېږدي او ځې به، ځکه خو زه تاته د پنځوس طلايي دینارو وعده د ر کوم.

یونس ورېل : که زموږ سره دومره پیسې وای نو د عتبه نوکري به مو نه وای کړي، له باغ سره جوخت چې کوم کور دی هغه هم د عتبه دی، زموږ اصلي بادار د ویګا له رئیسانو څخه یو تن ؤ، د حملې څخه دوی میاشتې دمخه هغه خپل جایداد موږ ته پرېښود او هجرت یې وکړ، بیا چې کله عتبه زموږ د آغا په کور او جایداد قبضه وکړه نو ده ته د خو نوکرانو او موږ ته د سر پناه ضرورت ؤ.

سلمان ورېل : زه ستاسو په مجبوري پوهیږم، اوس که له اخلاصه ته زموږ سره مرستې ته چمتو وې نو په ډاډه زړه زما پوښتنو ته ځواب راکړه، بیا دې له بندي سره کیناست نورو کسانو ته یې ورېل ماته قلم او کاغذ برابر کړي او د ده لاس او پښې خلاص کړي.

له یونس سره تر یو ساعت پورې خبرو وروسته سلمان د «ویګا» کور ته د تلو او راتلو دننه او بهر لارو نقشه وایستله بیا یې عبدالمنان ته ورېل : اوس ماته پنځه تکړه ځوانان په کار دي، زه به د بیرته ستنیدو پرځای همدلته واوسم ته عثمان واستوه چې زما اس راولي.

عبدالمنان ځواب ورکړ: صیب! زه شل تنه سربښندویان درته برابرولی شم، خو اوس تاسو ویګا ته نشي تلای.

سلمان ځواب ورکړ: د دې پروګرام لپاره یوازې پنځه تنه بس دي او ما دا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی ویلی چی زه به همدا اوس «ویګا» ته روانیږم، که د سینتهافی لاره تر لمر لویدو پوری خلاصه وی موږ به د مازیګر له لمانځه وروسته د لویدیځی دروازی څخه ووزو، خو دا ضروری ده چی تر هغه وخته دغه نقشه او زما هدایات زما د ملګرو په ذهن کی ښه کښینی، تاسو هغوی ته د ګرندیو اسونو بندوبست هم وکړی.

یوه ځوان ووېل : جنابه! زه ستا په وړاندی د دی ادعا نشم کولی چی ښه سپاهی یم خو دغه نقشه می ښه یاده شوه، زه ستا د ملګرو په اړه ویلی شم چی تا به مایوس نه کړی، که تاسو اجازه راکوی زه به هغه مجاهدین راولم او د دی خبری مسئولیت اخلم چی دوی به په هر ازموینت کی پوره وخیژی او له هغوی سره خپل اسونه هم شته.

سلمان عبدالمنان ته وکتل او هغه وویل : ته پردی ځوان اعتماد کولی شی.

سلمان رضا کار ته وویل : ډیر ښه ته ولاړ شه او زر د بیرته راتلو هڅه وکړه. ځوان جګ شو او بهر ته ووت.

* * * * *

سلمان تر ډیره نقشی ته کتل او په قلم یی پر هغو نوری کرښی ایستلی او د نخښو په لګولو بوخت ؤ، بالاخره یی عبدالمنان ته وویل :

ستا دا باور دی چی موږ ترمابنامه بیله څه ځنډه له لویدیځی دروازی څخه تیریدای شو؟

: هوکی! د سینتهافی لاره ترمابنامه خلاصه وی او که تګ راتګ دوام ولری پهره دار تر څه ځنډه وروسته هم دروازه خلاصه پریږدی. خو کوم خلك چی په ګاډی سامان راوړی هغوی معمولاً ترمابنام دمخه بیرته رارسیږی. سهار وختی پر دروازه ډیر بیروبار وی، ځکه خو ځینی سوداګر د وخت ·د تیریدو په خاطر خپل بارونه له مابنام څخه دمخه اړوی او خپلی ګاډی له مابنام څخه دمخه له دروازی څخه بهر ته باسی او شپه بهر تیروی هلته د کوچوانانو لپاره د شپی لخوا د ساز او نڅا محفلونه هم تاوده وی.

سلمان وویل : دا ټولی خبری ما اوریدلی، ته یوازی زما د خبری ځواب راکړه.

: تاته په بهر وتو کی څه ستونزی نشته، زموږ ملګری به هلته نژدی وی، یوازی د دی خبری خطر دی چی کله شپږ تنه وسله وال کسان پر اسونو سپاره له هغه ځایه ووزی نو هغوی به زموږ د دښمنانو او زموږ د حکومت د جاسوسانو له نظره پناه نه شی، بیا به تاته یوه بله ستونزه جوړه شی چی د ویګا په لوری لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د سینتبافی له سرك څخه جلا شوی ده هغه دوه میله لری ده، تر هغه ځایه د وررسیدو نه وړاندی د دښمن لومړی پهره په مخه راځی.

: تا څنګه دا خیال کړی دی چې موږ د شپې له سرك پرته سفر نشو کولی؟

موږ به له مابنام څخه دمخه یو یو له دروازی څخه ووزو او دروازی ته نژدی به چیرته له سرك څخه کوز شو او فصلونو ته به ننوزو، له هغی وروسته به یونس زموږ لارښود وی څنګه یونسه سهی ده؟

: بلکل سهی ده صیب!

سلمان عبدالمنان ته وویل : اوس زه تاته دا ویل غواړم چې موږ به وسله وال نه روانیږو، خنجر له ځان سره ساتلای شو خو د نوری وسلی تیرولو ذمه واری به له دروازی نه هغه کوچوان ته وسپارو چې په ګاډی کی پروښو راوړو برسیره په ډیرو نورو کارونو هم پوهیږی.

عثمان له دروازی سره نژدی ناست ؤ چې د ګاډیونوم یی واورید سترګی یی وځلیدی.

سلمان وموسکل ویی ویل : عثمانه! ته زما په مطلب ږپوهیدی؟

: هوکی! خو وابنه له بهر څخه غرناطی ته راوړل کیږی له دی ځایه بهر ته نه وړل کیږی.

سلمان وویل : ته به د «غنمو» د راوړو په پلمه بهر ته ولاړ شی او زموږ وسلی به د تشو بوریو لاندی غلی کړی او ربنتیا! ما ته د لس دولس ګزه رسی اړتیا ده، ستا آغا به پرګاډیرد سوداګری یو څه سامان هم بار کړی، ته به زموږ ترشا راځی او خپله ګاډی به له نورو څخه لږ لری دروی، موږ به د ننداړچیانو په څیر هلته دلته ګرځو او په مناسب وخت کی به خپلی وسلی واخلو او روانیږو به.

عبدالمنان وویل : زه له عثمان سره یو بل سړی هم استوم هغه به د وسلو غوټه ورسره واخلی او مناسب ځای ته به یی ورسوی.

سلمان وویل : ·اچی موږ له دی کار څخه وزګار شو د شپی مهال به د دروازی د خلاصولو لپاره ستا مرستی ته اړ یو.

: تاسو به ما د هرکلی لپاره حاضر وګوری، او پرما برسیره به هلته ستاسو نور مرستندوی هم وی، له دروازی بهر به هم څو رضاکاران ستاسو انتظار کوی.

سلمان وویل : که له ویګا څخه څوك په موږ پسی راغلل نو امکان لری چې موږ د جنوبی دروازی لوری ته مخه کړو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: زموږ ملګري به هلته هم ستاسو هرکلی ته موجود وي، تاسو پهره دارانو ته يوازي دومره ووايي چي تاسو د هشام ورور ياست، هغوی به سمدستي دروازي خلاصي کړي.

: هشام څوك دی؟

: هغه يو فرضي نوم دی، پهره دارانو ته به د پوځ له خوا دا امر ورواستول شي چي د هشام د ورور او د هغه د نورو ملګرو لپاره دروازه خلاصه کړي.

راځه عثمانه! تر اوسه نور ډير کارونه دي چي بايد سرته يې ورسوو.

عثمان وپوښتل : صيب! ستا اس همدا اوس راولم؟

: نه! هغه تر ماسپښين پوري همالته پرېږدی خو له دي څخه وړاندی زما کوربه او د هغه ګاونډي ته دا ويل ضروري دي چي زه په يوه مهم کار مصروف يم خو هغوی ته اوس دا ويل ضروري نه دي چي زه چيرته يم.

عبدالمنان ورويل : تاسو فکر مه کوي، هغوی ته د تسلی لپاره به زه په خپله هلته ورشم.

عبدالمنان او عثمان جګ شول او له کوټي ووتل او نږدي يو ساعت وروسته د ويګا د عملياتو لپاره سلمان خپلو ملګرو ته هدايات ورکول.

ماښام يو يو له دروازي څخه ووتل، سلمان ترټولو دمخه ؤ، په هغه پسي يونس ؤ او وروسي نور، په دروازه کي لا د خلکو تك راتګ دوام درلود، عبدالمنان د پوځ له يوه ځوان افسر سره خبري کولی، سلمان هغوی وليدل او په بی پروايي تری تير شو دروازي ته نږدي له آس څخه پلی شو او د خپلو نورو ملګرو انتظار يي کاوه، څو دقيقي وروسته هغوی ټول هلته وررسيدل.

د عثمان ګاډي‌تر نورو ګاډيو لږ لږ وړاندي وه، له سرك نه پوري غاړي ته يو ځاي څو کسان په لمانځه ولاړ وو دوی هم شاوخوا په ولاړو ونو خپل اسونه وتړل او په لمانځه ور شريك شول.

له لمانځه څخه چي فارغ شول يو رضا کار په عثمان او د سرای په بل نوکر پسي ګاډي لوري ته ورغی او پاتی نور ټول يوه او بله خوا سره تيت شول، سلمان يونس د احتياط لپاره له ځان سره وساته او يو رضا کار مجاهد په دوی پسي له شانه روان ؤ.

د دروازي په شاوخوا کي د خلکو ګڼه ګونه د دوی له هيلي څخه ډيره زياته وه چي د دوکاندارانو په خيمو او په څپرو کي سملاسي جوړو شوودوکانونو کي بې-

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروا گرځیدل، د لوړو مقاماتو خاوندان تر چتریو لاندی په آرامو کوچونو کی ناست وو او ډوډی یی خوړه او ځای ځای سازکوونکو ، سندرغاړو او نڅاگرو د دوی د تفریح او سات تیری لپاره د نڅا او سرود مجلسونه تاوده کړی وو.

ناڅاپه چا د سلمان په اوږه لاس کیښود ویی ویل: که زموږ د بی حسی او بی غیرتی سهی اټکل کول غواړی نو په ما پسی راځه! دا عبدالمنان ؤ، سلمان چوپه خوله ورسره روان شو، لږ وراندی چی ولاړل د خانه بدوشو «کوچیانو» دیره وه، هلته د اور لمبو ته څو ښځو او نارینه ؤ گډ اتڼ کاوه چی شاوخوا غریب خلك تری راچار پیر وو.

عبدالمنان وویل : د دی کوچیانو نڅا زموږ لپاره نه ده، خو زه بل څه درښودل غوارم.

لږ وراندی تر یوه پراخ چتر لاندی خلك راټولیدل چی د مخی له کتار څخه دری فته لوړ په یوه ستیژ یوی ښکلی نجلی په قسطلی ژبه سندره ویله او زیاترو ننداړچیانو بیله دی چی د دی د سندری په مفهوم وپوهیږی پر هغی افرینونه ویل، سندر غاړی د خپلی سندری له پای ته رسولو وروسته دپر دی شاته ورکه شوه، څو شیبی وروسته پنځه نجونی چی له جامو څخه دری مسلمانی او دوی نوری د قسطلی اوسیدونکی ښکاریدلی راووتی او نڅا یی پیل کړه.

سلمان وویل : د خدای لپاره له دی ځایه ځه! زه تر دی زیات څه نشم لیدای.

هغوی له تجیر څخه راووتل بیرته سرك لوری ته راغلل عبدالمنان یوی ونی ته نږدی ودرید یوه او بله خوا یی وکتل او بیا یی سلمان ته وویل:

تا تر اوسه هیڅ نه دی لیدلی، اصلی ننداره به دری څلور ورځی وروسته پیل شی، د سندغاړو او سرود دغه ډله پرون دلته را رسیدلی ده، په غرناطه کی د داسی خلکو کمی نشته چی د ښار په څلور لارو کی د هغوی د کمالونو د لیدلو په انتظار دی.

همدا اوس یوه جارچی دا اعلان کاوه چی د طلیطلی شهزادگی دلته راروانه ده.

: د طلیطلی شهزادگی! دا څوك ده؟

: هغه یوه سندرغاړی ده او د هغی په اړه دا مشهوره ده چی د طلیطلی د پخوانی یوی کورنی سره اړیکی لری نوم یی لیلی دی او ځینی خلك یوازی د دی د راگ د اوریدو لپاره سینتافی ته تلل، هغوی وایی چی په غږ کی یی جادو ده، زه د جگړی له اوربند څخه وروسته لومړی ځل دلته راغلی یم او ما دا تصور هم نشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی چې دښمن زموږ د اخلاقي برجونو رانړولو لپاره کوم سوري وهلی دي هغه په دومره خطرناك وي.

هغه نښاګري نصراني يا يهودي وي، خو دغو بدمرغو چې هغوی د مسلمانانو په جامه کې ليدلی پرې خوښيدل، اوس ته پوهيدای شې چې په څومره جبهو کې بايد وجنګيږو؟

سلمان تر لږ ځنډه د درد په حالت هغه ته کتل، بيا يې وويل : زما په ګومان موږ ته نور دلته د ايساريدو ضرورت نشته.

عبدالمنان وويل : ته به لږ نور هم انتظار کوې، تر اوسه ابو القاسم له سينټافی څخه نه دي راستون شوي د هغه تر راتګه د دروازې دننه او بهر د حکومت جاسوسان بنه څك دي، هسې هم تاسو ته لږ وروسته سفر ډير مناسب دی.

يونس وويل : صيب! ما هم همدا عرض کول غوښتل چې موږ بايد تر لږ ځنډه دلته ايسار شو، د خدای تعالی لپاره پر ما اعتماد وکړه، اوس ستا برې زموږ لپاره هم د مرګ او ژوند سوال شو. ما دا عرض کاوه چې د دغه کور ساتونکي ډير ظالمان دي، او پر دې خبره وياړ کوي چې څو تنه بې ګناه خلك يې وژلي دي، که تا هغوی په ناخبرې کې راقابو نکړل نو هغوی به د وږيو ليوانو په څير مقابله وکړي او بيا دا خطر هم شته چې که له هغوی نه کوم يو وتښتيد او د پوځ چونی ته ورغی زموږ څخه به يو هم د ژوندی راوتلو موقع ونه وينو، دا هم ضروري ده چې د طبيلي خدمتګار او دوه تنه نوکران هم ونه تښتي.

سلمان وويل : يونسه! که زما پر تا اعتماد نه وای نو له ځانه سره به مې نه وای راوستلی، د حامد بن زهره د قاتلانو وروستي شيبې ډيرې نږدې دي، خو زه د خپل ضمير د ډاډ لپاره له تا څخه پوښتم چې په هغو اتو پهره دارانو کې څو تنو د حامد بن زهره په وژلو کې برخه درلوده؟

يونس په انديښنه ځواب ورکړ: صيبه! زه قسم خورم چې ما د خپل ورور پر کوم جرم د پردې اچولو هڅه نه ده کړې خو هغه له هغو قاتلانو سره نه ؤ تللی، ما څو ځله د هغوی خبرې اوريدلې دي چې وېل به يې چې عتبه يوازې له غرناطې څخه موږ ورسره راوستلو، او ضحاك يې په کور کې له نورو نوکرانو سره پرېښود او چې کله تولـه شپه پر موږ اوريدل لانده خيشته وو ضحاك په کور کې خوبونه غورول.

سبا ته يې د بل کار لپاره شپږ کسه له ځانه سره بيولي وو او زه له دې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منکر نه یم چې ضحاك هم په هغوی کې ؤ، نورې خبرې تاسو ته پخپله هم معلومې دي، خو که ستاسو ملګري په همدې شپه له غرناطې څخه بهر وژل شوي وي نو په یقین سره ضحاك له هغوی سره نه ؤ.

عبدالمنان ووېل : صیب! زما باور دی چې دا ځوان دروغ نه وايي.

: پردې خبره زما هم باور ؤ خو زه پردې ځان پوهول غواړم چې په پاتې نورو کسانو کې څوك زموږ د رحم حقدار دي، یونسه! ته ډاډه اوسه، تا د خپل ورور د ګناهونو کفاره ادا کړې ده.

هغوی تر لږ ځنډه نورې هم ورو ورو خبرې کولې، په دې موده کې د سلمان نور ملګري هم ورو ورو هغوی ته نژدې ورغلل، بیا ناڅاپه د سینتهافې له لورې څلور ګړندي پر اسونو سپاره رابنکاره شول، چې دروازې ته رانژدې شول، چیغې يې کړې.

له لارې نه لرې شئ! لوی وزیر صیب تشریف راوړي! ناڅاپه دروازه خلاصه شوه او وسله وال پلي او سپاره بل کړې مشالونه د سرك یوې او بلې غاړې ته کتار ودرېدل.

څو دقیقې وروسته د سینتهافې له لورې د ډېرو اسونو د ښېنو ترپهار واورېدل شو او بیا د سترګو په رپ کې پنځلس - شل اسونه ګړندي تېر شول، پر هغوی پسې د لوی وزیر ګاډۍ «بګۍ» وه، او د بګۍ شاته د وسله والو سپرو یوه بله ډله رارawانه وه، لږ ځنډ وروسته هغوی ټول دننه تللي وو او عام خلك چې له سرك څخه لرې ساتل شوي وو، پر دروازه راټول شول د خوښۍ نعرې يې وهلې.

سلمان او ملګریو یې په ډاډه زړه له ونو څخه خپل اسونه راخلاص کړل او یو یو د هغه باغ په لورې ولاړل چې د عبدالمنان نوکر وسله ساتلې وه او د دوی د ورتلو انتظار يې کاوه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پاچا او د هغه وزیر

ښار ته تر ننوتو وروسته د ابو القاسم بګۍ د خپل محل پرځای نیغه الحمرا ته ولاړه اونیم ساعت وروسته هغه د الحمرا ماڼی په یوه کوټه کی د پاچا په مخکی ولاړ و.

: ابو القاسمه! تا ډیر ځنډ وکړ، ابوعبدالله له شکایت څخه په ډکه لهجه وویل:
عالی جنابه! که زه سهار وختی روان شوی وای نو ښایی ماسپښین بیرته رارسیدلی وای، خو د شپی ځینی داسی خبرونه راورسیدل چی تر ډیره وخته ایسار شوم، او بیا سینتافی ته رسیدل او د فردیناند داده کول خو آسانه خبره نه ده.
پاچا په مخه کی یوی کرسۍ ته اشاره وکړه او ویی ویل : کښینه!
کاشکی زه د ده د نه داده کیدو په سبب پوهیدای لومړی تا دا ویل چی موږ د ښار څلور سوه تنه وتلی مشران او افسران د یرغمل په څیر دوی ته وسپارل او داده مو کړل، بیا دی ویل چی که د اوربند د مودی له پای ته رسیدو دمخه مو د ښار دروازی ورته پرانستلی نو د دوی پاتی اندیښنه به هم لری شی. د خدای «ج» لپاره ووایه! چی ددوی د بدګومانی د لری کولو لپاره نور موږ څه کولی شو؟
د حامد بن زهره څخه وروسته د غرناطی په کڅوړه کی بل کوم داسی غشی پاتی دی چی هغه یی خطرناک ګڼی؟
ابو القاسم وویل : عالیجنابه! د هغه ستا په اړه هیڅ بدګومانی نشته، که داسی څه خبره وای نو هغه به د حامد بن زهره په راتلو او د ښار د خلکو د جوش او احساساتو د خبر په اوریدو یوه شیبه هم نه ؤ ایسار شوی.
: نو بیا هغه څه غواړی؟ ستا څیره داسی ښیی چی کوم ښه خبر دی نه دی راوړی.
: اعلیحضرته! له فردیناند سره دا اندیښنه ده چی په غرناطه کی د باغیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاربنوونکي موږ د حامد بن زهره د وژلو مسئول بولي او دغه خلك هر وخت کولی شي خلك وپاروي، چې بيا به تاسو ته د اوربند د تړون د شرطونو پوره کول ناممکن کړي.

: د دې چاره له دې پرته بل څه کيدای شي چې د اشرارو د آرام ساتلو په خاطر د فرديناند پوځونه بيله ځنډه غرناطې ته ننوزي!

: تاسو سهې فرمايې! فرديناند هم همدغه غواړي چې د جګړې پلويانو ته بايد د سر اوچتولو فرصت ورنکړای شي خو...

: خو څه؟!

: اعليحضرته! ما دا ويل غوښتل چې فرديناند تاسو له نظره نه شي غورځولی، هغه له ما څخه پوښتل چې تاسو د خپلې راتلونکې په اړه څه پريکړه کړې ده؟

ابو عبدالله د ويرې او خفګان په حالت کې چيغې کړې:

ابو القاسمه! د خدای «ج» لپاره صفا صفا خبرې کوه!

: اعليحضرته! تاسو په پوره ډاډ زما خبرې و اورئ، د فرديناند ستاسو په وفادارۍ کې شك نشته، خو هغه نه غواړي چې تاسو په کوم نوي ازموينت کې واچوي.

د هغه انديښنه ده چې کيدای شي د حامد بن زهره راوروننکو کښتيو د هغه د ملاتړ لپاره ډير نور کسان هم پر ځنډه پلي کړې وي او دغه ترکان يا افريقايان به قبايلو ته د بهرنۍ ملاتړ اميدونه او وعدې ورکوي او جګړې ته به يې هڅوي.

فرديناند ويل چې که دترکانو جنګي بيړيو د ساحل په کوزه ځنډه يرغل راوړ او ويې نيوله نو په ټولو غرنيو سيمو کې به د جګړې لمبې پورته شي، په داسې صورت کې به د غرناطې د خلکو آرام ساتل ستا د وس خبره نه وي.

ابو عبدالله په وارخطايي وويل: تر اوسه ستا په مطلب نه يم پوهيدلی ما کله دا دعوه کړې ده چې د غرناطې اولس په امن او آرام ساتلی شم، که د فرديناند سر له اوسه زما په نيت شك وي او هغه دا ګومان کوي چې که د غرناطې اولس پاڅيد نو زه به ورسره ملګرې شم نو د خدای «ج» لپاره ووايه چې د هغه د ډاډه کيدو لپاره زه نور څه کولی شم؟

ابو القاسم په ډاډ ځواب ورکړ: فرديناند ستا پر خلوص اعتراف کوي، خو هغه نه غواړي چې که په غرناطه د قبضې په صورت کې د هغه لښکر د چا له مقاومت سره مخ شو د هغې پړه پرتا ولويږي. ته پردې پوهيدای شې که د هغه درې ځلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنه سرتيرى تيپيان يا ووژل شي نو د لښكر عكس العمل به يي څومره توند وي. د دوي په پوځ كي د داسي كسانو كمي نشته چي د غرناطي له اولس څخه د تيرو ماتو بدل اخستل غواړي او له تاسره به هم څه نرمي ونه كړي.

فرديناند دا احساسوي چي د جګړي په صورت كي چي څومره ته د خپل رعيت په اړه بي وسه يي هومره به دي د خپل لښكر په مخكي بي وسه وي، ځكه هغه غواړي چي سمدستي ته بايد په غرناطه كي ونه اوسي.

ابو عبدالله په ږدو ږدو هغه ته حيران كتل، په پوره زور يي غوښتل چيغي وكړي خو غږ يي په كومي كي خپ شو ابو القاسم له لږ ځنډ وروسته وويل:

: اعليحضرته! فرديناند غواړي چي سمدستي تاسو د ليكلي ترون له مخي د خپل جايداد انتظام وكړي، كه په غرناطه كي د بغاوت په اړه د ده انديښني غلطي ثابتي شوي نو تاسو به بيله ځنډه بيرته راوغواړي او بيله څه ځنډه به د خپلي مرستيالي منصب درته وسپاري.

دا هم كيداي شي چي كومه ورځ هغه د ټول اندلس د واكمني چاري تاسو ته وسپاري. د جګړي په صورت كي تاسو ښايي څو اوني او يا څو ورځي انتظار وكړي خو چي كله د باغيانو زور اوبه شي او فرديناند پردي ډاډه شي چي تاسو كومه لويه ذمه واري ترسره كولي شي نو ستا تر ټولو وړوكي انعام به دا وي چي د غرناطي حكومت درته وسپارل شي، زما باور دي چي كله تاسو بيرته راشي نو هغه كسان چي نن پرتاسو د غدار تور پوري كوي ستاسو په مخه كي به خپلي ليمي پړدي.

فرديناند ډير د تدبير خاوند دي او لري ګوري، هغه پردي پوهيږي چي په فتحه شويو سيمو كي په ځانګري ډول د بي شميره پوځ د ساتلو پرځاي به د يوه مسلمان په مرسته حكومت كول ډير آسانه وي.

د ابو عبدالله حالت هغه وزي ته ورته ؤ چي پر مري يي چاړه ور ايښودل شوي وي، هغه په پوره زور چيغه وكړه:

ته خاين يي! ته زما دښمن يي!! ته د فرديناند جاسوس يي!!! تاته ښه معلومه ده چي فرديناند به خپله يوه وعده هم پوره نه كړي، زه غرناطه نه پريږدم، زه جګړه كوم، تر وروستي سلګي پوري جګړه كوم، زه به اولس ته دا ووايم چي تا يوازي له ما سره نه بلكي له ټول اولس سره دوكه كړي ده، تا څلور سوه تنه د يرغملو په توګه فرديناند ته وسپارل، ته د حامد بن زهره قاتل يي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو القاسم په داډ ځواب ورکړ: ستا گومان دی چی د غرناطی خلك به تا په اوږو سپور کړی!

زه به ستا خرمن وباسم! پهره دارانو! پهره دارانو!!

ابو القاسم وویل : ته زما په وینو د خپلو گناهونو کفاره نشی ادا کولی.

څلور وسله وال کوټی ته ورننوتل او زره نازره یی بو بل ته کتل، ابو عبدالله له ډیرې غوسې لړزیده او چیغی یی کړی: ویی نیسی!

سپاهیان زره نازره ور وړاندی شول، خو ناڅاپه د ساتونکی ډلی یو مشر کوټې ته ورننوت او په منډه ورغی د ابو القاسم او سرتیرو ترمنځ ودریده.

ابوالقاسم وویل : لوی پاچا! زه هری سزا ته چمتو یم، خو د خدای «ج» لپاره زما خبره واورېما تاته دا نه ویل چی که تر سبا ماښام پوری زما لخوا فردیناند ته داډمن ځواب ورنکړای شی نو بل سهار به هغه پر غرناطه یرغل کوی، او هغه بدنصیبه کسان چی تا فردیناند ته سپارلی دی ټول به لاس ترلی راولی او داسی به یی په مخکینی کتار کی را روان کړی چی دښمن ته د ډال حیثیت ولری.

له دی وروسته بیا ته فکر کولی شی چی د غرناطی خلك به له تا څخه څه ډول د بی گناهو خلکو د وینو حساب اخلی او که تاسو د هغه د انتقام څخه وژغورل شی هم نو فردیناند به بیا څه ډېر سلوك درسره کوی؟

ابو عبدالله د بی وسی په حالت کی سر ځوړند واچاوه او څو شیبی په کوټه کی چوپتیا خپره وه، بیا هغه په لاس اشاره وکړه او سرتیری او افسر یی له کوټې څخه بیرته ووتل.

ابو عبدالله وویل : تاته هر څه معلوم وو او ته له پیله د فردیناند د لاس آله وی.

: اعلیحضرته! موږ دا پریکړه باید تاریخ ته وسپارو چی څوك د لاس اله ؤ؟

ابو عبدالله بی وسه شو ویی ویل: ابو القاسمه! ته ما خپل دوست بللی وی.

: زه اوس هم ستا دوست یم.

: ما تل ستا په مشورو عمل کړی دی خو تا ماته د سهی لاری راښودلو پرځای زما د بربادی سببونه برابر کړل.

: اعلیحضرته! ماته د هسی لارښوونکو انجام معلوم ؤ، تاته د یوه داسی وزیر ضرورت ؤ چی ستا د ضمیر د ډاډه کولو سببونه برابر کړای شی.

: د دی مطلب دا دی چی تا قصداً ماته دوکه راکوله!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


: نه جنابه! تا یوازې زما پر ښو مشورو عمل کاوه چې ستا دغوښتنو په تائید به وی او زه دا منم چې ما د خپل ضمیر د غږ اوچتولو پرځای ستا د ضمیر د داړ بندوبست کړی دی.

: اوس ته ماته د دې احوال لپاره راغلی یې چې زه د خپلی لاری د وروستی گرنگ پر څنده دریدلی یم؟

: زه تاته د دې لپاره راغلی یم چې اوس دواړه په یوه کښتۍ کی سپاره یو، او زما وروستی هڅه به دا وی چې دغه کښتۍ ډوبه نه شی.

: او ستا په گومان دا کښتی یوازی په دې له ډوبیدو څخه ژغورل کیدای شی چې مونږ له غرناطې څخه وتل ومنو؟

: جنابه! زه پردې پوهیږم چې دا پریکړه به تاته څومره گرانه وی خو دا یوه مجبوری ده.

: تا دا پریکړه کړی ده چې زه باید الفجاره ته ولاړ شم.

: اعلیحضرته! یوازی ته پریکړه کولی شی.

: فردیناند درته ویلی دی چې هغه ماته کوم جیل او یا کلا غوره کړی ده؟

ابو القاسم ځواب ورکړ: اعلیحضرته! ما له فردیناند څخه دا لیك اخستی دی چې دی په الفجاره کی کومه سیمه تاته وسپاری نو ته به د یوه واکمن په حیث په کی اوسی او د هغی حاصل به دومره خامخا وی چې ته د بی وسی احساس ونکړی.

: ابو القاسمه! ما ځان ته پخپله ډیره دوکه ورکړه، خو دا دوکه نشم ورکولی چې په الفجاره کی د ځمکی کومه ټوټه داسی هم کیدای شی چې زه به کی داړمنه ساه واخستلای شم. د الفجاری یاغی خلك به هلته په خپلو هدیرو کی زما مړی هم پری نږدی.

: عالم پناه! دا خبره ماته پریږده چې د دی سیمی اوسیدونکی به تاسو په سر سترگو کښینوی، هغوی به پری پوه کړای شی چې فردیناند په کومه سیمه ستا حق ومنی هغه به د نصرانیانو له غلامی نه خوندی وی، زما باور دی چې د الفجاره اوسیدونکی به د عیسویانو په لاس د تباه کیدو پر ځای ستا تر سیوری لاندی د امن ژوند غوره کړی.

: هغه خو وعده کړی وه چې ما به تر یوه کاله پوری د ازمویښت لپاره له الحمرا څخه نه وباسی، اوس ته دا ولی نه وایی چې هغه ماته یو ځل بیا دوکه راکول

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي.
: عالي مقامه! هغه تاته د دې خبرې فرصت درکول غواړي چې ته د الفجاره جنگيالي قومونه آرام کړې او په دې ډول ځان د يوې لويې ذمه واري اهل ثابت کړې. هغه پوهيږي چې غرنې قومونه به په آسانۍ د ده برلاسي ونه مني. ځکه خو که تا هغوی سمې ته راواړول نو دی به د خپلې متعصبې ملکې او د قسطلې د سردارانو د مخالفت سره سره تاته په اندلس کې د سلطنت د نايب منصب درکړي.
: ته ويلی شې چې فرديناند به څومره ورځې په الفجاره کې د ايساريدو اجازه راکړي؟
: عاليمقامه! ته ډاډه اوسه، فرديناند به پردې اقرار او سوگند کوي چې د الفجاره کومه سيمه تاسو ته درکړای شي پر هغې به ستاسو مالکانه حقوق د تل لپاره وي، او په هيڅ صورت کې به هم نه درڅخه اخستل کيږي، د هغه د ليک په لوستلو به پخپله ستا ډاډ حاصل شي.
: کوم ليک!
: ابو القاسم د خپلې درنې چپنې په جيب کې لاس ننه ويست يو ليک يې راويوست او په دواړو لاسو کې يې ونيوه ابو عبدالله ته يې وړاندې کړ ويې ويل:
واخلئ! دا ترون زما د وفاداري او وظيفې پيژندلو وروستی ثبوت دی. د دې مضمون ما پخپله ليکلی او فرديناند زما د يوه تکي د بدلولو هڅه هم نه ده کړې. د کليسا مشرانو د قسطلې اميرانو او نورو متعصبو سردارانو ډير شور او زور واچاوه، ملکه ازابيلا هم خوښه نه وه خو بيا هم د الفاظو په جگړه کې هغوی ستا خدمتگار مات نکړای شو، تاسو پردې ليک د پاچا او ملکې مهرونه ليدلی شې.
ابو عبدالله په خپلو لړزيدليو لاسونو ليک راپورته کړ او له لږ ځنډ وروسته يې ابو القاسم ته وکتل ويې ويل:
د غرناطې د اولس بدمرغي داوه چې زما ټول کارونه نيمگړي وو، او زما بدمرغي دا ده چې زما د وزير يو کار هم نيمگړی نه وي.
زه ستا له ځيرې څخه د دې ليک مفهوم لوستی شم، اوس دا راته ووايه چې کله زه له غرناطې څخه ووزم نو ته به الحمرا ته راځې او که به په خپل کور کې پاتې کيدل خوښوې؟
ابو القاسم د خپلې موسکا د پټولو هڅه وکړه ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالیمقامه! کوم حالات چي ستا لپاره نامناسب دي هغه ستا د غلام لپاره هم مناسب نشي کيداى. ما تر وروستي سلګۍ له تا سره د اوسيدو پريکړه کړې ده، فردیناند ستا په ګاونډ کي ماته هم یوه وړوکې سیمه رابخښلې ده.

: يو سړى د دوو بادارانو غلام نشي کيداى.

: همدغه سبب و چي ما د غرناطي پريښودو پريکړه وکړه.

: ته به ربښتيا له ما سره اوسې؟

: هوکې! زه وعده کوم چي په غرناطه کي خپله برخه مهم کارترسره کړم بيا به ستا په خدمت کي حاضر شم.

ابو عبدالله په وريښمين دسمال کي نغښتي ليك پرانست او په لوستو يې بوخت شو.

بيا يې کاغذ بيرته قات کړ يوې خواته يې کيښود او تر لږ ځنډه يې سر ښکته راچاوه په چورتونو کي ډوب شو، بالاخره يې ابو القاسم ته وويل:

فردیناند دا غواړي چي زه بې له ځنډه الحمرا بايد پريږدم، او ته وايي چي د دي ليك مضمون ما تيار کړى دى.

ما له فردیناند سره تر خبرو اترو وروسته دا مضمون وليکه، ماته معلومه وه چي الحمرا په تاسو ګرانه ده، خو ما دا احساس کړه چي په دربار کي د هغو خلکو خوله بندول ضروري ده چي تر اوسه ستا پر اخلاص شکمن دي.

: اوس تا د هغوى خولې بندي کړې؟

: زما باور دى چي کله تاسو له الحمرا ځخه ووزئ نو د فردیناند په دربار کي به ستاسو د بدغوښتونکو خولې پخپله بندي شي، بيا به موږ د هغې ورځي انتظار کوو چي په غرناطه کي ستا ضرورت احساس کړاى شي.

: ته تر اوسه په دي فکر کي يې چي په غرناطه کي به زموږ ضرورت احساس کړاى شي؟

: هوکې! زما باور دى چي که موږ د الفجاره جنګيالي قبيلي د لږي مودي لپاره په امن او آرامۍ وساتلاى شواى نو فردیناند او ملکه ازابيلا به زموږ خدمتونه له پامه ونه غورځوي او په داسي حال کي چي په غرناطه کي هر وخت د امنيت د خرابۍ خطر وي زه همدا مناسبه بولم چي تاسو د ډيرو بدو ذمه واريو ځخه د ژغورني په خاطر له ځنډه پرته له غرناطي ځخه ووزئ.

: ته ماته دا ډاډ راکولي شې چي د فردیناند نيت به بيرته خراب نه شي او ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومه ورځ له دی احوال سره نه راځی چی اوس د نور اخلاص د ثبوت ورکولو په خاطر باید له الفجاره څخه هم ووزی؟

: عالیمقامه ! دا چیرته کیدای شی؟

: که موږ غرناطه باید پریږدو نو بیا خو د اوربند د مودی د پای ته رسیدو انتظار ولی ونکړو، آخر فردیناند ولی دومره بیړه کوی؟

: د فردیناند هیڅ بیړه نه ده، خو ستا خیر په دی کی ده چی موږ بیله ځنډه له دی ځایه ووزو، تاسو ته معلومه ده چی د غرناطی باغیانو له کومو قبایلی سردارانو سره سازشونه کول له هغوی څخه څو تنه دلته رارسیدلی دی.

: تا هغوی نیولی نه دی؟

: سمدستی د هغوی نیول امکان نه لری، د غرناطی د خلکو احساسات او جوش تر اوسه نه دی سوړ شوی، او زه دا نه غواړم چی ستا په موجودیت کی د غرناطی وضعه ویجاړه شی، کله چی تاسو الفجاره ته ورسیږی نو فردیناند به پخپله له دوی سره دغری وهی، تاسو بیا په دی هم پوهیږی چی تر اوسه له پوځ نه موږته زیات خطر دی.

اوس اجازه راکړه تر سهاره باید څو کارونه وکړم.

ابو القاسم جګ شو ودرید ابو عبدالله څو شیبی هغه ته حیران حیران کتل، بیا یی د لاس اشاره ورته وکړه او هغه ځوړند سر له سلام وروسته لـه کوټی څخه ووت.

له دروازی څخه بهر په برنډه کی د الحمرا ناظم ولاړ ؤ، ابو القاسم چی هغه ولید ولړزید بیا یی په اندیښنه وویل:

: ته دلته ولاړ وی؟

: ما ستا انتظار کاوه.

: تا هر څه واوریدل؟

: صیب! زما غوږونه دومره څك نه دی، ناظم په شمیرلیو جملو ورته وویل.

: مګر ته له دروازی سره جوخت ولاړ وی.

: صیب په الحمرا کی دننه ستا ساتنه زما ذمه واری ده او زه ډیر لری ځکه نه ولاړم چی ، بنایی ستا راته ضرورت شی. چی تاسو کله له الحمرا څخه ووزی نو زما مسئولیت به پای ته ورسیږی.

ابو القا سم وویل: زه ستا څخه مننه کوم، ما یوازی دا ویل غوښتل چی د مانی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظم باید د داسی خبرو د اوریدو خطر قبول نه کړی چی بیا یی په خپل زړه کی ونه ساتلای شی.

: تاسو داډه اوسی! ما د پاچا له کنځلو پرته بله داسی خبره نه ده اوریدلی چی په زړه کی یی ونه ساتلای شم، زه له دروازی څخه بنه لری ولاړ وم.

ابو القاسم له څه ویلو پرته وراندی ولاړ او نظام له هغه سره ملګری شو. له رنهی څخه لاندی په مرمرو ډبرو فرش لاره څو وسله وال ساتونکی د دوی په مخکی روان شول.

* * * * *

ابو عبدالله تر څه ځنډه پر دیوالونو کنبلی ګلونه لیدل بیا یی سر په دواړو لاسو ونیو، په غمجنه لهجه یی وویل: زما غرناطه، زما الحمراء.

او بیا یی لاس سترګو ته ونیول او بی اختیاره په ژړا شو، د شا دروازه خلاصه شوه او مور یی ملکه عایشه خپ خپ کوټی ته ورننوته او دواړه لاس یی د هغه پر سر ورکیښودل. هغه ټکان وخوړ مورته یی وکتل او په ارمانجنه لهجه یی وویل:

موری! ما خپل سر د یوه بنامار په خوله کی ایښی دی.

مور یی ځواب ورکړ: زویه! دا د نن خبره نه ده، تا په هغه ورځ خپل سر د بنامار په خوله کی ورکړی ؤ چی له پلار سره دی خیانت وکړ، او تا یوازی خپل سر نه بلکی ټول قوم دی د بنامار مخی ته وغورځاوه.

: موری! زه د فردیناند په اړه نه د ابوالقاسم په باب درسره غږیږم، هغه ماته دوکه راکړی ده، اوس به موږ په الحمرا کی نه اوسو، د فردیناند وعده هسی یوه دوکه وه.

: ماته معلومه ده.

: تاټولی خبری اوریدلی دی؟

: هوکی! او ماته دا خبری له اټکل څخه لری نه وی.

: موری! اوس زه څه وکړم؟ څه کولی شم؟!

: دا دی باید هغه وخت پوښتلی وای چی تا څه کولی شوای، اوس ته هیڅ هم نه شی کولی او ستا مور هیڅ مشوره نشی درکولی. د اندلس د تاریخ ترټولو شومه ورځ هغه وه چی ستا په زړه کی د واکمنی خیال را پیدا شو.

: نه موری! تر هغی شومه ورځ هغه وه چی زه وزیږیدم، کاشکی تا هغه ورځ زما مړی‌خپه کړی وای.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


: زه اعتراف کوم چې اولس ته مې يو مار زيږولی ؤ، ته دا ويلی شې زه گناهکاره يم،

: خو زه به دوی ته دا ور وښيم چې ابو القاسم خاين دی، او هغه له مور سره دوکه وکړه.

: ته په وار وار تول اولس ته دوکه نشې ورکولی، کله چې ته د اولس مخې ته ورشې نو غوبښې به دې وشکوي، دوی به د هغو بې گناهو د وينو حساب درڅخه وغواړي چې تا د ميړو او وزو په څير وگڼل او دښمن ته دې وسپارل، ته د مالقې، الحمرا او الميريه د بربادۍ مسئول يې. لاسونه دې د حامد بن زهره غوندې سپيڅلو سربښندونکو په وينو سره دي.

ابوعبدالله! ته داندلس لپاره مړشوی يې،اومور دې اوس راژوندی کولی نه شي.

: موري! که ته امر راته کوې نو زه به همدا اوس د ابو القاسم کور ته ورشم او ويه يې وژنم.

: ای بدنصيبه! تا غرناطه له خاينانو څخه ډکه کړه، اوس به د يوه خاين په وژلو هيڅ ترلاسه نه شي.

: موري! ماته د غرناطې هر سړی خاين ښکاري.

: دا ستا د کړ حاصل دی، تا د اندلس په ځمکه د غدارۍ تخم وشينده، اوس دغه فصل پوخ شوی دی.

: موري د خدای لپاره پيغورونه مه راکوه.

: زه به تر ډيرې مودې پيغورونه درنکړای شم، خو د اندلس ميندې به تر قيامته پر ما لعنتونه وايي.

ابو عبدالله له پښيمانۍ سر کښته واچاوه، او تر لږ ځنده چوپ ؤ، بيا يې په انديښنه وويل:

مورجانۍ! زما اوس هم باور نه راځي چې له الحمراء څخه به ووزم، زه داسې گڼم لکه خوب چې وينم. د مور په سترگو کې اوښکې ډنډ شوې وې ويل:

زويه! اوس د خوبونو وختونه تير شوي دي، اوس به ته يوازې د تيرو وختونو د خوبونو تعبيرونه گورې.

: مورجانۍ له مور وروسته به په الحمرا کې څوك اوسيږي؟

: ستا څخه وروسته به الحمرا د هغه قوم د پاچاهانو هستوگنځای وي چې تا د خپل قوم د آزادۍ او عزت معامله ورسره کړې ده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ویګا عملیات

سلمان او د هغه ملګرو د یونس په لارښونه سفر کاوه، بالاخره دوی د ونو یوه ګڼ بڼ ته ورسیدل اسونه یې ودرول یونس مخ راوګرځاوه سلمان ته یې وویل:
موږ اوس ډیر لند راغلي یو، ځکه خو نور اسونه وړاندې بیول سهي نه دي. د سلمان په اشاره هغوی ټول له اسونو پلي شول او اسونه یې په ونو پوري وتړل او پر خولو یې ټوکرې ور وتړلې چې ونه شنیږي او بیا خپ خپ د بڼ په لور ولاړل.
لږ وړاندې چې ولاړل د دیوال له شانه یې د ګزمې کونکو غږونه واوریدل او دوی چوپ ودریدل.
چې کله پهره داران په خبرو خبرو کې تیر شول او د باغ شاپلو ته ولاړل سلمان له دوو تنو سره دیوال ته ورنژدې شو او نور کسان دیوال ته د نژدې ورتلو پرځای خو ګامه لرې پاتې شول، بیا یو تن له دیوال سره په ملا خم شو او یونس او سلمان یو پر بل پسې د هغه په اوږه اوچت شول او پردیوال وختل.
اوس د دوی په مخکې هغه وړوکی کور ؤ چې د انګړ دوه دیوالونه یې د باغ له دیوالونو سره نښتي وو، د انګړ نه وړاندې د یوې کوټې له نیم کښې دروازې څخه د ډیوې تته رڼا بهر راوتله، ښي لورې ته د انګړ د دیوال په منځ کې یوه وړوکې دروازه وه چې نژدې یوه څپره هم ورسره ترسترګو کیده، کیڼ لورې ته له کونج څخه څوګامه لرې یوه ونه لیدل کیده چې پانې یې رژیدلې وې، په تیاره کې چې سلمان څومره لیدی شوای هغه ټول د ده د نقشې سره برابر ؤ چې همدا اوس یې هم په جیب کې وه، ځکه خو هغه بیله ځنډه له یونس سره یوځای پر دیوال وخزیده او انګړ ته ورښکته شو.
● کوټې څخه د چا په ویریدلې لهجه غږ اوچت شو: څوک یې؟ هغه خپ خپ وړاندې ورغی او په کرار غږ یې وویل: پلار جانه زه یم! د خدای «ج» لپاره چوپ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شه چې تول به ووژلې شو.
سلمان په بېره رسی له اوږې راښکته کړه او له ونې سره یې نژدې کېښودله او په داړه زړه په یونس پسې کوټې ته ورننوت، یو بوډا چې د اندېښنې په حالت کې پر بستره ناست و خپل زوی ته یې کتل، هغه چې له زوی سره یو نا آشنا سړی ولید نور هم ووېرېده او په وارخطایی یې وویل: ضحاك رانه غې؟
د یونس پر ځای سلمان ځواب ورکړ: ضحاك په یوه ځای کې ستاسو انتظار کوی، تاسو به ډېر زر هغه ته ور ورسول شی. خو په دې شرط چې زما خبره ومنی!
یونس ته دا معلومه ده چې ستاسو یوه وړوکې غلطی د هغه ژوند په خطر کې غورځوی.
یونس وویل: پلار جانه! دی ریښتیاوایی، له ضحاك پرته موږد خپلو ځانونو دژغورلو په خاطرهم باید ددوی خبره ومنو.
بوډا د څه ویلو نه پرته په حیرانی سلمان ته کتل چې یوه ځوانه ښځه له بلې کوټې څخه ورښکاره شوه وړاندې ورغله اوپوښتنه یې وکړه: یونسه څه خبره ده، ضحاك چیرته دی؟ ستا د غړله اورېدو څخه مخکې می خوب لیده چې هغه له آس څخه لوېدلی اوټپی شوی وی.
سلمان هغې ته وویل: ستا مېړه بلکل روغ دی، خو ستاسو آغا ته داکه معلومه شوه چې هغه چیرته دی نوژوندی به یې پری نږدی.
:آغانن هم رانه غی اوموږته یې ویل چې ښایی سبا ته هم رانشی. دخدای «ج» په خاطر ما همدا اوس ضحاك ته وروړسوی!
:ستاد دخاوند د ژغورلو یوازینی لاره دا ده چې موږ یوه درنه تجلی اوبوبی گناه هلك له دی ځایه خلاص کړو او راسره بوبی ځو.
:دا امکان نه لری تاته معلومه نه ده چې هلته څومره کلکه پهره دریدلی ده.
:موږ ته هر څه معلوم دی، او موږ د هغوی د را خلاصولو لپاره ټول بندلو بست کړی دی.
یونس وویل: سمعیی! دا دخبرو وخت نه دی، موږ سمدستی له دی ځایه دوتلو اراده لرو او په څو دقیقو کې باید څوکارونه ترسره کړو، که بندیان همدا نن و نه رسیدل نو موږ ته به د ضحاك ژغورل نا ممکن شی.
سمعیی په اندېښنی وویل:کاشکی د هغوی ژغورل زما په وس کی وای.
یونس پر شونډو گوتی کېښودی ویی ویل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمعیی! وروغږیږه، که نه ټول به ووژل شو. ضحاک رك روغ دی اوترسبا پوری به یی پخپلو سترګو ووینی، خو زما ګومان ږ چی ته به اوس له بندیانو سره یی.
:زه ستاپه انتظاروم اوترمابنامه څو ځلی راغلم او ستا پوښتنه می وکړه، بیا می د سرخوږ پلمه کړل او کوټی ته راغلم، آغا زما په کورکی نه ږکه نه د کورخلکو به یی هیڅکله هم اجازه نه وای راکړی، د خدای «ج» لپاره راته ووایه چی ضحاک موږته ولی خبر نه راکوی؟
:هغه نه غوښتل چی تاسوپریشانه شی.
سلمان وویل: یونسه! ته دی ته تسلی ورکړه زه اوس راځم.
د سمعیی سترګی راډکی شوی سلمان ته یی وویل: ته له هغه سره راغلی یی؟ د خدای«ج» لپاره راته ووایه چی هغه چیرته دی؟ هغه ته خوبه کوم خطرنه وی؟
:اوس هغه ته ترټولولوی خطردادی چی ته شورګډ کړی اودکور نوکران اوپهره داران را ویښ کړی.
یونسه! که دا له هوښیاری نه کارواخلی نود ضحاک ژوند ژغورل کیدای شی.سلمان دا وویل اوله کوره ووت.
بیایی په انګړکی ونی ته نژدی پری راواخیست یوسریی په ونه پوری وتاړه اوبل یی ددیوال بل لوری ته و غورځاوه، لږځنډوروسته دوی یوپربل پسی په پری ختل اوبل لوریته کوزیدل ، چی کله ورروستی کس هم انګړته ورښکته شونو سلمان هغوی ترڅپره لاندی په انتظارپریښودل اوپخپله په بیړه کوټی ته ننوت.
سمعیی په ویریدلی غږوویل: یونسه! هغه ځناوردی که تاسوبه بهرنیو پهره دارانو بریالی هم شی د ننه نور پنځه‌تنه بی رحمه قاتلان به درسره مخ کیږی.
سلمان وویل: موږته داهر څه معلوم دی اوله هغو ځناوروسره مقابله نورزموږکاردی ، ته یوازی زموږخبروته ځواب راکړه، اوس له کوره څخه بهرڅو تنه پهره کوی؟
: صیب! دری تنه ګزمه کوی، یود دروازی څخه بهر پهره کوی،خو پردی سر بیره یو د طبیلی سنبالوونکی او دوه تنه نوکران هم له طبیلی سره نژدی په خپلو کوټو کی پراته دی، زه دا ددی لپاره وایم چی بنایی له هغوی نه هم کوم یو اوس ویښ وی.
: په طبیله کی څو اسونه دی؟
: سمعیی بوږا ته وکتل او ویی ویل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صيب! اوس هلته اته اسونه شته دي.

: تر لږ ځنډه به زموږ کار دلته سرته رسيږي او بيا به موږ ته يوازي پنځه اسونه په کار وي. بيا سلمان يونس او نورو ملګرو ته زر زر څو لاربنوني وکړې او بهر ته ووت.

د يونس پلار او سمعيي تر نيم ساعته په ناکراري د دوی انتظار کاوه چې بالاخره د طبيلي پاکوونکي او دوه تنه نوکران د ايستلو تورو په سپوري کې کوټې ته ورننوتل.

سمعيي وپوښتل : تاسو ډير ځنډ وکړ زه وويريدم چې چيرته پهره دارانو ليدلي نه ياست:

يونس ځواب ورکړ: پهره داران زموږ د ليدو څخه دمخه بلې دنيا ته رسيدلي ؤ. د چا له خولې څه چيغه هم ونه وتله.

سلمان وويل : دوی درې واړه ښه کلك وتړې او بيره کوی. اوس د خبرو وخت نه دی.

څو دقيقې وروسته چې هغوی بهر راووتل نو له لرې يې د اسونو د پښو ترپهار واورید. يونس چې د سلمان په څيره کې د انديښنې نخښې وليدې ويې ويل: دا د ويګا د پوځ د ګزمې ډلګې ده چې د شپې درې وخته يو ځل په ګزمه وزي. ته انديښنه مه کوه هغه به له دي ځايه لږ وړاندي بيرته وګرځي.

*****

د کور دننه درشل څخه دننه دوو پهره دارانو د مشال رڼا ته د شطرنج لوبه کوله، يوه تن ديوال ته ډډه وهلې وه او خريده، چا برنې دروازه ډيکه کړه ويې ويل: دروازه خلاصه کړی زه يونس يم.

يوه پهره دار له څو شيبې ځنډ. وروسته ځواب ورکړ: تاته معلومه ده چې موږ ته د شپې د دروازې خلاصولو اجازه نشته، ته له کومه ځايه راغلی يې؟

زه له سينتاڼي څخه راغلم، آغا د يوه ضروري پيغام لپاره کورته را استولی يم، او تاسو بايد ښه فکر وکړی چې که ما د هغه مور او خور ته احوال ورنکړ نو سبا ته به ستاسو څه حال وي؟

: ته يوازي راغلی يې؟ ضحاك چيرته دی؟!

: هغه باغيانو تپي کړی دی، هغه به څو شپې نور هم په غرناطه کې پاتې شي. زه د هغه له ليدو وروسته سينتاڼي ته آغا ته ورغلم. اوس دروازه خلاصوی که د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کور ښځو ته غږ ور وکړم؟
: ښه ودرېږه!

څو ثانیې وروسته د زنځیر کړچ کړچ غږ اوچت شو او له دې سره سم د سلمان ملګرو په پوره څواک دروازې پله ټیله کړه او په یوه درز خلاصه شوه.
پهره دار چې دننه دروازه خلاصه کړې وه، څو ګامه لرې وغورځېده، سلمان په دوو نورو کسانو باندې حمله وکړه او د سترګو په رپ کې یې په ځمکه وربولي.
په دې څنډ کې د سلمان ملګرې په درشل ورټول شول. دریم تن چې د دروازې د پلې سره په ټکر کې غورځېدلی ؤ ناڅاپه یوه چیغه وکړه او راپورته شو، خو د یوه رضا کار توره یې پر سر ور برابره شوه او بېرته وغورځېد.
سلمان د انګړ پله دروازه خلاصه کړه او کور یې وڅاره، بیا یې خپلو ملګریو ته اشاره وکړه او انګړ ته ورننوت، لږ څنډ وروسته د ماڼۍ له یوه کونج څخه څو ګامه لرې ودرېد، او کیڼ لوری ته د یوه پراخ او اوږده دالان په لور ورغی په دالان کې ځای ځای مشالونه بلېدل او په منځ کې یې یوه پراخه زینه پاسنی پوړ ته ختلې وه، دوه پهره داران چې خپلو ملګرو ته یې چیغې وهلې لاندې راکوز شول او سلمان په بېړه یو ګام وراندې ښې لاس ته د برنډې د یوې ستنې شاته ودرېد..
د پهره دارانو په شور ناڅاپه دوې ښځې زینې ته نژدې له یوې کوټې راووتې او د شور د سبب پوښتنه یې کوله.
یوه پهره دار ووېل : زه په دروازه کې پوښتنه کوم، تاسو دننه آرام وکړئ، او هغه به کوم دېرش ګامه ، تللی وې چې یو غشی یې پر پوښتیو ښخ شو او هغه پر ځمکه وغورځېد.
له دې سره سلمان په منډه ځان د دالان منځ ته ورساوه دوهم پهره دار راوړاندې شو او حمله یې پرې وکړه او ترڅو شیبو پورې د تورو په چکاچك کې د ښځو چیغې هم غبرګې پورته کېدې یوه پله ښځه په زینو کې رابښکته شوه او چیغې یې وهلې پهره دار غږ پرې وکړ: د خدای لپاره! تاسو دننه درځئ. خو په دې څنډ کې د سلمان نور ملګرې هلته ور ورسېدل یوه رضا کار چیغې کړې: اوس بهر ستاسو د چیغو اورېدونکی څوك نشته، که خپل ژوند دریاندې ګران وي نو چوپې شئ!
ښځې له ویرې چوپې شوې.
د سلمان رقیب له څو ګوزارونو څخه وروسته په شاتګ پیل کړ او بیا په منډه ولاړ پر زینو وخوت، د زینې تر نیمایي وخوت او بیا یې ناڅاپه مخ راوګرځاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمله یی وکړه، حمله دومره تونده وه چی سلمان څو گامه لاندی راښکته شو، خو د څو گوزارونو څخه وروسته پهره دار بیا تیښته وکړه، سلمان د پاسنی پوړ په برنډه کی را لاندی کړ، هغه مخ راوګرځاوه او بیا یی حمله وکړه خو د سلمان په وړاندی یی څه داو ونه چلیده او خپ بیرته په شا روان شو. د برنډی په وروستی څنډه سلمان پر هغه وروستی گوزار وکړ او توره یی د دیو په څیر لوی پهره دار په تهتر کی ښخه شوه.

بیا یی زر د دروازی زنځیر خلاص کړ دروازه یی تیله کړه، خو دننه خوا څخه ترلی وه، سلمان غږ وکړ: عاتکی دروازه خلاصه کړه زه د سعید دوست یم.

عاتکی دروازه خلاصه کړه او بهر ته راووتله. په دی څنډ کی یونس هم پاس ور ورسید او منصور یی له بلی کوټی څخه راوایست، هغه په سلګیو ورغی او د سلمان تر پښو یی لاسونه راچارپیر کړل.

سلمان یی په مینه پرسر لاس راتیر کړ ویی ویل: منصوره! همت وکړه، موږ تا خپل ماماته بیایو، بیا یی یونس ته وویل: ته هغه دری کسان د خپل کور څخه دلته تاکاوی ته راوله، او پلار ته دی ووایه چی پر اسونو زینونه کیږدی، خو ترټولو وړاندی د تاکاوی د دروازی کلی ترلاسه کول ضروری دی.

یونس له غاړی څخه یو زنځیر راویوست سلمان ته یی وویل: صیب! دا د کلی گانو زنځیر له هغه پهره دار سره ؤ چی مړی یی په انگړ کی پروت دی.

سلمان کلی گانی ورسره واخستلی او ویی ویل: ته اوس بیړه کوه او یوه ملگری ته دی ووایه چی په بهرنی دروازه کی ودریږی.

یونس په منډه لاندی ښکته شو او چی سلمان د لومړی حل لپاره په څیر وکتل عاتکی سر کښته اچولی ؤ ولاړه وه.

ده ورته وویل : عاتکی! اوس څه خطر نشته، هغی ورو سر راپورته کړ او بیا هغه احساسات چی د دی د روح تر ژورو پوری ځپاندوو په اوښکو بدل شول او تر سترگو یی راوبهیدل.

سلمان یی لاس پر سرورکیښود ویی ویل : عاتکی! سعید مخ په رغیدو دی ما هغه غرناطی ته راوستلی دی.

عاتکی په لړزیدلی غږ وویل: سلمانه، سلمانه! زما احسان کونکیه او بیا یی بی اختیاره د هغه لاس ونیو او شونډی یی پری کیښودی ویی ویل: ته به له مانه زبر خفه وی!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: خفه! په څه به درڅخه خفه يم؟
: زه ستا له اجازې پرته کورته تللی وم.
: عاتکې! زه له تا څخه خفه نه يم، زما له يوې غيرتي او زړورې نجلۍ څخه همدغه تمه وه، اوس راځه په غرناطه کې ټول ستا په انتظار دي.
عاتکه ور وړاندې شوه د لويدلي سپاهي توره يې اوچته کړه او منصور د هغه پر ملا راځړيدلی خنجر ترې کش کړ.
سلمان ورېل :عاتکې راځه تاته به لاندې يوه ښه لينده او له غيشو ډکه کڅوړه هم په لاس درشي، که دې خوښه وه نو زه تومانچه هم درکولی شم.
: نه تومانچه بايد له تا سره وي.
دوی لاندې ښکته شول، د سلمان نور ملګري د ښځو په مخکې توره ايستلې ولاړ ؤ او د عتبه مور هغوی ته زارۍ کولې او ويل يې: ما د ټولو صندوقونو کلي ګانې تاسو ته وسپارلې هر څه درسره يوسئ خو پر مونږ رحم وکړئ.
سلمان ورېل : مونږ د زوی د ګناهونو سزا د هغه مور او خور ته نشو ورکولی، خو دا مجبوري ده چې مونږ تاسو همداسې خلاص نشو پرېښودای. ځکه به تر څه ځنډه له خپل ميلمه سره اوسئ.
د عتبه خور چيغې کړې: د خدای «ج» لپاره مونږ له بندي سره د يو ځای بندي کولو پرځای په بله کوټه کې واچوئ. کوم سړی چې د خپل تره د لور سره داسې سلوك کوي زمونږ د مړي دخفه کولو څخه به دريغه ونه کړي.
سلمان ورېل : که ته ژوندي پاتې کېدل غواړې نو چوپه شه. بندي ته دا معلومه ده چې ستا له زندۍ کولو وروسته به دې د تا له وينې څښونکي ورور سره مخ کېږي، پردې سربېره به ستاسو درې تنه نوکران هم ستاسو د ساتنې لپاره درسره وي.

*****

لږ ځنډ وروسته هغه د کور په بل کونج کې د يوې دروازې په مخکې ولاړ ؤ.
ناڅاپه بهر د پښو غږ اوچت شو او سلمان خپل يوه ملګري ته کلي ګانې ورکړې او ورته يې ويل: هغوی راغلل ته په بېړه دروازه خلاصه کړه.
هغه يو پر بل پسې کولپ ته درې کلي ګانې ورواچولې خو پر خلاصولو يې بريالی نه شو، بالاخره يوه کونجۍ ور ولويده او هغه زر کولپ لرې کړ دروازه يې خلاصه کړه، په دې ځنډ کې يونس درې واړه بنديان په زغاسته راورسول، سمعيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپل خسر سره وه هغې چې د مشال په رڼا کې عاتکه ولیده په منډه ورغله او ترڅنګ یې ودریده.

د سلمان په اشاره دوه ځوانان چې د یوه په لاس کې مشال او له بل سره کلې ګانې وې کوټې ته ننوتل او بیایې نورو ملګرو بندیان کوټې ته ورتیل وهل. سلمان خپلو نورو اندیوالانو ته وویل : تاسو بهر ودرېږئ موږ اوس بېرته راځو خو چې په دهلیز یې پښه کیښوده ناڅاپه یې څه په زړه کې وروګرځېدل او بیرته راوګرځېد ویې ویل: یونسه! د ضحاك میرمن د عتبه له کوره تش لاس باید ولاړه نه شي هغه درسره بوزه.

سلمان کوټې ته ورننوت او سمیعې زړه نا زړه عاتکې ته کتل، عاتکې وویل: ورځه سمیعې! زموږ سره وخت لږ دی بیړه کوه.

د اوږدې کوټې په وروستي څنډه کې زینې ښکته تللې وې او چې دوی ورښکته شول د یوه تنګ دهلیز مخې ته پر یوه دروازه کولپ اچول شوی ؤ. کله چې د سلمان ملګري د کولپ خلاصولو هڅه وکړه نو له کوټې څخه د بندي چیغې او کریکې واوریدل شوې:

عتبه! پوهیږم چې ته مې وژنې، خو زه ستا دوست یم، که راته معلومه وای چې ته به دومره په غوسه کیږې نو عاتکې ته به مې د ورتلو جرئت نه ؤ کړی. عتبه ما وبخښه!

دروازه خلاصه شوه او سلمان د خپل ملګري څخه مشال واخست دننه یې وکتل ویې ویل: عتبه دلته نشته، او هغه به دا هیڅ کله هم ونه غواړي چې په شپه کې ستا کریږې ښځې پریشانه کړي.

: ته څوك یې؟

سلمان د ځواب ورکولو پرځای یوې خواته شو او خپلو ملګریو ته یې اشاره وکړه، هغوی یو پر بل پسې بندیان دننه ورتیل وهل، بیا یې مشال ور وړاندې کړ ویې ویل: عمیره! ته خپل ملګري ښه وګوره! دوی به تر یوې مودې له تاسره یوځای اوسیږي. عمیر ترڅو شیبو پورې د عتبه مور او خور ته په رډو رډو کتل، بیایې چیغې کړې:

که تاسو زما د وژلو لپاره نه یې راغلي نو د خدای «ج» لپاره روایی چې څوك یاست؟

: عمیره! ته مړ شوی یې او زه په مړي وار نه کوم، خو عاتکه بهر ولاړه ده، که

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغې ستا چيغې واورېدلې او دلته راغله نو کېداى شي پردې مجبور شم چې خپله توره ستا پر مردارو وينو ککړه کړم.

: ته له سعيد سره راغلى يې، د خداى «ج» لپاره هغه راوغواړه، که عاتکه هم پر ما رحم نشي کولى نو ورته ووايه چې د عتبه غوندې بې رحمه او ظالم سړي ته مې د پرېښودو پرځاى په خپل لاس ووژنې، زه ناروغ يم، که زما پلار مړ شوى نه وي نو په کوم جيل کې به خامخا ساه ورکوي.

: د غدارانو پاى تل همداسې وي.

: زما گناهونه يقيناً د بخښنې وړ نه دي، خو زما پلار خاين نه ؤ، د هغه گناه يوازې دا ده چې د حامد بن زهره د ژوند ژغورلو هڅه يې وکړه، هغه زه د دې ظالمانو له ملگرې څخه ايسارولم، خو افسوس چې پرما د توبې دروازې تړلې وې.

: که ستا پلار د غرناطې په جيل کې وي، نو امکان لري چې راخلاص کړاى شي، خو ته بايد هيڅکله هم دا گومان ونه کړې چې د حامد بن زهره د قاتلانو په اړه به يې فرياد واورېدل شي.

: د دې خبرې معلومات يوازې له صدر اعظم، عتبه او کوتوال سره دي چې هغه يې چيرته بندي کړې دي.

زه پوهېږم چې هغه به هم ما ونه بخښې خو که زه پردې داډه شم چې زما سره به عتبه او د هغه تولو انديوالانوته په يوه ځاى د پانسي سزا ورکول کېږي نو په مرگ به هيڅ خپه نه شم.

سلمان شاته شو او ملگريو ته يې اشاره وکړه، يوه رضا کار د دروازې د تړلو هڅه وکړه، خو عمير يوه پله په دواړو لاسونو ونيوله او په پوره زور يې کش کړه، او بهر ته راووت وې ويل:

د خداى «ج» لپاره ودرېږئ! ما درسره بوزئ، زه به د غرناطې په ترټولو لويه څلور لارې کې ودرېږم او په خپلو نه بخښونکو گناهونو به اعتراف وکړم. زه د خپل مرگ څخه پخوا دا راز افشا کول غواړم چې ابو القاسم هغوى ته د سرپناه کولو څخه دمخه د غرناطې دښمن ته سپارلو پرېکړه کړې ده، او له سينتافې څخه په سلگونو جاسوسان غرناطې ته رانوتي دي.

په زينه کې د عاتکې غږ واورېدل شو: ته څه کوې، موږ کله د سعيد د پلار قاتل ژوندي پرېښودلاى شو؟

سلمان چې مخ وروا ړاوه وې ليدل چې عاتکې غشې په لينده کې ايښى او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوسې نه لړزېږي..

منصور دوه گامه تري مخکې ؤ، هغه ور وړاندې شو سلمان يې ترمټ ونيو او ورې ويل: ته له مخې لرې شه!

سلمان خپلو ملگرو ته اشاره وکړه او هغوی په يوه او بله خوا لرې شول، عمير جگ شو له پښيمانی څخه په ډکه لهجه يې وويل:

عاتکې ودرېږه! زه پوهېږم چې د رحم وړ نه يم، زما د ژوند هيڅ ارځښت او قيمت هم نشته، خو زه په دې جيل کې د سپې په مرگ له مړ کيدو څخه ستا په لاس وژل کيدل غوره گڼم، د خدای «ج» لپاره له دې ځايه زر د وتلو هڅه وکړه او که د سعيد د پلار کوم ملگرې درسره مرسته کولی شي نو ورته ووايه چې سمدستي مو له سمندر څخه پورې باسي، که نه نو هغه ورځ ليرې نه ده چې دښمن پر غرناطه قبضه وکړي او ستاسو پرمخ د اندلس څخه د وتلو ټولې لارې بندې شي، تاته معلوم، نه ده چې ستا په باب د عتبه ارادې څومره خطرناکې دي، هغه به ستا په لټون پسې اندلس لويشت په لويشت تربښو لاندې کړي.

عاتکې! پرما د تقدير وروستې احسان همدا کيدای شي چې ته مې په خپل لاس ووژنې، خو د خدای «ج» لپاره له دې ځايه ووزه!

عاتکې د څه ويلو پرځای لينډې برابره کړه او غشي يې ورو ورکش کړ، د هغې لاس رېږديدل، ناڅاپه سلمان مخې ته ورغی ورې ويل:

عاتکې! چا چې په خپلو لاسو خپلې مرۍ ته د غرغرې پرې اچولې وي پر هغې تاته د غشي د ضايع کولو ضرورت نشته، ده ته به د عتبه په لاس مرگ ستا له غشي څخه دردناک وي.

عاتکه راسنبال شوه ورې ويل: د خدای «ج» لپاره ته يوې خواته شه، زما د زړه نا زړه توب سبب دا نه ؤ چې د خپل تره پر خاين زوی مې رحم راغی، د حامد بن زهره له وژلو وروسته زمونږ ترمنځ د وينې ټولې رشتې غوڅې شوی، ما غوښتل چې له مرگه وړاندې څو شيبې هغه په غور ووينم، خو دغه بدبخته اوس هم گومان کوی چې زه يې د خبرو تر اغيزې لاندې راغلې يم.

سلمان دويم ځلې لرې شو، خو پخوا له دې چې عاتکه غشي خوشې کړی منصور په يوه ټوپ ځان ور ورساوه او يو خنجر يې د هغه په زړه کې تر موټې پورې ښخ کړ. له دې سره د عاتکې له لينډې څخه غشي خوشې شو او د هغه تر شاه رگ پورې وخوت.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمير ټالونه وخوړل شاته ولاړ او بيا ستوني ستغ وغورځيد او لغتي يې ووهلې.
منصور سلګي وهلې او سلمان ته يې وکتل ويې ويل: ما ويخښې خو دا زما فرض ؤ.
سلمان په ډيره مينه د هغه په اوږه لاس کيښود او خپلو ملګريو ته يې اشاره وکړه او هغوی دروازه کولپ کړه.
له کوټې نه چې راووتل سلمان په بيړه د بيرون انګړ په لوری روان شو، سميعې يوه غوټه په غيږ کې نيولې ولاړه وه، د هغې خسر او يو بل ملګرې يې هم څو ګامه شاته وو او درانه پېټي يې پر اوږو وو. د دوی وضعه داسې وه چې له لرې ښکاريده چې غوټې يې درنې دي، سميعه هم په يوه ډډه کږه روانه وه، هغې هم خپلې زړې جامې په نويو بدلې کړې وې.
عاتکې چې د مشال په رڼا کې ورته وکتل ويې ويل: ماته خو داسې ښکاريدله چې له کوره کومه بله ښځه راوتلې ده.
هغې ځواب ورکړ: ما فکر وکړ چې د يوی سوالګرې په جامو کې که له تاسو سره سفر کوم نو عجيبه به ښکاري، بيا هم ما د دې جامو څخه پرته د کور د ښځو په هيڅ شي لاس نه دی لګولی، د هغوی ګانه مې هم پريښوده، ما خو د عتبه له صندوق څخه يوازې دوی کڅوړې راواخستلې.
لږ څنډ وروسته چې دوی طبيلې ته نژدې ورغلل هلته يوه تن پر اسونو زينونه تړلې او تيار ولاړ ؤ.
سلمان په بيړه د خپل ملګرې نه لاسه مشال راواخست او په ځمکه يې وغورځاوه او د دوی ترمخ شو چې کله د بهرنی دروازې درشل ته نژدې شول او بيا لږ څنډ وروسته ټول له بهرنی دروازې څخه ووتل پنځه تنه د سلمان ملګرې پلې روان شول او لږ څنډ وروسته د ونو هغه ځای ته راورسيدل چې يوه رضاکار له نورو اسونو سره د دوی انتظار کاوه، او بيا ټول پر اسونو سپاره شول او مزله ته يې دوام ورکړ.

*****

د ويګا څخه د راستنيدو په وخت کې د يونس پرځای پخپله سلمان د خپلو انديوالانو لارښونه کوله، د سينتافی له سرك څخه لږ لرې يوه ويجاړ باغ ته نژدې سلمان خپل اس ودراوه او مخ يې ور واړاوه په ورو يې وويل:
تاسو لږ دلته تم شې زه به اوس احوال درته راوړم. يو سړی ناڅاپه د باغ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوی ځندی ځخه رابنکاره شو اوویی ویل:

صیب! موږدلته یو،خوستاملگری موچی دیرولیدل اتکل موکاوه چی کوم لښکرراروان دی.

عثمان دبلی ونی له ډډی ځخه رابنکاره شو وراندی ورغی دسلمان داس جلب بی ونیو ویی ویل:

صیب! وراندی ځه خطر نشته خوآغا ویل چی که څوك دربسی راوتلی نه وی نود دروازی تر خلاصیدو پوری همدلته انتظار وکړی.

:هغه تراوسه همدلته دی؟

: صیب ! هغه چی ته رخصت کړی ولاړ اونژدی نیمه شپه بیرته راغی تاسو باغ ته ولاړ شی زه به هغه ته احوال ورکړم،که ضرورت شونو موږله وخته مخکی هم دروازه خلاصولی شو خوغوره داده چی زموږ له خوا دځه ناکراری احساس چاته پیدا نه شی، تاسوخویه خیر راغلی که نه!

هوکی ،ته ورځه!

عثمان دسرك په لورگرندی شو اوهغه خلك له اسونوځخه پلی شول 'وبڼ ته ننو تل، بیا سلمان یونس ته وکتل ویی ویل:

یونسه! اوس تاته ددی ضرورت نشته چی له مؤشره غرناطی ته ولاړشی، ستاپلار به دخپل زوی لیدوته ناکراروی، عثمان ته دغرناطی ځخه بهرهغه کلی معلوم دی چی ستاورور موورسولی دی، که ته سددستی هلته ورتلل غواړی نو له عثمان پرته خپل یو بل ملگری هم درسره استولی شم، موږچی کوم اسونه دعتبه له طبیلی ځخه راوستی دی هغه بنار ته بیول خطرلری، که عتبه ته دااحوال ورغی نوهغه به ستاسو په لټون پسی غرناطه لویشت په لویشت وگوری.

دیونس پرځای یی پلار ځواب ورکړ:

صیب! که ستاسو اجازه وی نو یود شیبه به هم موږدلته ایسار نه شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ضحاك سفر کولای شوای نو په هغه کلي کی به هم پاتی نه شو.
سلمان وویل:
ته داسی مـه گڼه چی ستـاسـو دیوه خـوندی ځـای ته رسـولوله وعـدی نه منکریم،زه به په غـرناطه کی زیات ایسار نه شم، کـه تاسـو زمـا انتظار کـولی شی نوامکان لری دافـریقـا تر ځنډو پوری مـوورسـوم، کـه نه نـو په غرونو کی داسی خلك شته چی تاسو ته پناه درکړای شی زموږ ملگری به تاسو له هغوی سره کوم چاته وسپاری.
بوډاوویل: په الفجاره کی زموږ داصلی بادار دقوم زیات خلك اوسیږی د المریه په لاره کی هم دهغـوی دکورنی څوکلی شته، پرموږ ستاسو له دی څخه لـوی احسـان څـه کیـدای شی چی د دوزخ له اور څخه مـووژغـورلو اوزدلته موراوستو.
لږ ځنډ وروسته عثمان لـه خپـل بادار اودری نورو کسانو سره ور ورسید اوچی پرختیځ افق دسباسترگه رابریدله دوی له باغ څخه ووتل اودعتبه نوکران یی له عثمان اویوه بل رضاکار سره رخصت کړل.
سلمان عثمـان ته وویل: ته به دادواړه اسونه له شیخ ابو یعقوب سره پرېږدی او پلی به بیرته راځی.
:صیب ماته معلومه ده چی موږ به ددښمن پر اسونو سپاره بیرته نشو راتلی خوموږ ته دپلی راتگ ضرورت نشته ددی په بدل کی به موږ دوه نوراسونه ترلاسه کړای شو، که ستااجازه وی زه به دی کورینو خیرت هم معلوم کړم.
داد سلمان دزړه غږ و یی ویل:
:هوکی! بدریه به دعـاتکی او منصـور په اړه ډیره اندیښـمنه وی ، خوستا ږومبنی کاربه ددی خلکو رسول وی ابو یعقوب ته زما له لوری داپیغـام ورسوه چی ضحاك زموږ له لوری آزاد دی، موږ ته ددی خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مرستې پرته دعاتکې اومنصور ژغورل ممکن نه وو، داهم امکان لري چې عاتکه اومنصور کومه ورځ ناڅاپه دهغوی کورته ورشي اوښايي زه هم په بېرته ستنېدو کې د دوی پرګلې ورشم.

کله چې يونس اودهغه نور ملګري پراسونو سپريدل نو سمعيي دعاتکې لاس ښکل کړ ويې ويل:

خوري! ښايي بيا د دوارو ديدن ونه شي خوزما دژوند هره ساه به ستاليپاره د دعاګانو په خوشبويي تازه وي، داژمنه کوم چې ضحاك به هم دژوند تر وروستي سلګې ستا احسان هير نه کړي.

بيا هغه پراس سپره شوه اوپه خپلو ملګرو پسې روانه شوه

******

سلمان ترلږ ځنډه په هغوی پسې کتل بيا يې عبدالمنان ته وکتل ويې ويل: اوس زه له تاڅخه دښاردوضعې په باب پوښتنه کوم دابو القاسم پرراتګ خوپه ښار کې څه نوی هنګامه جوړه نه شوه؟

:نه . نه! په ښار کې له دې پرته بله فوق العاده خبره نه وه چې ابو القاسم د خپلې ماڼۍ پرځای الحمرا ته ولاړ بيا لږ ځنډ وروسته چې کله هغه خپل کورته بېرته ستون شو هلته دښار وتلي خاينان دده هرکلي ته راټول شوي وو. دې خلکو له ماښامه ترهغه مهال انتظارکړی و، بيا چې زه نيمه شپه له خپلو ملګريو سره د يوه پټ مجلس څخه وروسته بېرته راتلم نود ووروستي خبر له مخې دابو القاسم په کور کې دهغه دملګروغونډې جريان درلود.دصدراعظم دساتونکې ډلې يوافسر زموږ ملګری دی ، دهغه په مرسته موهلته دراغونډو شويو وطن پلورونکو لست برابر کړی دی، کو تېوال اودحکومت څو نور مهم کسان هم پکې شريك وو.خوپر ماڼۍ کلکه پهره ولاړه وه، ځکه تراوسه بيا موږ ته معلومه نه شوه چې څه مشورې وشوې ،خوښيا مې هم باور دی چې ترسبا پورې به

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ خبره هم له موږ ځخه پته پاتی نه شی.

په خاینانو کی ځینی داسی هم دی چی موږ ډیر څه تری معلومولی شو.

: که کوتوال هلته و نو تاسو ته ددی ضرورت نشته چی په وړوکو وټس پلورونکو پسی منډې واخلی.

:تاسو ډاډه اوسی که ددی ضرورت شونودورمیړله غوځولو به یی دریغ ونه کړو اوس تاسو پراس سپور شی زموږ نور ډیر ملګری اوډیوځ دوه تنه افسران ستاانتظار دی خواوس دروازه خلاصیدونکی ده اوموږ ته ددوی دمرستی ضرورت نشته.

بیا هغه رضاکارانو ته وویل:

تاسو مخکی ولاړ شی خپل سامان په ګاډی کی کیږدی.رضاکاران یو یو ولاړل.

څو دقیقی وروسته سلمان، منصور اوعاتکه په عبدالمنان پسی شول، دوی له دروازی څخه نژدی پنځوس ګامه لری وو چی په پوځی جامو کی یو ځوان په منډه دوی ته ورغی اولاس یی پورته کړل ویی ویل: تاسو دلږ څند لپاره له سرك څخه لری شی، عبدالمنان پوښتنه وکړه: څه خبره ده؟

.:داندیښنی څه خبره نشته، پهره دارانو ته حکم شوی چی دحکومت څو کسان سینتهافی ته روانیږی ځکه خوعام خلك دلږ وخت لپاره تم کړی.

سلمان د دروازی لوری ته وکتل، وسله والو کسانو پر سرك راتول خلك یوی او بلی خواته لری کول. پنځه دقیقی وروسته دچارګام اسونو دپښو تربهار واوریدل شو اودستر ګو په رپ کی لس تنه سپاره تیر شول.

پوځی افسر وویل: اوس تاسو په ډاډه زړه تلای شی ، عبدالمنان ور وړاندی شو ویی ویل : زما په ګومان داهماغه خلك دی چی دشپی دابو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



القاسم دساتونکې دلګۍ سره را غلي وو.

څوځوانان له دوی سره ملګري شول ،له دروازې څخه لږ لرې دوه سپاره دریدلي وو، یو سپورپلی شو اس یې عبدالمنان ته ورکړ اوهغه پرې سپور شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له بدريي سره بيا ليدل

سعيد په داسې حال کې چې نه ويښ ؤ او نه ويده په کوټه کې يې د چا د راتلو احساس وکړ، هغه پر لټ واوښت او سترګې يې وغړولې او بيا څو شيبې نه پوهيده چې خوب وينې که ويښ دی.

دروازه خلاصه وه او عاتکه او منصور نژدې ورته ولاړ وو او سترګې يې له اوښکو ډکې وې.

هغه په کمزوري غږ ووېل: عاتکې، عاتکې! او بيا جګ شو دواړه لاسونه يې منصور ته ور وغځول.

منصور سلګې وهلې او ورسره تر غاړې وت، ماما جانه! نور موږ ته څه خطر نشته، نور مو له عمير څخه بدل واخست هغه وژل شوی دی!

د سعيد سترګې د عاتکې پر څيره ميخ وې، هغې د منصور پر سر لاس راتير کړ ويې ويل: عاتکې کښېنه!

هغه ده ته نژدې پر کرسۍ کيناسته او خپل لړزانده لاس يې د هغه پر تندي ور کيښود.

: زما تبه نشته، عاتکې! زه ډير مضبوط يم، او اوس خو مې پردې باورراغی چې د خپلې عاتکې په ژوند ماته مرګ د کتلو جرئت نشي کولی.

د سعيد پر شونډو موسکا وه، خو سترګې يې په اوښکو ځمجنې وې: عاتکې د خپل ټيکري په پيڅکه د هغه اوښکې پرې پاکې کړې.

بيا ناڅاپه سعيد د هغې ښکلې لاس ونيو او شونډې يې پرې کيښودې.

: عاتکې! ما څو ځلې ته په خوب کې وليدې، اوس هم له سترګو غړولو څخه پخوا زه ستا په ملګرې چيرته روان وم. ته دلته څه دول راورسيدې؟ منصور دې چيرته وموند او عمير څه ډول ووژل شو؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاتکې ځواب ورکړ: سعيده! دا د تقدير يوه معجزه ده چې ته اوس موږ دلته وينې، موږ د عتبه په جيل کې وو. منصور وويل: ماماجانه! موږ سلمان کاکا د هغه له جيل څخه راخلاص کړو، عتبه په خپل کور کې نه ؤ. که نه نو هغه به يې هم ژوندی نه ؤ پرېښی.

: سلمان چېرته دی؟ سعيد په انديښنه وپوښتل.

عاتکې ځواب ورکړ: هغه له موږ سره راغلی ؤ، او ستا له يو نظر ليدو وروسته بلې کوټې ته تللی.

: زه ويرېږم چې هغه زما له ليدو پرته ولاړ نشي. زه هغه ته ډېرې خبرې لرم.

عاتکې وويل: سعيده! داسې کله کېدای شي چې هغه ستانه له پوره ډاډ ترلاسه کولو پرته ولاړ شي، هغه ويل چې زه به په مناسب فرصت ورسره خبرې وکړم، اوس ته پرېوزه.

منصور يوې خواته شو او سعيد د عاتکې په ټينګار سر پر بالښت کېښود او ويې ويل:

عاتکې! ستا به باور رانشي خو پرون ماښام ما په انګړ کې درې ځلې چکر وواهه، او اوس زه داسې احساسوم چې ګ دسيرانوا داڅلورې څوکې «مولای حسن څوکې» پورې منډه وهلی شم.

سعيد موسکل خو ناڅاپه يې پر څېره مايوسي خپره شوه ويې ويل:

: عاتکې! ماته ټوله کيسه واوروه، سلمان عجيب سړی دی ماته يې دا هم ونه ويل چې هغه ستا په لټه پسې ځي. بلکې ماته يې تل دا تسلي راکوله چې ته په خير او خيريت يې او منصور به ډېر ژر کورته راستون شي. عاتکې د خپل نيول کېدو او ژغورل کېدو پېښې ورته واورولې.

سعيد له منصور څخه څو پوښتنې وکړې او بيا تر لږ خندا په ژورو سوچونو کې ډوب شو، بيا يې وويل:

عاتکې! نن زه هغه خبرې درسره کوم چې ښايي په عامو حالاتو کې مې پرخوله نه وای راغلې:

ماته داسې معلومېږي چې سعيد دوه تنه ؤ، يو هغه چې له دې اولس او هيواد سره يې مينه له پلرونو په ميراث وړې وه او هغه ته يې د اندلس لپاره مرګ او ژوند وربښولی وو، چې له ورکتوبه د اندلس يوې غيرتي لور د سترګو په هر ځل کتو کې دا پيغام ورکاوه چې موږ په دې هيواد کې د آزادۍ ساه ايستلو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا شوي یو. دا زما وطن دی او ته یې ساتونکی! په کومه ځمکه چې زما د پلار او مور وینه تویه شوې ده له همدې ځخه مور د ژوند د ټولو راحتونو او آرامیو ترلاسه کولو حق لرو خو نن زه پوهیږم چې هغه سعید مړ شوی دی بلکې، هغه مهال مړ شو چې د پلار مړی یې په یوه کنډواله کې پروت و.

عاتکې په غمجنه وویل : نه، نه! سعید داسې خبرې مه کوه!

هغه وویل : عاتکې! ما خبرې پای ته نه دي رسولې دوهم سعید هغه دی چې د مرګ پر دروازه له تک تک ځخه بیرته راوګرځید او اوس ژوندی پاتې کیدل غواړي. عاتکې! کله چې زه تپې تپې وم او زما د نظر په وړاندې له تیارو پرته هیڅ نه وو. زما په زړه کې د مایوسۍ، بې وسۍ او ذلت په دې هستوګنځای کې د ځو ساه کښلو هیله هم ختمه شوې وه چې ناڅاپه مې احساس کړه چې ته چیغې راته وهې ته دا راته وایې: سعیده! ته د ځناورو په دې کلي کې ما چاته پرېږدې او ځې؟ او بیا ما د بې هوښۍ په حال کې هم د ژرند لمن ونیوله او چې په هوښ راغلم په وار وار مې دا دعا کوله چې کاشکې سلمان د اندلس له پریښودو دمخه زه ووینم او له مرګه وړاندې زه دا هیله تري وکړم چې ته عاتکه درسره بوزه!

د اندلس دغه لور باید د اولس د ګناهونو سزا ونه ګالي.

عاتکې په ژړه غوني آواز وویل: سعیده! ته څه وایې! تا دا ځنګه سوچ کړی دی چې زه به تا پرېږدم او ځم به؟

: زه پوهیدم چې ته به زما خبره ونه منې، خو د سلمان په راتلو زما په زړه کې دا امید را پیدا شوی دی چې خدای «ج» مور ته مرستندوی را استولی دی او زه چې روغ شم تا به پردې قانع کړم چې په اوسنی وضعه کې ته دلته نشې اوسیدای، کله چې د اندلس له افق ځخه تیاري لرې شي نو تا به بیا راوغواړو.

عاتکې! زه پردې اعتراف کوم چې نن زه تر اندلس زیات ستا په باب فکر کوم، د دې لپاره نه چې د اندلس مینه مې په زړه کې پای ته رسیدلې ده، بلکې که ته غواړې چې ستا هغه سعیدچې په موسکا یې مرګ قبلولی شوای ځپل فرض پوره کړای شي نو د خدای «ج» لپاره زما خبره ومنه!

د سلمان کار په غرناطه کې پای ته رسیدلی دی، اوس که زما وس ورسید نو یوه ورځ به یې به نور دلته را ایسار نه کړم، تیره شپه زما کوربه او ډاکتر د لومړي ځل لپاره د زړه له تله زما سره خبرې وکړې، ما چې د هغوی دا خبرې واوریدل زړه مې ګواهي راکوي چې هغه توپان چې پلار جان غوښتل ویې دروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ګرندي زموږ په لور را الوتي دي.

نن د غرناطي اولس يو قوم نه دي بلکې د ميږو يوه رمه ده چې ليوان خپل شپانه ګڼي، پر موږ عذاب پيل شوی دی، د دې وروستي حجت په هماغه ورځ پوره شوچې پلار جان يې شهيد کړ.

عاتکې! ته پوهيږې چې عتبه څوك دى او كه خدای «ج» مه کړه دښمن غرناطه ونيسي نو څومره نور عتبه ته ورته کسان به پيدا شي.

لږ فکر وکړه! په هغه وخت کې به ته له څه وړ حالاتو سره لاس او ګريوان وې؟ زه منصور هم له تا سره استوم، نن به له سلمان سره زما خبرې پر همدې موضوع وي او زما باور دى چې هغه به زما خبره رد نه کړي.

عاتکه ناڅاپه نرمه شوه ويې ويل: که ته امر راته کوې نو زه په سمندر کې ځان غورځولو ته هم تياره يم، خو زما او ستا لپاره خطر يو شان دى، او چې څومره ته زما په باب انديښمن يې همدومره سلمان ستا په اړه پريشانه دى. موږ په هيڅ صورت هم تا يوازې نشو پريښوداى. سلمان ويل چې ته به ډېر زر د سفر کولو وړ شي او که ته سمدستي په غرناطه کې د خطر احساس کوې نو موږ درې څلور ورځې بهر هم د پناه لپاره ځاى موندلى شو، کله چې ته د سفر وړ شي نو بيا به موږ د غرونو په لورې ولاړ شو او بيا چې کله داسې ځاى ته ورسيدو چې زما باور شو چې نور له دښمن څخه تاته څه خطر نشته او ستا پاتې کيدل په اندلس کې ضروري دي، بيا به زه او منصور د افريقا پر ساحل يا د روم د سمندرګي په کوم ټاپوکې ستا انتظار کوو.

: عاتکې! خداى «ج» ته دعا کوه چې سبا ته زه روان شم، زه پوهيږم چې په غرناطه کې زما ايساريدل زما د ځان لپاره نه بلکې د خپلو ملګرو لپاره هم خطرناك دي.

سعيد جګ شو دروازې پلو ته ولاړ.

عاتکې ترې وپوښتل: ته چيرته روان شوې؟

: زه له سلمان سره خبرې کوم.

: ته لږ آرام شه، منصوره! ته دننه ورشه خدمتګاره راوله، هغه به دې بلې کوټې ته بوزي

*****

لږ څنډ وروسته سعيد د سلمان کوټې ته ورننوت. له هغه سره هغه وخت پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جميل پرسيره يو نا اشنا ناست ؤ، هغوی جگ شول، په نوبت يې له سعيد سره په غيږو ستړي مشي وکړل، جميل نا اشنا سړی معرفي کړ دی عبدالملك دی د ده کور المريې ته نژدی دی، له هغه ځايه دی د غرناطې د وضعې معلومولو او د خپل پلار د دوستانو د احوال لپاره راغلی دی. د المريه د جگړې په وروستيو شپو کې د ده پلار د جگړې د سالار مرستيال ؤ. په غرناطه کې يوسف او څينې نور پوځي افسران هغه پيژني.

سلمان وويل: تر اوسه ته بايد له گرځيدو راگرځيدو ډډه وکړې.

: وروو جانه! زه بلکل روغ يم اوس ډاکتر هم له دې پابندۍ څخه خلاص کړی يم.

سلمان وويل : ښه کښينه! زه اوس وزگار يم.

بيا يې پام عبدالملك پلو واړاوه، ستاسو د کلي شمال ته څو سمڅې هم وې چې کله کوچيان په کې اوسيدل او لويديځ پلو يوه وړوکې شرشره په يوه خوړ کې توئيږي او څو ميله لاندې له سمندر سره گډيږي نو تاته د نور څه ويلو ضرورت نشته، ما ستاسو کلي ليدلی دی او هغه تپوله سيمه چې په ورکتوب کې په کې گرځيدلی يم زما په سترگو کې گرځي، که ضرورت شو ستا د کور پيدا کول راته آسانه دي. که نه نو دا خبر به خامخا درته ورسيږي، چې ستا ملگرې له ما سره په کوم ځای کې ليدای شي، زما لخوا چې کوم سړی تاسو ته درځي هغه به ستاسو په کلي کې نا آشنا نه وي.

: ته د هغه نوم نشې اخستی!

: ته زما او يوسف تر ليدو پورې انتظار وکړه بيا به له تانه هيڅ خبره پټه پاتې نه شي.

سلمان دا وويل بيا يې جميل ته مخ راواړاوه زياته يې کړه:

ته دوی ته ووايه چې زه څومره زر له غرناطې څخه وخوځيږم غوره ده او سعيد هم زر تر زره له غرناطې بايد ووېستل شي. که هيأت سره د ده استول ضروري وي نو تر څو چې دی د اوږده سفر توان پيدا نه کړي موږ به ورسره په کوم ځای کې پاتې شو.

سعيد وويل: زه په همدې خبره له تا سره مشوري ته راغلی يم، د عاتکې او منصور خبره تر ما څو ځله مهمه ده، عتبه او ملگرې به يې د دوی په لټه پسې څمکه او اسمان گز کړي، او که غدارانو ناځاپې دښمن ته د غرناطې دروازې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصې کړې نو بیا به دوی ته د تیښتې لارې بندې شي. په دغسې وضعه کې د غرناطې په نسبت په غرنیو کلیو کې دوی څو څو چنده خوندي وي.

سلمان وویل:

سعیده! ته ډاډه اوسه زه به پر کښتۍ هغه وخت گام ایږدم چې د عاتکې او منصور په باب پوره ډاډه شم، او دا کیدای شي چې په راتلونکو څو ورځو او یا څو ساعتونو کې وضعه دا ایجاب نکړي چې یو ځای سفر وکړو، او عاتکه به له تا څخه دمخه او یا وروسته له دې ځایه روانیږي او بیا دا هم امکان لري چې منصور او عاتکه هم په جلا جلا لارو غوره کولو اړ شي، تن ماسپښین به زه له یوسف سره ووینم، ولید به هم له هغه سره وي که موږ ناڅاپه څه پریکړه وکړه نو تاسو ته به خبر درکړو زه یوازې دا غواړم چې که منصور جدا سفر ته اړ شي او یا یې څو ورځې له تا څخه د جلا کیدو اړتیا حس شي نو ته به اندیښمن کیږې نه.

سعید وموسکل ویې ویل: زما ورته له یوه ازمویښت څخه راوتلی دی اوس زما دا هیله ده چې تاسو یې درسره بوزې، هغه غواړې چې یو مانو شي او زه دا احساسوم چې په راتلونکې کې به ترکانو ته زموږ د مرستې لپاره څو بیړۍ چلوونکو ته اړتیا وي.

جمیل وویل: صیب! اوس موږ ته اجازه راکړه، ابو الحسن او یا د هغه نوکر به تا ماسپښین مهال د جومات دروازې ته ورسوي، هلته به ستا لپاره گاډۍ ولاړه وي. او که زه پخپله را نه غلم نو عبدالمنان یا د هغو رضاکارانو څخه به یو څوک درته راواستوو چې د ویگا په عملیاتو کې ستا ملگرې وو.

د عبدالملك او جمیل څخه وروسته سعید هم له کوټې راووت او سلمان پر خپله بستره وغځید، لږ ځنډ وروسته په درانه خوب ویده شو.

*****

کله چې د سلمان سترگې وغړیدې منصور یې د بسترې ترڅنگ ولاړ و د هغه شاته یوه نجلۍ خپ خپ له کوټې څخه وتله، سلمان د هغې د جامو له یوه څرك څخه زیاته ونه لیده.

هغه راپورته شو کښیناست ویې ویل: راځه منصوره!زما په گومان چې ډیر زیات ویده شوی یم.

: اوس ماسپښین دی، خور جانه او ماما جان دوه ځلې ستا لیدو ته راغلل، عاتکې خور ویل خدای جل جلاله د وکړي چې ستا طبیعت ښه وي.. اوس ډاکټر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم راغلی ؤ. له هغه سره میلمه هم ؤ.
: ما نوکرانو ته ویلی وو چې که چا زما پوښتنه کوله او راغلل نو ما سمدستي راویښ کړي.
: عاتکې خور غوښتل راویښ دې کړي خو طبیب ایساره کړه او میلمه هم ویل چې خوب ته یې اړتیا ده.
: میلمه چیرته دی؟
: همدلته دی زه به یې راخبر کړم، او بیا منصور په منډه له کوټې ووت.
یوه نوکر له دروازې څخه ورو کتل ویې ویل:
: صیب! ډوډۍ راوړو!
: هوکې رایې وړه!
نوکر بیرته ستون شو.
سلمان غرناطي ته له راتګ وروسته د لومړي ځل لپاره د لوږې احساس وکړ. هغه د لاس او مخ له مینځلو او د جامو له بدلولو وروسته بیرته په کرسۍ کیناست.
نوکر د ډوډۍ پتنوس راوړ او د ده مخې ته یې په یوه میز کیښود ویې ویل:
: صیب! اوس ډیره ناوخته ده، ما سهار د ناشتې لپاره پاڅولی خو ته ویده وې.
سلمان وویل : لکه چې کوم میلمه له ما سره لیدل غوښتل هغه خو به تللی نه وي؟
: نه صیب! میلمه همدلته دی وایي چې ته یو ځل په داده زړه ډوډۍ وخوره.
سلمان د عبدالمنان او یا د هغه د کوم استازي نه علاوه د عثمان د راتلو انتظارهم کاوه، زرزر یې ډوډۍ وخوړه او نوکر ته یې غږ وکړه بیا یې ناڅاپه داسې احساس کړه چې دی لکه چې خوب وینی، بدریې د خپلې لور لاس په لاس کې نیولی و او کوټې ته ورننوته. سلمان څو دقیقې په رډو رډو هغې ته کتل او بیا یې ناڅاپه سترګې ښکته واچولې.
اسما زړه نا زړه وراندې ورغله ویې ویل: مورجانه مې وایي چې تا زموږ لپاره ډیرزحمتونه وګالل.
سلمان په مینه د هغې پر سر لاس راکش کړ بدریې ته یې وویل:
مهرباني وکړې! زما تر اوسه باور نه راځي چې تاسو دلته راغلی یاست، عثمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو ولید؟

: هوکی! خو که هغه موږ نه وای لیدلی هم ما دلته د راتلو کلکه اراده کړې وه.

زما په خیال کی په وار وار دا راګرځیدل چی که تاسو ناځاپی روان شی نو بیا به مو ونه لیدای شو.

دا کیدای شوای چی وضعی زه ناځاپی تلو ته مجبور کړی وای خو له تاسو سره له خدای پامانی پرته به ماته د اندلس پریښودل یو لوی ازمویښت ؤ. او بیا به زما سره تر ورو‌ستی‌سلګی‌دا امید ؤ چی یوه ورځ به خامخا بیرته راځم.

د وی بیا تر لږ ځنډه چوپ وو بیا بدریی دخبرو د موضوع بدلولو لپاره وویل:

زما عاتکی او منصور ته ډیره اندیښنه وه، جعفر هره ورځ ماته راتلو، که ما نه وای ایسار کړی نو پر ویګا به یی له حملی دریغ نه و کړی. نن چی زه دی لوری ته راتلم د ده د ډاډ لپاره می د خپل کلی یو سړی ور واستاوه او هو رښتیا!

بدریی بیا په بیړه لاس جیب ته کړ یو کاغذ او بوه ګوته یی چی د وریښمو په دسمال کی نغښتی وو راوایستل سلمان ته یی وړاندی کړل ویی ویل:

عثمان دغه لیك او ګوته غوښتل پخپل لاس تاسو ته وسپاری، خو له لږ انتظار وروسته یی دا امانت ماته وسپارل.

سلمان پر لیك لنډ مضمون ولوست ویی ویل:

: تا دا لیك لوستی دی؟

: هوکی ما ویل چی کـه کـوم مـهم احـوال وی تا باید راویښ کـړو، داسی معلومیږی چی د ضحاك په ذهن کی لوی بدلون راغلی دی، ما پر ګوته د عتبه نوم هم ولوست.

سلمان له دسمال څخه ګوته راوایستله چی ویی لیده ویی ویل: زما په ګومان د هغه د خپلی خوښی وړاندیز اصلی سبب د هغه میرمن ده.

: هوکی! عثمان ویل چی کله هغی ولید په ژړا شو او ابو یعقوب ته یی ویل چی د دغسی سړی لپاره زه خپل سر قربانولو ته تیاره یم.

: د دی ګوتی په واسطه موږ د کوتوال په غاړه کی پړی اچولی شو.

بدریی په اندیښنه وویل: د خدای «ج» لپاره دکوتوال مسئله هغو خلکو ته پریږده چی هغوی یی تر تا په اسانی راقابو کولی شی، له ماسره وعده وکړی چی تاسو به نور د هغو ملګرو له مشوری پرته هیڅ ګام نه اوچتوی چی ته هغوی ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه لویه تکیه شوی یی.

سلمان وویل: ته فکر مه کوه! نن زما له دریم کس سره ملاقات دی، او وعده کوم چی د هغه د هدایاتو پر خلاف به څه گام اوچت نه کړم.

: دریم سړی! زما پوره باور دی چی هغه به تاته غلطه مشوره درنکړی، ته هغه پیژنی چی څوك دی؟

: تر اوسه می ورسره لیدل نه دی شوی خو زه د هغه په باب ډیر معلومات لرم، د هغه نوم یوسف دی او د موسی بن ابی غسان له نومیالیو سالارانو څخه ؤ.

بدریی وموسکل ویی ویل: زما باور و چی له یوسف پرته بل څوك نه دی، هغه د ماما ډیر اندیوال و، او په وروکتوب کی ما او ولید د هغوی په کور کی لویدلی یو. د هغه میرمن زما سره ډیره مینه کوله، د جگړی په وخت کی د هغه یوازینی زوی شهید شو.

هغه څو شیبی چوپه شوه بیا سلمان په غمجنه لهجه وویل: بدریی زه داسی احساسوم چی د تلو وخت می نژدی شوی دی، امکان لری زه په کوم سبب بیرته دلته را نه شم، ما له تا سره ډیر څه ویل غوښتل خو اوس چی زه د خپلو احساساتو د ترجمانی لپاره په کومو الفاظو فکر کولی شم هغه پر یوه لنډه دعا پای ته رسیږی.

بدریی! سلمان د لومړی ځل لپاره د هغی نوم واخست.

: زه الله «ج» ته دعا کوم چی ستا ملگری او ساتندوی شی، او زه کومه ورځ تاته له دی پیغام سره راشم چی د اندلس کښتیی د گردابه راووته، د ماضی تیاری لری شوی، او د نوی سهار رڼا په ځلیدو ده.

اسماً وویل: کاکا جانه! که ته ناڅاپی بیرته روان شوی؟ نو زه به دی هره ورځ انتظار کوم او چی بیرته راغلی بیا به دی پری نږدم چی ولاړ شی.

بدریی سلمان ته وکتل په سترگو کی یی اوښکی راغلی ویی ویل: کله کله زه داسی گنم چی ښایی له موږ نه د دعا وختونه تیر شوی دی، ما اوریدلی دی چی د قیامت په ورځ به هیڅوك د بل چا پوښتنه نشی کولی. خویندی به خپل ورونه هم ونه پیژندلی شی، او میندی به د خپلو اولادونو پر کریږو خپل غوږونه کاڼه کړی، خدای «ج» دی وکړی چی دا عذاب لری شی که نه نو په موږ چی کوم وخت را روان دی دا به له قیامت څخه کم نه وی.

خو پردی برسیره زه دا احساسوم چی کله زموږ په مخ کی د مایوسی له تیارو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته هيڅ نه وي هم زموږ سترګی به ستا په لټه کی سرګردانی وي، او چی کله د مرګ له ويری زموږ مغزونه جام شی او تير وختونه د يوه خوب په بڼه شي، بنايی هغه وخت هم زه اسماً ته دا تسلی ورکړم چی يوه ورځ به يو شريف او زړور انسان زموږ احوال واخلی.

ابو نصر کوټی ته ورننوت، دوی ټول په احترام پاڅيدل هغه وړاندی ورغی سلمان ته يی لاس ورکړ ويی ويل:

تاسو مهربانی وکړی! سهار دی د ليدو لپاره راغلی وم، خو ته ويده وی، زه تاته مبارکی وايم، خبر شوم چی يوسف وربللی يی.

: هوکی! زه لږ ځنډ وروسته هغه ته ورځم، او له تا څخه دا پوښتنه کوم چی سعيد به تر څه وخته د سفر وړ شی؟

ابو نصر ځواب ورکړ: که کوم معمولی سفر وی نو تر دری څلورو ورځو پوری به پر اس د سپريدو جوګه شی، خو د اوږده سفر لپاره هغه بايد څو ورځی نور هم استراحت وکړی، د هغه پوزخم تر اوسه پوری ښه نه دی روغ شوی.

سلمان وويل: زما مطلب دا دی چی که ناڅاپی د.دی ضرورت پيښ شی چی دی بايد چيرته ولاړ شی نو د مجبوريت په وخت کی به څو ميله پر اس سفر ده ته څه تاوان نه کوی؟

: د مجبوری په حالت کی موږ هر ډول خطر بايد وزغمو خو که سفر داسی وی چی په هغه کی د اس ځغلولو ته ضرورت نه وی نو هيڅ د انديښنی خبره نشته، يوازی احتياط ته ضرورت دی نن د هغه وضعه ښه ده، خو بيا هم هغه تر اوسه ډير کمزوری دی.

: زموږ هڅه به دا وی چی هغه ډير آرام وکړی، خو په بدو حالاتو کی به دا مجبوری وی. ځکه زه غواړم چی کومه دوا هغه ته ضروری وی بايد د سفر په وخت کی هغه له موږ سره وی.

ابو نصر وويل: د هغه لپاره به د پټی تړلو سامان او د دوا کڅوره تل تياره وی او په هغی کی به ضروری هدايات هم وی.

سلمان وويل: زه ستا څخه مننه کوم چی زما د زړه بوج دی لږ کړ.

ابو نصر وويل : که له وليد سره ستا ملاقات وشو نو دا تينګار پری وکړه چی هغه ته د بل کوم دولت پرځای د يوسف کور ترټولو خوندی ځای دی.

ابو الحسن د دروازی له ټک ټک وروسته کوټی ته ورننوت او سلمان ته يی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل:

صیب ! مازدیگر کیدونکی دی، ځکه خوتاسو تیاری نیسی!

ابو نصر وویل: زویه! ته چی له ده سره روانیږی باید زیات پام وکړی:

: پلار جانه ته چورت مه وهه! نیم ساعت وروسته سلمان له یوه رضا کار سره په گاډی کی ناست و.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم کس

ګاډی د یوه کور په مخکی ودریده د سلمان ملګری وویل: ته کوز شه او نیغ دننه ولاړ شه، په درشل کی به تاته د ځان معرفی کولو اړتیا نه وی.
سلمان ښکته شو او د کور د انګړ د دروازی په لوری ورغی، ناڅاپه ولید راښکاره شو او ورغی ده ته یی په مینه لاس ورکړ ویی ویل:
راځه! هغه دننه ستا انتظار کوی، لومړی ته له هغه سره وګوره وروسته به موږ بیا سره غږیږو!
دوی بیا له یوه پراخ انګړ څخه چی یوه لوری ته یی دالان او بل ته طبیله ده تیر شول او د کور دننه برخی ته ننوتل.
لږ څنډ وروسته سلمان د لاندینی پوړ په یوه کوټه کی د یوسف په مخکی ولاړ ؤ.
هغه جګ شو لاس یی ورکړ ویی ویل: زه هغه دریم کس یم! بیا یی زیاته کړه: کاشکی زموږ لیدل څو میاشتی وړاندی شوی وای او بیا دواړه غاړه غړی‌شول.
د یوسف قد تر سلمان لږ لوړ ؤ، د پراخه سینی او غوړیدلی تندی خاوند دغه سړی چی د ږیری تر نیمایی زیات ویښتان یی سپین شوی وو اوس هم د نیغ زلمی په څیر ښکاریده.
د هغه مخ لږ بیضوی او وچ ؤ، ژوری ځلیدونکی سترګی یی د هوښیاری او جرئت ښکارندوی وی.
سلمان یی میز ته نژدی په یوه کرسی‌له کښینولو وروسته هغه ولید ته وکتل او ویی ویل: اوس ته په میلمستون کی د میلمنو خدمت کوه، دوی به لږ څنډ وروسته راورسیږی او عبدالملك ته ووایه چی خپل کار خلاص کړی دلته دی راشی.
ولید بهر ته ووت او یوسف پر خپله کرسی‌ناست ؤ سلمان ته یی وکتل ویی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل:

زه افسوس کوم چی زما په سبب ستا ډېر قیمتی وخت ضایع شو.

سلمان ځواب ورکړ: زه پردی پوهیدم چی ته ډېر مصروف یی خو زه پر دی حیران یم چی تازه کور ته راغللی یم او هغه هم په داسی وخت کی چی د حکومت جاسوسان دلته راتلونکی کسان ښه لیدای شی، ما گومان کاوه چی د هری شیبی بدلیدونکو حالاتو به ته نور هم محتاط کړی یی!

یوسف وویل: تازه حالات داسی وایی چی موږ نور د احتیاط له پړاوه تیر شوی یو، ته زما په اړه څه خوشباوری مه کوه، زه د هغه بدنصیبو خلکو له ډلی څخه یم چی په سهی وخت کی غلطی او په غلط وخت کی سهی پریکړی کوی.

کله چی په الحمرا کی د جگړی د اوربند په باب پریکړه کیدله، نو ما تر وروستی شیبی پردی باور درلود چی د موسی بن ابی غسان وینا به بی اغیزی نه پاتی کیږی، او بیا چی کله هغه د غرناطی له مشرانو څخه مایوس شو او د شهادت لاره یی غوره کړه نو ما له پوځ څخه استعفی ورکړه. زه به تر مرگه پردی خبره خفه یم چی تر وروستی شیبی زه ولی له هغه سره ملگری نه شوم.

او بیا چی کله حامد بن زهره ناڅاپه له غرناطی څخه د وتلو پریکړه وکړه، نو زما د شخصی فعالیتونو نتیجه له دی پرته هیڅ نه شوه چی هغه له غرناطی څخه بهر څو میله وړاندی شهید کړای شو.

د سعید د ژغورنی لپاره د قاتلانو پام خپل ځان ته را اړول دومره لویه کارنامه نه ده چی زه پری وویاړم، که ما له هوښیاری څخه کار اخستی وای نو کله چی د هغه پلار د البسین په څلور لاری کی وینا کوله، هغه وخت پوځ باید پردی پوهول شوی وای چی له موسی وروسته حامد ستاسو وروستی هیله ده، او د ده ساتنه ستاسو تر ټولو لوی مسئولیت دی. د هغه د ساتنی لپاره په سلگونو رضاکار هم استول کیدای شوای خو موږ په دی خوشباوری کی راگیر شوو چی که هغه ناڅاپه غلی ووزی نو په غرنیو سیمو کی به څو ورځی د ده فعالیتونه غلی پاتی شی او د غرناطی اولس به د تیاری نیولو فرصت ترلاسه کړی.

کاشکی هغه وخت زموږ څخه چا دا فکر کولی چی دښمن تر موږ زیات ښیدار دی. او کله چی ولید ستا په باب راته وویل ما ډیر امیدونه په تا پوری وتړل، همدغه سبب و چی ما غوښتل ته له هر ډول خطر څخه لری وی.

تیره شپه که ماته پر وخت معلومه شوی وای چی ته د یوه خطرناك پروگرام

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره روانيږي نو خامخا به مې ستا د راګرځولو هڅه کوله، خو دا به زما يوه بله اشتباه وه.

سلمان وويل: ته رښتيا وايې! د دې عملياتو نتيجه زما د هيلې پرخلاف هم کېداى شواى، خو دا نورې د تېرې زماني خبرې دي، زه دا پوښتنه کوم چې د راتلونکې لپاره دې څه چورت وهلى دى؟

يوسف په غمجنه لهجه ځواب ورکړ: کاشکې له موږ سره د چورت وهلو او پرېکړې کولو واک واى، خو زه به تا ډېر پرېشانه نه کړم، اوس زموږ لومړنۍ مسئله دا ده چې تاسو زر تر زره له دې ځايه روان شۍ.

: د قبايلو کوم مشران چې تاسو غرناطې ته رابللي ؤ هغوى څه پرېکړه وکړه؟

: هغوى يوازې په هغه صورت کې پرېکړه کولاى شي چې د پوځ له لورې څه وعده ورسره وشي، او د پوځ بيا داسې حال دى چې کله د غرناطې اولس ته ګورى او کله ابو القاسم خپله ورو ستي پناه بولي.

: ابو القاسم!

: هوکې! کله چې د يوه اولس ذهني او جسماني قوه فلج شي نو بيا د خپل تولنيز ځواک د فعالولو پرځاى د کوم هوښيار سړي اشارې ته ګوري. ابو القاسم د خپل پخواني کرکټر سره سره په خلکو کې داسې ذهنيت پيدا کړى دى چې دى د اندلس ترټولو هوښيار سړى دى. او دا د عامو خلکو نه بلکې د ډېرو هوښيارو خلکو رايه هم ده چې اوس يوازې هماغه وروستي ديوال دى چې زموږ او دغه ورانوونکې توپان ترمنځ ولاړ دى له ده پرته زموږ هغه بنديان بېرته نشي راتلاى او ده چې د سينتافې لاره خلاصه کړه موږ يې د لوږې له مرګه وژغورلو.

د حامد بن زهره په راتلو د هغه پرخلاف د خفګان يوه څپه راپورته شوه خو اوس دا حالت دى چې کوم خلک هغه پيژني په هغوى کې هم ډېرداسې خلک دي چې ته به دا ترى واورې چې اوس له موږ سره د دښمن د پوځې ځواک د ځواب لپاره بل څوک شته؟

دغه خلک ابو عبدالله ته براﻻ بدرد وايي خو پر ابو القاسم د انتقاد جرئت نه کوى.

: مګر زما په ګومان د قبايلو غازيان د ابو القاسم په اړه خوشباورى نه کوى!

يوسف ځواب ورکړ: د قبايلو ډېرش تنه سرداران غرناطې ته را رسيدلي دي او د هغوى زياتره له موږ سره موافق دي خو ابو القاسم هم له هغوى څخه غافل نه ؤ،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم خو تنه سرداران دلته راوغوښتل او د آزادی غوښتونکو د اغیزی کمولو هڅې یې پیل کړې، دا زموږ یوه بله اشتباه وه چې موږ د قبایلو د مشرانو د غوندی لپاره د غرناطی پرځای د غرنیو سیمو څخه کوم ځای ولې غوره نه کړ، هغوی مو دلته راوبلل او غدارانو ته مو دا فرصت برابر کړ چې د هغوی په زړونو کې بدگومانی راپیدا کړی.

ورمه شپه د حکومت جاسوسانو د الفجاره څلور تنه ساده زړی سرداران په دوکه ابو القاسم ته وروستلی وو، د هغوی نیتونه بد نه وو هغوی خپلو ملگرو ته دا ویلی وو او تللی وو چې موږ به ابو القاسم نیغی لاری ته راوگرځوو، خو د لیدو کتو نتیجه دا شوه چې هغوی بیرته راغلل څو نور ملگری یې هم دوه زړی کړل.

د هغه منطق تل دا وی چې زه د خپل اولس دښمن کله کیدای شم! تاسو دا ولې گڼلی چې کله تاسو د جگړی لپاره تیار شی نو زه به مو را ایسار کړم، خو د کوم گام اوچتولو څخه دمخه تاسو د پوره حقیقت په رڼا کې باید د خپل بری امکانات وڅیرئ.

زما دوسته! یوسف له خو شیبو څند څخه زیاته کړه:

نن زه د توپان لومړنی څپی احساسوم څکه خو می د غرناطی له مشرانو او خو تنو قبایلی سردارانو سره نیغ په نیغه د خبرو اترو ضرورت ولید، زما زړه گواهی راکوی چې غداران به زموږ داتکل څخه وړاندی د غرناطی د قسمت پریکړه وکړی، له هغوی څخه څو تنه دلته راغلی دی او څو تنه نور به تر لږ څنډه راشی.

له دغه خلکو سره به زما خبری ډیری لنډی وی، لومړی زما دا هیله وه چې هغوی په غرناطه کې راټول شی خو اوس زما دا هڅه ده چې دوی زر تر زره خپلو سیمو ته ولاړ شی ما په همدی تمه ته دلته را ایسار کړی چې ته د ترکانو لخوا دوی ته څه امیدوارونکی خبرورکړی. خو حکومت دومره څلک دی چې اوس په کومه غونډه کې ستا گډون مناسب نه گڼم. ما چې غوښتل کومې خبری ته وکړی هغه به زه په خپله کوم.

له نیکه مرغه د المریی یو هوښیار او زړور سپاهی دلته رارسیدلی دی او ما هغه تاته ددی لپاره در واستاوه چې تاسو یو له بل سره ښه بلد شی، هغه زموږ د سمندری پوځ د تجربه کارو افسرانو یوه ډله په خپله سیمه کې راغونډه کړی او ستا سره یې د استولو ذمه واری قبوله کړی ده، له دی ځایه چې څو کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانیږي هغوی به په مختلفو لارو ځان رسوی. عبدالملك په بله کوټه کې ناست دی د هغوی لپاره ضروري لارښوونې لیکي، له هغې وروسته به له تا سره تفصیلي خبرې کوي.

سلمان لږ په خفګان ووېل: مګر! تاسو د سعید په اړه څه فکر کړی دی؟

یوسف په ډاډ ځواب ورکړ: وروره! ته چې اوس له کومو جنجالونو سره مخ یې زه ترې بې خبره نه یم. زه پوهیږم چې ته سعید، عاتکه او د حامد بن زهره لمسی دلته نشې پرېښودلای، هغوی ته دلته واقعاً خطر دی. خو سعید تر اوسه د سفر ور نه دی.

سلمان ووېل : مګر زما په ګومان هغه له غرناطې پرته په بل هر ځای کې په امن دی، که هغه په بېړه واستول شي نو په لاره کې کېدای شي هغه ته ډېر خوندي پناه ځای پیدا شي.

یوسف ووېل : زړه دا نه ده چې هغه ته د پناه ځای پیدا شي، بلکې له هیأت سره باید بهر ته واستول شي. اوس موږ په غرناطه کې له هغه څخه د څه کار اخستلو موقع له لاسه ورکړې ده، خو په هیأت کې د غرناطې د خلکو د ترجمان په حیث هغه اغیزمن رول درلودلی شي. ما له ولید او عبدالملك سره پر دې خبرې کړې دي، زما رایه هم دا ده چې ته له ده سره د یو ځای سفر په ځای ساحل ته نږدې د هغه د رسیدو انتظار وکړې، موږ به هڅه وکړو چې هغه زر تر زره تاسو سره یوځای شي.

سلمان ووېل: که تاسو د هغه د ساتنې مسئولیت اخلې نو زما په تلو کې باید ځنډ ونه شي.

یوسف ووېل: زه به د هیأت غړي تاته دروپیژنم بیا به پریکړه وکړم! بیا یې یوه ژوره ساه واخسته ویې ویل:

وروره! زما زړه ګواهي راکوي چې ډېر زر به یو بد خبر واورم.

له تېرو دوو ورځو راهیسې مې کور ته د یو قدم ور اخستلو فرصت نه دی موندلی، له خپلو پوځي انډیوالانو او ځینو سردارانو سره په پټو خبرو اترو مصروف یم.

ماته یوه دوست ووېل چې ته په یوه خطرناك پروګرام وتلې یې، ځکه تولـه شپه راباندې په شوګیرو تیره شوه، که مې سهار له ځو مهمو کسانو سره ملاقات نه وای نو د عبیدالله کورته به مې د جمیل او عبدالملك د درلیږلو پرځای پخپله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



درتلم. اوس چې کورته راغلم راته معلومه شوه چې زما په غياب کې له الحمرا څخه دوه پيغامونه راغلي دي.

سهار د شاهي مانۍ د ناظم پيغام راغلی ؤ او زما ميرمن هلته تللې وه، هغې پيغام را استولی دی چې زه کله کور ته راورسيږم بايد سمدستي الحمرا ته ورشم د پاچا مور له ما سره ليدل غواړي په ژوند کې مې دا لومړی ځل دی چې هغه ته په ورتلو د ويرې احساس کوم، که هغه زما ميرمن، د خپلې مور په واسطه الحمرا ته نه وای وربللې او ليك يې نه وای ورکړی ماته يې پخپله نيغ په نيغه امر کړی وای چې ورشم نو دومره به پريشانه نه وم.

اوس زه هلته له تلو پخوا دا داړه ترلاسه کول غواړم چې که زه وځنډيږم يا په څه سبب هلته پاتې شم نو زما ملگري به خپله دنده او مسئوليت سرته رسوي ځکه ما خپلې ميرمنې ته دا ځواب وليکه او ورمې کړ چې تر ماښامه به زه درشم.

*****

عبدالملك کوټې ته ورننوت او د يوسف په مخکې يې څو کاغذونه کيښودل ويې ويل:

صيب! ما د غرناطې څخه تر المريې پورې د درې لارو نقشې کښلې دي، تر کومه چې زما ذهن ته راتلل پر هغو تولو ځايونو مې نخښې ايښې دي چې د خطر احساس ترې کيږي. او يا له شاو خوا کليو څخه مرسته ترلاسه کيدای شي.

ځلورمه نقشه چې ستا له حکم سره سم مې د سلمان لپاره جوړه کړې ده ډيره تفصيلي ده، په هغې کې مې د لاړې د تولو پړاوونو په اړه معلومات ليکلي، پردې سربيره مې د لارې په اوږدو کې د مهمو کسانو نومونه هم ليکلي چې د دوی د روانيدو څخه دمخه بايد هغوی ته خبر ورکړای شي. يوسف درې نقشې او ورسره کاغذونه وليدل يوې خواته يې کيښودل بيا يې ځلورمه نقشه راواخسته قلم يې راويوست او په هغې کې يې څو نخښې نورې زياتې کړې او سلمان ته يې وراندې کړه ويې ويل:

دا نقشه ښه وګوره! کيدای شي ستا دې ته اړتيا پيښه نه شي او له غرناطې څخه وړاندې په دوهم يا دريم پړاو تول په بوه لاره سره يوځای شي. خو د خطر په صورت کې به دا نقشه درته په کار شي.

دغه لاره اوږده هم ده او سخته هم، خو موږ غواړو چې دښمن پر تا هيڅ شك ونه کړي. او د کومې نه اتکل شوې پيښې په وخت کې مرسته هم ترلاسه کړای

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


شي. ستا سره یوځای روانیدونکی به لږ ځنډ وروسته دلته راورسیږي. که زه د هغوی په موجودیت کی له الحمرا بیرته راستون شوم نو هغوی ته به نوری لارښوونی هم وکړم. که نه نو کوم بل تجربه کار افسر به راواستوم.

عبدالملك سلمان ته په خطاب کی وویل: په دی نقشه کی بی یوازی د المریی لاره ښودلی ده، که ته ماته ووایی چی د ساحل له کوم ځای څخه به په کښتی کی سپریږی نو زه به د شاوخوا د لوړو ژورو او ددښمن د پوستو ځایونه او د سمندری ځنډو د تانو ځایونه هم درته تیار کړای شم.

سلمان وموسکل ویی ویل:

له المریی نه تر مالقی پوری ټوله سمندری سیمه ماته د خپل لاس د کرښو په څیر معلومه ده ، خو که تاسو پر ځنډه د دښمن د نویو تانو او پهرو ځایونه په نخښه کړی دا به راته په گټه وی.

ولید کوټی ته ورننوت او ویی ویل:

صیب! هغوی ټول راورسیدل، د «الحمرا » له.احصار څخه یو افسر هم راغلی دی او له تاسره لیدل غواړی، هغه وایی چی ما د قوماندان له خوا یو مهم احوال راوړی دی.

: هغه راوله.

ولید له کوټی ووت غږ یی وکړ: مهربانی وکړی!

*****

څو شیبی وروسته یو پوځی افسر کوټی ته ورننوت او له سلام وروسته یی وویل:

صیب! د قوماندان هیله وه چی د لږ ځنډ لپاره کلا «الحمرا » ته تشریف راوړی! هغه ته دا خبر رسیدلی چی د ښار مشران او د قبایلو سپین روبی ستا په کور کی راغونډیږی، خو هغه دا غواړی چی معلومه کړی ته تر څه وخته وزگاریږی چی سرکاری گاډی درته راواستوو؟

یوسف څو شیبی په اندیښنه نوی راغلی سړی ته کتل بیا یی په زحمت خان راسنبال کړ ویی ویل: زه به هڅه وکړم چی زر تر زره ځان وزگار کړم، خو که کومه خاصه خبره وی ته په ځغرده راته ویلی شی، دا زما ملگری دی.

: صیب! زه په دی نه پوهیږم چی هغه به ته د څه لپاره وربللی یی، خو کومه خبره چی ما اوریدلی ده دا ده چی لوی وزیر به ډیر زر له خپل محل څخه کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



«الحمرا» ته راکېږه شي، پاچا د هغه د سمدستي هستوګنې لپاره د يوه کور د وزګارولو امر کړی دی. پردې سربېره يې له کلا «الحمرا» څخه د پوځ يوه بله ډلګۍ هم د هغه د کور د ساتنې لپاره ور استولې ده. داسې ښکاري چې نن هغه څه خطر احساس کړی دی، هغه دوه ځله له سلطان سره ملاقات هم کړی دی. په لومړي ځل کتنه کې د غرناطې هغه مهم مشران او علما هم په الحمرا کې وو چې د ابو القاسم په اشاره ناځي، خو په دوهم ځل يوازې د سلطان مور ورسره وه.

يوسف وويل: زه پردې خبرو خبر يم، زما لپاره يوازې دا نوې خبره ده چې ابو القاسم کلا «الحمرا» ته کډه وړي.

لږ څنډ دمخه د ښارپرکوتوال برسېره څو نور چارواکي هم د ده د نوې هستوګنځي د ليدو لپاره راغلي وو. زموږ قوماندان له هغوی نه دده ددې ناځاپې کډې د سبب پوښتنه وکړه کوتوال وويل چې اوس به هره شيبه پاچا د لوی وزير مشورو ته او پوځ د هغه هداياتو ته اړتيا لري.

يوسف سلمان ته وکتل او په غمجنه لهجه يې وويل: زما انديښنې سهي شوې، ابو القاسم خامخا کوم خطرناک ګام اوچت کړی دی..

بيا يې د قوماندان استازي ته وويل: ته سمدستي بېرته ولاړ شه، هغه ته ووايه چې ډېر زر به کلا ته درشم، نه رښتيا ته ودرېږه زه يوه پاڼه درته ليکم چې ور يې کړې. يوسف په بېړه قلم راواخست او څو کرښې يې وليکلې کاغذ يې قات کړ هغه استازي ته يې ورکړ ويې ويل: دا هغه ته ورکړه!

وليد وويل: صيب! زه داسې احساسوم چې موږ به له وخته وړاندې په څه ګام اوچتولو مجبور شو، د کور څخه بهر زموږ ملګري ډېر پريشانه دي، اوس ماته يوه رضاکار وويل چې په شاوخوا سر کونو پوليس ګزمې کوي.

د قوماندان استازي وويل: صيب! پوليس ډېر وارخطا ښکاري! ما له درشل څخه لږ وړاندې د کوتوال له مرستيال سره څو تنه وليدل ګاډی يې ودروله ښه يې ولټوله بيا يې هم په وار وار پوښتل چې زه چېرته ځم او چې ما ورته وويل چې زه د خپل پخوانی مشر سلام ته ځم هغوی د يوې مسخره موسکا سره خواب راکړ چې ته ډېر بې وخته راغلې يې دننه دومره کسان راټول شوي دي چې تاته به په اسانۍ د سلام کولو فرصت په لاس درنشي.

:تاته! هغه موسکل؟... او تاېې د غابښونو ماتولو هڅه ونه کړه! د غرناطې پر سپاهيانو څه شوي دي، اوس درځه او د ګاډي پردې دې راخوشې کړه له دې ځايه

(c) ketabton.com: The Digital Library


روان شه، که د کوتوال مرستیال چیرته تللی نه وی امکان لری بیا ورسره مخ شی.
افسر وویل: صیب! که تاسو ما د قوماندان له سزا څخه ژغوری نو زما دوهم ملاقات به داسی وی چی تر ډیره وخته به یی په یاد وی.
د پوځی افسر له رخصتولو څخه وروسته یوسف جګ شو سلمان ته یی وویل: ته زما سره راځه!

هغه ورپسی ورغی او دواړه یوی بلی کوټی ته ننوتل. دغه کوټه د یوه وړوکی وسله تون په څیر وه، په دیوالونو توری، ډالونه، خنجرونه، نیزی، تومانچی او نوری وسلی راځړیدلی، یوسف د یوه صندوق کولپ خلاص کړ. وی ویل: کیدای شی د دی ځای د اضطراری حالاتو په سبب تاته له دی ځایه د وتلو په خاطر پوځی جامو ته ضرورت شی. د سمدستی اړتیا لپاره ته له دی ځایه مناسبه وسله هم درسره اخستلی شی، اوس ته همدلته کښېنه او زما تر راتګه انتظار وکړه زه به په حجره کی له میلمنو سره خبری وکړم او الحمرا ته به ولاړ شم، إن شاء الله چی زر به بیرته راستون شم. او هو رښتیا! ترمابښامه به د هیأت غړی چی زیاتره یی پخوانی د پوځ منصبداران دی زیاتره راورسیږی.

*****

لږ ځنډ وروسته یوسف په لویه حجره کی د قبایلو له سردارانو او د غرناطی له سپین ږیرو سره خبری کولی.
د غونډی زیاترو خلکو هغه د لومړی ځل لپاره په یوه غونډه کی لیده او ډیر داسی هم وو چی د ده د پټو فعالیتونو په اړه په څه خبر نه وو، د غرناطی اولس په دی ګرځیدلی او بده ورځ هم د ښی وینا او خطبی لیوال وو، په ځانګړی ډول په داسی ورځو کی چی د دوی د برخلیك پریکړه کیدله دوی د موسی بن ابی غسان د یوه نومیالی ملګری څخه د ډیری له جوشه ډکی او احساساتی وینا هیله درلوده، خو د یوسف حالت هغه سړی ته ورته و چی هره شیبه د یوی پیښی په انتظار وی.
هغه د څه مقدمی پرته په غمجنه لهجه وویل:
ورونو! د احتیاط غوښتنه دا وه چی زه تر څه وخته نور هم داولس د یوه نومورکی رضاکار په توګه خپل خدمت ته دوام ورکړم، او چی کله زه پردی ډاډه شم چی له هڅو څخه می څه ښی نتیجی راپیدا کیدای شی. او زما د اولس له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظره پټ اوسیدو ته اړتیا پاتې نه شي نو زه به د البسین په څلور لارې کې ودرېږم او دا اعلان به وکړم چې د اولس زامنو !که تاسو ژوند او شهادت نه پرته بله دریځه لاره نه وي غوره کړې نو د موسی بن ابی غسان ملګری به مو مایوس نه کړي، ما د تاسو له ځینو ښاغلیو سره خبري کړي دي او تر پرون پورې زما زیاته هڅه دا وه چې د قبایلو مشران د جګړې په باب د وروستی پریکړې له کولو وړاندي باید ولاړ نشي، خو نن وضعه داسې ده چې زه یې د یوې ورځی لپاره د ایسارولو مشوره نشم ورکولی، د دې لپاره نه چې ما یا زما ملګرو خپله ماته منلې ده، غلامي، ذلت او رسوایی د هغو خلکو برخلیك نشي کیدای چې د حق لپاره یې مړه کیدل او ژوندي پاتې کیدل زده کړي دي، موږ به جنګیږو تر هغه وخته به جنګیږو چې زموږ په رګونو کې د وینو وروستی څاڅکې وینې هم وبهیږي.

خو اوس ښایي غرناطه زموږ هستوګنځای نه وي، موږ به په غرونو کې نوی هستوګنځای پیدا کوو، په کوټه کې ترلږځنډه چوپتیا شوه، بیا د پوځ یوه پخواني منصبدار وویل:

صیب! که تاته کومه داسې خبره معلومه وي چې موږ پرې خبر نه وو نو زموږ صبر مه ازمویه، موږ په هره شیبه د بد خبر اوریدو روږدي شوي یو. همدا اوس له حصار څخه د پوځ یو افسر ستا لیدو ته راغلی ؤ او ما چې هغه له ولید سره یوځای ولید له بګی څخه راکوز شو او دننه راغی وپوهیدم چې موږ له کومې نوی اندیښنی سره مخ کیدونکی یو.

یوسف ځواب ورکړ: زما هدف دا نه دی چې تاسو پریشانه شي، اوس په الحمرا او پوځی قرارګاه کې څوك راته متنظر دي. او هلته زما هغه ملګری په څه خبره خفه دي چې شپې په یوازیتوب کې د وطن د غدارانو څخه پټ د راتلونکی جګړې نقشي جوړوي. کیدای شي چې ما له نوي خبر څخه غلط تعبیر کړی وي او زما اندیښنی غلطې وي څکه خو تاسو ته د سهی ځواب درکولو په خاطر زما ورتګ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته ضروري دي. او زه د دې مسئوليت اخلم چې که کومه نوې خبره راته معلومه شوه يا مې کوم سمدستي خطر احساس کړ نو تاسو ته به خامخا احوال درکوم.

زموږ رضاکاران به کور په کور دروازې وټکوي، خو د قبايلو د مشرانو په باب زما همدا رايه ده چې سمدستي له دې ځايه ولاړ شي او خپل غازيان چمتو کړي. وخت ډېر ګړندی روان دی، د غرناطې دننه دښمنان هر وخت داسې وضعه جوړولی شي چې د غرناطې مجاهدين کور او کلي پرېږدي او په غرونو کې پناه واخلي. اوس زموږ درانه ميلمانه بيله څه خنډ او ستونزو تلای شي، له رضاکارو غازيانو پرته پوخ هم د دوی د ساتنې ذمه واري اخستلی شي. غداران به دوی ته د پورته کتو جرئت هم ونه کړي. خو يوه دوی ورځې وروسته به څه کېږي پردې هيڅوک څه نشي ويلای که زموږ درانه ميلمانه زما له خبرې سره سلاوي نو زه ترې غوښتنه کوم چې سهار ته له خيره روان شي.

د اندراش يوه غرني سردار وويل: صيب!

موږ ټول درسره موافق يو، اوس چې د غرناطې اولس له کومو خطرونو سره مخ دی موږ ته دا نوی نه دی. زموږ د خاينو چاروا کو وروستي پريکړه دا کيدای شي چې ناڅاپي د دښمن لپاره د ښار دروازې خلاصې کړي، خو موږ غواړو پردې وپوهيږو چې که خدای مه کړه زموږ دغه انديښنې او اټکلونه سهي شول نو د پوځ عکس العمل به څه وي؟

يوسف ځواب ورکړ: که د غرناطې اولس دا پريکړه وکړه چې د غلامۍ تر ژوند د شهادت مرګ غوره دی نو د پوځ زياته برخه په هر حال د دوی ملاتړ کوي، او د غرناطې د خلکو مورال به په هغه صورت کې اوچت وي چې قبايل ډګر ته راووزي.

د غرناطې يوه بوډا عالم وويل: په اوسني حالت کې غرني قبايل په هغه صورت کې سر پورته کولی شي چې له دوی سره د بهرني ملاتړ اميد وي، د هغوی استازي له تلو مخکې پردې پوهيدل غواړي چې د جګړې ډيپلولو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کې به تر څه وخته د ترکانو د جنگي بېړيو انتظار کوي؟

يوسف لږ سوچ وکړ بيا يې ځواب ورکړ: زه د خپلو شخصي معلوماتو له مخې په پوره باور ويلای شم چې له ترکانو سره د اسلامي نړۍ په اړه پوره د مسئوليت احساس دی او اندلس د اسلامي نړۍ څخه بيل نه گڼي، خو هغوی پردې هم پوهيږي چې په اندلس کې د اسلام د دښمنانو پرخلاف د کوم اغيزمن گام اوچتولو څخه وړاندې د دوی شا بايد مزبوته او خوندې وي ځکه خو د روم په سمندرگی کې د ايتاليا، جينوا او وينس پر جنگي بيړيو پريکنده گوزارونه ضروري گڼي، تاسو ته معلومه ده چې که د روم په سمندرگی کې د ترکانو جنگي کښتۍ نه وای نو له مصر څخه تر مراکش پورې به يوه اسلامي هيواد هم د ازادۍ ساه نه وه اخستی. زما باور دی چې ترکان او افريقايان به ډير زر د روم په سمندرگی کې دومره ځواکمن شي چې د دښمن هره ساحلي کلا به زموږ د توپونو تر دم لاندې راشي. او بيا به د اندلس مسلمانانو ته د دې ضرورت نه وي چې هغوی ته ورغږ کړي.

زموږ له لورې د خو مسئولو کسانو يو هيأت د روم په سمندرگی کې د ترکانو د سمندري قواو امير ته ورغلی دی، او يو داسې مجاهد د هغوی لارښونه کوي چې حامد بن زهره يې د اندلس په ځنډو پلې کړی او د دښمن دوی جنگي بيړۍ يې ويجاړې کړې وي.

يوه تن وويل: مگر موږ ته خو يې دا ويلي وو چې ډير زر به هغه مجاهد چې له حامد بن زهره سره راغلی ؤ په يوه غونډه کې کوم مهم خبر واوروي!

يوسف ځواب ورکړ: ښاغليو! د دې لپاره چې هغه د اندلس له ځنډو څخه د وتلو فرصت ترلاسه کړي موږ خپلو داخلي او بهرنيو دښمنانو ته داسې ذهنيت ورکړ چې هغه په غرناطه کې چيرته غلی دی، اوس زه تاسو ته دا زيرې اوروم شم چې تيره شپه د ساحل له کومې گوښې څخه هغه په خپله کښتی کې سپور شويدی زه د هغه له خوا تاسو ته دا زيرې هم درکوم چې په کومه ورځ تاسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد اعلان وکړی د هغو نه څو ورځې وروسته به تاسو دا خبر واوری چې د ترکانو جنګی بیړیو په ساحل کی د دښمن په کومه مهمه پوځی تانه ډزی کړی، خو اوس د وطن خلکو ته دا احساس ورکول ستاسو ذمه واری ده چې اولسونه د خپلې بقا او آزادي جګړی د بهرنی ملاتړ په امید نه کوی، دا هغه سپیڅلی فریضه ده چې په هر حالت کی یی باید دوی پوره کړی.

ترکان او د افریقا خلك به خامخا ستاسو مرستی ته رارسیږی خو کاشکی چې ما له تاسو سره له دی ډاډ سره خدای پامانی کولی شوای چې د اولس غداران به ستاسود پښو له تکیه کیدو نه وړاندی دښمن ته دغرناطی دروازی نه خلاصوی، زه اوس له تاسو څخه اجازه غواړم، که په پوځی قرارګاه او یا الحمرا کی کومه نوی خبره راته معلومه شوه نو زه به ستاسو د سمدستی خبرولو هڅه کوم.

بیا یی ولید ته مخ واړاوه ویی ویل: اوس د عزتمندو میلمنو رخصتول ستا په غاړه دی. یوسف زر بهر ته ووت او بیا یی بګۍ ګړندۍ روانه شوه.

*****

له دی پیښو دمخه د یوسف د کور په مخکی د کوتوال مرستیال له یوی نه اتکل کیدونکی پیښی سره مخ شو، هغه له دروازی څخه څو ګامه لری هر تلونکی او راتلونکی ډیر په ځیر څارلو، اوه تنه وسله وال کسان چې دوه کسه یی پر اسونو سپاره وو ده ته نژدی ولاړ وو، او ده پر خپل ګومان یوه ډیره مهمه ذمه واری سرته رسوله.

یوه افسر خپل اس بګۍ ته ورنژدی کړ او ویی ویل:

صیب! دا ځای موږ ته مناسب نه دی، یوسف غوندی سړی باید پردی پوه نه شی چې وسله وال کسان یی پر کور پهره کوی، کوتوال موږ ته لارښونه کړی وه چې هغه ته یوازی د یوسف په کور کی د راغونډو شویو کسانو د لست ضرورت دی او دا کار زموږ جاسوسان کولی شی.

: زه پوهیږم! هغه په بی پروایی ځواب ورکړ، خو کوتوال ته تر اوسه دا خبر نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی رسیدلی چی زموږ لاس ته یو لوی ښکار راتلونکی دی، هغه پردی څوك چی د خبر سره سم نه د غرناطی دی او نه د کومی غرنی قبیلی سردار دی، خامخا د هغو جاسوسانو څخه کوم څوك دی چی له حامد بن زهره سره یوځای دلته راغلی ؤ. ناڅاپه د یوسف د کور څخه د هغه افسر بګی راښکاره شوه چی د قرارګاه د قوماندان پیغام یی راوړی ؤ. خو څرنګه چی د بګی پردې تیتی شوی وی او د کوتوال د مرستیال کسانو دا ونه لیدل چی دننه څوك دی ځکه وراندی ورغلل او ګاډی یی ودروله.

کوچوان په غوسه وویل: ته زما بګی نه شی درولی که د سر خیر غواړی نو له مخی لری شه! که نه نو دا ګستاخی به درته ګرانه پریوزی.

د کوچوان جرئت د نورو خلکو پام وروا ړاوه او د سترګو په رپ کی هلته ډیر کسان راټول شول.

د کوتوال مرستیال له خپلی بګی څخه راکوز شو وړاندی ورغی او ویی ویل: ګوری تاسو شور مه کوی، موږ یوازی دا غواړو چی ووینو د بګی دننه څوك دی؟ بیا یی د دروازی پرده لری کړه دننه یی وکتل، یوځی افسر په درونډ غږ وویل: تاسو دومره بی شرمه شوی چی اوس د پوځ عزت هم درڅخه خوندی نه دی. تا دوه ځله زما د ګاډی د درولو هڅه وکړه.

: صیب! د دی بی ادبی بخښنه غواړو! د بګی پردی لویدلی وی، ځکه مو ونه لیدل چی دننه تاسو یاست! یوځی افسر د هغه خبره بشپړیدو ته پری نښوده او پریزه یی په زوره په سوك ورواهه او په زوره یی وویل: کوچوانه درځه!

کوچوان اسونو ته مترکه ور واچوله د کوتوال د مرستیال ملګری له وارخطایی یوی او بلی خواته شول او بګی د سترګو په رپ کی لری ولاړه.

د کوتوال نایب چی پر خوله یو اوسپنیز سوك وخوړ او وغورځید د خپلو ملګرو په مرسته راپاڅید او زګیروی یی کاوه. یو تن له اس څخه پلی شو د هغه خوله یی په دسمال پاکوله ویی ویل: صیب! که ستاسو امر وی چی ورپسی ورشو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نائب کوتوال په شرمیدلی لهجه وویل: اوس ټوکی مه کوی!

بیا یی خپلی جامی له خاورو وڅنډلی او ګاډی‌ته ور وخوت ویی ویل: کوچوانه د کوتوال په لور درځه! یو سپاهی ور وړاندی شو ویی ویل:

صیب! زموږ لپاره څه حکم دی؟

: تاسو هم زما له مخی نه ورك شی!

د سترګو په رپ کی د هغه بګی‌له هوا سره خبری کولی، او نیم ساعت وروسته یی د کوتوال په مخکی فریاد کاوه، د هغه دی ته هم پام نه شو چی دوه تنه نور هم ناست دی. ده وویل:

صیب! اوس اوبه له سره اوښتی دی، هغه د کلا د ساتونکی خاص سړی و، له یوسف سره یی ولیدل او بیرته راروان ؤ، زما پزه یی ماته کړه.

کوتوال په ډاډ ځواب ورکړ: زه دی وینم، ستا د خپل مظلومیت د ښودلو لپاره دی ته اړتیا نشته چی خپلی په وینو ککړی جامی دی راوړی، خو زه دا پوښتنه درنه کوم چی تا په لویه لاره کی د پوځ له یوه افسر سره ولی د جنجال هڅه وکړه؟ او دا ګومان دی ولی کاوه چی د خلکو په زړونو کی د پوځ احترام پای ته رسیدلی دی؟

: صیب! ما له هغه سره د جنجال هڅه نه ده کړی، ما یوازی د بګی‌ړدننه سر ورلری کړ.

کوتوال وویل: امکان لری هغه ته زما د مرستیال پرځای کوم عادی سړی بللی وی!

: صیب! هغه ما ډیر ښه پیژنی، کله چی هغه د یوسف کورته تلو ما ودرواه او څو خبری می هم ورسره وکړی، هغه وخت هغه هیڅ په غوسه نه شو.

: ستـا مطلب دا دی چی تا د پوځ یو افسـر دوهم ځلی درولی دی، په دی صورت کی که هغه ستا ټول غاښونه مات کړی وای هم زه به حیران نه وم.

: ښاغلیه! دوهم ځلی چی کله سپاهیانو د ده د ګاډی درولو هڅه وکړه د ګاډی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردی غورځېدلی وی. او هغوی ته دا نه ښکاریده چی دننه څوك دی؟
: زه د پوځ خلکو ته دا حکم نه شم کولی چی له بګیو نه دی پردی لری کوی چی ستا پاتی غابنونه روغ پاتی شی.
: ښاغلیه! ماته دا معلومه وه چی د یوسف په کور کی د قبایلو مشران راغونډېږی.
: او ته پخپله هلته ورغلی او پهره دی پری کوله؟
: نه صیب! زما د ځنك کیدو سبب دا و چی د ګزمی په وخت کی ماته خبر راغی چی یو نا آشنا د یوه با نفوذه سړی له کوره په بګی کی سپور شو او له هغه وروسته په همغه بڼه او جامه یو ناپیژندوی زموږ جاسوسانو لیدلی ؤ چی د یوسف کورته ورغلی ؤ، بیا ما څو کسان هغه کور ته واستول او پخپله د یوسف د کور په لور ولاړم. زما په ګومان دا د هماغو جاسوسانو څخه یو دی چی موږ یی له څو ورځو را په دی خوا په لټه کی یو، د کور د خاوند زوی تر بګی پوری ورسره راغلی ؤ او د هغه په باب زه په ډاډ سره ویلای شم چی حکومت یی بدایسی.
کوتوال جدی شو ویی ویل: اوس په پوره ډاډ ماته ټول جریان واوروه!
کله چی مرستیال ټولی پیښی په تفصیل سره ورته ور اوږولی نو کوتوال وویل: اوس ته ورځه او د یوسف دکور پر ځای د عبید الله کورته زیات پام کوه، په هر صورت موږ له ښه ډاډ پرته څه اقدام نشو کولی خو که د هغه د هستوګنی ځای معلوم شی موږ یی هر وخت نیولی شو. د یوسف د کور په شاوخوا کی له چا سره ته باید څه جنجال ونه کړی،په هغه بل ځای کی هم ستا مسئولیت تر اوسه پوری یوازی د سهی معلوماتو ټولول دی.
د کوتوال مرستیال نورو کسانو ته په فاتحانه انداز وکتل او له کوټی څخه ووت.
دوی دقیقی وروسته د کوتوال نوکر کوټی ته ورننوت له سلام وروسته یی یو لیك ور وړاندی کړ، کوتوال چی لیك پرانیست د عتبه لیك یی وپیژاند هغه لیکلی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو:

زه د یو له باور نه اوچت خبر په اوریدو له سینتهافی څخه خپل کور ته راغلم، د شپې زما په غیر حاضری کی څو کسانو چې اسونو د پښو نخښنی یې غرناطی ته تللی دی زما په کور حمله کړی وه او زما باور دی چې دغه خلك له سعید سره راغلی وو.

ته پوهیږی چې زه دوی ورځی ښار ته نشم ننوتلی ځکه خو ته د سعید د هستوګنی ځای معلوم کړه، دا هم کیدای شي چې هغه ښار ته له ننوتلو څخه ویریدلی وی او خپل کلی خواته تللی وی، زه به د اندلس تر وروستی څنډې په هغه پسی ورشم. که ته ماسپښین مهال د لویدیځی دروازی څخه بهر کوم دوه میله لری د سینتهافی په سرك زما انتظار وکړی زموږ د لیدو امکان دی، امکان لری تر هغه وخته ماته نور معلومات هم په لاس راشی.

کوتوال په غوسه شو ویی ویل: دا لیك چا او څه وخت راوړی دی؟

: صیب! هغه ماسپښین مهال راغلی ؤ.

· او تاسو ماښام ماته دا لیك راکوی!

: صیب! زه دری ځلی دلته راغلم خو هر ځل دا راته وویل شول چې تاسو له دفتر څخه بهر په کوم مهم کار مصروف یاست.

: احمقه! تا دا لیك کوم مسئول افسر ته ولی نه سپاره؟ زه به څرمن درنه وباسم.

: صیب! استازی تینګار کاوه چې زه دا لیك له تا پرته بل چاته ور نه کړم.

کوتوال وویل: ته همدا اوس کورته ولاړ شه او که له کوم ځایه کوم بل احوال راغلی ؤ ماته سمدستی خبر راکړه.

نوکر وویل: صیب! ته نن ډوډۍ ته هم کور ته را نه غلی، باداره صاحبه ډیره اندیښمنه وه!

: هغی ته ووایه چې زه ډیر مصروف یم اوس وځه!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف له بګۍ څخه راکوز شو د قوماندان د هستوګنې ځای ته یې مخه کړه، ناڅاپه یو ځوان ګړندی مخې ته ورته راغی او ویې ویل: صیب! قوماندان شاهي ماڼۍ ته تللی دی او دا پیغام یې تاسو ته پرېښی چې سیده لویې ملکې ته تشریف یوسی.

یوسف په بیړه راوګرځېد او په بګۍ کې سپور شو. څو دقیقې وروسته هغه د محل په یوه کوټه کې د خپل خسر او د الحمرا د ناظم په مخکې ولاړ و. بوډا سړي چې دی ولید ویې ویل:

زویه! ته ډېر ناوخته شوی، لویې ملکې دی څو ځله پوښتنه وکړه، دلته ته زما د لټون پرځای باید نیغ د هغې لیدو ته ورغلی وای.

یوسف وویل: خو زه غوارم پردې ځان وپوهوم چې هغې زه د څه لپاره ورغوښتی یم! د کلا ساتونکي هم دا پیغام را استولی ؤ خو هغه هم په خپل ځای نه ؤ.

: هغه دلته دی او په څه کار ډېر مصروف دی.اوس ته نور ډېر وخت مه تیروه، ملکې ته ورشه تا ته به د هرې پوښتنې ځواب په لاس درشي، زه یوازې دا مشوره درکول غوارم چې هغه تا خپل زوی ګڼي او د هغې له تا څخه دا تمه ده چې د مصیبت په وخت کې به د دوی ملګرتیا نه پرېږدې اوس ورځه! په لاره کې به خواجه سرا درته په انتظار وي.

د لویې ملکې تر ټولو لوی مصیبت د هغې زوی دی زه د ابو الحسن د کونډې هر خدمت ته چمتو یم خو د ابو عبدالله د مور خوشحالول زما له وسله وتلې خبره ده.

یوسف دا وویل او له کوټې ووت

لږ ځنډ وروسته هغه د محل د خواجه سرا په لارښونه یوې لویې کوټې ته ننوت، د ابو عبدالله مور چې په مراوې څېره کې یې د اندلس د تاریخ د وروستي باب سرلیك کښل شوی و په دالان کې ناسته وه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف به ادب سلام پرې واچاوه او له دې نه خوګامه لرې ودرېد، ملکې خو شیبې په چوبه خوله هغه ته کتل، بیا یې په لاس اشاره وکړه او هغه بیا وراندې ورغی پر یوه کرسۍ کیناست.

ملکې له لږ ځنډ وروسته ووېل:

د خدای «ج» شکر دی چې ته راغلې! کله چې د انسان وروستي وخت راشي نو هیله لري چې د هغه خپل خپني دوستان نږدې ورته ناست وي، خو ستا د لیدو لپاره زه په خو نورو سببونو ناکراره وم. سهار ما غوښتل د الحمرا د ناظم په لاس یو احوال در واستوم، خو دا داسې معامله وه چې د هغه نیغ په نیغه له تا سره د خبرو حوصله نه وه، او ما د خسر او زوم د اړیکو نزاکت احساس کړ دلته مې ستا د راغوښتلو اړتیا حس کړه، خو ته په کور کې نه وې او میرمنې ته دې معلومه نه وه چې چیرته یې.

اوس زه د ابو عبدالله د مور په حیث نه بلکې د سلطان ابو الحسن د ملکې په حیث خو خبرې درسره کوم. یوسف بوډۍ ملکې ته وکتل او بیا یې د اوښکو پردې د لیدو په مخه کې وغوړېدې.

: زویه! ملکې په ژړه غوني غږ زیاته کړه: که ماته ستا د مصروفیتونو لږ او ډېر معلومات نه وای، هم زه پردې بوهیدم چې په دې ورځو کې به ستا په زړه کې څه تیرېږي.

ما په زړه کې ستا لپاره دعاګانې کولې، اوله دې ټولو مایوسیو سره مې زړه ته دا ډوکه ورکوله چې ښایي ډوبېدونکې کښتۍ کله له کوم ساحل سره ولګیږي.

خو اوس زه غواړم تاته ووایم چې موږ ته له الحمرا څخه د وتلو لپاره بوازې دوې ورځې مهلت راکړل شوی دی، او دریم سهار به هغه لمر چې اته پیړۍ پخوا یې د اسلام غازیان لیدل چې په جبل الطارق یې پښه کیښوده د اندلس وروستي پاچا په داسې حال کې وینې چې له غرناطې څخه رخصتیږي او بیا ښایي په دې ځمکه د تل لپاره زموږ پخوانۍ کنډ والې یر هغه مور لعنتونه ووایي چې ابو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله یی زیږولی و.

یوسفه! زه څومره بدنصیبه یم!

ملکی ډیری په زحمت خپلی سلګۍ را ایساری کړی او د یوسف هم دا همت نه ؤ چی دی ته یی کتلی وای. هغه سر ځوړند اچولی ؤ د هغو ورځو تصور یی کاوه چی د ابو الحسن ملکه به د کلا په برج کی ولاړه وه جهاد ته پر تلونکو او بریالی بیرته راستنیدونکو به یی ګلونه ورشیندل. ملکی د ځان راقابوکولو هڅه وکړه ویی ویل:

زموږ له روانیدو څخه به لږ ځنډ وروسته د دښمن پوځ غرناطی ته ننوزی، موږ ته یی د خپلو شخصی خدمتګارانو څخه پرته د پوځ د پنځه زره تنو د بیولو اجازه راکړی ده، خو... ملکی بیا یو کاغذ اوچت کړ یوسف ته یی ورکړ او بیا یی څو شیبی وروسته وویل: دا د هغو پنځوس کسانو لست دی چی د هغوی په باب دا شرط ایښودل شوی دی چی په دوی کی کوم کسان که له موږ سره تلل غواړی دوی باید زموږ له تلو څخه لږ تر لږه دوی ورځی باید دلته پاتی شی، په دی کی د کلا د ساتونکی نه علاوه ته خپل نوم هم لوستی شی.

ابو القاسم سهار له ابو عبدالله سره لیدلی دی او هغه یی پر دی قانع کړی دی چی د غرناطی د پوځ او اولس د آرام ساتلو لپاره ضروری ده چی دغه د نفوذ خاوندان همدلته پاتی وی. خو له هغه وروسته چی کله سلطان له ما سره ولیدل نو ماته پردی پوهیدل ګران نه وو چی ابو القاسم دغه پنځوس کسه چی زیاتره یی د پوځ پخوانی افسران دی د ځان لپاره څومره خطرناك بولی، او کله چی د دښمن پوځ پر غرناطه قبضه وکړی نو له دوی سره به څه وړ سلوك کوی.

ځکه خو زما په ټینګار ابو عبدالله له خپل وزیر سره بیا وکتل زه په دی ملاقات کی موجود*وم، هغه ډیری پلمی او دلیلونه راوړل، خو زما دی ګوابښ کار وکړ چی که تا د دوی له خوښی پرته دلته د یو تن د پاتی کیدو هڅه وکړه نو زه به دا مسئله پوځ ته وراندی کړم، او تاته به له دی ځایه د تلو له اجازی څخه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخه هغه پنځوس کسان هم خبر کړای شي چې دغاړې لپاره غړوندي ورته تياريږي.

بيا ابو القاسم دا ووېل چې دا هسې يو احتياط و که تا له دې ښځه کومه بله نتيجه اخستې وي نو زه دا وراندېز بيرته اخلم.

هغه زموږ دا غوښتنه هم منلې ده چې د لښکر ښځه هغه پنځه زره تنه چې له موږ سره درومې موږ به يې غوره کوو، پردې سربيره کوم کسان چې غرناطه پرېږدي او غواړي کوم بل ځاى ته ولاړ شي له هغوی سره به هم هيڅوك څه تيرى نه کوي.

زما دا اميد نشته چې.ته به له ابو عبدالله سره اوسيدل خوښ کړې خو دا ضرور وايم چې ته بايد په غرناطه کې پاتې نشي. زه پوهيږم چې ته به تر ورووستې مهاله ماته ونه منې. خو يو سپاهي بايد د توری له پورته کولو ښځه دمخه بايد په پښو ودريږي. په اوسنې حالت کې چې د ابو القاسم پلويان د دښمن لومړنى د حملې ګروپ جوړ شوي دی ستا د مقاومت يوازينی نتيجه دا کيداى شي چې له دښمن سره د تکر نه پخوا بايد د خپلمنځي جګړې خطر قبول کړې.

بيا کله چې د فرديناند لښکر د توری په زور ښار ته ننوزي نو دلته به د مالقه او الحمه تاريخ په څو چنده تريخ او دروند تکرار شي. که زما په مخکې دا خطرونه نه واى نو ما به تيره شپه له خپل زوی سره د ابو القاسم د خبرو اوريدو وروسته هغه ضرور وژلی واى.

يوسفه! ستا پردې پوهول ضروري نه بولم چې د اولس د لونو به څه حالت شي؟ زه پوهيدم چې د اولس مشران د قبايلي مشرانو سره سلا مشوري کوي او ماته دا خبر هم را رسيدلی دی چې کله د کلا د ساتونکې ايلچي تاته ذرغلی ؤ هغوی ستا په کور کې راټوليدل خو اوس هغوی ته د دې ويلو ضرورت دی چې تاسو بايد د توپان له راتلو ښځه دمخه له دې ځايه ووزی، اوس د آزادی د جګړې لپاره بايد تاسو غرناطی ښځه لرې نوی مورچلونه جوړ کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوسف ځواب ورکړ: ما دا خبره احساسوله او ما هغه مشرانو ته همدا مشوره ورکړه او راغلم چې هغوی دې سهار له غرناطې څخه وخوځېږي.

ملکې وویل:

سبا ته به د پوځ څو ډلگې او زموږ د خدمتکارانو د کورنیو څو قافلې له دې ځایه روانېږي او د ناظم هیله ده چې د ده د کور له نورو غړو سره ستا میرمن هم روانه شي. که ستا اجازه وي نو چې کور ته ولاړ شي هغې ته د تیاریدو لارښونه وکړه.

ته خپلو ملگریو ته هم احوال واستوه هغوی که سبا ته نه وي بله ورځ له بلې قافلې سره تلای شي، ته که مناسبه بولې دوی ورځې ایسار شه که نه له دوی سره یوځای روان شه.

یوسف وویل: په داسې حالاتو کې ماته له دې پرته بله چاره نشته چې میرمن مې له قافلې سره واستوم. او د ځینو ملگریو په اړه هم زه دا ضروري بولم چې هغوی باید سملستي له دې ځایه ځانونه وکاږي، که هغوی ما په څه سبب د شپې روان نکړای شول نو سهار به له قافلې سره روان شي، د ځان په اړه به زه له څو دوستانو سره له مشورې وروسته څه پریکړه وکړم. زه هغوی ته داسې احساس نه ورکوم چې زه له خطره تښتیدم. اوس ماته اجازه راکړه.

: ودریږه! ملکې لاسونه وپړکول.

د بلې کوټې نه یوه وینځه راووتله دې ورته وویل:

د یوسف میرمن دننه راواستوه؟

څو شیبې وروسته د یوسف میرمن دننه ورننوته او چې د خپل میړه مخ ته یې وکتل اوښکې یې په سترگو کې ډنډ شوې.

د ابو اعبدالله مور وویل: لورې! ستا اوښکې د غرناطې تقدیر نشي بدلولی، ته اوس کورته ولاړه شه او د سفر تیاری ونیسه، تاته د یوسف په اړه د دومره اندیښنې ضرورت نه و.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: مگر ... هغې په ژړه غونې آواز وویل:
که هغه دلته د پاتې کیدلو پریکړه کړې وي نو زه دې نشم پریښودلای.
: لوري زه د دې ذمه واري اخلم چې یوسف به دلته نه پاتې کیږي ما له ده سره خبرې کړې دي، د هغه پردې پوهول ضروري نه دي چې دوی ورځې وروسته به دلته اوسیدل څومره گران وي، ته دې اوس زر کورته ځان رسوه یوسف به تر لږ ځنډه همدلته پاتې شي.

وفاداري میرمن د اجازې په دود یوسف ته وکتل هغه وویل:
معلومه نه ده چې زه به دلته څومره پاتې شم ته ولاړه شه. ما په کور کې ولید او څو تنه نور کښینولي دي، هغوی ته دا ووایه چې تر لږ ځنډه زما انتظار وکړي.
د یوسف میرمن ور وړاندې شوه د ملکې لاس یې ښکل کړل او بیا یې په هیله من نظر خپل میړه ته وکتل او له کوټې څخه ووته.
ملکې یوسف ته وویل: ما چې ته د کوم کار لپاره ایسار کړې یې هغه په پوځ پورې اړه لري، د کلا ساتونکې زموږ سره په تللو راضي دي او د پوځ څو تنه افسران د هغوی د لست په جوړولو بوخت دي چې موږ یې له ځان سره بیایو، هغوی په دې اړه ستا مشورې ضروري بولي.
یوسف ځواب ورکړ: زه به ستا حکم عملي کړم، خو که پوځ ته دا پریکړه معلومه شوې وي نو دهغوی پردې پوهولو ته ضرورت نشته چې د کوم هیواد پاچاهي پای ته ورسیږي نو پوځ یې هم شړیږي. اوس زه په کومه خوله دوی ته څه مشوره ورکړم؟
ملکې ځواب ورکړ: زه یوازې دا غواړم کوم خلك چې په خپله خوښه زموږ ملگرتیا کوي د هغوی په غوره کولو کې باید ډیر پام وشي، لږ تر لږه په افسرانو کې باید داسې څوك نه وي چې پر هغوی د فردیناند د جاسوسۍ گومان کیدای شي. زه په دې پوهیږم چې زموږ ملاتړ کوونکي به زیاتره هغه خلك وي چې کور او کورنۍ یې له غرناطې څخه بهر دي او مقامي خلك خو به پخوا له دې چې د ابو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله په خاطر جلا وطنه شي سل ځله به سوچ کوي. خو زه دا ضروري بولم چې ته د پوځ کومو لويو افسرانو چې هغوی ته سملستي خطر احساسوي د هغوی نومونه بايد د غرناطې د پرېښودونکو په لست کې شامل کړای شي.

که زما سره دا احساس نه وای چې زموږ نه وروسته به ډېر خلك له غرناطې څخه بهر د پناه اخستلو په هڅو مجبور شي نو ما به له ځانه د پنځو زرو تنو د بيولو غوښتنه نه کوله.

هغه سيمه چې دېښمن زما زوی ته په نظر کې نيولې د هغې د اداري لپاره پنځه سوه تنه هم بس دي، او زه د خپل زوی د ټولې خوشباورۍ او ځان تير ايستلو سره سره پردې پوهېږم چې زموږ هستوګنه به عارضي وي، د ټوپان يوه بله څپه به موږ د اندلس څخه پورته کړي او د افريقا ځنډو ته به مو ورسوي له هغې وروسته که خدای «ج» د دې بد نصيبه اولس فرياد واورېد نو امکان لري چې يوه نه يوه ورځ به غرنی قبايل د بهرني کوم کومك په اميد راپاڅي او هغوی به ستا د ملګرو څخه کوم لاربنود پيدا کړي.

يوسفه ! زه پخپله هم د سلطان ابو الحسن د کوم نوميالي سالار په مخکې د دې خبرې جرئت نشم کولی چې اوس دې د فرديناند د يوه وړوکي باج ورکوونکي خدمتګاري ومنې.

زما وروستی هڅه دا ده چې پرکومو غازيانو، دغه بدمرغه اولس خپله راتلونکې تړلې شي هغوی بايد په غرناطه کې پاتې نشي. اوس ورځه! هغوی ستا انتظار کوي او زه د دې خبرې مسئوليت اخلم چې ابو عبدالله به ستا په کار کې څه لاسوهنه نه کوي.

لږ ځنډ وروسته يوسف پر خپل زړه له يوه له زغم څخه اوچت بار سره د دوو وسله والو کسانو په لاربنوونه د الحمرا د هغې کوټې په لوري روان ؤ چې هلته د کلا قوماندان او د هغه ملګري راټول وو. بيا هم د سلمان، سعيد، عاتکې او منصور له غرناطې څخه زر تر زره دوتلو په اړه دده ناکراري يو څه کمه شوې وه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ترورمی مسافر

د یوسف له روانیدو څخه لږ څنډ وروسته د سمندري قواو پنځه تنه پخواني افسران د هغه کورته راورسیدل او نژدې تر یوه ساعت پورې یې له سلمان او عبدالملك سره د خپل سفر په باب ضروري خبرې پای ته ورسولې. اوس دوی له الحمرا څخه د یوسف د راستنیدو په انتظار وو.

ناڅاپه عبدالمنان او جمیل ویریدلې کوټې ته ورننوتل، او عبدالمنان ساه نیولې سلمان ته وویل: د خدای «ج» احسان دی چې ته بیرته نه وې ستون شوی، د عبید الله د کور په شاوخوا کې د حکومت خلك پهره کوي.

سلمان په وارخطایې جګ شو وېې ویل: هغوی ته د سعید په باب معلومات شوي دي؟

عبدالمنان ځواب ورکړ: نه! سعید ته څه خطر نشته، پولیس ستا په بنه او څیره د چا لټون کوي، زما باور دی چې د حکومت کوم جاسوس ته له ابو الحسن سره لیدلی یې چې د دوی له کوره راوتلی یې او درپسې شوی دی. پولیسو ته ستا نه پرته د هغه کوچوان بنه او څیره هم معلومه ده چې ته ورسره سپور شوی وې.

ولید پوښتنه وکړه: تاته چا وویل.

: ماته د پولیسو یو افسر وویل چې د خپلو نورو یو شمیر ملګرو په څیر پټ زموږ سره ملګری دی. هغه له پخوا څخه د ابو الحسن د مشر ورور دوست و او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د کور ترڅنګ اوسېږي، هغه ماته دا وویل چې د کوتوال نایب ته د ابو الحسن له کوره د وتلي پردي په باب دوه خبرونه ورغلي دي، لومړی دا چې هغه په سرك جومات ته نژدې په بګۍ کې سپور شوی ؤ، او دوهم دا چې هغه له بګۍ څخه پلي شو د یوسف کورته ننوت. هلته دښار ځینې خلك او قبایلي مشران راغونډیدل.

د کوتوال مرستیـال په ښار کې د ګزمې په وخت کې دا معلومات ترلاسه کړي وو اوبیا پخپله هسالته ورغلی ؤ.هلته دی له یوې نه اتکل کیـدونکې پیښې سره مخ شـو،هغه دکـوم پوځي افسـرګـاډي درولی وه او غوښتل یې تلاشي یې واخلي چې...

سلمان وارخطا شو ويې ویل: ته د ټولې کیسې اورولو ته پرته په دوو جملو کې نشې ویلای چې اوس وضعه څه ډول ده؟

عبدالمنان ځواب ورکړ: صیب! اوس وضعه داسې ده چې د پولیسو اته، لس تنه د عبیـد الله د کور په شـاوخوا کې په ساده جامو کې پهرې کـوي، او هغوی په کوڅه کې له هر چا څخه چې تیرېږي د یوه نا آشنا سړي په اړه پوښتنه کوي. هغه دوست چې ماته یې دا خبر راکړ د کوتوال او د هغـه د مرستیال خبرې اوریدلې دي هغه دا اندیښنه ښکاروله چې د هغوی په کوم سړي د ترکانو د جاسوس شك دی. زه ویریدم چې تاسو بیـرته هلتـه نه وی راستـون شوی. ځکه مې جمـیل او نور ملګري خبر کړل او بیا مې ستا د دفاع لپاره د ځو رضاکارانو له استولو وروسته زه له جمیل سره د ولید دوی کورته ورغلم خو د ولید پلار ته دمخه د پولیسو د تګ راتګ او ګزمې احوال رسیدلی ؤ. هغـه د احتیـاط لپاره سـعید او د هغـه ملګري خپل کورته ورسره بیولي وو. بیا چې ما کله هغـه ته دا وویل چې پولیس سعیـد نه بلکې ستـاسـو په نیولو او لټون پسې راوتلي دي نو هغه په بیړه خپله بګۍ تیاره کړه او موږ ته یې دلته د راتلو حکم وکړ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


سلمان وپوښتل : د پولیسو کوم چا له ابو الحسن سره هم خبره کړی ده؟

: نه ! تر اوسه پولیسو د عبید الله د کور دروازې ټکولو جرئت نه دی کړی، او د نورو خلکو په څیر ابو الحسن هم د ولید د پلار کورته راغلی دی. هغوی ټولو تینګار کاوه چې ته بیله ځنډه له غرناطې څخه ووزه او پر لاره په کوم خوندي ځای کې غلی شه او د خپلو ملګرو د راتلو انتظار کوه، هغوی چې مناسب فرصت پیدا کړي تاته به ځان دررسوي.

ما په لاره کې دا بندوبست کړی او راغلی یم چې څو سپاره د ښار له دروازې څخه بهر ځانونه ورسوي، هغوی به تر یوه پړاوه ستا سره ملګري وي او له دې تسلي وروسته به راستنیږي چې د غرنیو قبیلو کوم مشر ستا د ساتنې لپاره مناسب بندوبست وکړي، ماتاته اس رانه وستلای شو، خو اوس له دې ځایه تاته یو ښه اس برابریدای شي عثمان یا د دې کور کوم بل نوکر به یې د ښار نه بهر ورسوي. موږ به تا په بګیږه کې بوزو.

د څو شیبو لپاره د سلمان د پریکړې قوت ځواب ورکړ، هغه د اندیښنې په حالت کې کله عبدالمنان او کله نورو خلکو ته کتل.

عبدالمنان له خپل جیبه یو کاغذ راویوست او سلمان ته یې وړاندې کړ ویې ویل:

وبخښئ! ما د اندیښنې په وجه دا لیک تاته درونه ښودلای شو. سلمان کاغذ پرانست ویې لوست، د بدریې یو لنډ پیغام ؤ او د کرووړو لیکونه معلومیده چې دغه څو کرښې یې په ډیره بیړه لیکلي:

د ترووږمې مسافره!

که زه تاته د څه ویلو حق لرم نو زما ږومبی او وروستی هیله دا ده چې تاسو د ماما جان خبره ومنئ! او زما باور دی چې په دې مسئله کې سعید او یوسف کاکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم له ماما سره همنظره دی چې ته بایډ بی له ځنډه نور له غرناطې څخه ووزې.

تاته خدای پامان وېل ماته په هر حالت کې ډېر گران دی، خو که خدای مه کړه ته غدارانو ونیولی نو دا به یوازی زما لپاره نه بلکې د سعید او عاتکې لپاره هم له زغم نه وتلې صدمه وی. د خدای لپاره زما خبره ومنه!

په دی دنیا کې خو داسې څوك هم باید وی چې له سترگو ډېر لری وی هم د ژوند یوه هیله پرې تړلې وی. کـه وخت اجـازه راکـولای نو زمـا دا لیك به ډېر اوږدوای خو په هر حال... ستا دوستانو ته بگۍ تیاره ده، ماما جان مـاته ناری وهی او زه به تل تاته ناری وهم، خدای دی مل شه سلمانه!

«بدریه»

سلمـان تر لږ ځنډه پردی گډو وډو کرېښـو د اوښکو هغـو وچـو شـویو څاڅکو ته کتل بیا یې ژوره ساه واخسته او لیك یې ولید ته ور اوږد کړ.

ولید د لیك له لوستلو وروسته بیرته هغه ته ورکړ ویې وېل: زه له بدریې سره همنظره یم، خو یوسف کاکا تر اوسه بیرته نه دی راگرځـېدلی او مـوږ د هغـه له مشوری پرته هیڅ گام نشو اخستی. له بده مرغـه دا وخت داسې دی چې مـوږ په آسانی سره په الحمرا کې هغه ته احوال هم نشو استولی

په همدی کې دوی بهر د بگۍ د عرابو غږ واورید، سلمـان ووېل: لکه چې هغـه راغی!

تولو دروازی لوری ته وکتل او ولید جگ شو له کوټې څخه ووت.

بگۍ ودریده او څو شیبې وروسته د ولید او د یوسف د میرمنې د خبرو اترو غږ اوچت شو:

کاکا جان درسره رانه غی؟

: نه! هغـه اوس د یوه ضروری کـار لپـاره په الحمرا کې پاتې دی او بنـایی تر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه پاتی شی، خو د عزتمندو میلمنو لپاره هغه دا پیغام را استولی دی چی د ده انتظار وکړی.

: کاکا ناویی! ته یو څه اندیښمنه ښکاری! هغه ته خو به هلته څه خطر نه وی؟

: نه! هغی په غمجنه لهجه وویل: لږ تر لږه تر دوو نورو ورځو پوری هغه ته خطر نشته.

: دوی ورځی! د ولید غږ په ستونی کی خپ شو او سلمان او نور ملګری یی د پریشانی په حالت کی له کوټی څخه برنډی ته ور ووتل.

د یوسف میرمن هغه ولید ور وړاندی شوه او په لړزیدلی غږ یی وویل:

ما باید د خپل خاوند میلمانه پریشانه کړی نه وای، خو دا داسی خبره ده چی زړه می غواړی د خپل کور پر بام وخیژم او چیغی کړم چی: د غرناطی د برخلیک پریکړه شوی ده. دوی ورځی وروسته به سلطان ابو عبدالله الحمرا پریږدی او له هغی وروسته به د دښمن پوځونه غرناطی ته ننوزی، زما میړه په دی وضعه کی هم د څه معجزی منتظر ؤ، خو اوس ښایی د معجزو وخت تیر شوی وی.

هغه اوښکی پاکولی او د کور د پاسنی پوړ د زینو په لوری ولاړه، سلمان او ملګری یی تر څه ځنده حیران دریان ولاړ وو او یو بل ته یی کتل. بالاخره ولید وړاندی ورغی او خپلی سلګی یی ایساری کړی ویی ویل:

: تاسو دننه تشریف یوسی! زه به الحمرا ته ورشم او د دی احوال د ور رسولو هڅه به وکړم. خو په دی ځنډ کی د سلمان د دفاع شعور پوره راویښ شوی ؤ، هغه په یوه پریکنده لهجه وویل:

نه! که هغه په الحمرا کی په خپله رضا پاتی وی نو ددی یوازی یو مطلب کیدای شی چی هغه د کومی مهمی ذمه واری سره مخ شویدی. لږ تر لږه به زه په داسی وخت کی دی د خپلو ذمه واریو په ترسره کولو کی پریشانه نکړم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالملك وویل: زما هم همدا مشوره ده، چې په دې وضعه کې ته باید نور یوه شیبه وخت هم ضایع نه کړې، کله چې راشي نو موږ به ورته ووایو چې له غرناطې څخه ستا وتل ضروري وو. امکان لري له هغه سره تر خبرو وروسته موږ په تا پسې درشو که نه نو سبا ته خو به خامخا در پسې روان شو.

سلمان ولید ته وویل:

ولیده ته که له بي بي څخه اجازه واخلې زما د هغې له بګۍ پرته څلور د سپارلۍ اسونه هم په کار دي. بګۍ به بهر له سرك څخه بیرته راشي او بیا به یې اسونه هم وروسته بیرته ورته راواستوو.

ولید ځواب ورکړ: د بي بي د اجازې ضرورت نشته، زما سره د دې پوره صلاحیت دی چې ستا څه شي ته ضرورت وي هغه درته وسپارم، زه همدا اوس اسونه تیاروم او ولید له کوټې څخه بهر ته ووت.

سلمان جمیل ته وویل: ته بهر ته ورشه معلومات وکړه چې که شاوخوا رضاکار وي څلور تنه ترې راوغواړه هغوی به هغه فالتو اسونه بهر ته ورسره بوزي.

نباغلیه! د دې سیمې سربندونکو ته لاربښونه شوې ده چې تر څو د یوسف هدایت نه وي له خپلو ځایونو څخه باید لرې نه شي زه به یې همدا اوس راوغواړم.

جمیل دا وویل: او بهر ته ووت.

عبدالمنان چې تر اوسه پورې چوپ ولاړ ؤ سلمان ته یې وویل: نباغلیه ماته څه امر کوې؟

سلمان وراندې ورغی په سینه یې د هغه پر مټ لاس کیښود ویې ویل: دوستانو ته څوك امر نه کوي غوښتنه ترې کوي، او ته یو داسې دوست یې چې د غوښتنې ضرورت هم درته نشته، ته له ما سره بهر راځه!

بیا یې نورو کسانو ته وویل: تاسو دننه کښینئ زه له تاسو څخه له خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پامانې پرته نه ځم.

*****

لږ ځنډ وروسته سلمان له درشل څخه راووت عبدالمنان ته یې وویل: عثمان له تا سره راغلی ؤ؟

: هوکې! هغه د ابو نصر د کوچوان سره ناست دی.

سلمان وویل: دا عجیبه خبره ده چې کله ماته د یوه هوښیار ملګري اړتیا احساس شي نو دغه زلمی هلك را ورسیږي.

: عثمان ته تر دې لوی انعام څه کیدای شي چې تاسو یې یو با کماله هلك بولې.

هغه داسې ګڼي چې ته به یې درسره بیایې او ما وعده هم ورکړې وه د هغه د سمندر او بیړیو له لیدو سره ډیره مینه ده.

: تا د ځان په باب څه فکر کړی دی؟

عبدالمنان ځواب ورکړ: کله چې محشر جوړ شي نو ما غوندې خلك پوازې لیدای شي فکر نشي کولی.

که ما ستا د ارادو او عزایمو ملګرتیا کولای شوای نو ځواب مې باید همدا وای چې زه هم ستا سره تلل غوارم خو د غرناطې له سقوط سره به زما ارادې او هدفونه هم ختم شي او زه به یوازې د ژوند د ساه ګانو پوره کولو لپاره ژوندی یم.

سلمان وویل: په هر صورت تاته د فکر کولو څه وخت شته که دې په خیالونو کې څه بدلون راغی نو یوسف به تاته په ساحل کې هغه ځای در وښیې چې زما کښتۍ به هلته نژدې چیرته لنګر اچولی وي. او په هغه کښتۍ کې به ستا لپاره ډیر ځای وي.

دوی په خبرو کې طبیلې ته نژدې ورسیدل هلته نوکران پر اسونو د زینونو په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلو بوخت وو، ولید بهر ولاړ ؤ هغه سلمان ته وکتل وئی ویل:

: صیب! اسونه به اوس چمتو شی او ترڅو دقیقو پوری به رضاکاران هم دلته راورسیږی.

ولیده! تا دا پوښتنه ونه کړه چی زه فالتو اسونه د څه لپاره بیایم؟

: صیب! ماته د پوښتنی ضرورت نشته. زه پوهیږم چی ته د سعید او د هغه د ملګرو څخه پرته نشی تلای خو پردی می سر نه خلاصیږی چی زموږ د بګی پر موجودیت برسیره ته بله بګی ولی درسره بیایی؟

: تاته به دا هم معلومه شی ته اوس ورځه! د یوسف له وسلتون څخه دوی لیندی غشی، دوی تومانچی او باروت درسره راوړه.

ولید وویل: ښاغلیه! ته که زموږ کره روان یی نو هلته هم پوره وسله موجوده ده.

:زه یوازی احتیاط کوم، کیدای شی موږ ته ستاسو تر کوره ددی ضرورت شی.

سلمان څو ګامه وړاندی ورغی او عثمان ته یی ناری کړی، هغه له بګۍ نه توپ وواهه او نژدی ورغی سلمان ورته وویل: ستا د کښتی لیدو ته هوس دی؟

عثمان لومړی خپل آغا او بیا سلمان ته وکتل ویی ویل: که آغا اجازه راکوی نوزه له تاسره د تلو اراده لرم، د هغه په سترګو کی اوښکی ځلیدلی.

سلمان عبدالمنان ته په وویل:

اوس تاته دلته د ایساریدو ضرورت نشته.

ته د ابو نصر په بګۍ کی سپور شه د هغه کور ته ولاړ شه هغه ته ووایه چی عاتکه، منصور او سعید له ما سره د تلو لپاره سفر ته چمتو کړی. او کله چی زما بګۍ دروازی ته نژدی ورغله تاسو سمدستی دروازه خلاصه کړی، د ښار تر دروازی پوری تاسو هم باید راسره ولاړ شی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به په عادي وضعه کی د جنوب ختیځ په لور مخه کړی وه خو سعید لا استراحت ته اړتیا لری موږ به بګی د هغه تر کلی پوری بوزو او له هغه ځایه به رضا کاران هم بیرته راستانه شی، د سعید دوی له کلی څخه موږ ته د مرستی لپاره ډیر کسان پیدا کیږی.

دوهمه بګی به له لاری څخه بیرته راواستوو.

عبدالمنان وویل: شیخ ابو یعقوب عثمان ته یو ډیر ښه اس ورکړی دی، ستا سره د تګ لپاره ده ته پر ښه اس برسیره د ښو جامو هم ضرورت دی، ځکه خو که ستا اجازه وی نو زه به په لاره کی په سرای کی د ده جامی وربدلی کړم او په لویه دروازه کی به ستا انتظار کوی.

سلمان وویل:

هوکی ! عثمانه ته له ده سره تلای شی خو که ته په تیاری کی ځنډ ونکړی نو یو بل کار هم درسره کولی شی.

عثمان ځواب ورکړ: ښاغلیه! څومره ځنډ چی زما په جامو بدلولو کی وزی په دی ځنډ کی به زما پراس زین وتړی تاسو امر وکړی!

: ته نیغ ابو یعقوب ته ورشه هغه ته دا احوال ورکړه چی سرك ته بیرته راشه موږ لږ ځنډ وروسته در روانیږو سمدستی له موږ سره همدا اراده ده چی بګی له سرك څخه لږ لری بوزو، ځکه خو هغه باید څو تنه سپاره راواستوی چی که په لاره کی څه خطر وی موږ ته دمخه احوال راکړی. دا هم امکان لری چی موږ د سرك لاره پریږدو او د ابو یعقوب د کلی په لور مخه کړو، تا به په لاره کی یو ویجاړ کور لیدلی وی چی په مخکی یی مخ خوړی سرك د باران اوبو د ویالی په څیر ژور کړی وی؟

عثمان ځواب ورکړ: صیب! تاسو امر وکړی زه به پټو سترګو هم هلته رسیدای

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شم.

: کوم رضاکار چې له دروازې څخه بهر ته وتلی هغه ته ووایه چې د کور شاته غلی ودرېږه!

سلمان دا وویل او بیا یې عبدالمنان ته مخ راواړاوه ده ته خو به له ښاره په وتلو کې څه ستونزه نه وي؟

: نه صیب! تاسو ډاډه اوسئ، موږ هلته پوره بندوبست کړی او راغلی یو، راځه عثمانه!

هغه په منډه بګۍ ته ورغی او په کې سپور شو.

*****

د غرناطې کوتوال پر بستره غځېدلی ؤ او د ورځې په پېښو یې فکر کاوه، ناڅاپه چا دروازه وټکوله. دی له غوسې جګ شو ویې ویل: څوك یې؟ نوکر دروازه خلاصه کړه او دننه راغی یوه ګوته یې ده ته وښودله ویې ویل:

صیب! یو څوك په دروازه کې بهر ولاړ دی له تا سره د لیدو هیله لري، هغه د ښلیسی په توګه دا ګوته راواستوله.

کوتوال د ډیوې په رڼا کې ګوتې ته وکتل ویې ویل: هغه بهر ولاړ دی... تا ولې دننه رانه وست؟

: صیب! په دې وخت کې ستا له اجازې پرته پهره دار ویریده، او هغه د دروازې د څنګ له کړکۍ څخه د دغه ګوتې د ورکولو په وخت کې د خپل نامه له ویلو څخه ډډه کوله. هغه یوازې دا ویل چې دغه نخښه یوسه، زما ډیره بیړه ده او یو ضروري احوال ورکوم او بیرته ځم.

: هغه خره د عتبه غږ هم ونه پیژاند! کوتوال دا وویل او بیا یې بیرته پڼې په پښو کړې یوه درنه کمپله یې په اوږو واچوله له کوټې څخه ووت.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ځنډ وروسته پهره دار د هغه ګواښونه او کنځلی اوریدلی او د بهرنی دروازی په خلاصولو بوخت شو. کوتوال په بیره بهر ووت خو په همدی ځنډ کی بهر پر سرك ولاړه بګی روانه شوه.

: ودریږه! ودریږه! کوچوانه بګۍ ودروه، هغه ډیر ګرندی منلوی پسی وهلی، چاغ کوتوال سیلیده او ګاډۍ ته یی ځان ورساوه دننه یی ور وکتل ویی ویل: عتبه! په خدای «ج» سوګند ستا پیغام ماته ډیر ناوخته...

هغه خپله خبره پوره نکړای شوه، د سترګو په رپ کی د هغه ورمیږ د سلمان اوسپنیزو ینجو ته لویدلی ؤ، ولید د هغه متی ونیولی او دننه یی ګاډۍ ته ننه یوست. بګۍ بیا ګرندی شوه، جمیل خپل خنجر د هغه په سینی ورکیښود او زور یی پری راوړ د هغه لږ او ډیر همت هم ځواب ورکړ. سلمان د هغه پر ورمیږ فشار کم کړ او ورته ویی ویل:

ګوره! که دی د شور هڅه وکړه نو پخوا له دی چی غږ دی اوچت شی ورمیږ به دی بوټ مات شی. موږ به د خنجر اویا تومانچی په استعمال دغه بنکلی بګی ستا په وینو ککړه نه کړو.

کوتوال وتوخیده او په ډیر زحمت یی وویل: زه پوهیږم چی ستاسو له خوبنی پرته زما غږ تر ستونی نشی راوتلای خو تاسو څوك یاست، او څه غواړی؟ زه به ستاسو هره خبره ومنم!

سلمان له شا څخه د بګۍ پرده لری کړه څو شیبی یی سرك لوری ته وکتل بیا یی کوتوال ته وویل: ته هوښیار سړی بنکاری، زما لومړنۍ حکم دا دی چی که د پولیسو کوم سړی دی بګی ته درانژدی کیدو هڅه وکړه ته له لیری غږ پری وکړه او تری ایسار یی کړه که ضرورت ؤ له بګۍ دی سر ورته راوباسه او ورته وایه چی ته دی له دوستانو سره چیرته روان یی. خو ستا د غږ په اوریدو باید څوك دا!

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس نکړی چې ته له ویرې او یا مجبوری زموږ امر منلو ته مجبور یې.

ستا دا اشتباه به یوازې ترتا پورې محدوده پاتې نه شي. باید دا درته ووایم چې اوس زموږ ملګرو ستا کوږ کلابند کړی دی که هغوی ته څه وخت دا خبر ور ورسيد چې زموږ په بګې پسې څوك را روان دی نو هغوی به ستا د کور یو تن هم ژوندی پرې نږدي.

: صيب! پر ما ورحميږئ! زه وعده کوم چې هيڅ غلطی به نه رانه کيږي.

سلمان جګ شو له دروازې څخه یې سر ويوست غږ يې وکړ: کوچوانه بګی آرامه بيايه!

بيابيرته پر خپل ځای کيناست ويې ويل:

إن شاء الله موږ به تا ته د څه غلطی کولو فرصت درنکړو. اوس راشه او داړه زما ترڅنګ کښينه!

جميله ته يې لاسونه او پښې وتړه، خو ډير بايد په زحمت نشي.

کوتوال بيله دی چې څه پلمې او دليل ووايي په پټه خوله امر ته غاړه کيښوده سلمان له لږ څنډ وروسته تومانچه را وايستله د هغه پر ککره يې ورکيښوده ويې ويل:

زه له تا څخه يوه بله پوښتنه کوم! که دی لږ دروغ وويل هم نو ستا په سر کې د يوه سوری کولو وروسته به زه يوازې پردې خپه وم چې لږ باروت مې مصرف شول.

صيب! هغه په ريبوديدلی غږ وويل: زه به دروغ ونه وايم.

سلمان وويل: عتبه چيرته دی؟

: صيب! هغه به په ويګا کې وي.

: تا هغه ته څه پيغام ورکړی و؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



: هغه ماسپښین مهال له ښار څخه بهر له ماسره لیدل غوښتل خو د هغه احوال ماته څو ساعته وروسته راورسید.

: ستا باور دی چې هغه ښار ته نه دی راغلی؟

: صیب! زما پوره باور دی، که هغه دلته په راتګ د خطر احساس نه کولای نو زه به یې لیدو ته له ښاره بهر ته نه ورغوښتم.

: خو د هغه د نخښې په لیدو چې ته څومره په ګرمی او ناکراری راووتې له دې څخه داسې ښکاري چې ته یې په انتظار وې.

: صیب! ما داسې وګڼل چې که هغه له خطره بې پروا شوی وی او راغلی وی نو خامخا به کومه خبره وی.

: تاته معلومه نه ده چې هغه به په څه له تاسره لیدل؟

: صیب! هغه په خپل لیك کې یوازې دومره لیکلی وو چې د هغه په کور کې یوه له اتکل نه لرې پیښه شوې ده.

: ډیر ښه اوس ته چوپ اوسه. او د دې خبرې خیال ساته چې ستا په کور کې هم څه پیښه ونشي.

*****

لس دقیقې وروسته د ابو نصر د کور د شانداری کلا دروازه خلاصه شوه، بګی دننه ننوته او نوکرانو زر بیرته دروازه‌پورې کړه. بیا پنځه دقیقې وروسته دروازه بیا خلاصه شوه او دوې بګۍ یوه پر بله پسې بهر ته ووتې، پر لومړنې بګۍ‌چې د یوسف له کوره راغلې وه یوې خواته سعید، عاتکې او منصور ته مخامخ د سلمان په څنګ کې کوتوال ناست ؤ. پر هغوی پسې په بله بګۍ کې ولید، جمیل او عبدالمنان سپاره وو. هغه شیبې څومره زر تیرې شوې چې کله د ترورېمیو مسافر له خپلو دوستانو او ملګریو څخه خدای پاماني اخسته، هغه داستان څومره اوږد ؤ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يوازې د خداى «ج» پامان په الفاظو پاى ته ورسيد! او بيا هغه چوپتيا چې کله سلمان يوه پښه په بگۍ کې کيښوده بدريى ته يې د وروستي ځل لپاره سترگې ور واړولې د ژوند د څومره نغمو او خوبونو څومره جزيرې يې په خپله غيږه کې رانغښتي وې؟

بدريى! بدريى! بدريى! هغه په خيال کې‌ناري وهلې، هغه د گرنديو اسونو د پښو په ترپهار او د بگۍ د عرابو په کرچهار کې هم د هغې سلگۍ اوريدلې. بيا يې داسې احساس کړه چې سعيد غږ ورته کوي تکان يې وخوړ، د خوب او خيال نړۍ‌يې له سترگو څخه پناه شوه.

سعيد وويل: وروروجانه! له ښاره بهر اسونه دې نو بگۍ‌بايد بيرته راواستوو، زه نور بالکل روغ يم او ستاسو سره پر اسونو په سفر کې به هيڅ په زحمت نه شم.

وليد او جميل بايد زر تر زره د يوسف کور ته ورشي، زه نه غواړم چې زموږ په سبب دې زموږ دوستان د دې بگيو له امله په انديښنه کې شي.،

سلمان ځواب ورکړ: زما په گومان خو چې تر کومه ځايه سرك تللى تا ته به په گاډۍ کې سفر کول ښه وي، خو که ته د اس د سپارلي تکليف زغملى شي نو موږ به له ډيرو ستونزو څخه وژغورل شو.

: وروره! نن زه داسې نه احساسوم چې زه کله ناروغ وم. نن مې په کور کې تر لږ څنډه د غشو ويشتلو تمرين هم وکړ، او ډاډه شوم چې په منډه کې له اس څخه هم ما پرغشى نخښه ويشتلاى شوه.

: ما ستا لپاره دوې لينډۍ او دوې تمانچې هم راوړي دي. زه پردې ډاډه نه وم چې تاسو به د عبيد الله له کوره زما سامان هم درسره راوړي.

سعيد وويل: د دې سړي په باب دې څه فکر کړى دى؟

: دغه سړي اوس په دومره خبرو پوهيدلى دى چې موږ يې د ژوندى پريښودو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطر نشو قبلولی موږ به له بناره بهر په دی اړه څه پریکړه وکړو.

کوتوال وویل:

د خدای «ج» لپاره پر ما رحم وکړی!

: چوپ! سلمان په درانده غږ ورته وویل ستا له خولی چی د رحم لفظ وزی د حامد بن زهره روح به ځوریږی.

کوتوال په ویریدلی لهجه وویل: صیب! د حامد بن زهره له قاتلانو سره زما هیڅ اړیکی نشته، زه د هغوی ټولو نومونه دربنودلی شم او پر خدای «ج» سوګند زه به هیڅ دروغ ونه وایم.

سلمان وویل: په نړۍ کی پر هر بدکرداره سړی یو داسی مهال راځی چی هغه ته په دروغو ویلو کی هیڅ ګټه نه بنکاری، خو ته زما تر اټکل هم زیات بد خصلته یی. ته یحیی پیژنی هغه ستا په پولیسو کی کار کاوه؟

: هوکی! مګر هغه اوس یی درکه دی!

: که هغه ستا په منځکی حاضر شی نو ته به له هغه سره سترګی پر سترګو کړی او دا به وویلی شی چی د حامد بن زهره له وژونکو سره ستا هیڅ اړیکی نشته؟

د کوتوال تر سترګو لاندی یو ځل بیا د مرګ تیاری خپری شوی، لږ ځنډ وروسته د بګۍ تګ وروشو سلمان بهر ته وکتل ویی لیدل دوهمه بګۍ د دروازی په مخ کی ولاړه وه، عبدالمنان لاندی ورکوز شوی ؤ په ډاډ یی د څو پهره دارانو په منځ کی له یوه افسر سره خبری کولی او دوو نورو کسانو دروازه خلاصوله.

څو شیبی وروسته عبدالمنان پر بګۍ سپور شو او هغه افسر په منډه د سلمان دوی بګۍ ته راغی او ویی ویل:

صیب! تاسو په ډاډه زړه تلای شی! اوس به تاسو د دروازی شاوخوا هیڅ کوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیس هم ونه ګوری.

زموږ په خیر دوی ته هم دا خبر ورغلی دی چی دوی ورځی وروسته به نه د غرناطی پاچاهی وی او نه به یی پوځ او پولیس وی، ستاسو ملګری پر سرك درته انتظار دی خو تاسو دښمن ته پام کوی. سلمان له دروازی څخه سر بهر راویوست هغه ته یی لاس ورکړ او بیا بګی‌روانه شوه.

بګی‌د سرك په مخ خوړ ودریدی او رضاکاران د ږنګ کور له کنډوالو راښکاره شول پر دوی راتول شول، سلمان کوتوال ته ډیکه ورکړه او لاندی یی وغورځاوه او پخپله له بګی‌څخه راووت. په دی څنډ کی د بلی بګی‌سپاره هم راکوز شوی وو، عثمان چی خپل کمال ښودلو ته سخت ناکراره ؤ را وړاندی شو ویی ویل:

زه نیم ساعت مخکی د ابو یعقوب له کلی څخه راګرځیدلی یم، هغه ویل چی زما سړی به د راتلونکی کلی د خلکو له خبرولو وروسته ستاسو سره ملګری شی او د سعید دوی تر کوره به ورسره ملګری وی.

بل سړی وویل: صیب! موږ ستاسو لپاره اسونه همدلته راوستلی دی. سلمان ولیـد ته وویل: د یحیی اروا په دی ویجاړ کـور کی د کـوتوال انتظار کـوی دی همالته ورولی، جمیل په خنجر د هغه د پښو رسی پریکړه، دوو تنو تر متهو ونیو او پورته یی کړ ولید په توره وزغلاوه.

کـوتوال چی تر اوسه پوری د نامعلومو امیدونو په تکیـه ؤ خپل وروستی وخت بی چی ولید په چیغو شو: د خدای «ج» لپاره! په ما رحم وکړی زه ستاسو ملاتړ ته چمتو یم، زه د حامد بن زهره د تولو قاتلانو نومونه درښودلای شم.

تاسو د ابو القاسم په وروستی خیانت تر اوسه خبر نه یاست. د خدای «ج» لپاره. زما خبره واوری. بله ورځ به د دښمن پوځ غرناطی ته ننوزی، ما خوشی کړی. زه به عنبه لاس ترلی تاسو ته راولم، ما وبخښئ پر ما رحم وکړی!!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوتوال پښې د بدن د وزن اوچتولو څخه بې وسه وې او پښې یې په ځمکه کشولې، بیا د ړنګ کور له یوې تیارې کوټې څخه د هغه وروستي کریغه واوریدل شوه، او بیا په فضا کې بشپړه چوپتیا خپره شوه.

سلمان عبدالمنان ته وویل: اوس تاسو بیرته پر بګیو ولاړ شئ، او موږ ته یې چې اسونه راواستل دغه رضاکاران هم درسره بوزئ، بیا یې خپلو ملګرو ته وویل: تاسو سمدستي پر اسونو سپاره شئ، زه او عثمان به له تاسو څخه پنځوس شپیته ګامه وړاندې وو، ظاهراً کوم خطر نشته خو بیا هم احتیاط ضروري دی. پنځه دقیقې وروسته د اسونو او بګیو سپرویو د بل مخالف لورې ته خپل سفر پیل کړ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تعقيب

کله چې دوی له سرك څخه د شيخ ابو يعقوب د کلي په لوري ورګرځېدلی لاری ته ورسيدل نو مخامخ يې د اسونو دپښو ترپهار واوريد.

عثمان وويل: صيب! داسې ښکاري چې د ابو يعقوب د کلي خلك لکه چې مونږ له څه خطر څخه خبروي!

سلمان وويل:

ته په بيړه شاته ورشه ورته ووايه چې له سرکه يوې خواته شي.

عثمان خپل اس راوګرځاوه، د سترګو په رپ کې سپاره سلمان ته راورسيدل او چيغې يې کړې:

ود رېږی! ودرېږی چې وړاندی تاسو ته خطر دی!

عثمان ته دغه غږ آشنا معلوميده او ويې ويل:

يونسه څه خبره ده؟

: صيب! ستاسو دښمنان وړاندی کلی ته راورسيدل، بيا يې دوهم سپاره ته مخ واړاوه ويې ويل:

ته بيرته ولاړ شه خپلو ملګريو ته خبر ورکړه چې زه له دوی سره ولاړم.

کله چې هغه د اس جلب راوګرځاوه يونس سلمان ته وويل:

صيب! د ابو يعقوب د کلي په لور وروګرځي، مونږ به هڅه وکړو چې د عتبه کسان هر څومره زيات ايسار کړای شو، بيړه کوی چې له سرك څخه لری ولاړو زه به بيا ټول حال درته بيان کړم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان خپلو ملګرو ته غبږ وکړ او هغوی اسونه وزغلول او نژدی ورغلل، بيا هغه ورته وويل: موږ بايد لاره بدله کړو، تاسو په موږ پسی راځئ!

لږ ځنډ وروسته دوی له سرك څخه لری د ويجاړ کلی د کنډوالو ترشا ولاړ وو او يونس سلمان ته کيسه کوله.

: موږ د ابو يعقوب له کلی څخه په بله لار د بل کلی په لوری راغلو کله چی کلی ته رانژدی شوو دوه تنه په مخه راغلل چی ابو يعقوب ته يی دا احوال ورسوو چی د وسله والو سپرو يوه ډله د دوی کلی ته ورغلی ده، او پاتی شپه هم الته غواړی تيره کړی.

هغوی د کلی په يوه ويجاړ کور قبضه کړی ده او په کی اړولی يی دی، له هغوی نه د څو پوښتنو څخه وروسته موږ ته معلومه شوه چی دغه کسان د جنوب له لوری راغلی، دی او ماښام مهال د سپرو يوه بله لويه ډله چی دلويديځ لوری راښکاره شوه خلکو وليده چی د خوړله پله څخه له تيريدو وروسته د ويجاړی شوی کلا په لوری ولاړه ځکه خو د کلی د خلکو دا انديښنه ده چی د ډاکه مارانو يوه لويه ډله د دی سيمی د لوټ لپاره راغلی ده. له دی وروسته موږ بيا د کلی پر سر راوګرځيدو سرك ته چی رانژدی شوو د اسونو د پښو ترپهار او شنهار مو واوريد او موږ د احتياط لپاره يوه باغ ته ننوتو، بيا مو څو تنه سپاره وليدل چی کرار کرار د غرناطی په لور روان وو، ستاسو سمدستی خبرول ضروری وو خو ضحاك دا انديښنه وښوده چی که موږ د هغوی په مخکی د تيښتی هڅه وکړو نو راپسی راځی ځکه خو موږ هغوی مخی ته پريښودل او بيا چی سرك ته راورسيدو ګړندی مو اسونه چارګام وزغلول، هغوی ښايی موږ خپل ملګری بللی وو د تښتيدو پرځای ودريدل ځکه خو د سترګو په رپ کی موږ له هغوی څخه دری کسان پرسرك راوغورځول او بيا مود سرك کيڼ لوری ته په فصل کی ترلږځنډه نور کسان وزغلول بو يی ضحاك په نيزه وواهه او راويی غورځاوه، کله چی موږ بيرته سرك ته راستانه شوو يوه تن د قسطله خلکو په ژبه خپلو ملګريو ته څه ويل،

خو زموږ پوره باور وو چې دوی د عتبه خلك دي.

خو افسوس چې موږ دوه نور کسان ونه وژل، اوس به هغوی په کلي کې خپل نور ملګري خبر کړي. له ضحاك سره د شيخ ابو يعقوب د کلي پنځه تنه نور شته هغوی به ستاسې له دې ځايه د وتلو لپاره چې هر څومره ممکن وي هومره لاره بنده ساتي، ضحاك يو تن ماته را استولی ؤ ويلی يې وو چې دښمن به زموږ پر مړيو تيريږي بيا به ستاسو لوري ته درځي.

سلمان سعيد ته وويل: سعيده ته له عاتکې او منصور سره سمدستي روانيږه، د ابو يعقوب په کلي کې زموږ انتظار کوه، عثمان به تاسو ته لاره دربنيي. سعيد زړه نا زړه کله سلمان او کله عاتکې ته کتل. سلمان بيا په دروند غږ وويل:

ورځه سيعده! زما خبره ومنه، او عاتکې! ته په څه فکر کې يې! دلته کومه کلا نشته او تاته د دې ثابتول ضروري نه دي چې ته يوه زړوره نجلۍ يې. کله چې زما د غشيو ګڅوړه تشه شي نو زه به تا په جګړه کې د ګډون څخه نه منع کوم. تر لږ څنډه به ضحاك او د هغه ملګري دلته راورسيږي او زما باور دی چې عتبه او د هغه کسان به يې تعقيبوي. بيا به له هغوی سره د مقابلې لپاره ستا تر مرستې ماته دا ضروري وي چې ته د هغه لاس ته نه ورځې، د خدای «ج» لپاره ولاړه شه، ستا د دې زړه نازړه کيدو په سبب به خلك بيځايه مړه شي.

هغوی اسونه پونده کړل.

سلمان خپلو ملګرو ته پام راواړاوه:

ملګريو! خپل اسونه شاوخوا ږنګو کورونو ته بوزي، امکان لري د دښمن شمير زموږ څخه ډير زيات وي ځکه خو ستاسو بري پردې خبره پورې تړلی دی چې کوم غيښتي مو تش ولاړ نشي. کوم کور چې لاري ته ډير نژدې وي د هغې بام ته وخيژي. د غيښو له ارزولو څخه دمخه زما د [illegible] نچې د غږ انتظار وکړي.

بونسه! ته سرف ته ورشه د خپل ورور او نورو ملګرو انتظار کوه او هغوی دلته راوله، زه ويريږم چې هغوی پردې ګومان وړاندې تير نشي چې موږ د ابو

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعقوب د کلی لوری ته خوځیدلی یو او موږ ته د زیات فرصت په خاطر په بل لوری کی د دښمن د زیات بوخت ساتلوضرورت دی. اوس چی موږ څومره زر له دښمن سره مقابله وکړه هومره به په پاتی سفر کی زموږ ستونزی لږ وی. ځکه خو اوس باید زموږ هڅه دا وی چی د عتبه کسان په تاسو پسی دلته راشی او دا ضروری ده چی تاسو زموږ تر شا د دریدو پرځای د کلی د وروستی کور ترشا پوری ولاړ شی.

: صیب زه وپوهیدم! د هغوی د دلته راوستلو لپاره که تر هماغه کلی پوری زموږ ،ورتګ ته اړتیا وه هم دریغه به ونکړو. یونس دا وویل او اس بی پونده کړ، دوی تر لسو دقیقتو پوری د هغوی د راتلو انتظار وکړ بالاخره یونس له شپږو کسانو سره بیرته راورسید او له دی سره سم سلمان ورپسی د نورو اسونو د پښو ترپهار واورید.

بالاخره اوده تنه سپاره راښکاره شول او د کلی تر وروستی کور پوری ولاړل پر دوی پسی د ګنو اسونو د پښو ترپهار رانژدی شو او بیا شل پنځه ویشت تنه سپاره چی د دوی د غشو دم ته راورسیدل د سلمان د تومانچی غږ اوچت شو او بیا پر هغوی د غشو باران جوړ شو. هغوی په بربری، هسپانوی او عربی ژبو فریادونه اوچت کړل. د مخی سپرو د بیرته ګرځیدو هڅه کوله د هغوی اسونه په تیاره کی د خپلو ملګریو له اسونو سره ټکر شول، څو سپرو د وارخطایسی په حالت کی د وړاندی وتلو هڅه وکړه چی پر هغوی د کلی په پای کی غلیو شویو سپرو غشی واورول. څو کسان روغ پاتی شول او ووتل خو په تیاره کی د هغوی د شمیر معلومول ګران وو.

په دوو دقیقو کی دغه جګړه پای ته ورسیده سلمان واړه راپورته شو او خپلو ملګریو ته یی وویل: د مړیو د شمیرلو ضرورت نشته بوازی ټپیان پرځای کړی.

بره تن چی خپل اس یی تر جلب رانیولی و سلمان ته په مخکی ودرید ویی ویل: ښاغلیه زه ضحان یم. څو سپرو د وړاندی وتلو هڅه وکړه، په هغو کی موږ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دری تنه راوغورځول خو زما په گومان په هغو کی هم یو تن تپی ؤ، که ستا اجازه وی زه د احتیاط لپاره وړاندی ولاړ شم.

سلمان ځواب ورکړ: زموږ ملگری به د ابو یعقوب کلی ته رسیدلی وی، ځکه خو موږ د یوه یا دوو تنو په باب باید څه اندیښنه ونه لرو، هغوی به خامخا په لاره کی په یوه او بله خوا د تیښتی هڅه وکړی.

په دی کی هغه یو پر بل پسی دوه د تومانچی ډزونه واوریدل او سلمان په بیره پر اس سپور شو ویی ویل: ضحاکه ته له ماسره راتلی شی او نور کسان دی دلته خپل کار پای ته ورسوی او په ډاډه زړه په موږ پسی راځی، دا ډزی زموږ د ملگریو کارنامه معلومیږی او زه ویریږم چی هغوی په بدگومانی کی پر موږ غشی ونه چلوی. بیا هغه گام پر گام عشمان ته ناری وهلی او وړاندی روان وو.

لږ وړاندی چی ولاړل د عشمان غږ یی واورید:

صیب! موږ دلته یو، او بیا د سترگو په رپ کی دوی د عاتکی او عشمان په مخکی د یوی خاورینی غونډی ترڅنگ ولاړ وو، دواړه مړی دوی ته نژدی په خاورو پراته وو تر څو شیبو پوری ټول چوپ وو.

عاتکی په لږ ویریدلی لهجه وویل: ورورجانه! ته به موږ احمق وبولی، خو موږ له تا پرته چیرته تلای شو؟ موږ کله ډاډه کیدای شوای چی راتلونکی سهار به تردی تیاری شپی زیات تیاره او ویروونکی نه وی؟

او بیا ما د حمید بن زهره زوی او لمسی ته دا څه ډول وربښودلی شوای چی هغوی دی خپل احسان کوونکی د انتظار پرځای د هغه حکم عملی کړی، د غرناطی لور په خپل ژوند کی د لومړی ځل لپاره په زوره زوره ژړیدله.

سلمان په ژړه غونی آواز وویل:

عاتکی! زه تا احمقه نشم بللی! کاشکی پردی اوښکو د دی بدنصیبه اولس د کړو وړو داغونه مینځل کیدای شوای، سعیده! زه له تا څخه هم نشم خفه کیدای، خو ته زما د ناکراری په سبب پوهیږی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعید وویل: وروره! موږ ته د ابو یعقوب کلی ته رسیدل او په لاره کی غلی کیدل یو شان وو، موږ د غونډی شاته ولاړ و او ښایی په دی کی به هم کوم مصلحت ؤ، منصور له وړاندی تلو څخه انکار کاوه، د هغو دوو سپرو د پښو غږ مو چی واورید اسونه مو عثمان ته وسپارل او لاری ته نژدی د ډبرو شاته غلی وو د تومانچی له ډزو نه وړاندی موږ ته د دی تسلی ضروری وه چی هغوی زموږ خلك نه وی، بیا له دوی نه یو تن چی غالباً پخوا تیی شوی ؤ له اس نه پلی شو او په قسطله یی ژبه یی له خپل ملگری څخه څه غوښتل، هغه موږ ته دومره لنډ ؤ چی په ډېره مو هم راغورځولی شوای.

سلمان وویل: سعیده موږ یو لوی بری گټلی دی. او زموږ د دی بری یو سبب دغه ځوان دی. بیا یی خپل ملگری ته وویل:

ضحاکه زه ستا مننه کوم خو زما دومره تمه نه وه.ضحاك ځواب ورکړ: صیب! دا زما فرض و یو سړی بد کیدای شی خو ستا غونډی داحسان کوونکی ناشکری نشی کولی.

: خو اوس زه ستا پوروړی شوم.

: صیب! که ته وغواړی نو دا پور هم ادا کولی شی.

یوازی زما یوه وړوکی غوښتنه ومنی!

: هغه وړوکی غوښتنه څه ده؟

: صیب! زه، یونس او زما میرمن غواړو له تاسره ولاړ شو.

: تاته معلومه ده چی موږ چیرته ځو؟

: صیب! ماته د دی ضرورت نشته.

: او ستا پلار!

: صیب! دا د هغه هیله ده چی موږ له تاسره ولاړ شو.

: مگر هغه د ابو یعقوب په کلی کی نشی اوسیدای.

: صیب! هغه به په غرونو کی د خپل مالك له عزیزانو سره پناه واخلی، که هغه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سفر ور وای نو راسره بیولی به مو ؤ.

: ډیره ښه ده، زه ستاسو یوه هیله هم نشم ردولی، ته ولاړ شه خپلې میرمنې ته دې ووایه چې تیاره شي، عثمانه ته هم ورسره ولاړ شه او شیخ ابو یعقوب ته زما دا پیغام ورکړه چې موږ غواړو د شپې له پای ته رسیدو مخکې یو پړاو مزل ووهو، زموږ څخه سمدستي خطر لرې شوی دی او اوس له موږ سره د رضاکارانو د وړاندې تګ ضرورت نشته.

*****

کله چې د سلمان نور ملګرې راورسیدل دوی ټول د ابو یعقوب د کلي په لور وخوځیدل، او بیا لږ څنډ وروسته ابو یعقوب پخپله له څو کسانو سره له کلي څخه بهر د دوی هرکلي ته راوتلی ؤ.

سلمان له اس څخه پلی شو ابو یعقوب ته یې لاس ورکړ، او د غرناطې رضاکارانو ته یې وویل:

اوس به موږ سعید کلي ته دبیولو پرځای له همدې ځایه نیغه د غرونو لاره غوره کړو څکه تاسو له همدې ځایه بیرته ستانه شي او ژر تر ژره غرناطې ته د رسیدو هڅه وکړئ.

او کوم کسان چې په بګي کې زموږ سره راغلي وو هغوی ته دا ووایی چې اوس موږ په بله لاره ځو. کوم کسان چې په موږ پسې راځي هغوی به د شیخ ابو یعقوب څخه زموږ د بل پړاو معلومات واخلي، نور وخت مه تیروئ! هغوی خدای پامان ووېل او د اسونو جلبونه یې وګرځول، دوی تر لږ څنډه د شپې په تیاره کې د هغوی د اسونو د پښو ترپهار اوریده. ابو یعقوب د سلمان پر اوږه لاس ورکیښود ویې ویل:

بچیه! ځینې مسلمانه داسې وې چې د خدای پامان ... ل ورته ډیر تکلیف غواړي. خو زه له تاسره څو دقیقې هم خبرې نشم کولی، ما ستا د احوال له راتلو سره سم یو تن مخکې استولی چې د مخکې کلیو خلک خبر کړي. له ضحال او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یونس پرته به له کلي څخه څلور تنه نور هم له تاسره ولاړ شي. وراندې د غره پیچومې ډېر سخت دي او تاسو باید ډېر په احتیاط پرې ولاړ شئ، زما د سعید د روغتیا په باب ډېره اندیښنه وه خو دا یوه مجبوري ده، په راتلونکې پړاو کې به تاسو ته د پوره ارام موقع په لاس درشي او إن شاء الله له هغه وراندې به هم د هیڅ کور په دروازه کې هم د حامد بن زهره زوی او د نصیر لور ته د دوهم غږ کولو ضرورت نه وي سلمان له بوډا سردار سره خدای «ج» پاماني وکړه او پر اس سپور شو.

*****

عتبه او د هغه ملګري دویجاړې کلا په انګړ کې اور ته شاوخوا ناست وو چې ناڅاپه د برج له کونج څخه غږ راغی: صیب! یو سپور راروان دی.

: هغه را پرېږده چې راشي!

څو شیبې وروسته سپور دننه راغی او په لوړ غږ یې وویل: صیب! زموږ خلك له هغه کلي څخه چیرته تللي دي او ما هغه پاتې درې سپاره وراندې واستول.

: تا د کلي له خلکو څخه معلومات وکړ؟

: صیب! د کلي خلك دومره ویرېدلي وو چې چا بهرته د راوتلو او زموږ سره د خبرو جرئت ونکړ.

: دا کله کیدای شي! ما هغوی ته په کلکه دا هدایت کړی وُ چې پر سرك د ګزمې لپاره له شپږو اوو کسو څخه زیاتو ته ضرورت نشته.

یوه تن وویل: هغوی به په کوم ویجاړ کور کې ننوتلي او ویده شوي وي!

سپاره وویل: ستا په ګومان ستا نه پرته ټول په دنیا احمقان دي؟ زه په یوه یوه کور راوګرځېدم او چیغې مې ووهلې.

یوه بل تن په قسطله یې ژبه وویل: ایا دا ضروري ده چې کوم کسان تاسو لمړی هغه دي په همدې لارې راغلي وي؟

عتبه په وارخطایي وویل: ما تا ته ویلي دي چې تر اوسه به په غرناطه کې هر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوټ ته دا خبر رسیدلی وی چی زموږ پوځونه ښار ته ننوتونکی دی. او له هغی وروسته به هغه کسان چی زما په کور یی د چپاو جرئت کړی ؤ یوه شیبه هم هلته د پاتی کیدو جرئت ونه کړی.

: مگر د غرناطی څخه د تیښتی نوری لاری هم شته!

: که هغوی سمدستی د تیښتی هڅه کړی وی نو د شپی لخوا دوی د خپل کلی نه پرته بل لوری ته نشی تلای.

: په داسی حال کی دا غوره نه وه چی موږ د هغوی کلی نیولی وای؟

که ته د دی کار ذمه واری په خوښی قبلوی زه تیار یم چی اجازه درکړم، خو هلته به د هغه په یوه غږ د شاوخوا کلیو په سلگونو کسان راټول شی.

هوکی! دوی ورځی وروسته به دا ټوله سیمه زموږ رحم او کرم ته پاتی وی او زه به تا هغه وخت د هغه کلی د سردار په کور کی پریږدم، اوس غلی شه!

عتبه د خفگان په حالت کی قدم وهل پیل کړل. یو ساعت وروسته یو بل سپور چی چیغی یی وهلی هلته ور ورسید، او بیا عتبه چی خپلو ملگریو ته د سفر د تیاری حکم ورکاوه په ډیره وارخطایی د هغه کیسه اوریده:

: صیب! موږ ته دا معلومات نه ؤ چی دغه ټوله سیمه له دښمنانو ډکه ده، هغوی زموږ زیات ملگری ووژل، او زما څخه پرته یوازی دری یا څلورو کسانو ژوندی ځانونه وژغورلای شوای.

عتبه د غوسی په حالت کی خپلی شونډی وچیچلی او ویی ویل: پر تاسو په هغه کلی کی حمله وشوه؟

: نه هغوی له کلی نه لږ بهر پر موږ حمله وکړه.

: احمقه داسی کله کیدای شی چی هغوی ټولو دی کلی پریښی وی او تللی دی وی؟

: نه صیب! موږ ستاسو د امر سره سم د گزمی لپاره د سپرو یوه ډلگۍ واستوله، خو د دښمن یوی ډلی چی له کلی څخه بهر یی مورچل نیولی ؤ پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی حمله وکړه او څلور کسان یې تری ووژل. دوه تنه نور بیرته راوګرځیدل او موږ ته یې احوال راکړ چې د حمله کوونکو شمیر له اوو اتو کسانو څخه زیات نه ؤ. بیا موږ په هغوی پسې ورغلو، بیا دوی موږ په ځان پسې هماغه ځای ته ور وستلو چې اوس هلته د مړیو ډیری جوړی دی.

ما د دښمن له منګولو څخه یوازی دوه تنه ولیدل چې د لویدیځ لوری ته ووتل، له هغوی څخه یو سپور چې ټپی ؤ له ما سره راروان ؤ. له سرك څخه لږ لری هغه له اس څخه ولوید، تاته سمدستی احوال ضروری ؤ خو د ځنکدن په حالت کی د هغه پرېښودل راته ممکن نه وو. ما هغه پر خپل اس را واچاوه لږ لری می د ونو منځ ته ورساوه او په دی امید هلته تم شوم چې که کوم ملګری بل دی لوری ته راووزی او زه ټپی هغه ته وسپارم او پخپله ستاسو خدمت ته راشم، خو چې کله ما د دوهم ځل لپاره غوښتل هغه پر اس را واچوم احساس می کړه چې یخ شوی دی له هغه وروسته زه دی لوری ته را روان شوم او ما له لری د دښمن د اسونو د پښو ترپهار اوریده.

عتبه وپوښتل: د شپی تاته څه معلوم شو چې هغوی د دښمن خلك دی.

هغه لږ په ترخه لهجه ځواب ورکړ: صیب!

زموږ ملګری خو بیرته نشی ژوندی کیدای او د اسونو د پښو له غږ څخه ماته دا اندازه لګول ګران نه و چې د هغوی وژونکی د غرناطی په لور روان دی.

: ته چې بیرته راتلی څوك دی ولیدل؟

: نه! زه د سرك لوری ته د تلو پرځای له یوی اوږدی دوری وروسته د ویالی په بله ډډه راتیر شوم.

هغوی ترڅو شیبو په چوپه خوله یو بل ته کتل بالاخره عتبه وویل:

ما تاسو ته د هر سړی سر ۳۰ دوګت «د هسپانیی د هغه وخت د سکی نوم» وعده درکړی وه اوس زه هر یوه ته د شپیته دوګته وعده کوم، زما باور دی کوم کسان چې موږ یې په لټه کی یو بیرته نه دی ستانه شوی، کیدای شی چې هغوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ له رارسیدو دمخه د دې ځایه وړاندې تیر شوی وی.

*****

د لمر ختو په وخت کې سلمان او د هغه ملګري له یوی غرنی سختې لارې څخه تیریدل. د دوی شاته د سترګو ترڅاره د غرونو او درو هسکې تیښتې درې تر ګردونو لاندې ډوبې وې، ستومانه اسونو ورو ورو ګامونه اخستل، سپاره د ډیرې یخنی له امله ریږدیدل سعید د خپل اس پر زین سر څوړنداچولی ؤ، سلمان شاته وروکتل هغه ته یې وکتل ویې ویل: سعیده ته خوبه روغ یې؟

سعید سر راپورته کړ ویې ویل: بالکل روغ رمټ یم، سلمان بل لوری ته پام واړاوه ویې ویل: ضحاکه! لاره ډیره خرابه ده ته پلی شه د ده د اس جلب ونیسه.

ضحاك په بیړه پلی شو د اس واګې یې یونس ته ورکړې او وړاندې ورغی د سعید اس یې تر جلب ونیو.

سمعیه د عاتکې تر شا را روانه وه، هغې اس راوړاندې کړ ویې ویل. ګوره! یخنی ډیره زیاته ده، ته زما شال هم درواخله!

هغې د سفر په وخت د دوهم ځل لپاره دا وړاندیز وکړ.

عاتکې ځواب ورکړ: نه سمعیې! ته دې خپل شال له ځانه سره وساته ماته د دوو اړتیا نشته. لږ وړاندې چې ولاړل په ګرځندی کې راوګرځیدل او لاره یوې تنګې درې ته مخ په ځوړ شوی وه، او یو ساعت وروسته د سارایې شپنو او بزګرانو له کلي څخه بهر ځو کسانو دوی ته هرکلی وایه.

د کلي مشر ته دوه ساعته دمخه د دوی د ورتګ خبر ور رسیدلی ؤ. د ډیرې یخنی او ستومانی څخه د سعید وضعه خرابه وه، له اس څخه چې پلی شول د خپل میلمه د کور په لور د تلو په وخت کې یې پښې لړزیدلې، سلمان ورغی تکیه یې ورکړه ویې ویل:

سعیده! زموږ د سفر ستونزمنه لاره پای ته رسیدلې ده، اوس به په دې کلي کې د ارام لپاره ښه زیات وخت ولرو، که د خدای رضا وه بیا به له دې ځایه سفر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوو.

د کلي رئيس ووېل: د حامد بن زهره زوی کوم یو دی؟

: هغه همدی دی، خو تر اوسه پوری ښه نه دی روغ شوی، سلمان سعید ته اشاره وکړه، بوډا سري په بيره وراندي ورغی سعید ته ورترغاړی ووت.

لږ ځند وروسته عاتکي او سمعیي د کور له ښځو سره ډوډی خوړله او په بله کوټه کي په یوه لوی دسترخوان پر نورو میلمنو علاوه د کلي څو کسان هم ناست وو.

منصور چي ترټولو زیات تازه تر نظره کیدو له خپل ماما سره په جګنګ کي ناست ؤ، د ډوډی نه چي وزګار شول کور به خپلو ملګریو ته ووېل: میلمانه ډیر ستړی دی آرام ته یې پرېږدی! هغوی پر وچو وښو د غوړیدلی پوزی پرسر بستری وغوړولي او سعید په یوه بستره د پریوتو په وخت کي سلمان ته ووېل: له لږ استراحت وروسته به زه دمه شم له هغی وروسته غواړم چي د شپی تر رارسیدو څو میله نور هم مزل وکړو.

رئیس ووېل: اوس ته باید ښه زیات استراحت وکړی، دلته تاته هیڅ خطر نشته.

زموږ کسان د کلی نه بهر په ټولو لارو پهری کوی پر آسمان وریځی راخوری دی، امکان لری چي نن باران یا واوره پیل شی.

سلمان د ابو یعقوب له کلی نه راغلیو ملګرو ته وکتل وبی ویل: تاسو هم ترماسپښین پوری آرام وکری او وروسته بیا له دی ځایه بیرته ستانه شی.

یوه تن ځواب ورکړ: زموږ سردار به د دی خبر اوریدو ته ناکرار وی چي تاسو په خیر تردی ځایه راورسیدی، ځکه خو موږ ته همدا اوس اجازه راکړی!

سلمان د هغوی د رخصتولو لپاره له رئیس سره بهر ته راووت چي ضحاک او یونس هم ورسره ملګری شول، او بیا چي لږ ځنډ وروسته د ابو یعقوب کسان پر اسونو سپاره شول ضحاک د کلی مشر ته ووېل: صیب! موږ به بهر د نوکرانو سره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شو.

سلمان وویل: ضحاکه! دغه کوټه زموږ ټولو لپاره بس ده.

هغه ځواب ورکړ: نه صیب! زه دا ګستاخي نشم کولای او له موږ څخه بیا د یو چا وینې پاتې کېدل هم ضروري دي.

د کلي مشر دی د کلي له یوه تن سره بهر ته واستاوه، لږ څنډ وروسته چې سلمان بیرته راوګرځېد نو سعید او عثمان هم په درانده خوب ویده وو.

منصور وویل: کاکاجانه! طبیب ماما جان ته له خوب څخه مخکې د یوې دوا د خوړلو ټینګار کاوه، د دوا کڅوړه د عاتکې خاله سره ده زه یې ترې راوړم؟

: نه! اوس د هغوی راویښول مناسب نه دي او ته هم ویده شه!

سلمان دا وویل او پریوت، منصور هغه ته نژدې په بله بستره څملاست وبې

ویل: کاکا جانه! ما اسماً ته وویل چې زه لوی شم نو ته به بیرې راکوې او زه به یوه ورځ غرناطې ته راشم!؟

هغې ویل چې که نصرانیان موږ ونیسي او بوموزي نو ته به څه وکړې؟

ما وعده ورسره وکړه چې زه به د کاکا جان په څېر یو ډیر لوی ماڼو شم او د دښمن ټولې کښتۍ به ویجاړې کړم. خو هغې ژړل او د هغې د مورجانې په سترګو کې هم اوښکې ډنډ شوې وې، عاتکې خاله ویل چې د اسماً مورجانه یوه پرښته ده، هغې د سعید ماما ژوند ژغورلی دی.

کاکا جانه! په غرناطه کې خو به هغوی ته څه خطر نه وي؟ د سلمان په زړه یوه څړیکه راغله او په ژړغوني غږ یې ځواب ورکړ: زما باور دی چې ته به یوه ورځ ډیر لوی کښتۍ چلوونکی شې، او اسماً به دربانډې وياړي! خو اوس ویده شه.

منصور چوپ شو، سلمان تر څه څنډه په ناکرارۍ کې اړخ په اړخ اوښت بالآخره خوب ورغی. په بله کوټه کې سمعیه له عاتکې سره په خواکې پرته وه او دواړو ورو ورو خبرې کولې سمعیې، ویل: خورې! پښې دې چاپی کړم؟

: نه سمعیې ته آرامه ویده شه. زموږ راتلونکی سفر به ډیر سخت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



: په خدای «ج» سوګند که ما ستاسو په سبب دا احساس کړی وی چی ځومره مزل مو وکړ.

تاته معلومه ده چی کله ضحاك دا خبر راوړ چی موږ به له تاسو سره یوځای سفر کوو نو ما د کور ښځو ته څه وویل:

: تا څه ورته وویل؟

: ما ورته وویل چی زه د خپلی شهزادګی د وینځی په دود ځم.

عاتکی په زړه ګوزار وخوړ په زحمت یی وویل:

سمعیی تا هغوی ته باید ویلی وای چی د اندلس په یوی لور د خپل وطن ځمکه تنګه شوه او زه د هغی د تسلی لپاره ورسره ځم.

سمعیی د نور څه ویلو حوصله نه درلوده.

*****

سلمان چی له درانه خوبه راویښ شو نو بهر یی د باران وریدو غږ واورید، سعید او منصور تر اوسه ویده وو، دی ور وړاندی شو د سعید په تندی یی لاس کیښود د هغه بدن لږ تود ؤ، بیا یی هم چی هغه په ارام خوب ویده ولید ډاډه شو چی د باران په سبب به نوره ورځ او راتلونکی شپه هم آرام پاتی شی. او که واوره اوریدل پیل شی نو د ده لږ او ډیره نوره اندیښنه به هم لری شی.

د کوټی څخه راووت یوه نوکر ته یی د اوداسه لپاره د اوبو راوړو وویل او لږ څنډ وروسته له اوداسه وروسته بیرته کوټی ته راغی او مازدیګر په لمانځه ودرید، له لمانځه وروسته بیرته راغی او په بستره وغځید.

سعید په اړخ واوښت سترګی یی وغړولی او په بیړه را اوچت شو کیناست ویی ویل:

لکه چی ډیر زیات ویده وم، زه دی ولی راویښ نه کړم؟ موږ باید تر ماښام وړاندی څو میله نور هم وړاندی تللی وای.

سلمان وویل: سعیده ته آرام ویده شه، بهر باران وریږی او امکان لری واوره هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل شي، ستا صحت څنګه دی؟

: زما ستوماني لرې شوې ده او اوس به په واوره او باران کې هم څو ساعته مزل ماته هیڅ زحمت نه وي.

سلمان وویل: مګر ما بې سببه نه غوښتل چې ته په تکلیف شي. مخامخ دروازه خلاصه شوه عاتکه وراندې راغله د سعید په لاس کې یې د دوا یوه پوړۍ ورکړه ویې ویل: ما ته ناڅاپه دوا رایاده شوه، خو ته ویده شوی وې، ډاکتر په ټینګار ویلي وو چې دغه دوایي باید قضا نه کړې. زه اوس شیدې راوړم، دایې وویل او بیرته ووته.

لږ څند وروسته هغه بیا کوټي ته راننوته او سعید ته یې د تودو شیدو پیاله ورکړه، د دوا له خوړلو وروسته ده لا شیدې څښلې چې د کلي رئیس بله دروازه ټک ټک کړه.

سلمان چې دروازه خلاصه کړه نو بوډا سرې په ولاړه ولاړه وویل:

زه د دې لپاره راغلم چې درته ووایم چې په دې موسم کې تاسو سفر نشې کولی، سبا ته که موسم ښه وُ نو زه مو د ایسارولو هڅه نه کوم خو نن تاسو په هیڅ صورت هم وراندې نشې تلای.

سلمان وویل: ستا ډېره مننه، خو موږ پخوا دا پریکړه کړې وه، بوډا سردار بیرته ستون شو. او سعید سلمان ته وویل:

زه په وار وار داسې احساسوم چې له مرګه تښتم،

: نه سعیده! تقدیر زموږ مرستندوی دی، زما باور دی چې تاته نور هیڅ خطر نشته.

سعید ځواب ورکړ: کله چې په یوه اولس تباهي نازلیږي نو د کوم یوه کس ژوندي پاتې کیدل هیڅ معنی نه لري.

هغوی تر لږ څنډه یو بل ته کتل، او چوپ وو، بیا سلمان وویل:

سعیده! څو شیبې وراندې زما په خیال کې هم نه راګرځیدل چې د څو کسانو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګناه به ټول اولس د مرګ دروازې ته ورسوي.

سعيد ځواب ورکړ: دا څو کسان زموږ د ډله ايزې ګناه سزا ده، د هرې لارې يو وروستی منزل وي، موږ چې له پيړيو پيړيو په کومه لاره روان وو د هغې وروستی منزل او پړاو له دې پرته بل نشو کيدای. پر موږ په ناخبرۍ کې ناڅاپي دا مصيبت نه دی را نازل شوی بلکې يو، يو ګام وړاندې تللي يو او دې پړاو ته رارسيدلي يو. موږ د دې اور لپاره پخپلو لاسونو خس راټول کړي دي. په اندلس کې زموږ د لوړتيا او ځوړتيا داستان اته پيړۍ غځيدلی دی، موږ ته معلومه ده چې کله په نيغه لاره روان وو پروردګار څه ور وپاللو، او چې کله مو د ټولنيزو غوښتنو څخه مخ واړاوه نو څومره قيامتونه راباندې راکوز شول، کله چې موږ يو اولس وو، يو بيرغ او يو مرکز مو درلود د جبل الطارق څخه د اندلس تر وروستي څنډې موږ په هر ډګر د الله د نصرت او لوړينې معجزې ليدلې، خو...!

کوم ښاخونه چې د يوې لويې ونې څخه غوځ شي، هغه بالاخره تونډ او ګرندي توپان ورسره والوزوي او وړي يې، د کومې ودانۍ تاداوونه چې وراسته شي او درزونه وکړي د هغې د راغوځيدو لپاره يوازې د زلزلې يوې جټکې ته اړتيا وي.

زموږ د يووالي يوازينۍ بنسټ دين ؤ او موږ پوهيدو چې څومره زموږ عقيدوي بنياد کمزوری کيږي هومره به مو د تيت پرك او د يوه مرکز نه لرونکي وو، قرطبه زموږ سياسي او نظامي مرکز ؤ، او موږ له هغې ورځې د بربادۍ په لور روان شوو چې موږ دغه ستر ملي حصار د قبيلوي او نژادي عصبيتونو د جګړې په مرکز بدل کړ. ماته ستا په مخ کې د هغو ورځو د داستان تکرارولو ضرورت نشته چې د عربو بچيانو له خپل کلي کور څخه په زرګونو ميله لرې پردي پوهيدو برسيره قومي جاهلي عصبيتونه را ژوندي کړل چې له اندلس پرته دوی د پناه لپاره بل ځای نه لرې، او تاسو د هغو وختونو له تاريخ څخه هم خبر ياست چې عرب افريقايي او هسپانوي مسلمانان يو له بل سره په جګړه وو.

پر موږ د تيت او پرك کيدو او اختلاف يوځلې داسې دوران هم راغی چې په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی هیواد کی دری خلافتونه جوړ شول، له هغی وروسته ملوك الطوایفی د اولس په هډوکو د عیش او مستی مانۍ جوړولی، موږ لیدل چی په شمال کی د عیسوی ریاستونو په یووالی کی د کلیسا هغه قوت رامنځته کیږی چی لومړی او وروستی هدف یی د اندلس مسلمانان دی، خو زموږ برخلیك د هغو طالع ازمویونکو په لاس کی ؤ چی د هغوی په نظر اندلس یو هیواد نه بلکی یو ښکار ځای ؤ. چی دوی په څو برخو ویشلی ؤ. بیا په هغو وړو وړو ښکارځایونو کی د بهر هغه لوی څیرونکی ښکاریان ننوتی وو چی غاښونه یی ډیر تیره وو، ځکه خو هغوی شاته تګ غوره کړ.

بیا د دوو پیړیو له سیاسی، پوځی، ذهنی او اخلاقی شاتګ وروسته غرناطه زموږ وروستی مورچل او د دفاع او پناه ځای شو، خو د ماضی تیارو موږ دلته هم پرینښودو، موږ خپل پروردګار ته دا شکایت نشو کولی چی په دی ګرځیدلی ورځ کی هم که کله موږ په نیغه لاره قدم پورته کړی نو هغه د څه انعام وړ نه یو بللی.

سعید تر دی ځایه راورسید او بیا چپ شو، او سلمان تر ډیره هغه ته کتل، هغه داسی احساسوله چی د حامد بن زهره روح ناڅاپه د دغه چوپی خولی خاوند انسان بدن ته ننوتی دی.

*****

د شپی په وروستی برخه کی اوربنت تم شو، او لږ څنډ وروسته هغوی روان شول.

د کلی دری کسان پر اسونو او څلور نور پلی له دوی سره روان شول، د کلی سردار سعید ته پر یو تود پوستین بخښلو برسیره د خپلو میلمنو لپاره د سهار ډوډی هم یوه سپاره ته ورکړه.

نژدی یو میل وړاندی د بل غره پیچومی پیل شو د دوی اسونو ورو ورو ګامونه اخستل، پلیو کسانو د سعید او منصور د اسونو جلبونه نیولی وو، له نژدی دوه ساعته مزله وروسته دوی یوه داسی ځای ته ورسیدل چی یوه ژور خوړ دوه غرونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره بیلول، او لاره د لوړیدو سره ورو ورو نرۍ کیدله، پیچومی ډیر سخت ؤ، هره شیبه ژور خوړ ته د کوم اس د ورښوئیدو خطر ؤ، نژدې یو میل په دې لاره له سفر وروسته دژور خوړ سور پنځوس فټه پاتې شو او مخامخ لرې وړاندې د رسیو هغه پل برالا ښکاریده، وړاندې لاره لږ څه پراخه وه او د خوړ د اوبو غږ اوریدل کیده، پله ته نژدې چې ورسیدل سلمان له خپل لار بلد څخه وپوښتل:

اوس هغه کلې څومره لرې دی؟

: صیب! تاسو چې له غره نه واوړې لږ ښکته به کوز شی، وړاندې لاره سمه ده، که پر هغه پله ستاسو اسونه تیریدای شوای نو بیا تاسو ته دڅو مره اوږدې لارې غوځولو ضرورت نه ؤ. د کندې پورې غاړې ته درې څلور میله وړاندې هغه کلې راځي چې تاسو به سبا ته ور ورسیږی.

له درې میله مزله وروسته چې سلمان د کندې د وروستی څنډې پرسر د غره څوکې ته نژدې د سپرو یو تت څرک ولید نوخپلو ملگریو ته یې د اسونو د بیرته گرځولو امر وکړ. لږ څنډ وروسته دوی بیرته د رسیو پله ته راوگرځیدل. سلمان له اس څخه پلې شو ویې ویل: سعیده! ته اس دلته پریږده پر پله پورې وزه، ما د غره څوکې ته نژدې څو سپاره ولیدل، که هغوی دې خواته راغلل نو ډیر ژر به راته معلومه شی چې هغوی څوك دی او څه غواړی.

په هر صورت تر څو زه غږ در ونه کړم ستا هلته چوپ او غلی اوسیدل ضروری دی، عثمانه! ته هم له دوی سره ولاړ شه! او عاتکې! ښایی په ژوند کی د لومړی او وروستی ځل لپاره تاته هم دا امر کوم! سعید د پله په لوری ورغی ویې ویل: عاتکې راځه! د غرناطې لور د بې وسۍ په حالت کی سلمان ته وکتل او منصور یې تر لاس ونیو او په هغه پسې روانه شوه، څو شیبې وروسته سمعیه او عثمان هم په هغوی پسې پر پله تیریدل.

د شاته کلې یو ځوان سلمان ته ورنژدې شو او ویې ویل:

صیب! د کندې پورې غاړې ته د هغه کمره نه لږ وړاندې یو غار دی که ستا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجازه وی نو ستاسو ملګری به زه هلته ورسوم.

: څومره لری دی؟ سلمان زر وپوښتل، ځوان وړاندی یوی لوړی اوږی ته اشاره وکړه ځواب یی ورکړ: صیب! هغه ګرنګ ته بالکل نژدی، د ګڼو بوټو په سبب بی له دی ځایه تاته لاره نه ښکاری، ستا ملګری چی هلته غلی شی دښمن به یی ونه وینی.

سلمان وویل: ډیر ښه ته هغوی زر هلته بوځه او بیرته دلته د راتلو پرځای کلی ته احوال ورسوه، إن شاء الله موږ به څو ساعته د دښمن پام خپل لور ته راواړوو، پر سعید تینګار وکړه چی له سمڅی څخه د راوتلو هڅه ونه کړی. ځوان په منډه پر پله تیر شو او د سترګو په رپ کی د سعید له ملګریو سره یوځای شو.

سلمان د کلی نورو کسانو ته مخ واړاوه ویی ویل: اوس تاسو دوه تنه اسونه شاته لږ لری بوزی! اسونه په تنګه دره بوی او بلی خواته تیښتیدای نشی، ځکه خو یی یو تن له مخی او بل له شانه ایسارولای شی، نور له ماسره راځی.

*****

بیا سلمان، یونس او د کلی څلور نور کسان له پله څخه وړاندی تیر شول پر غره وختل او له لاری څخه دیرش څلویښت فټه لری د بوټو او ډبرو شاته غلی شول، ضحاک له دوی نه لږ وړاندی تیر شو او نژدی پنځوس متره پاس په یوه کمره پریوت، تر یوه ساعته پوری هلته چوپه چوپتیا وه، بیا ضحاک له پاسه یوه ډبره راوغورځوله او ویی ویل: هغوی راروان دی.

لس دقیقی وروسته دوی د اسونو د پښو ترپار اوریده او بیا د سترګو په رپ کی هغوی د دوی د غشو دم ته برابر شول، څلور تنه ټپیان وغورځیدل، دوو ټپیانو پر خپلو نورو ملګرو پسی اسونه وروګرځول، یو سپور وارخطا شو اس یی وښوئیده او لاندی کندې ته وغورځیده له دی وروسته نورو سپرو د وړاندی تلو همت ونه کړ، دوی لږ لری ولاړل او په زوره زوره یی چیغی وهلی.

ضحاک چیغی کړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب! دوی د کندې ښي لوری ته مخونه اړولي او څه اشاري کوي!
سلمان د کندې برې غاړې ته وکتل او یوه شیبه یې وینې په رګونو کې وچې شوې، د کمره ښی لوری ته په څه فاصله کې څوکسان په بوټو کې غلي غلي راکوزیدل، دې هم له غره راکوز شو او په پوره زور یې چیغې وهلې د پله پورې غاړې ته ځئ! د پله پورې غاړې ته ځئ! د سترګو په رپ کې هغه لاندې کوز شو او د پله په لور یې منډې وهلې، بیا یې د تومانچې د ډز غږ واورید، او چې څو دقیقې وروسته پر پله تیریده ویې لیدل چې څلور کسان چې له غره راکوزیدل بیرته یې ولیدل چې پر غره د ختلو هڅه کوي.

سلمان له هغوی نه یو په غشي وویشت او ژرا ویې غورځاوه، نور دری کسان یې خپلو ملګریو ته پریښودل او تری راوګرځید په عاتکه او سعید پسې یې چیغې وهلې.

سمعیې له بوټو سر راوپوست او ویې ویل: هغوی دې خواته دې هلته ګوره! هغوی ټول په عتبه پسې دي.

سلمان پورته وکتل عتبه نږدې شل ګزه پاس پر غره د ختلو هڅه کوله او سعید پر هغه پسې ؤ.

بیا لږ لاندې منصور او عثمان وو، سلمان ته دا اټکل ګران نه و چې سعید او عتبه دواړه ټپي دي هغه تر بوټو او ډبرو ټوپونه ووهل او وړاندې تلو چیغې یې وهلې: عاتکې! عاتکې!!

سمعیې چیغې کړې: عاتکه دلته ده ټپي ده!

سلمان یو نظر پر عاتکه واچاوه، هغه د یوه بوټي تر خوا پرته وه او جامې یې په وینو تکې سرې وې، د یوې شیبې لپاره د سلمان پر سترګو تیاره راغله او بیا د لیونتوب په حالت کې پر غره وروخوت د هغه تر زړه کوکې وتلې خو شونډې یې ګنډلې وې.

د کمره څخه نږدې څلوېښت ګزه پاس نور د هغوی همت ځواب ورکړی ؤ، ډیر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زحمت یې یو یو گام اخست، سلمان چیغې کړې:

عتبه! عتبه!! ته نور خلاصون نه لرې، عثمانه ته منصور بنکته درسره بوزه، او بیا دې پخپله گرندې پورته وخوت او سعید ته یې چیغې وهلې:

سعیده! ودریږه! زه راغلم عتبه نور نشي تښتیدای، ته لاندې راځه!

خو سعید څه ځواب ورنکړ او په خپل ټول توان یې هڅه کوله چې پر غره وخیژي.

سلمان لانژدې پنځه گزه لاندې ؤ چې سعید عتبه تر پښه راونیو، هغه پښې ته جټکه ورکړه او غوښتل یې ځان د سعید له منگولو خلاص کړي په دې ټیل ماټیل کې د عتبه لاس له ډبرې خطا شول او بیا د سترگو په رپ کې دواړه پنځوس شپیته گزه لاندې پریوتل.

لږ ځنډ وروسته سلمان د سعید مړي د عاتکې ترڅنگ کیښود، د هغه پر مټ د توري درې زخمونه له پخوا څخه وو او اوس له گرنگ نه د لویدو په سبب د هغه هیڅ هډوکې هم روغ نه و پاته شوی. عاتکې اوس هم سلگۍ وهلې، د هغې په ټټر کې خنجر او په پوښتیو کې یو غشی ښخ وو، چې د سعید مړي ‌یې ولید سترگې یې پټې کړې.

سلمان نژدې ورته کیناست او په نبض یې لاس کیښود، عاتکې سترگې وغړولې، په ډوبیدونکې غږ یې وویل: زه پوهیدم چې دې به ژوندي بیرته راستون نه شې، سعید له ما پرته ژوندي نشوای پاتې کیدای، اوس به موږ څوک تعقیب نکړای شي، او چاته به زموږ د بار اوچتولو ضرورت هم نه وي، دې د موسکې کیدو هڅه کوله خو په سترگو کې یې اوښکې ځلیدلې، عتبه خو به تښتیدلی نه وي؟ زما د تومانچې نښه پرځای ولگیده خو ظالم ډیر سخت سرې دی.

: هغه مړ شوی دی عاتکې! ما هغه ډیر ښه ولید او راغلم، د هغه پر غوږ ستا د غشي نخښه اوس هم شته.

: سلمانه! زما وروره! هغې د سلمان لاس ونیو ویې ویل: ته ولې دومره ښه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرې يې؟

سعيد ويل چې نور ماته د سلمان د نيکيو د بار اوچتول گران دي، بيا يې په بل لاس د سعيد بې حرکته لاس ونيو:

سعيده! ته اوس خپل دوست ته ويلی شې چې زه د ژوند له هر بار څخه خلاص شوی يم، د هغې نظر بيا د منصور په څيره بنخ پاتی شو، سمعيی هغه په خپلو پښو کی کلك نيولی ؤ.

څو شيبې وروسته دی بيا سلمان ته وکتل: وروورجانه! اوس په دی دنيا له تا پرته د منصور هيڅوك هم نشته، څومره چې ژر کيدای شي تاسو له دی ځايه ځانونه وباسی، موږ همدلته بنخ کړی، سلمان چوپ ؤ له سترگو يی اوښکی بهيدلی، عاتکی څو ځلی بنده بنده ساه واخسته او بيا يی وويل: تاته خو معلومه ده چې زما وروستی هيله څه ده؟

سلمان په دردناکه لهجه وويل: عاتکې! زه به ستا هره هيله پوره کړم.

: زه غواړم چې کله د ترکانو جنگی بيړی راشي، نو زما ارواپی د اندلس پر څنډو هرکلی ته راشي. او بدريه !

ستا لپاره د گلونو اميل په لاس کی ولاړه وی. هغه يوه ستره ميرمن ده، له وقاره ډکه او سپيڅلی!ته خو به هغه هيروی نه؟

سلمان په ريږيدونکی غږ ځواب ورکړ:

نه، هيڅکله هم نه!

د کمزوری په سبب د عاتکی غږ ورو ورو خپ کيده، هغې تر څه وخته سترگې پټې کړی او بې حسه پرته وه، بيا ناڅاپه وټوخيده، سترگی يی وغړولی او له دی سره يې تر خولی د وينو داره ووتله او سر يی د سعيد پر سر ورکيښود.

سعيده! سعيده!! زه درسره يم. سعيده، سعيده!!! بيا يی سلگۍ ووهلی او غږ يې د تل لپاره چوپ شو.

عاتکې! عاتکې!!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان په بې وسی او وارخطایی د هغه نبض کوت خو د تروږمې دشپې دوارو مسافرو خپله خپل سفر پای ته رسولی ؤ.

هغه جگ شو خپله چپنه یې څیری کړه او د هغوی په یخو بدنونو یې وغوړوله او د تیارو په پنهو پردو کې دوب شول.

*****

د سیرانویدا په لمنو کی خپرو رڼاگانود تیاره شپې له راتگ څخه دمخه خپلی لمنی نغښتی، خو هغه په خپلو ژورو چورتونو کی دوب ؤ. د ماضی او حال له کړکیو یې کتل، چی پر غوږو یې یو آشنا غږ ولگید:

آغا! آغا!

سلمان داسی احساس کړه لکه څوك یې چی له خوبه راویښوی، چی را بیدار شو وېې لیدل چی عثمان یې خوځوی، وگوره دوه مری!!

: هغوی له کوم لوری راغلل؟

په دردمنه لهجه یې له عثمان څخه وپوښتل: عثمان خپلی اوښکی پاکې کړی ځواب یې ورکړ:

صیب! ماته معلومات نشته زه د غار دننه وم، او هغوی موږ په یوه کونج کی کښینولی وو. بیا هغه ناڅاپه د غار خولی ته راغلل، د منصور خاله او ماما غشی پری واورول، له هغی وروسته هغوی په بوټو کی غلی شاته ولاړل، خو عاتکی خاله د منصور ماما ته وویل: چی زما د پلار قاتل ژوندی نشی تلای، او هغه غشی ویشتل بهر ته راووته.

بیا عتبه خپلو ملگریو ته د حملی امر وکړ، د منصور ماما لینده وغورځوله توره یې راواخستله او پر هغوی یې حمله وکړه، دغه دواړه کسان هغه ووژل، خو پخپله هم ډیر بد ټپی شو، پر عتبه د منصور د ترور د تومانچی گولی ولگیده، خو هغه د بوټو له شانه غشی وویشتل، بل سری په خنجر ووهله او وېی غورځوله، زه او منصور هم له غار څخه راووتو او د عاتکی خاله قاتل مو په غیشو سوری

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنوري کړ، له دې دوو کسانو څخه هم يوه تپې د بيا اوچتيدو هڅه کوله، خو سمعيي پر سر پر ډېره ورېشت او وېې واژه، بيا عتبه چې د عاتکې ترور پر تومانچه زخمي شوی ؤ ناڅاپه جګ شو او د تيښتې هڅه يې وکړه، خو د منصور ماما چې ډېر په وينو تك سور شوی ؤ ورپسې شو.

سلمان تر لږ ځنډه چوپ ؤ، بيا يې منصور راپورته کړ او په غيږ کې يې ټينګ کړ او هغه سيلاب چې تر اوسه د ده په سترګو کې تم ؤ ناڅاپه وبهيده، لږ ځنډ وروسته د نژدې کلي څخه ديرش څلويښت کسان هلته ور ورسيدل او ماسپښين مهال د سعيد او عاتکې پر قبرونو خاورې واړول شوې.

او چې لمر په لويديځو غرونو کې پناه شو، دوی شهيدانو ته د وروستي دعا او اوښکو له نذرانې وروسته پر اسونو پښې واړولې.

*****

دوهمه ورځ دوی د سيرانويدا له واورينو څوکو څخه لږ لاره چپه کړه او په هغو غرونو کې يې سفر ته دوام ورکړ چې لمنې يې د سمندر له څنډو سره نښتې وې.

يوه ورځ وروسته ماسپښين مهال له سمندر څخه اته ميله لرې يې عبدالملك او د هغه ملګرې وليدل چې يوه کلي ته ننوتل، سلمان ته بيا معلومه شوه چې د ابو يعقوب په کلي کې يې دوی ته د انتظار پرځای هر يو په جلا جلا لارو هلته رارسيدلي وو. عبدالملك په دې موده کې په پنځلس، شل ساحلي سيمو کې د دښمن د بيړيو د تګ راتګ په باب پر معلوماتو برسيره د شاو خوا سيمو څخه پر خپل سر پنځه ويشت تنه بيړۍ چلونکي هم راټول کړي وو، دغو ځوانانو ډير په تودو احساساتو له سلمان سره سترې مشي وکړل او د هغه لاسونه يې ښکل کړل.

د ډوډۍ له خوړلو وروسته عبدالملك يوازې له سلمان سره خبرې کولې وېې ويل:
موږ به زيات نه زيات تر درې ورځو پورې د خپلې کښتې د راتلو انتظار کوو، ته له څو اعتمادي کسانو سره لرګې او د وښو ورې درسره واخله او ختيځ لورې ته يې له کلي نه لږ.لرې يوسه. هلته يې په لوړو لوړو غونډيو څلور ځايه لږ لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږده او اور ورواچوه، لومړی اور د شپې د لومړي برخې له تېرېدو وروسته بېرته باید مــړ شي. دوهم باید د دوهمې برخې او دریم د دریمې او څلورم د شــپې د وروستی برخې په پای کې باید مړ شي.

دوهمه شپه باید د اور بلولو او مړ کولو ترتیب بدل شي، خو دغه اور باید په داسې برخه کې نه وي چې د سمندر له څنډې څخه ولیدل شي. إن شاء الله دریمه شپه که موسم خراب نه ؤ او یا بل څه سبب نه وي نو د نیمې شپې او وروستی برخې ترمنځ به زموږ کښتي څنډې ته راورسیږي. دغه ټوله هفته به زموږ دوی کښتي په سمندر کې گزمې کوي.

*****

عثمان په منډه راغی او ویې ویل: صیب! له جمیل سره دوه تنه نور سپاره را روان دي. هغه جگ شو بهر راووت ویې لیدل چې جمیل او دوه تنه نور ملگري يې د کلي د رئیس د کور په مخکې له اسونو پلي کیدل.

سلمان وویل: ماگومان کاوه چې ته به له یوسف سره اوسې.

: موږ ته هغه ټینگار کاوه چې کله لومړنی قافله الفجاره ته ورسیږي نو موږ به په دوهمه لاره بېځي او ماشومان راسره ملگري کړو او تاسو ته به ځانونه رارسوو، اوس پنځه تنه ښځې، یوولس ماشومان او اوه کسه نور هم په موږ پسې راروان دي.

: ولید درسره را نه غی؟

: نه! هغه به خپل مور او پلار او نور دوستان په بله قافله کې الفجاره ته له رسولو وروسته پریکړه کوي، هوکې د یوسف میرمن راسره راغلې ده.

سلمان وپوښتل: هغوی به څه وخت راورسیږي؟

: صیب! إن شاء الله بله ورځ تر سهاره به راورسیږي، موږ ویریدو چې ستاسو کښتی زموږ د رارسیدو څخه دمخه ولاړه نشي، ځکه خو ستاسو د خبرولو لپاره گړندي راغلو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان ووېل: اوس د هغوی دلته راتلو ته ضرورت نشته، ته همدا اوس بیرته ولاړ شه! زما له خوا دا احوال ورکړه چې په لاره کی څنډی ته نژدی چیرته په یوه خوندی ځای کی ایسار شی، او سر له سبا دی د غونډیو پر سرونو اورونه بلوی، زموږ سره وخت ډیر لږ دی، ځکه خو باید ساحل ته نژدی وی، اوس ته ورځه او د خپلو ستومانه اسونو پرځای زموږ اسونه درسره بوزی، هغه لږ څه تازه دمه دی.

لږ ځنډ وروسته جمیل روان شوی ؤ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیرته ستنیدل

دریمه ورځ نیمه شپه یوې جنگي بیړۍ له ساحل څخه لرې لرې لنګر غورځولی ولاړه وه او یوه وړوکی کښتۍ د سلمان دوی د راوستلو لپاره څنډې ته وخوځېده.

یو ساعت وروسته د کښتۍ افسرانو او ماڼو ګانو د خوشالي په نعرو د خپل کپتان او د هغه د ملګرو د راتګ هرکلي کاوه.

سلمان تر لږ ځنډه په چوپه خوله خپلو سربندویانو ته کتل او دغه چوپتیا هغه وخت ماته شوه چې د ده مرستیال وپوښتل:

صیب ! تاسو له غرناطې څخه څه خبر راوړی دی؟

د سلمان له زړه یوه څړیکه اوچته شوه او د خبرو د موضوع د بدلولو لپاره یې منصور ته اشاره وکړه ویې ویل:

زما دوستانو! زه چې تاسو ته کوم مهم خبر اورول غواړم دا دی چې ماته د کوم لوی شخصیت غرناطې ته د رسولو امر شوی ؤ د هغه لمسی له تاسو څخه د کښتۍ چلولو د زده کولو په اراده راغلی دی. زه هیله کیږم چې دی به تاسو نا امیده نه کړی، او دغه عزتمن کسان! چې تاسو یې له ما سره وینی، د غرناطې د اولس لخوا د سمندري قواو امیر ته کوم مهم پیغام وړي.

د غرناطې یوه بله وړوکې قافله چې څو عزتمندې ښځې او ماشومان په کې شامل دي له دې ځایه څو میله لرې زموږ انتظار کوي، زه دا غواړم چې د کښتۍ یوه برخه ښځو او ماشومانو ته ځانګړې شي او نوره برخه نورو میلمنو ته، او د دوی د استراحت او آرام هم پوره خیال وساتلی شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پوهیږم چې تاسو به د غرناطې د وضعې په اړه زیات ناکرار وئ، خو ستومانه مسافر په کښتۍ کې چې سپاره شي آرام ته اړتیا لري اوس چې تاسو له دوی څخه څه وپوښتئ نو د اوښکو پرته به څه ځواب وانه وري، او ښايي زما وضعه هم له دوی څخه بدله نه وي.

اوس زه د تاریخ د یوې ډیرې ستړې غمیزې ټول تفصیلات نشم اورولی، یوازې دومره ویلی شم چې غرناطه دښمن ونیوه، سلمان چې دا وویل غږ یې کښیناست، او د هغه ملګریو د عزم او ارادې خاوند لاربښود ته کتل، چا د نور څه پوښتلو جرئت ونکړای شو.

سلمان خپل مرستیال ته څو لاربښوونې وکړې او بیا یې د کښتۍ پر مخ قدم وهل پیل کړل، کښتۍ د پراخ سمندر پر سینه د څنډې سره جوخت د لویدیځ په لور وخوځیده او درې ساعته وروسته ماښوګانو بیا لنګرونه غورځول، لږ ځنډ وروسته د مسافرو د راوړو لپاره دوی وړې کښتۍ څنډې ته رواني شوې.

*****

د لمر ځرك په وخت کې سلمان له ساحل څخه څو میله لرې د کښتۍ د غولي له پنجرو سره ولاړ ؤ د جنوب د غرونو په لوري یې کتل چې شاته یې په میلونو لرې په یوه ویرانه کې د عاتکې او سعید قبرونه پریښې وو. په تیرو څو شپو کې هغه ویښه او خوب کې څو ځله پر هغو قبرونو راګرځیدلی ؤ، څومره اوښکې هغه له خپلو ملګرو څخه پټې وبهولې! بیا د هغو ویرانو څخه وړاندې د غرناطې له وقاره ډکې ماڼۍ له ګڼې ګوڼې ډك بازارونه او کوڅې هغه لیدلې ، د اندلس د تاریخ څومره رڼاګانې او تیارې وې چې یوه یوه د ده د سترګو مخې ته راتله.

هغه د ساحل له هغه ډبرینو ګرنګونو څخه لرې د اندلس د غازیانو هغه قافلې هم لیدلې چې د لارو په ګردونو او دوړو کې یې د اسلام د بچیانو د تیرو وختونو عظمتونه پټ وو.

او بیا ده د همغو شیبو تصور کاوه، چې کله د فردیناند پوځونه غرناطې ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتل...

ډه د طارق او عبدالرحمن د لونو چيغي او فريادونه اوريدل، ده د غرناطي د هغو بوډاګانو او ځوانانو د ذلت او رسوايي زړه بوږنوونکي ننداري ليدلي شواى چي د رحم او بخښني تږلي دروازې پرې تړل شوي وې. او بيا ده د هغو غدارانو کړس کړس خنداګاني هم اوريدلي چي له يوې مودې را په دې خوا يې د دښمن د هرکلي تياري کاوه. د اندلس د عظمته ډکه ماضي او دغمجوونکي حال ټول داستانونه ده ته يو خوب او خيال ښکاريدل.

او بيا لکه کوم ډويبيدونکي انسان چي خس ته لاس اچوي هغه ته بدريه ور په ياد شوه، ځو شيبې د هغه حالت هغه مسافر ته ورته ؤ چي د شپې په تياره کي په يوه بې سر او پايه دښته کي له سرګرداني وروسته ناڅاپه د سهار ستوري ووينې او د هغه په غوږونو کي تر ډيره د عاتکي وروستي الفاظ کړنګيدل:

«زه غواړم چي د ترکانو جنګي بيړۍ راشي زما اروا بې د اندلس پر څنډو هرکلي وکړي، او بدريه، ستا لپاره د ګلانو اميل په لاس کي ولاړه وي، هغه يوه ستره ميرمن ده، له وقاره ډکه او لويه، ته خو به هغه هيروې نه؟! »

د هغه زړه بې ترتيبه ودرزيدو، بدريې! بدريې! زه تا چيرته هيرولی شم؟ او بيا هغه د خپل ژوند د دوو تيارو شپو تصور کاوه. يوه هغه شپه وه چي کله يې د لومړي ځل لپاره د بدريې په کور کي پښه کيښوده، او بله هغه چي د ابو نصر په کور کي يې خداى پاماني ورسره کوله. د دغو دوو شپو ترمنځ څومره پيښي وې چي اوس د ماضي داستان ترې جوړ شوي ؤ.

سلمان تر ډيره له خپل شاوخوا څخه ناخبره ؤ، او بيا چا ورو د هغه په اوږه لاس کيښود ويې ويل: سلمانه! هغه تکان وخوړ او د بدريې غږ يې د اروا تر تل پوري ورسيد.

هغه مخ راواړاوه ويې کتل او د دواړو د کتو ترمنځ د اوښکو پردې ودريدې.

اسماً د هغې شاته ولاړه وه، سلمان هغه زر راپورته کړه او په غيږ کي يې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخستله.

هغې په سلګيو ترې وپوښتل: کاکا جانه! منصور چيرته دی؟

زما لورې! هغه ويده دی، دايې وويل او بيا سلمان بدريې ته وکتل ويې ويل: تاته معلومه ده چې پر موږ څه تير شول؟

هغې سر پر اثبات وخوځاوه ويې ويل: ماته په کښتۍ کې د سپريدو په وخت کې عثمان ټوله کيسه وکړه. هغه تر لږ ځنډه چوپ ؤ د دوارو ځجنو سترګو د جنوب په غرونو کې څه لټول. بيا عثمان احوال ورکړ:

صيب ! يوه ښځه ستا سره ليدل غواړي. وايي چې ما کوم ضروري احوال ورته راوړی دی.

بدريې وويل: هغه ښايي خالده ترور وي، زه هم له هغې سره ځم.

: خالده ترور!

: د يوسف ميرمن!

بيا دوی د کښتۍ يوې کوټې ته ورغلل چې هلته يوه معمره او له وقاره ډکه ميرمن د دوی د ورتلو په انتظار وه.

خالدې وويل: هغه پر ما ټينګار کړی ؤ چې دا ليك پخپله تاته درکړم. واخله!

سلمان ليك پرانيست او په لوستلو يې بوخت شو. يوسف ليکلي وو:

زما ملګريه! ترډې وړاندې چې زما ليك ته ولولې ابو عبدالله به د غرناطې کنجياني فرديناند ته سپارلې وي. او ترډې وروسته به موږ هيڅ وطن ونه لرو.

د غرناطې بچيان به په دوارو لاسونو مخونه وهي او ژاړي به، د دين عالمان به خپلې سپينې ږيرې په اوښکو لمدوی او د اندلس لونړې به خپل د سر ويښتان شکوي.

ما ليدلې چې کله توپان راځي مارغان ناڅاپه چوپ شي، همدغه حالت نن د غرناطې د اولس دی، نن هغه خلك هم ګونګ او چوپ وليدل چې د سينتافې د لارې په پرانستلو يې د خوښۍ نعرې وهلې، نن د غرناطې هر سړی له بل څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا پوښتي چې: اوس به څه کيږي؟ زه به هم له ورروستي قافلي سره ووزم، هغه زړه بوږنوونکي منظري به ونه ليداى شم چې په تصور يې زما اروا ولړزيږي.

ماته معلومه نه ده چې کوم خلك له ما سره دروږمي هغوی به په خپل هدف کې څومره کامياب شي، خو بوه خبره معلومه ده چې ژر يا وروسته د هغوی بيرته راګرځيدل هيڅ فرق نه کوي. او که ته دلته له رارسيدو سره سم بيرته ستون شوی وای هم هيڅ فرق به نه ؤ راغلی. اوس غرناطه زموږ له لاسو وتلی ده. او له دې وروسته زموږ تولی هيلی په غرنيو جنګياليو قبايلو پوری تړلی دي، ځکه خو زه ستا ملګرو ته دا پيغام رسول ضروري بولم چې تر څو وخت بيا يو ځل وانه وړی او قبايل منظم نشی او په تولنيز پاڅون او مبارزه لاس پوري نکړی تر هغه وخته دی دوی همالته له تاسو سره پاتي شي.

زما دوسته!

پر موږ يو داسی وخت هم راتلونکی دی چې د اندلس د مجبورو او ځپل شويو مسلمانانو لپاره د هجرت څخه پرته بله لاره نه وي. په هغه صورت کی که موږ ته د هجرت لاری خلاصی وی هم دا به ستاسو بوه لويه کارنامه وي.

سمدستي زه اندلس نشم پريښودلای، ځکه خو مراکش ته زما د ميرمن د رسولو بندوبست وکړی. هلته د هغی خپلوان شته، پاتی نور خلك به هم په مراکش او يا الجزاير کی خپل خپلوان پيدا کړی. د زمانی په توپانونو کی موږ ته کله کله دا هم په فکر کی نه راځی چې د ژوند څومره راحتونه چې موږ د وخت د بی رحمه لاسو څخه اخستی شوای.

زما دوسته!

له وليد سره تر ليدو وروسته زه حيران شوم چې تا بدريه په غرناطه کی پريښی او ولاړې! آيا ماته د دې ويلو ضرورت ؤ چې د راتلونکو سيليو سره د مقابلی لپاره تاسو يو د بل تکيی ته اړتيا لرئ!

«يوسف»

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان لیك ولوست بیا یی بدریی ته په لاس کی ورکړ، څو شیبی د هغی په مخکی سری او سپینی څپی راوګرځیدی بیا یی په سترګو کې اوښکې راغلی.

الحمد لله ختم شو
د ۱۳۷۸ کال د غوایی ۱۲مه
یکشنبه د شپی اته نیمی بجی
الفاروق بلډنګ د سهار ورځپانی دفتر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژباړن چاپ شوي آثار

* د جهاد زمزمې — د شعري غونډ
* د وینو پیغام
* د تیارو په تل کې — د لنډو کیسو مجموعه
* میړونه او ګړنګونه — منځنی داستان
* د جهاد او پاڅون په اړه څو رسالې
* شاهین — «ژباړه چاپ»
* محمد بن قاسم — «ژباړه چاپ»
* وروستی مورچل — «ژباړه چاپ»
* د غازي داستان — «ژباړه چاپ»
* د تورو مې مسافر — همدغه اثر
* وروستی جګړه — (ژباړه چاپ)
* د مرګ کاروا — (لیکنه) چاپ ته
* له تکبیره تر فریاده — (کالمونه) چاپ

او...

Scanned by CamScanner

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library